«سیاست»

د

«سیالانو لوبه»

# سیاسي فلسفه

## خبرنه او ارزونه

ډاکتر سید شیراقا حرکت

سیاسي فلسفه

POLITI

Res

By Dr

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



فهرست


۱- سیاسي فلسفه
سیاست ـ د سیالانو لوبه
«ترکاڼي د بیزو کار ندې !»
۲- حرکت
۳- بې مجرمه جرم که بې ګناه مجرم
۴- ناسیونالیزم، انترناسیونالیزم، ګلوبالیزم، کسموپولیتیزم..
۵- یویشتمه پېړۍ او دنړۍ اجتماعي ـ سیاسي نظام
۶- د حرکت لومړۍ کلیزه
۷- ناوړه ستراتیژۍ او ناوړه تصادف
۸- پاکستان رښتیا دافغانانو په وړاندې دوه مخې سیاست لوبوي ؟
۹- دافغانستان پېښې او دخپرونې غبرګون
۱۰- رښتیا ویل ترخه او مشکل دي خو ویل یې حتمي او ضروري !
۱۱- دنوي افغانستان دجوړېدو ۲۶۰ کلیزې دنړیوال جشن غونډې ته
۱۲- دموکراسي په تیورۍ او عمل کې
۱۳ ـــ دخپرونې دریمه کالیزه
۱۴- دسلیم عقل او وجدان په حکم
۱۵- په یویشتمه پیړۍ کې بشري قانوني او حقوقي ارزشونه او معیارونه
۱۶- افغان هېوادپال ملي روڼ آندي باید خپل تاریخي رسالت سرته ورسوي !




"لوی خدای، لوی علم، لوی جهان" سیاسي فلسفه


۱۷- اداري مسئو لیتونه ،صلاحیتونه اوحقوقي ـ قانو ني مکلفیتونه
۱۸- یواځې دمعاشونو منطقي تناسب په هیواد کې دنظم او اقتصادي عدالت ضمانت کیدلې شي.
۱۹- جنګونه او مخالفتونه دافغانانو دغمیزي دحل لاره نه ده.
۲۰ ـــ د بشرد ژوند دونې ثمر باید هم حنظل او مارکونډۍ اوسي ؟
۲۱- راشۍ !چې همدا وړۍ شړۍ شي
۲۲ ـــ دکابل ښار بې مفهومه پراختیا باید د ۲۱ پیړۍ په ایکالوجیکي فاجعه بدله نشي !!!
۲۳- دپاریس کنفرانس !ګذارشونه او واقعیتونه.
۲۴- زوړ استعمار ، زړه ستراتیژي
۲۵- آزادي ـ ترهرڅه لویې ملي، اولسي اوفردي ارزش !
۲۶- اوباما ـ رسالت که حاکمیت ؟
۲۷- افغان ملي او پښتني قومي وحدت په سیمه کې دسولې ضامن دي.
۲۸- هره سیاسي قضیه دحل تاکلې لار لري !
جنګ او زور دافغانانو دغمیزي د حل لار نده !
۲۹- داوباما نوې ستراتیژي دافغانانو لپاره زړه په زړه پاتې شوه ؟
۳۰- دحرکت خپرونې پنځمه کلیزه
۳۱- دموکراسي او انتخابات
۳۲- *افغان اولس د جفاء سزاوار ندي !*
۳۳- افغان اولس کله هم زور ته نه دي تسلیم شوې ،دا ځل به هم تسلیم نه شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳۴ ـ جرګه ـ مشورتي ؟ که حُکمي ؟
۳۵ ـــ افغانان ولې خپل ملي ارزشونه او مسئوليتونه نه پيژني
۳۶ ـ مونږ خپل پور ، او دوی نور غواړي ؟





# سياسي فلسفه
# سياست ـ د سيالانو لوبه

«ترکاڼي د بيزو کار ندې !»

خدای انسان ذاتاً سيال او آزاد پيدا کړيدې. ټولنيز ملي او بين المللي عام قوانين د نژادي، سياسي، مذهبي، قشري او نورو تفاوتونو د تبعيض پرته هرچاته د دې حق ورکوي چې ځان لپاره يو تربله سره سيال ټولنيز واحدونه، سياسي نظامونه، اقتصادي جوړښتونه، عقيدوي او نظرياتي ټولنې ځانګړي اخلاقي رسوم او عادات او د خوښۍ او غم ځانګړي ذات البيني فاميلي، قشري، قومي او نور ټولنيز اړيکي او مناسبات ولري. يواځې او يواځې د سيالو سياسي، اجتماعي، نژادي، قومي، قبيلوي، مذهبي، طبقاتي، قشري او فاميلي واحدونو په موجوديت سره نړيوالې سيالې سياسي ټولنې او نظامونه جوړيدلې شي. کورنۍ "فاميل" چې د ټولنيز جوړښت دودانۍ اساسي خښته ګڼل کيږي ، که د دوه سيالو متعهدو انسانانو "ښځې او نر" څخه جوړه نه وي او د بنسټ څخه د ټولنيز جوړښت په ختمه کې د باداري او غلامۍ مناسبات اخښلي وي ، د سيالو بشري ټولنو جوړيدل به هم ناممکن کار وي. همدا سبب دې چې د اسلام مبين دين د سيالو کورنيو د جوړولو لپاره زيات ارزش قايل دې او کفائت د دغه تړون او

(c) ketabton.com: The Digital Library



تشکل لپاره اساسي او لازمي شرط ګڼل کیږي .دموکراسي چې دننیو پرمختللو ټولنو دملي او بین المللي مناسباتو او سولئیز ګډو ژوند عمده او منل شوې اصل ګڼل کیږي هم یوائې ددغه ټولنو دداخلي ذات البیني سیالو نژادي، قومي، قشري، مذهبي او داسې نورو مناسباتو او دمختلفو دولتونو ترمنځ دبین المللي سیال تقابل او رقابت په نتیجه کې تحقق موندلې شي .سیالي او شریکي زمونږ دافغانی ټولنیزژوند او کلتور معروفې معقولي، دپښتني خودګردانه ټولنیز ژوند ، مناسباتوا ولسي دموکراسۍ ستر عامل او دافغانی ټولنیز دینامیزم یوائینې محرک او انګیزه ګڼل کیږي .دنړۍ دټولو مملکتونو ترمنځ پایداره او همیشني انترناسیونالیستي سولئیز اړیکي هغه وخت ټینګیدلې شي چې ددغه ځنځیر او تسلسل هرې کړۍ ته دناسیونالیستی ذات البیني سیال دریز کلکی اوبه ورکړې شوې وي. یوائې دناسیونالیزم او انترناسیونالیزم دسالم متقابل تناسب او دسیال مشروع رقابت او توازن په نتیجه کې د اولسونو دهر اړخیزه متناسباتو انکشاف او همیشنې ګډه سولئیز ژوند تضمینیدلې شي .دهمدغه مشروع رقابتونو او سیالیو په نتیجه کې ا ولسونه او قومونه دپرمختګ روښانه او اُچتو افقونو ته رسیدلي، ځانونو لپاره یې هوسا ټولنیز شرایط برابر کړي او دسیال خوشبخت ژوند خاوندان دي .زما په عقیده ددغه ډول متقابل سیال رقابت دحفاظت او حراست په وړاندې هم باید دبشري ټولنې هر غړې، هره ټولنه په ځانګړې، هر اولس او بشری ټولنه په مجموع کې ځانګړی مسؤلیتونه ولري او دې کارته لازمه همیشنۍ جدي پاملرنه وشي.سیالي نسبي مفهوم دې. پخوا چې ټولنیز ژوند



"لوی خدای، لوی علم، لوی جهان" سیاسي فلسفه

ډیر بعدونه نه درلودل، علم او تخنیک ډیر انکشاف نه وو کړې او دانسانانو ژوند او مناسباتو هم ډیره ساده بڼه درلوده نو دهغوی ترمنځ سیالي هم ډیره ساده ،کمرنګې او د هر چا په قابو کې راتلای شوه او دموضیعی ارزشونو او نورماتیفونو مطابق په اصطلاح دهر چا له لاسه پوره وه . خو دهغې ورځې څخه چې علم او تخنیک انکشاف کړې او داکثره مملکتونو تخنیکي، اقتصادي او خصوصاً نظامي امکانات لوړ شوي نو سیالي او شریکي هم کثیر الجوانبه شوې او نه یوائې دهر چا بلکه دهرا ولس دامکاناتو څخه وتلې او حقیقت دادې چې زمونږ غوندې بی وسه اولسونه خو دلویو هیوادونو دحرص دښامار په پنجره کې دتیارې مړۍ په څیر پراته دي او یوائې دنوبت په مراعات او یا دضرورت له مخې به یې په مناسب وخت کې له ستوني تیروي .

پخوا که به چا دبدنیت له مخې توره په اوږه او پنځه کسان به یې په ځان پسې کړل نیم به تري په لار یخنۍ، ګرمۍ، لوږې، تندې مړه، میاشتې کلونه به یې په لار تیر ،باالاخره که به یې په کوم کلي، ښار حمله وکړه هم به پخپله مړه او هم به یې نور ووژل، دبری په صورت کې چې به کوم څه دمنډی له مخې په لاس ورغلی وؤ دځان سره بار او اکثروخت به یې ددوباره راستنیدو احتمال هم ډیر کم وو. په مجموع کې هغه وخت ژوند فقیر وؤ ، چا دومره څه نه درلودل چې بل پری ښاد شي.همداسې که کوم تجار به په اوښ، قچر له اروپا څخه بنجارګی سامان یا بل څه داسیا په لور بار کړل اکثراً به تری داړه مارو په لار کی چور کړی وؤ او که راوبه یې رسول بیا هم معمولاً په بدل کی به یې دهغه ځای دخلکو سره یو ډول تبادلوي مرسته وه . چا په کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خارق العاده ګڼې نه شوې کولې .هغه وختونو کې دا هم ممکنه وه چې ځینې اولسونه دنړۍ په کوم لیري کنج کې دکشور کشایانو له نظره پټ پاتې شي او په اصطلاح که ښه ژوند ولري یا بد پخپله یې سره پالي او ګالي .لیکن نن داوسني علمي ــ تخنیکي انکشافاتو او دځیني هیوادونو عظیمو اقتصادي امکاناتو په نتیجه کې دبشري ژوندانه، تولید ، استوګنې، تجارت او داسې نور ټول اړخونه دومره تخصصي او دینامیک شوي چې دثانیې په زرمې او میلیونمې برخه کې عظیمې محاسبې او چارې سرته رسیږي . دتولید نوعیت، کمیت او کیفیت دساعتونو او ورځو په جریان کې دبهبود په لور تغیر کوي . هر څه دډیرو ماهرو متخصصینو لخوا دټرلو تخنیکي سیستمونو پواسطه پروګرامیږي او بعدي تولید ، انتقال او دپیسو او دسود او زیان سنجش یې هم دهمدغه مغلقو تخنکي کمپیوټري سیستمونو په ذریعه سرته رسیږي . نن تولید کوم پرابلم ندې ، نن پرابلم دادې چې جانب مقابل به څه ډول تولید کوي او دچا مال به په ښه او مناسبه بیه بازار ته عرضه کیږي .

بشري شعور پدغه سیالۍ کې وروسته پاتې دې یواځې دبشري شعور دقیق پیداوار چې دعصر او زمان په دینامیکه پروسه کې پخپل وخت او حتا ووایم چې دوخت څخه دمخه تولید شوي اوسي مسابقه کولې او ګټلې شي. پخوا که به پوله په پوله ګاونډې دچا نیک یا بد رقیب کیدلې شو ، نن ددنیا په لیري کنج کې مملکت خو لا څه چې په یوه کوټه کې ناست منفرد انسان دیوه مملکت او حتا دبشریت په ستر دوست یا دښمن بدلیدلې شي. که کوم اولس دخپل مملکت څخه دفولادو قلعه تاوول خو لا څه چې دفولادو صندوق هم جوړ کړي دچا





دشر او خیر څخه ځان نشي خلاصولې ځکه چې نن ټولې دښو او بدو معاملې دالکترو مقناطیسی امواجو په ذریعه سرته رسیږي او هغه پرته دموانعو نژدې دنور په سرعت سره دنړۍ هر کنج ته همزمان رسیږي.نن په صندوق کې ځان حصارول سیالي نده بلکه په سیال فهم، سیال عزم او سیال دینامیزم سره دعمل میدان ته وتل پکار دي . داستعمار او استثمار شکلونو کاملاً تغیر کړیدې، دهغې په تار او پود باندې پوهیدل ضرور دي .

دخوشباورۍ او سادګۍ وختونه ډیر پخوا تیر شویدي که نه نو پداسې یوه نامحسوس شکل سره دداسې عظیم بار لاندې سرې ملا ماتې پریوځي چې دا بد لپاره به پورته نشي . نن دسود او زیان محاسبې په حبه او کسیره سره کیږي خو په اخیر کې ترې میلیاردونه جوړیږي . دسپتمبر دیوولسمې نیټې دپیښې څخه وروسته دالمان دولت دتروریزم پر ضد دمبارزی لپاره ۳ میلیارده ډالرو ته ضرورت درلود. هغوی یواځې دسګرټو په بیه کې دوه سنته اضافه کړل او ددغه پیسو عمده برخه دهمدغه دوه سنتونو (فینیک )څخه جوړه شوه. دتلفون، انټرنیټ او همداسې نورو شیانو بیه هم په کموپیسو حسابیږي خو په اخیر کې ترې میلیاردونه جوړیږي او ددې پیسو دتحصیل په خاطر نه څوک چا پسې سپاهي لیږي او نه قمچینه اخلي که د میکروسوف د انټرنیټ او که دتلیفون څښتن دې ، لیري په خپله تورتمۍ کوټه کې له نظره پټ ناست دې او میلیاردونه ډالر پخپله ورځي .پدې توګه سیالي دموضیعي چاپیریال او محدودو څخه وتلې او سراسري نړیوال بعدونه یې پیدا کړیدي . دهغې ټول ارزشونه او نورماتیفونه دبین المللی معیارونو له مخې تعینیږي . هر څوک که سیاله لوبه کول غواړي نو ځانونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



به په بین المللی معیارونو سره برابروي. ملي او موضیعي ارزشونه که دبین المللی معیارونو سره سیال نه وي د ارزش وړ نه دي. که څوک پداسې معیارونو سره دلوبې میدان ته ووځي حتماً به یې بایلي. ژوند کثیر الجوانبه شوې. دمبارزې سنگرونه هم بې شمیره شوي. دهر سنگر لپاره د سیالې ډلې روزل پکار دي. هره سیاله ډله په هر ماحول، موضع او هر سنگر کې چې اوسي دخپل سیال رقیب په مقابل کې باید د سیال دریز توان، فهم، درک او دینامیزم ولري. دداسې هر اړخیز، زیرکانه او دینامیک رقابت په مقابل کې د سیال دریز مخامخې دژوند په ټولو اړخونو او ابعادو کې دفوق العاده مسلکي پوهې او مهارت پرته مسلکي زیرکي، تحرک او دینامیزم سره سره یوه سیال متحد او متعهدا ولس ته چې مقدس سیال ملي ارمان په زړه کې ولري هم ضروري دې . دې کې شک نشته چې ددوه ورونو تر منځ هم اختلافات او د سالم رقابت تضادونه او نظریاتي عقیدوي تفاوتونه موجود وي. خو هغه فامیلونه اوا ولسونه چې دخپل کور او کهول دخیر ښیگڼې سنجش او دهغې په مقابل کې احساس دمسئولیت کولې شي هیڅکله مغرض دښمن خپل انګړ ته نه رابولي او دخپل ورور هڅه پرې نه پریکوي ځکه چې د پردی دښمنی څخه دخلاصون چاره شته خو کورنۍ دښمنۍ دابد لپاره پرځای پاتې کیږي او خلاصون تري ممکن ندې .په یوه ا ولس کې د اولسي خیر ښیگڼې او اولسي منل شوؤ ارزشونو په مقابل کې دمسؤلیت احساس هغه وخت روزل کیدې او منځته راتلای شي ، په کوم کې چې په ا ولسي کچه دښو او بدو تمیز او د مسئولیت احساس موجود وي او ملي ارزشونو او ګټو ته د شخصي ګټو او ارزشونو په نسبت حق د





لومړیتوب قایل وي .دژوند په ټولو اړخونو کې دټولو لپاره منل شوي ارزشونه ټاکل شوي وي او نوموړي ارزشونه دعامو او خاصو قوانینو په چوکاټ کې تسجیل او دحراست لپاره یې مسئول اشخاص، ارګانونه او دائمی کنترول موجود وي. یوائې پدې صورت کې دټولني په سطحه سیال اوبا مسؤلیته افراد ، اقشار، طبقات ، سازمانونه او با النتیجه پخپله سیاله ټولنه او اولس روزل کیدلې شي.نن پرون زمونږ په ټولنه ،حکومت ،دولت او اړونده ادارو ، مؤسسو او انستیتوتونو کې د بربنډ او رسوا فساد ، اختلاص او حتا ملي خیانتونو د موجودیت او خارجي لاسوهنو له کبله چې پورتنی ارزشونه ،معیارونه او نورماتیفونه بې ارزښه شوي او له منځه تللي ،او ځیني کسانو ،ډلو ټپلو ،سازمانونو او حتا ځیني اقوامو چې ددغه خلا څخه په ناوړه ګټې اخیستنې ظلمونه ،ناروا او ملي خیانتونه کړي دي ، فکر دي نه کوي چې د خلکو له حافظې څخه به ووځي او یا به بې بدله پاتې شي.

ټولنه اوا ولس دټولنیز واحد په حیث پخپل جوړښت کې دعامو قانونمندیو له مخې باید داضدادو متقابلی خواوې ولري . نوموړې متقابلې خواوې څه دفامیل دافرادو په سطحه چې دټولنیز جوړښت لپاره دحجرې حیثیت لري، څه دیوې ټولنې دمختلفو فامیلونو، طبقاتو، اقشارو، سازمانونو او بل هر ممکن جوړښت په کچه چې وي د سالم او مشروع رقابت له مخې ددغه ټولو جوړښتونو دعمودیت او افقیت په ټولو کړیو کې په پوره امانت دارۍ سره وروزل شي او هیڅ یوه کوچنۍ کړۍ له نظره ونه غورځول شي . په غیر صورت کې ټولنیز نظام شلیږي، توازن له منځه ځي او د سیالې ټولني جوړیدل به هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناممکن وي .د یو مثال په توګه ویلی شم ،که چیري دیوه یا څو اتمونو اتمي نظام ړنګیږي او په واقعي مفهوم په اصطلاح د نظام خلاء رامنځته کیږي ، ټول جهاني نظام د لوی خطر سره مخامخ کولی شي. ځکه چی دغه لایتناهی جهان دیوی کوچنۍ ذري په تناسب عدم توازن هم نه شي منلی. بشری ټولنه هم دطبیعی جهان په څیر په یوه ترلی نظام بدله شوي او ټول با احساسه بشریت یو تر بله سره په غم او ښادۍ کې شریک دي. دبلی خوا داوسني تخنیکي انکشافاتو او دمختلفو مملکتونو او ولسونو دنظامي امکاناتو په تناسب بشري ټولنه هم په ترلی نظام او هم په هر اړخیز متحسس او متأثره شکننده سیستم بدله شویده او دا دامکان څخه هیڅ لیري نده ،همغسي چي په یوه کوچنۍ ذره کې لایتناهي جهان غرقیدلی او قیامت جوړیدلی شي نو دیوه فامیل په غم هم ټوله بشري نړۍ په غم لړل کیدلی او یا دکوم شیطاني ځانګړي او منفردانه غیر مسؤلانه برخورد سره موجوده ټولنیز توازن له منځه تللی او شخړه پرته دګټونکي پای ته رسیدلی شي.

هو ! په راتلونکي جنګ کې به ګټونکي وجود ونلري ! ! !

ښه به داوي چې دسلیم عقل او سنجش خاوندان دیوویشتمي پیړۍ دچنګیز او هتلر څخه واک پخپل لاس کی ونیسی او دبشری ټولنی دراتلونکي سرنوشت په باره کې دانسان او انسانیت په نامه انساني فکر او پریکړي وکړي .راشی دپورتني لنډ تذکر له مخې خپل لیري او نژدي تیري زماني او همداسې موجوده حوادثو او جریاناتو ته مخ واړوو او پخپل ضمیر کې پخپله قضاوت وکړو چې آیا دنړۍ په موجوده شرائطو کې مونږ دټولنیز ژوند ددغه بې شمیره اړخونو څخه





حتا په یوه کې هم دسیالی دعوه کولی شو؟ نه ! ! !که تیر تاریخ ته نظر واچوو نو زمونږ داولس عظیمه انساني نیرو او دوطنپرستی عشق او علاقه تل د ذات البینی مخالفتونو او تربګنیو په اورونو کې اوبه شوی، تل پردیو له هغې څخه ګټه اخیستي، یا یې یو ورور په بل ورور وژلی او زمونږ دشاه زلمود سرونو څخه یې کله منارونه جوړ کړي، ملک یې نیولی او وران ویجار کړیدي . یا یې زمونږ په ملک کې سرباز ګیري کړې، ملکونه یې پری فتحه کړي او لویي امپراطوری یې جوړې کړیدي .رحمان بابا وائی:

دا دنیا قصاب خانه کړه خدای وماته
لکه پسه ولاړ په غولي دقصاب یم
که هر څو آبادي وکړم په جهان کې
سر انجام زه همغه خانه خراب یم

هو !دا دغه نابغه مفکر ، تحلیل ګر او د اولس په غم غمجن لنډ او دقیق تحلیل او بیان دي چې زمونږ دټولنې دماضي، حال او راتلونکي په هکله یې کړیدي. واقعاً ډیر دقیق دي او نن هم مونږ لکه پسه غوندې دقصاب په غولي ولاړ او خانه خراب یو.مونږ ددي په عوض چې دتیرو بدبختیو ، ناخوالو او فاجعه امیزه ژوند څخه لازمه نتیجه ګیري کړې او سې دسمون او خلاصون لارې مو لټولي اوسې ، برخلاف دهمدغه بدبختیو ، ناخوالو او نیمګړتیاوؤ ، مو پخپلو منځونو کې انتقام جویۍ شروع کړي او لا مو دخپل منځی عداوتونو، بې اتفاقیو او تربګنیو په اورونو تیل پاشلي او لرګي مو پرې بار کړي، پخپله پکې سوي یو او پردو ترې ګټه اخیستی ده . مونږ دچارو دسمون په خاطر یوه لحظه چیرې فکر ندې کړې او نه دجوړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لپاره کله سره راټول شوي يو. زمونږ ټولې غونډې دوراني او ددښمنيو د پياوړتيا په خاطر جوړيږي . زمونږ ټول عمر دخپل منځی انتقام جويي لپاره په تفکر ، تجسس او پلان جوړولو په خاطر تيريږي، زمونږ ټول زخمونه دشادو زخم دي تل ناسور او تل تريويني څاڅي. زمونږ اسلافو دخپل ا ولس دخير ښيګڼې په هيڅ اړخ کې داسې کومه تيره يا لوټه نده ايښې چې په راتلونکي کې مونږ لپاره تکيه جوړه شي او زمونږ ټولې هڅې اوفعاليتونه په همغه ابتدايي ترين شکل او بڼه منهمک او منجمند پاتې دي ، هيڅ تغير پکې ندې راغلې او که راغلې اوسي تل پر شاتې ځغاستلي يو . همدا سبب دي چې هيڅ سلف خپل خلف ته دسترګو دغړولو او پورته کولو جرئت نلري او خلف هم زمونږ په ملک کی همغه دزاړه کفن کش لار تر همدې لحظې تعقيبوي . زه خپلو دې خبرو لپاره کوم دليل يا مثال نه راوړم ځکه چی دا مسايل له بده مرغه عموميت لري . زه پسيميست هم نه يم خو متاسفانه چې د خوشباورۍ او اپتيميزم لپاره هم هيڅ دليل نلرم .دبشر په تاريخي دوره کې نژدي ۵۵۰۰ جنګونه ثبت او دهغې زيا ته برخه زمونږ په ملک يا دهغې په شاوخواکې پيښ شويدي . دهغې دسونګ مواد او قربانيان زمونږ خلک او دجنګ ميدان زمونږ ملک وؤ. همدا سبب دي چې زمونږ داولس په ۶۰۰۰ کلن تاريخ کې مونږ ته په ملک کې ولاړه لوټه په ميراث نده پاتې . ملامته هم په عمده ډول زمونږ مشران او همداسې زمونږ اولس وؤ ځکه چې وايي : اولس دهمغه حکومت، دولت او مشرتابه سزاوار دی چې پری حکومت کوی . مونږ تل دسيالو اولسونو په قطار کې زنګ وهلې او ضعيفه کړی وؤ. مونږ تل په پټو سترګو خپل سرونه





دغره سره جنګولي او طبعاً چې سربه مو تل مات وؤ. ددی په عوض چی سنجش او تعقل ته رجوع وکړو او دخپلو نااميديو ، ناخوالو او نيمګړتياوؤ دسمون لارې ولټوؤ خوشې په خوشې دخپل قهر، غضب، بغض او کينې داور دسړولو په خاطر ذات البينې حسادتونو او تضادونو اور ته مو لمن وهلې، د "ځانځاني" ښامار غوندې مو پخپلو غوښو خوله لګولي يو بل مو سره وژلي، خوړلي او تباه کړيدي . زمونږ مشرانو له ډيره شرمه تل تاريخي واقعيتونه پټ کړي، تحريف کړي او اولس خو يې لکه چې با الکل هير کړيدې او تاريخ پوهانو ته هم نه چا دا فرصت ورکړې او نه هغوی دا جرئت کړيدې چې تاريخي واقعيتونه وليکي. نه مسؤلو افرادو ، ارګانونو او داسې نورو دکوم اعتراض غږ پورته کړيدې او نه يې کوم عمل ته لاس اچولې چې هر څه پخپل اصولي او قانوني مجرا کې پريوتي وې . که چا دا کار په انفرادي يا ندرتاً په ګروپي ډول کړې ، هغه همغسې په پټو سترګو غره سره سر جنګول وؤ او کومه نتيجه يې نده تر لاسه کړي . دتير تاريخ څيړل ددې ليکنې له حوصلې څخه وتلې کار دې ، ښه به دا وي تاريخ پوهانو ته يې وسپارو چې په نوي شرائطو کې يې دنوي اغاز په څير وڅيړي. کوم چا دبل تن څخه پوښتنه کړې وه . نوم دې څه دی؟ هغه ويلي وؤ سر تير . ده ورته په ځواب کې ويلي وؤ که داسې سر زما هم وې زه به هم وختي لا ترې تير شوې وای . نو هر څه چې تير شويدي مونږ ددغه هر څه سزاوار وؤ .حقيقت دادې چې په افغانستان کې سياسي مبارزې سياسي رنګ نه دې پيدا کړې اود دتعجب خبره داده چې په هيواد کې څو لسيزي جنګ دوام لري په ميلونو بې ګناه انسانان وژل شوي، په مليونو معيوب شوي، په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملیونو له وطن څخه فرار ته مجبور شوي او زمونږ تاریخي هیواد سرتر پایه په مخروبه بدل شواو ې پدې جنګ کې پخپله دافغانانواو په خاصه توګه د روشنفکرانو له خواد هر ډول بشري، انساني، اسلامي، او افغاني پابندیو ، معیارونو او ارزشونو څخه سر غړونه او تیرې شوې او دژبې، مذهب، محل، تنظیمي او سیاسي اړیکو له مخې داسې غیر انساني اعمال ، ظلم او ناروا شوي چې دوحشت او بربریت تیرې تاریخي دورې یې له ځانه سره مثال او نمونی نلري . پداسې اعمالو کې په اصطلاح کمونستان، مجاهدین، بې طرفان، یو له بل څخه پاتې ندي راغلي، خوزمونږ روشنفکرانو تر هر چادمخه پخپله په ټولو بشري ارزشونو پښې اړولي اوله واقعیتونو څخه یې سترګی پټې کړیدي . زمونږ سیاسي ، اجتماعي مسلکي او با تجربه کارپوهانو ، روشنفکرانواو ادیبانو دپنځو روپو په مقابل کې دیوه کس، ډلي او تنظیم د ټولو ناوړه او غیر انساني اعمالو د حقانیت دتوجیه په خاطر برهان او دلیل چیني کړې او تل یې خپل تاریخي رسالت او مسؤلیت ته شا اړولي ده.همدغه کمونستان چې د سیاسي واک خاوندان هم وو، دجناحي او یا دیوې جناح دداخلي شخصي تربګنیو له مخې دثور دانقلاب دلومړۍ ورځې څخه د ټولو کودتا ګانو عاملین هم دوی وؤ، دوی پخپله دجناحي برلاسي په خاطر روسان په افغانستان باندې یرغل ته وهڅول او دوی پخپله د سرو لښکرو سره یو ځای راغلل او دافغان اولس غمیزه چې د ثور له انقلاب څخه پیل شوې وه نوي بین المللي ابعاد پیدا کړل . کله چې افغان اولس دروس او دهغه دګوډاګي دولت پر ضد جهاد اعلان کړ، همدغه روشنفکرانواو دولتي تکنوکراتانو چې د سیاست په





ټولو لویو او وړو خبرو پوهیدل او کلونه کلونه په لوړو دولتي پوړیو کې ددغه چارو مجریان وؤ ، د سیاست د ټولو اصولو پر خلاف د پاکستان حکومت او په خاصه توګه د آی اس آی جاسوسي دستګاه ته پنا وروړه ،کومه چې هم دوی ته سترګې په لار او ځیني لا پخوا ددغه دستګا ه تر لمنې لاندې شپې سبا کولې اود هغوی شوم پلانونه یې په افغانستان کې عملي کول .همدغه مجاهد روشنفکران وؤچې د روسانو د یرغل څخه وروسته یې، روسانو سره په پټه سازش او تړونونه وکړل او تل یې د نورو مجاهدینو په مقابل کی توطیئ او د سیسي جوړولي او کودتا ګاني یې کولي. دوی دوسلو او حتا دافغانانو دناموس دخرخولو له لارې دپیسو ذخیره کولو څخه هم ډډه ونکړه اودطیارو ، ټانکونو، سپکو او درنو وسلو له تختولو او پاکستان ته سپارلو او خرخولو کې یو له بله پاتی رانغلل .داهم پوره معلومه شوه چې دروس سره دجنګ په وخت کې کفر، اسلام ، عرب، عجم، خپل، پردي، ګاونډي او لیري پراته هیوادونه یو ډول په افغانانو بې رحمه وؤ او هر چا په کې خپل سیاسي اهداف چاغول .د روس دخاینانه یرغل او دافغانانو دقهرمانانه مجاهدت په نتیجه کی دهغوی د فضیحتباره ماتې او له افغانستان څخه له وتلو وروسته ملګرو ملتونو په افغانستان کې د سیاسی خلا دمنځته راتلو څخه دجلوګیری په خاطر دخپل پنځه فقریز پلان له مخې دیوه نسبي ملي دولت دجوړولو لپاره هڅي شروع کړي وي. ددې کار په خاطر د ملګرو ملتونو نماینده داکټر نجیب الله استعفا ته مجبور اود ملګرو ملتونو غونډې ته وبلل شو . همداسې په نظرکې وه د صبغت الله مجددي په مشرۍ د مجاهدینو یو هیئت مسکو ته ولاړ شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



،خو ناڅاپه د ۱۹۹۱ نوومبر په ۱۱ د برهان الدین رباني په مشرۍ د مجاهدینو د غه هیئت مسکو ته ولاړ او رباني د دی په عوض چی د افغانانو د جهاد د مقدسو ارمانونو ، د بین المللی منل شوؤ قوانینو او تعهداتو او د ملګرو ملتونو د پنځه فقرئیزي طرحې له مخی په افغانستان کی د یوه ملي دولت د جوړیدو ، د افغانستان د بیا ابادنې او د جنګ د ټول تاوان د ګاللو غوښتنه کړې وې ،د غه فرصت طلب او تر ننني ورځی پوری د عوه جلب انسان د روسانو او د کارمل د ډلې سره د هغه پورې تړلې شمالي ټلوالې په نمایندګۍ په پټه سره د کودتا طرحه جوړه او لاسلیک کړه او د همد غه پلان له مخې د ببرک کارمل د ډلې هغه لوړ پوړو چاروا کو چې د ډاکټر نجیب الله د حکومت په وخت کې یې لوړ مقامونه درلودل ،په دوه اړخیزه او څو اړخیزه رول لوبولو په دراما تیک او فلمي ژستونو سره ډاکټر نجیب الله بندي او د حکومت چارې یې شمالي ټلوالې ته وسپارلې. د ژنیو د خبرو په جریان کې د حکمیت اساسي صلاحیت چې امریکي په غاړه درلود او د روس له ماتې څخه وروسته پخپله امریکا او اروپا اعتراف وکړ چې د روس غوندی نا شکنه دښمن یې د افغانانو په زور مات، د روس پخواني اسیایي جمهوریتونه او شرقي اروپایي مملکتونه آزاد او امریکا یکه تازه د جهان شوه، خو په ډیرو خړو سترګو او ډیر ظالمانه او جفاکارانه یې دا اعلان هم وکړ چې امریکا نور د افغانانو په کورنیو چارو لاس نه وهي او یا په اصطلاح مداخله نه کوي او هغه غیور افغان اولس یې ، چې څو ورځې د مخه ، د دوی لپاره مایه د مباهاتو وؤ ،په ډیر خاینانه شکل څو پاټک سالارانو او وحشي بیګانه پرستو جنګي قوماندانانو ته یوائی لاس تړلې پریښوده . د کابل ستر





تاریخي، کلتوري، سیاسي او نظامي لو علمي مرکز او نور ښارونه چې سوزیدل یې د پنجابیانو ارمان وو تر سره او په لسګونو زره انسانان قرباني شول. کومې سترې د ورور وژنې غیر انساني پیښې چې پورته ورته اشاره وشوه هم د همد غه مرحلې او همد غه جهادي روشنفکراو د ذهن ،فکر او عمل محصول دی . کله چی د مجاهدینو مشران د خپلو ډلو سره په افغانستان رانوتل او تر کابله راورسیدل هر ځای عسکري قشلې، تاسیسات او وسلې او همداسې دولتي اداري او دارایي ګانې ورته تسلیم شوې. خو دوی پخپل ملک کې چې د ډاکټر نجیب الله د دولت وارث او د افغانانو د مال او ناموس د حراست او حفاظت مسئول ګڼل کیدل، ټولې شخصي، ملي، دولتي او نورې دارایي ګاني یې د ځانونو لپاره مال د غنیمت وګڼله او چور یې پرې جوړ کړ. د مکتب د میز، چوکۍ او سطرنجۍ څخه نیولې ، تر جمهوري ریاست د دفتر د میز ، چوکۍ، قالینو او موټرو پورې او همداسې د یوې کوچنۍ مرمۍ څخه نیولې تر طیارې پورې هر څه د پاکستان په بازارونو کې د کباړ په بیه خرڅ او یا پنجشیر درې ته وچلول شول . د الري چکونه چې د افغانستان د دولت سره کومک شوې وؤ په شخصي جیبونو او مرستې چې به کیدلې په شخصي بانکي حسابونو کي تحویل شوې. کله چې برهان الدین رباني جمهور رئیس شو نو د خپلې ادارې د حقوقی او اداري اسنادو د تنظیم او تسوید لپاره یې صدیق کانجو د مشاور راوغوښت او د دفاع وزیر احمد شاه مسعود د امنیت او د دفاع وزارتونو د تشکیل جوړول د آی ایس آی رئیس حمید ګل ته وسپارل . د موزیم نادره اثارو باندې هم چور شروع شو او هر چا د خپل برلاسي په

(c) ketabton.com: The Digital Library



تناسب خپله او دخپلو متولیانو برخي پکي کولي او دغازی وزیر محمد اکبر خان تاریخی تفنګچه هم داوریدو له مخې حمیدګل ته تحفه شویده . طالبان راغلل چې ددې ټولو بدبختیو تلافی وکړي، پاتې سالاري او قوماندان سالاري په افغانستان کې پای ته ورسوي، حق په حقدار وسپاري او بیا خپلو مدرسو ته ولاړ شي . کله چې ددوی دباندنیو چارو وزیر ، د دوه نورو ملګرو سره المان ته راغلي وؤاو مونږ ورسره ولیدل ، مونږ ته یې هم ډیرې ښې وعدې راکړې. مونږ ورته وویل ضرورت نه شته واک بل چاته وسپاری ،خو طالبان په یواځې ځان دغه چارې سرته نه شي رسولې ، ځکه ستاسې دکار ساحه معلومه ده. ښه به داوي ، واک له خلکو سره شریک او کار اهل کار ته وسپاری. په لومړیو ورځو کې دوی ځیني کارونه لکه دامنیت تأمین ،د غل غدو مخنیوې،دشمالي ټلوالې او د ببرک د ډلې ځغلول چې غوښتل یې په ټول افغانستان د بازارک ( پنجشیر ) پاچاهي ټینګه کړي ،د کوکنارو کر کیله منع کول اوداسې نور وکړل او ټول خلک ورته خوشحاله او برهان الدین رباني ورته مهیلانه دنجات ملائیکي وویل . دوی دغه ډول یوڅه کارونه سرته ورسول او دهیواد په داخل او خارج کې دیو څه نیک شهرت څخه هم برخورداره شول لیکن خپلو مدرسو ته ستانه نه شول او نه یې واک له چا سره شریک کړ. په دوهمه مرحله کې دهغوی خارجي مرستندویانو ،خو په حقیقت کې د هغوی رهبرانو ،طالبانو ته په افغانستان کې دعادي سواد او علم ،پوهې او کلتوري ارزښونو له منځه وړلو پلان وړاندې کړ. طالبانو نپوهیږم ولې پدې کار کې دتأمل څخه کار وانه خیست او په عاجله توګه یې مذهبی او قهقرایي کلتوری او





اخلاقی بدعتونو باندې پیل وکړ او داسې ترخې او دشرمه ډکې حادثې رامنځته او دلخراشه منظرې جوړې شوې چې نه اسلامي نړۍ لپاره دمنلو وړ وې او نه پخپله افغانانو لپاره . طالبانو ورځ په ورځ په خلکو کې خپل ملاتړ له لاسه ورکړ. همدا سبب وؤ کله چې امریکا او متحدینو(اجیري شمالي ټلوالې ) پرې حمله وکړه څوک یې په ملاتړ کې ونه دریدل . سره ددې چې مونږ په افغانستان دامریکا حمله غندو او هغه د بین المللی تعهداتو او اصولو څخه یو تیرې ګڼو ، دطالبانو وروستي اعمال هم په هیڅ صورت سره د تائید نه وؤ. طالبان هم په یو حساب لیک ، لوستي یادیږي ، خو بدعتونو یې نه داسلام اونه د فرهنګ سره سمون درلوداو نه یې نن درهبرانو اعمال څوک تأئیدولې شي .ددې ټولو خبرو سره سره کله چې مونږ اخبار، مجله او کتابونه لولو ، رادیو ، تلویزون، مصاحبې، بیانیي او ګذارشونه اورو هیڅوک ، هیڅ ډله او تنظیم دهیڅ ډول مسؤلیت احساس نه کوي او نه ځانونه مسؤل ګڼي. هر یو لکه دفلم لوبغاړې تل بري الذمه او دهر عمل جوګه ګڼل کیږي. په افغانستان کې هیڅ جرم لکه دپخوا په څیر مجرم نلري، افغانستان دبې مجرمه جرمونو ټاټوبې او هر مجرم په کې د تل لپاره بې ګناه ګڼل کیږې. نن هم په حقیقت کې د افغانستان حکومت ،دولت او ټول واکداران بې ګناه مجرمان دي. قانون په حقیقت کې کله هم نه وجود درلوده او نه یې کله د واقعیتونو له مخې عملي بڼه درلودلې ده او دقانون دحراست مسئولین که عملاً موجود هم وؤ د فعالیت څخه یې څه نخښې نښاني نه لیدل کیږي. سوال دا پیدا کیږي ، آیا په اوسنیو شرایطو کې داسې قانوني حقوقي باصلاحیته مرجع شته چې مجرم او غیر مجرم سره تفکیک او مجرم په سزا

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورسوي؟ ایا فکر نه کیږي چې په اوسنۍ وضعه کې به دمجرم په عوض، غیر مجرم په سزا ورسیږی ؟ایا فکر کوی چې مجرمین یواځې پخپله افغانان او که اساسي مجرمین بهرنیان او زورواران دي چې څوک یي په سزا قادر نه دي.. دا ټول زمونږ دجامعې ترخه خو عیني واقعیتونه دي . باید ویي منو. قبولیي کړو. خدای خپل بنده ګان دزمکې له مخ څخه نشي شړلې، اصلاً دا خدای خصلت او صفت نه دې . دا محض یو متل دې، مونږ څه کاره یو چې خپل خلک که ښه دي او که بد له ملک څخه وشړو. که غواړو چې خپل کور جوړ او وطن آباد کړو باید همدغه خامې بینې ختې پخی کړو او دافغانیتولنې حقوقي، علمي، اجتماعي، سیاسي، اقتصادي او داسې نور ټول با ارزښته جوړښتونه او ارزشونه چې نن یي په هر بد نوم څوک یادوي د تاراو پود څخه و اخلو. همدغه یواځینې سیال عمل دې او همدغه یواځینۍ لار ده. بې لارې چې په لار کړې له دې نه بله لویه سزا دهغه لپاره نشته . یواځې دهمدغه لارې نور اولسونه روښانه افقونو ته رسیدلي او مونږ هم رسیدلې شو. نن چې دملګرو ملتونو په نوښت په افغانستان کې دبیا ابادونې پروګرام دلاس لاندې دې باید ملاتړ یي وشي . دا یواځینې امکان او چانس دې، په دې شرط چې بین المللي تعهدات ،اصول او نورما تیفونه جداًپه پام کې وساتل شي. د تیرو کلونو تجربو وښودله چې مونږ پخپله په ځانګړی توګه نه ددی توان او استعداد لرو او نه غواړو ځانونه ورته اماده کړو او یا داخلي او بهرني دښمنان مو دغه کار ته نه پریږدي . کومه سرمایه چې دنیک نیت له مخې د افغانستان د بیا ابادونې لپاره منل شوې باید دجذب استعدادمو پیدا کړې وې، چې له





بده مرغه تر اوسه مو ندې پیدا کړې او ۱، ۵ ملیارده ډالر چې منځمهاله اداری ته دشپږ میاشتنۍ دورې لپاره تخصیص ورکړې شوې وؤ تر اوسه یو ډالر ندې مصرف شوې او که مصرف شوې، پر ځای نه دې مصرف شوې . دا پیسی ټولې د پردیو او دپردیو د غلامانو جیبونو ته تللي دي.حال داچې دا پیسي بازگشت هم غواړي . ملا نصرالدین ډیر پخوا مړ دیې. دا دسیالانو (امپیریالیستانو ) پیسي دي او دسیالانو سره معامله سیال بدل او د دوی پیسي ورسره ملا متې سود هم غواړی او دهمدی بارلاندی به د ابد لپاره ملا ماتي پراته اوسو. دي ته واي اولسي سیاسي فلسفه ،د سیالانو لوبي، دسیال ژوند دود او دستور ،او دموجوده غمیزي څخه دافغانانو دخلاصون یواځینۍ لار .

۱۲ ،۴، ۲۰۰۲ م کال

(c) ketabton.com: The Digital Library



# حرکت

حرکت د یوې خپرونې نوم دې چې د مطبوعاتي نړۍ په ورشو نوي قدم ږدي. دغه نوم که پرون د شخصي یا کورني تخلص، نن د خپرونې د نوم او سبا ته د محترمو پوهانو او عالمانو په شریکه هڅه په نوي فلسفي فکري محور، نوي علمي څېړنیز متود او یا نوي فلسفي مکتب بدلیږي، په ټولو حالاتو کې د دغه فلسفي ــ فزیکي مقولې لوی جهاني تکویني ماهیت تل په نظر کې وو او اوس هم پدې عقیده یو چې حرکت د نوي فلسفي طرز تفکر نوم دې چې ټولې پدیدې او واقعیتونه یواځې د علمي منطق، استدلال او مناسبتونو له مخې، پرته له ذهنیګریو په پوره امانت دارۍ سره څیړي او د تل لپاره په علمي اصولو او قوانینو باور لري او ورته وفاداره پاتي کیږي.

دا نومونه به هیڅکله شخصي ځانګړې اړه ونلري او ویاړ به یې د هغه چا په نصب وي چې پدې لار کې زیات زیار وګالي، زیاتې بریاوې ترلاسه کړي او د دغه فلسفي نوي طرز تفکر د قوانینو او مقولو د فورمولبندیو په سیستماتیک تشکل او دیوه نوي فلسفي مکتب د ارګانیک علمي جوړښت په رامنځته کولو کې پایدار او چټک قدمونه واخلي. خو زما په عقیده دغه ډول پدیدې همیشه د عصر او زمان د جمعي شعور مظهر او د حي علی الفلاح چیغه وي چې یوه تاریخي مرحله په بله اړوي، د اولسونو د قیوداتو کړۍ ماتوي، نوې ساه او نوې ازادي ګاني وربښي نو ځکه یې ویاړ او ګټې هم جمعي او شریکي وي.





په حقیقت کې د دغه نوې فلسفي فکري نظر هغه وخت راپیدا شو کله چې د شلمي پیړۍ په اتمه لسیزه کې د « عینیت فلسفه » تر عنوان لاندې لومړې ځیني مقالې او وروسته د دغه مقالو مجموعه په کابل کې چاپ او د پراخه ارزونې لپاره پخپله په افغانستان او پخواني شوروي اتحاد کې علمي اکادمیکو مؤسساتو او مقاماتو ته وړاندې شوه. خو له بده مرغه تر اوسه پورې یې په هکله لازم انتقادي نظر ندې لیکلې شوي. نو موږې مقالې به د همدغه خپرونې له لارې یو ځل بیا د یوڅه تغیر او تکمیل په راوستلو سره ارزونې ته وړاندې شي. ځکه د هغه وخت د شرایطو په پام کې نیولو سره په هغې کې یوڅه شخصي سانسور او نرمش رامنځته شوې وو.

دا خپرونه چې ټول سیاسي، ټولنیز او اقتصادي مسایل به په عام ډول علمًا څیړي خو په خاص ډول به د نوي فلسفي فکري نظرلار تعقیبوي. نو ځکه یې د « **حرکت** » په نامه نوموؤ.

حرکت په عالم الاسباب کې د خدای د لوی علم د عامې قانونمندۍ او د هغې د ټولو خصوصي حالتونو په پروسه کې د ټولو پدیدو د ظهور او متقابلو اړونده مناسباتو د علت او معلول مسبب ګڼل کیږي. دا لوی جهان موجود دې ځکه چې متحرک دې او متحرک دې ځکه چې موجود دې. دا جهان همغومره متنوع، متفاوت، رنګارنګ او متغیر دې لکه څومره چې حرکتونه متنوع، متفاوت، رنګارنګ او متغیر دي. دا جهان همغوره ابدي دې لکه څوره چې حرکت ابدي دې. لوی خدای د خپل لوی علم د عامې قانونمندۍ له مخې د لوی جهان او حرکت متقابل ابدیت او موجودیت یو تر بله سره لازمي ابدي علت او معلول او همداسې قائم با الذات او خلل ناپذیر ګرځولې

(c) ketabton.com: The Digital Library



او یوائې دقضاء او قدردلوی علم دجبر او اختیار له مخې په هغې کې تغیر او تصرف ممکن ګڼل کیدې شي.

پدې ورستیو وختونو کې په افغانستان او دهغې دباندې ډیري خپروني خپریږي. هغه څوک چې په ایمانداری سره دغه کار سرته رسوي مونږ یې هرکلې کوؤ. ددغه خپرونو په سرخطونو کې معمولاً لیکل کیږي: بې طرفه ، ازاده ، مستقله ، ملي ،اسلامي او داسې نور. مونږ ټولې دغه ډول پدیدې نسبي ګڼونو ځکه دلومړۍ ورځې څخه وایو چې مونږ هیحکله بې طرفه نه یو. مونږ ټاکلې او مشخص هدف، طرف او ارمان لرو. زمونږ طرف دهرڅه دمخه زمونږ ګران هیواد افغانستان ، افغان اولس، دهغوی ملي ګټې ،منلي رسوم ، عنعنات ،عقاید او مقدسات او وروسته له هغې بین المللي او عام انساني تعلقات او تعهدات دي چې په پوره ایمانداری به دهغې پلوي او دفاع کوؤ او نور به هم دې کار ته اړ باسو.

د ازادی، استقلال او ملي موقف په باره کې زمونږ نظر دادې چې دقضاء او قدر دعام قانون له مخې مطلق مختار او مطلق مجبور وجود نلري او هر اولس ، ، هر دولت او هر څوک پرته له امتیاز څخه مجبور او مکلف دې یو شان بین المللي عامه نظم ، منل شویو تعهداتو ،قوانینو او نورماتیفونو ته غاړه کښیږدي. دسر غړونو په صورت کې به زمونږ دریز دهمیش لپاره متقابل وي.

د ملي او بین المللي تناسب په سیالی کې به زمونږ موضعګیري دتل لپاره د بین المللي اصولو او قوانینو په نظر کې نیولو سره سره دملي موقف څخه د کلکې دفاع په طرف وي.

اسلام زمونږ دافغانانو او دیوه ملیارد څخه زیاتو مسلمانانو





بر حق دین دې. په هغې پا بند او کلک معتقد یو. د نورو ادیانو دپلویانو درناوې کوؤ او په مقابل کې یې دجبر او زور استعمال روا نه بولو او یوائې د «وما علینا الا البلاغ» اصل او حکم ته معتقد یو. خو هغه څوک چې په ناروا او سپین سترګتوب سره تروریزم ،بنیاد ګرایي او یا بل هر ډول خرافات داسلام دنوم سره تړي او پدې بهانه خپل ناروا سیاسي اهداف پر مخ بیایي زمونږ لپاره هیڅکله دمنلو وړندي او پدې باره کې سپیناوې خپله ملي او اسلامي دنده بولو.

مونږ افغانستان دټولو افغانانو ګډ کور بولو او کومې دښمنۍ او بې اتفاقۍ چې دمغرضو هیوادونو او دهغوی دبریځو لخوا دورونو قومونو تر منځ ایجاد شوي دهغې دله منځه وړلو او دوروری دباوري فضاء درامنځته کولو لپاره به هڅه کوؤ. مونږ پدې کلک باور لرو چې دافغان اولس خوشبختي ، پرمختګ او پایښت په ملي وحدت کې دې. هغه به دسترګو دکسي په څیر دبین الافغاني او بین المللي منل شوؤ اصولو له مخې په پوره ایمانداری او تقوا سره ساتو.

مونږ دګاونډي ، اسلامي او دنړۍ دټولو هیوادونو سره د بین المللي قوانینو او اصولو سره سم سیال مناسبات او دوستي غواړو او په دغه اصولو پا بندي خپله ملي ، اسلامي او بین المللي مسؤلیت او دین ګڼو او دمتقابل لوري څخه هم همدغه ډول تقاضا لرو.

مونږ په بین المللي منل شوؤ قوانینو ،اصولو ،تعهداتو ، منشورونو ،پریکړو ، ...باندې دټولو لویو او وړو هیوادونو یو شان پابندي غواړو او داکار دبین المللي نیکو اړیکو ،دتروریزم له منځه وړلو اونړیوالي سولې دتأمین عمده او اساسي اصل او

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوائیني ضامن ګڼو.

دا خپرونه به په عمده ډول په پښتو او دري ژبو خپریږي او تنا سب به یي ، سره ددې چې پښتو د اکثریت ژبه ده ،بیا هم یوائې پدې پورې اړه ولري چې څوک څومره او په کومه ژبه خپلې لیکنې کوي او مونږ ته ئې سپاري. هغه لیکوالان چې زمونږ فکري لار پخپلو لیکنو کې په نظر کې نیسي او یا په انتقادي ډول مونږ سمې لارې ته رهنمایي کوي مخکې له مخکې کورودانېورته وایو او دزړه له کومې مننه ورڅخه کوؤ.





# بې مجرمه جرم ؟
# که بې ګناه مجرم ؟

کاشکې زمونږ د کوچنۍ نړۍ ، کهکشانونو او اُنیورسیوم په دې پراخه ورشو او لیري پرتو بوده او تنسته کې ، د فلسفي او طبیعي دیالکتیک د قانونمند منطق په قوانینو او قانومندیو کې دغه ډول یوې کوچنۍ نموني ، مناسباتو او دیالکتیکي مقولو وجود درلودلې ؛کاشکې په الهي احکامو ،آوامرو او هدایاتو کې دغه ډول یوه کوچني مثال ته چیرې اشاره شوې وای ؛ کاشکې د بشري اصولو ، قوانینو او مناسباتو یا دافغاني ټولنې د خود ګردانه دموکراتیک ژوند په دود او پښتني تړو ، تیرو ، رواجونو ،اصلو او زړو روایاتو کې ددغه مفاهیمو د منلو په خاطر کومې نړۍ لارې چیرې وجود درلودلې ؛ کاشکې په نورو ټولنو کې هم بې مجرمه جرمونه او بې ګناه مجرمان پیدا کیدلې شوای ؛ کاشکې چې هر مجرم او دجزا وړ خدای په همدې نړۍ دخپلو اعمالو په جزا رسولې او سپین مخې او تورمخې سمدستي معلومیدلې او بې عدله عدلیانو او بې انصافه منفصفانو ته دقضاوت حاجت نه پاتې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کیدلي ؛ لیکن خدای «ج»عادل ذات دې ، انسان یي مختار پیدا کړې او د حساب وعده یي د اخرت په ورځ ورکړیده . ؛کاشکې پدی ځینو افغانانو کې لکه د نورو انسانانو په څیر یو څه انصاف او درک موجود وې او د اخرت دورځې له حساب او د تاریخ د قضاوت څخه یي ډار درلودلې او پدې پوهیدلي چې د اخرت دورځې حساب حتمي او د تاریخ قضاوت عیني دې . د خلکو د انظارو څخه هیڅ عمل نه پټ سرته رسیدلي او نه پټ پاتي کیدلي شي. خلک تل واقیعتونه همغسې چې دي د عامه قضاوت لپاره په خپله اصلي بڼه راپریباسي . پدې صورت کې به هم کله نا کله ځانته هم گوته نیول کیدلي ، خو له بده مرغه مونږ افغا نا ن تل پدې یوه خبره کلک ولاړیو چې "زه یي ملامتولم خو ما ځان نه ملامتوه » .

پخوانۍ عربي مقوله ده "لکل فن رجال" یادا چې په نني عصر کې پروفیسونالیزم د اجتماعي نظم او عدالت اساسي اصل او ضامن گڼل کیږي نو کاشکې چې مونږ دغه اصولو ته لږ څه ارزش قایل وې او هغه څه ته مو لاس اچولي چې له وسعي مو پوره وې . لیکن افغانان سم سمکي دي هرکار دهر یوه له لاسه پوره دې . حتا د سرله پاسه لو ته هم تیار دي ولو که پزه یي پرې او مخ یي تور هم شي ،د سر له پاسه لو کې دا ډول پیښې معمول کار او حتمي گڼل کیږي .کاشکې یي د مسلمانانو په حیث الهي احکامو او نبوي ارشاداتو ته پوره غاړه ایښودلې او د قیامت د ورځې له حساب او د خلکو له عیني قضاوت څخه یي ډار درلودلي او یا د دموکراسۍ د بشري منل شوؤ اصولو له مخې یي انساني متقابلو حقوقو او وجايبو ته احترام درلودلې نو به دا دومره سترو گناهونو او ناروا وو ته یي لاسونه نه



"لوی خدای، لوی علم، لوی جهان" سیاسي فلسفه

غزولي او افغان اولس به دومره ناروا او غیر انساني ظلمونه نه وې گاللي . خو په ډیر تأسف سره لکه چې وایي افغانانو نیم قران منلی او نیم نه ، خو دقیقه به داوي چې داځیني کسان یواځې هغه څه مني چې یي په گټه وي او سره ددې چې په افغاني او باالخصوص په پښتني خود گردانه ټولنیز ژوند دود ، طرز تفکر او مناسباتو کې دموکراسي د ټولنیز ژوند د بنسټ تیږه گڼل کیږي ، خو بیا هم د دموکراسۍ د کلمې منلو ته تیار ندي او کرکه ترې لري ، دوی دغه ډول تغیرات بدعت گڼي ، مخالفت ورسره کوي او همدلته د تحولاتو په مقابل کې د پښتني اصطکاک ریښه خښه ده . حال دا چې افغاني ټولنیز ژوند او دود عملاً د اولسي دموکراسۍ په بنیاد ولاړ دې او اسلامي احکام او اصول خو هم د واقعي عملي عدل ،انصاف او دموکراسۍ په معنا او مفهوم دي .په نورو او لسونو او بشري ټولنو کې دا معموله خبره ده ،کله چې یو سیاسي ـــ ټولنیز شخصیت خپله سیاسي برنامه سرته و نه رسولې شي ،یا دهغه برنامه د ټولنې په گټه ثابته نه شي ،او یا حتا د پارلمان په وړاندې د خپلې اقتصادي ،سیاسي او ټولنیزي کړنلارې څخه دفاع و نه کړې او یا په هغه د قانون څخه داندکه سرغړونې او یا دځینې انحرافاتو سره د مناسبت تش تور پرې ولگول شي ، سمدستي خپله استعفاء وړاندې کوي او یا استعفا ته مجبوریږي .په نړیوال سیاسي ژوند او دود او دستور کې دا هم معموله ده کله چې په ملي او بین المللي ساحه کې سیاستونه بنسټیز تغیر کوي ورسره سم سیاسي لوبغاړي هم بدلیږي او هیڅکله د پخواني سیاسي ملا پسې د نوي سیاست پلویان اقتداء نه کوي . دمثال په ډول چرچل د انگلستان صدراعظم او

(c) ketabton.com: The Digital Library



دنړۍ مشهور سیاست مدار چې هدف یې د نازیزم ماتول وؤ. کله چې نازیزم په نړۍ کې ماتې وخوړله بیا د ورځني سیاست په عملي ډګر کې چا ونه لیده. میرمن تاچر هم د انګلستان صدراعظمه د کمونیزم سرسخته مخالفه وه. د کمونیزم د ماتیدو څخه وروسته د سیاست له صحنې څخه ووتله. د المان صدراعظم او د اروپا د سوسیال دموکراتیزم رهبر ویلی برانت تش پدې خاطر چې د دفتر په رئیس یې د خیانت تور ولګیده استعفا یې وکړه. حتا په پاکستان کې نوازشریف او میرمن بهوټو دواړه د ځیني ناوړه ګټو او سیاسي اتهاماتو او یا رښتیني تورونو له مخې استعفاء ته مجبور او قانون او ټولینزو اصولو ته د احترام اصل پرځای شو. کاشکې چې زمونږ په اصطلاح اجتماعي ــ سیاسي شخصیتونه هم د سیاست پدغه ساده اصولو او پرنسیپونو پوهیدلې او غاړه یې ورته ایښودلې او د سیاسي سادو ګانو غوندې یې فی البدیه سیاسي قبلې، قریحې او ذوقونه نه بدلولي او یا زمونږ په اولس کې دا درک او قدرت وې چې هغوی یې استعفاء ته مجبورولې. یو متل دی چې "لمونځ مې قضاء کړ خفه پرې نه یم. خفه پدې یم چې خفه پرې نه یم". نو زمونږ د قدرت ټیکه داران کله هم پخپلو ناوړه او د شرمه ډکو کړو نه خفه او نه پښیمانه دي. بلکه هغوی تل تازه نفسه او لکه د فلمی لوبغاړو هرنیک او بد او منفی او مثبت رول ته په هره جبهه کې چې اوسي، لوبولو لپاره لکه «پیش آهنګان» همیشه اماده دي. دا په حقیقت کې "مشت نمونهء خروار" زمونږ د ټولنې او ټولینزو مناسباتو هغه ترخه واقیعتونه او حقایق دي چې نه یې سړې منلې او نه ترې انکار کولې شي. په سطحي نظر او کړو وړو سره حتما سړې دې نتیجې ته رسیږي





چې ګوندې د افغانانو لپاره د روغې جوړې او سمون لارې چارې لټول په کار ندي. هغوی مخکې له مخکې د هغې د ناجوړۍ چاره لټولې ده او دغه د "بې مجرمه جرم؟ که بې ګناه مجرم؟" سرنوشت زمونږ د ټولنې ازلي برخه لیک او طبیعي خاصه ده.

حقیقت دا دې چې نه بې مجرمه جرمونه او نه بې ګناه مجرمان چیرې وجود لري. نه د دی نړی په مخ داسې مافوق انساني ټولنې پیدا کیدلې شي چې نه دې د الهي او نه د بشري منل شویو قوانینو او اصولو تابع اوسي. افغاني ټولنه هم کومه مافوق انساني ټولنه نده او هر جرم لکه په نورو ټولنو کې مشخص او ټاکلي مجرمان لري او هر مجرم د عامه انظارو څخه پټ نشي پاتې کیدلې او د قانون له مخې د جزا وړ ګڼل کیږي. وایي "که غر لوړ دې په سر یې لار ده" او که "شپه تورتم ده مهی په شماردي". نه تاریخ دومره فراموشکاره دې او نه خلک هغه څه هیرولې شي چې پخپله یې زغملي او پر ځان یې تیرشوي اوسي. نه د خلف د ګناه کبارت د سلف د ګناهونو د صغارت او بې ګناهۍ دلیل کیدلې شي او نه د ګناهونو په کثرت، ټیل نا ټیل او تداوم کې د چاګناهونه لا درک او پټیدلې شي. هغه وخت چې لا خط او کتابت نه وؤ خلکو تاریخي واقیعتونه قرنونه قرنونه پخپلو ذهنونو کې ساتلي او راتلونکو نسلونو ته یې په پوره امانت دارۍ او رښتینولۍ سره سپارلي دي. که چاد چا په باره کې د خوشبینۍ او خوشباورۍ له مخې مداحي ګاني کړي، هنګامې او شاهنامې یې جوړې کړي او که یې د بدبینۍ ډنډورې غږولي او غوښتلي یې دي په دروغود چا سړیتوب او شخصیت لوړ یا ټیټ کړي، تاریخ هغه دواړه یو له بل څخه تمیز کړیدي

(c) ketabton.com: The Digital Library



.پدې ورستیو وختونو کې ډیر کسان ډیر کتابونه، رسالې او مقالې لیکي او اخبارونه خپروي . دمثال په ډول مرحوم محمدصدیق فرهنګ، پوهاند ډاکتر محمد حسن کاکړ، محمدولی الکوزی، ډاکتر محمد عثمان روستار ترکي، ډاکتر حق شناس، ډاکتر محمد حسن شرق، محمد حسن کریمي، جنرال محمد نبي عظیمي، فقیر محمد ودان، مرحوم عبدالقدوس غوربندي، سلطان علي کشمند ، شاه محمود حصین، غلام دستګیر پنجشیري..... او دالړۍ نن هم دوام لري. له بلې خوا پښتانه یو څه لیکي، تاجک بل څه لیکي، اذبک بل څه او نور نور څه . هغه چا چې دعلمي اساساتو او متودولوژۍ په بناء واقیعتونه دتعصب، تحریف او ذهنګریو پرته په پوره امانت دارۍ او تقوا سره جمع بندي او تاریخ ته سپارلې ،هم یي خپل وخت ندې ضایع کړې او نه به دنورو وخت په لوستلو اوعبثو خبرو ضایع شي. له بلې خوا په خپله واقعبینۍ او علمي تهداب ګذارۍ سره یي دخپل شخصیت درنه تیره دتاریخ په ودانۍ کې ایښي ده. خو هغه چا چې دتعصب، تنګ نظرۍ او حسادت له مخې حقایق تحریف کړي او دشخصي، ګروپي، قومي، لساني، مذهبي، سمتي ګټو درجحان په خاطر یي ترې استفاده کړې اول خو یي خپل وخت په عبثو او بې فایدې خبرو ضایع کړې او دلوستونکو وخت به یي په لوستلو او دحقایقو او جعلیاتو له یو تر بله په تیمز کولو سره ضایع کیږي او همداسې دتاریخ او دخلکو په محکمه کې یي د قضاوت لپاره دځان دمحاکمي په خاطر پخپله مستند اسناد پریښي دي . دغه لیکنې چې اکثراً یو دبل په مقابل کې شویدي څومره متضادې او څومره ترې دروغ او رښتیا له ورایه





معلومیږي . څومره په اصطلاح لویو مسئولو کسانو څومره وړې او بې مسئولیته خبرې او ددروغو صحنه سازۍ کړیدي . ډیر له دوۍ څخه هر کاره ً هیچکاره وؤ ،نو ځکه دهرې لوبې لوبغاړي او تل یي ځانونه غیر مسئول او برې الذمه ګڼلي دي. نه یي هغه وخت دخلکو او وطن په مقابل کې احساس دمسئولیت درلودلې او نن هم داستنکاف، حماقت او بې مسئولتۍ له مخې دخپل موقف څخه په دروغو دخپلې تبرئي لپاره دفاعیي لیکي . زما لپاره دژوند ډیرې ترخې شیبې همغه وې کله چې مې ځیني له دغه پنډو او ضخیمو کتابونو څخه لوستل.دبې مجرمه جرمونو او بې ګناه مجرمانو داستانونه ډیر اوږده ، ډیر ملفوف او د دروغو او تحریفاتو څخه ډک دي . هیله ده محترم پوهان او لیکوالان یي په خپله بزرګوارۍ او حوصلمندۍ سره دعیني شاهدانو او تحلیل ګرانو په حیث ولولي ،و څیړي ، وارزوي ، دروغ له رښتیاوو څخه جلا او په پوره امانتدارۍ او تقوا سره یي تاریخ ته وسپاري.

نژدې ۲۶ کاله کیږي چې په هیواد کې ې جنګ دوام لري. ټول مادي او معنوی بینادونه اوټولینز ارزشونه ړنګ شوي . دوه میلونه شهیدان ،یو میلون معیوبان او دهغوی کونډې یتیمان پاتې دي . ټولې اقتصادي زیر بناوې ړنګې او په خوا کې وران ویجاړ هیواد ، وږي، برنډ او بې کوره اولس او راستانه شوي بې سرنوشته مهاجرین راپغاره دي. ددغه ټولو حوادثو او ناخوالو مسئولیت پخپله دافغانانو ، نننې او پرونې په اصطلاح دوست اوګاونډي هیوادونو په غاړه دې. خو که هر چاته دغه پوښتنه راجع شي هر یوه یو اځې ملي وطنپرستانه، نیک دګاونډی توب او یا نیک انترناسیونالیستي دین او رسالت ادا

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړې او نن هم ورته تیاردې . هر څه چې شویدي یوائې بې مجرمه جرمونه او داکسان ټول بې گناه مجرمان دي . خو دافغان اولس غمیزه پر ځای پاتې ده او دبې گناه انسانانو وژنه او ظلم او ناروا دپخوا په څیر دوام لري . پرون دکمونیزم او نن ددموکراسۍ دډیرو وړاندې غیر عملي رویایي خوږو ارمانونو په خاطر. خود افغان اولس بچیان همدا نن ،همدا لحظه یوې مړۍ وچې ډوډۍ ته ضرورت لري او دننني ظلمونو او ناروا څخه په اور کې ولاړدي ، یود بل خو لا څه چې د خپلو بچیانو غوښې خوري ، ددي لپاره چې حد اقل یو بچې ورته ژوندې پاتې شي ، نور بچیان خرڅوي او کله چې اوبه تر غړۍ پورته کیږي په نوبت سره یو تر بله قربانۍ ته حاضریږي . هغه کوچنیان چې ددغه غمیزي په پیل کې پیدا شوي وو ،نن د ډیرو غمونو څخه سپین ګیري دي. بې شمیره کلونه د شرقي او غربي دموکراسۍ د علمبردارانو په حضور کې له یوې ورځې څخه بلې ته دبتر حالت په لور قدم پورته کوي ،افغان اولس ، واړه ،زاړه ،ښځې اونر د ځان او ملک د بې سرنوشتۍ په کړه یي کې وریتیږي ، څوک یي د «وودکي» او څوک یي له « ویسکي»سره نواله کوې او پاتي شوني یي افغان بې وطنه سیاسي معامله ګران او سیاسي دکانداران او نمایشګران د خپلو خوشخدمتیو بانکتونو او محفلونو د ګرمولو په خاطر ځغلوي او یا یي زمونږ د کعبي شریفي قسم خوړلي رهبران د خپلو نفلي روژو د روژه ماتي ماښامي پرې تودوي. ټول سوق الجیشي تاکتیکي او ستراتیژیکي مانورونه او موضعګانې او نا مقدسه قوتونه په نامقدس اتحاد کي دزمان د دجال تر قوماندې لاندې نن بلا تشبیه په افغانستان او سبا په ټول جهان کې قیامت جوړول



"لوی خدای، لوی علم، لوی جهان" سیاسي فلسفه

غواړي ،خو زمونږ سیاسي معاملګران ،سیاسي دکانداران او په اصطلاح سیاسي رهبران د خپلو متولیانو د زړو او نوو ستراتیژیو ، زړو او نوو سیاسي فلسفو له مخې خپلو مذبوحانه هلو ځلو اونه ستړي کیدونکو منډو تررړو ته دوام ورکوي . څوک د ایدیولوژیو ، څوک دژبې او سمت ، څوک ددین او مذهب او څوک د نورو هر رنګ تنګ نظریو او تعصباتو له مخې بهانه ګیري کوي او په هزار وسیله د خپلي بقاء او دافغان اولس د غمیزي عمر اوږدوي. پکار دادي دافغان اولس د نن ورځي مشکل ته ځواب وویل شي ، د افغان غمیزي د ظهور اساسي علت پیدا او د هغي له مخې ددغه غمیزي د حل لارې چارې ولټول شي ، نه داچې په دغه خو ږلن ایري بار شي تر څو د جهاني انقلاب او بلا تشبیه زمونږ د کوچنۍ نړۍ په قیا مت او « Big Bang» «لویه چاودنه»باندې بدل شي. د شلمي پیړۍ په وروستۍ لسیزه کې د افغان اولس په فداکارۍ او قوت سره کمونیزم مات ، سوړ جنګ او نړیوال انقطاب له منځه ولاړ او لکه چې پیشبیني یي شوي وه دملګرو ملتونو د امنیت دشوراد پنځه فقرئیز پلان له مخې باید د افغانانو لپاره د احسن پاداش په حیث په افغانستان کې ددایمي سولي پلان عملي شوي وای. چې له بده مرغه ځیني داخلي او خارجي جنګ طلبه خاینو قوتونو په تباني سره دغه سولئیز پلان شنډ او د کروز په راکټونو باندې د ځیني مشهورو ښارونو په ویشتلو سره یي په افغانستان کې د داخلي جنګ اعلان وکړاو افغان اولس یي د باروتو او وسلو د ګدامونو له پاسه دځنګل د قانون له مخې داخلي جانیانو ته لاس او پښې تړلي پریښود . امریکي اعلان وکړ چې نور دافغانستان په کورنیو چارو کې مداخله او

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاسوهني نه کوي او اروپايان او نور عرب وعجم په خپله مخه
ولاړل خو تربيه شوي اجنبي دستوري ډلي يي د بنيادي بربادۍ
او خرابۍ په خاطر په افغانستان را دننه کړې . دکابل په هره
کوڅه کې جدا ګانه حاکميت او حکومت جوړ ، سنګر بندۍ
وشوې ،ملي او شخصي شتمنۍ چور وچپاول، بې رحمانه او
فجيعانه خپلمنځي جنګونو او فضيحتونو کې هيڅ کمې نه
ليدل کيده ، چادچور او چپاول له لارې مالونه ،چا د افغانان په
وژلو او حلالولو جنتونه ګټل او چا د خپلو تعصباتو له مخې يو
پر بل خوا يخي کول . کله چې افغانانو په خپلو منځونو کې
سره ښه ووهل ،وټکول او سره وخوړل ،يوائې د کابل په ښار
کې له ۷۰۰۰۰ څخه زيات يوتر بله قتل عام ،د ۶۰۰۰۰۰ څخه
زيات اواره او له ۷۰ فيصده څخه زيات د کابل ښار د ايرو او
خاورو په ډيريوو بدل شو ، د طالبانو لښکر يي پري را داخل کړ
. طالبانو هم په خپلو بدعتونو کې کمي ونه کړ ،د افغانانو تر
منځ پوره هډماتې راغې او يوځل بيا د ليري او نژدي د ښمنانو
خوايخي په افغانانو وشول. يا لا اقل دومره خو وشول چې د
افغانانو په حق کې د امريکي په اصطلاح پام د بعدي پروګرام
دعملي کولو په خاطر راواوړي . طالبانو چې نژدي سل په سلو
خاوره نيولې وه او شمالي ټلوالې ټوله د تاجکستان په کولاب ته
اووختي وو ، امريکايانو رابار ، دماشومانو څخه نيولي تر
اتيا کلن پورې کماندويي دريشۍ ورپه تن او په سالنګ باندې
رابښکته کړل. د B52 او د راکټونو بمبارد او دهرې خوا پوځي
عمليات شروع او طالبان چې هيڅ‌ايي د ماتي فکر او تصور هم
نه شو کولې په معجزه اساء شکل سره د افغانستان له خاورې
راټول اوله سرحده واړول شول.





د اجتماعي ترکيب او کمي او کيفي لحاظه څخه بې محتوا
او بې بنيادہ د بن کنفراس جوړ او د پاچاهۍ تور مرغه د حامد
کرزي په سر کښيناست. ملګري ملتونه ،امريکا ،اروپا ،اسيا
،استراليا ، جمله له ځلويښتو څخه زياتو ملکونو نظاميان او
ملکيان افغانستان ته په اصطلاح د امنيت ، بيا ابادونې ، ...
راغلل ، دحامد کرزي موقتي ،انتقالي او انتخابي دوري تيري
خو پرته له خرابۍ ،فساد ، دافغان اولس دبد رنګۍ اوبي عزتۍ
د بل هيڅ شي درک ونه لګيده. وروسته به څه کيږي تر اوسه
معلومه نده. هغه څه چې عيان دي: «په افغانستان کې
ټول ارزښونه بې ارزښه شويدي ؛ هيڅ جرم او
ناروا مجرم نلري ،جرمونه ټول بې مجرمه او
عاملين يي ټول بې ګناه مجرمان دي » ! ! !

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ناسیونالیزم، انترناسیونالیزم، گلوبالیزم، کسموپولیتیزم.

ځیني کسان پدې باره کې دخپلو پخوانیو تعلقاتو، ملي او وطني مسئولیتونو او مناسبتونو ته په شا اړولو سره دخپلې وطني او اولسي ماضي ټوله نقده نپوهیږم په شعوري یا غیر شعوري ډول دګلوبالیزم دنسیه شعار په لوبه کې په یوه دوه ږدي او خپل دغه روش او "جرئت" دنوي عصر دشعار سره دمطابقت په دلیل سم عمل او دتیروهیر دهوښیارۍ نښه ګڼي !!!زما په نظر دغه ډول موضوعات تل دشک څخه ډک او دتأمل وړوي ځکه مې وغوښتل دهغې په مبادیو او الفباء باندې نه دتحلیلي مقالې په شکل بلکه دیوې یاداورۍ او ګوتنیونې په توګه بحث وکړم او بعدي ژوره څېړنه یې محترمو پوهانو ته وسپارم تر څودغه موضوع په هر اړخیز ډول وڅیړي او زمونږ ځوانان په راتلونکي کې ددغه ډول موضوعاتو دتللو لپاره تل طلایي تلې له ځان سره ولري!





باید ووایم چې ژبنی کلمات، اصطلاحات، ترمنولوژي، مقولې، قوانین، پخپله ژبې، علوم، اداري او اجتماعي سازمانونه او داسې نور دهرڅه څخه دمخه تاریخي پدیدي دي. نه بې وخته ظهور کولې شي، نه مخکې له وخته انحطاط مومي او نه له منځه ځي. ټولې پدیدي ابدي هم ندي همغسې چې دتکامل په پروسه کې دشرائطو په مساعدت سره رامنځته کیږي، دشرایطو دمخالفت په مبارزه کې انحطاط مومي. کله ناکله ځیني کسان دخپلو شخصي ګټو دبقاء په خاطر دځیني پدیدو بقاء ابدي کول غواړي او یا دتاریخي پروسې او شرایطو په خلاف دځیني پدیدو دوخت څخه دمخه او قبلي ظهور په خاطر هڅې کوي. په دواړو حالاتو کې دا سم عمل نه ګڼل کیږي. که څه هم اجتماعي ـ اقتصادي نظامونه او دهغې پورې اړونده اداري سیستمونه او ارګانونه او علمي ـ تخنیکي انکشافات او امکانات او یا دهغې مطابق مدیریتونه، منجمنت او مناسبتونه هیڅوک هیڅکله پخپله نه تغیر ورکولې او نه ساتلې شي. دهر چا ټولې هڅې به په دې باره کې یوائې موقتي او ګذرا بڼه ولري. ځکه پدیدي به یو وخت نه یو وخت حتما جز د تاریخ او نوي پدیدي به حتما ظهور کوي. نه د غلامۍ او فیودالیزم اجتماعي ـ اقتصادي نظامونه څوک راژوندي کولې شي او نه د سرمایدارۍ نظام او سني غیر عادلانه مناسبات څوک ابدي ساتلې شي. نه څوک داوسني الیکترونیکي برقي او یا دسوخت دمختلفو موادو نوي جټ، فوتوني او یا دهغې څخه په لوړه کچه ماشین الات او موتورونو څخه دسکرو دبخار ماشینونو ته مراجعه کوي او نه دګراموفون، رادیو، حسابي ماشین، تلویزون، کمپیوتر، دیسکیت، CD، DVD، موتر، طیارې

(c) ketabton.com: The Digital Library



راکټ او نورو ډېرو زیاتو مصنوعاتو او لاسته راوړنو دانکشافي جهت څخه پر ځټ حرکت ته څوک ضرورت لري.

ټولې پدیدې د هر اولس او ټولنې د تاریخي اقتصادي، علمي ـ تخنیکي او شعوري انکشاف په معینه مرحله کې ظهور کوي، انحطاط مومي او ځان تاریخ ته سپاري. همغسې چې مختلفې ټولنې دانکشاف په مختلفو مراحلو کې قرار لري نو دنومورو پدیدو ظهور په مختلفو ټولنو کې هم همزمان نشي پېښېدلې او نه یو شان دهغې دمنفي او مثبتو اړخونو څخه متضرر او مستفید کیدلې شي. په همدې علت د دغه ډول مسایلو سره په برخورد کې ډیر دقت او سنجش ته ضرورت لیدل کیږي. پورته ما دا جتماعي ـ اقتصادي انکشاف ځیني مقولې عنوان ټاکلې دي. دغه کومه ساده هرارشي نده دهغې هره پوړۍ د سلګونو میلونونو انسانانو د سرونو په بیه ابادې شویدي او دهغې په بنیاد کې دمیلیاردونو انسانانو دغم، درد، ناکامو هیلو، مایوسۍ او تور سرنوشت او باالمقابل دځینو لګکیو دوحشت ظلم، ناروا او غیر انساني اعمالو کیسي او داستانونه خوندي دي چې دبحر څخه څاڅکې ثبت دتاریخ گرځیدلې او دابدلپاره به دانسانیت په لمن د ننګ او بې ننګۍ تور داغ وي. دې کې هیڅ شک نشته چې بشریت پخپلو ټولو هر اړخیزه مناسباتو سره د ګلوبالیزم په پروسه کې د تجانس او هم اهنګۍ په لور تکامل کوي. خو دغه تکامل باید ارګانیګ او انسان دوستانه وي. نه دا لکه چې تاریخي واقیعتونه او حقایق یې شاهد دی. دغه تکامل او انکشاف هیڅکله هغه لعنتي شیطاني یو طرفه او یو اړخیزه جاده نده کومه چې تر ننۍ ورځې پورې سترو کاپیتالیستي، استعماري او امپریالیستي هیوادونو دخپل





ظهور او تشکل له ورځې څخه د شیطاني مافیایي قوتونو به مکارۍ تعقیب کړې او نن یې د علم، صنعت او تخنیک په فوق العاده انکشاف سره هر اړخیز ګلوبال ابعاد پیدا کړیدي. ننني ګلوبالیزم د سکندر مقدوني، دروم، عثماني، فارسي او عربي امپراطوریو، چنګیز، تیمور لنګ، انګلیس او روس دامپراطوریو د ګلوبالیزم سره کاملا توپیر لري. په افغانستان کې د روس شکست او په نړۍ کې د مونیپولار سیاسي ـ نظامي اداری رامنځته کیدل، د ۲۰۰۱ کال د سپتمبر دیوولسمې نیټې څخه وروسته د بین المللی تروریزم تر عنوان لاندې دنوې نظامي ستراتیژۍ غوره کول او په ۲۱ پیړۍ کې د علم، صنعت او تخنیک ډیر چټک انکشاف هغه عمده علتونه دي چې ګلوبالیزم ته ئ واقعا ګلوبال ابعاد او دینامیزم ورکړیدی. نبه به دا وی د ګلوبالیزم تاریخي ریښې او واقعی ماهیت یو ځل بیا دعنوان شوؤ مقولو دهرارشۍ په پروسه کې ولټوؤ او بیا دهغې له مخې دخپل عیني قضاوت لپاره لازم توکي او علتونه راټول کړو. په اروپا کې د بورژوازي انقلابونو په بریالتوب، دصنعت او تخنیک په انکشاف سره دفیودالي، قومي، قبیلوي مناسباتو هډونه یو په بل پسې په ماتیدو او دنوي سرمایه داري اجتماعي ـ اقتصادي نظام په تشکل سره نوي اجتماعي تشکل دملت، نیشن یا ناسیون په نوم رامنځته شو. دملت دپدیدې ظهور او د سرمایه دارۍ اجتماعي ـ اقتصادي نظام تشکل یو تر بله سره لازم و ملزوم او علت و معلول ګڼل کیږي. پرته د سرمایداري مناسباتو د استحکام څخه دملي مناسباتو تشکل هیڅ وخت او په هیڅ وسیله ممکن نه ګڼل کیږي. سره ددې چې ملي تشکل دنوې پدیدې او دبشري ټولني دنوې مترقي

(c) ketabton.com: The Digital Library



تکاملي قدم او پوړۍ ده او نننۍ ټولې لاسته راوړنې دهمدغه نوې پدیدې محصول او معلول ګڼل کیږي او هر یو دنړیوالو څخه په خپلو ملي مناسبتونو ویاړي ، وګورو چې څومره مونږ پخپلو ویاړنو او افتخاراتو کې حق په جانب یو. په بین المللي توازن کې ددغه نوې پدیدې ارزش باندې دقیق فکر کول او پوهیدل پکار دي.

پایداره، ارګانیک او عادلانه انساني بین المللیت یوازې دسیالو ملتونو دمتقابلو مشترکو ګټو په بناء دعادلانه ذات البیني تړونونو او ارګانیک انتګریشن له مخې جوړیدلې شي. په وروسته پاتې هیوادونو لکه افغانستان کې چې اقتصاد ،علم او تخنیک په کافي اندازه پرمختګ نه وي کړې ، ملي جوړښت تشکل نه وي موندلې ،ملي وحدت نا پایداره او په بین المللي سیالۍ کې سیال انډول نشي ګڼل کیدلې او نه یې په دغه لوبو کې دکومې ګټې توقع کیدلې شي. په افغانستان کې مونږ ددغه ډول قمار نه جبرانیدونکي نتایج ،د بین المللی ظالمانه تقابل او د سړو او تودو جنګونو په موده کې په خپل هډ اوپوست ګاللي او زغملي او نن هم دبین المللی قوتونو په موجودیت کې چې زمونږ لویه ملي غمیزه دوام لري هم دملی ډیرو مهمو مسایلو په باره کې زمونږ ملی ضعفونه پوره ښکاره دي چې مظاهر یې پداسې حساسه تاریخي مرحله کې لکه دلویې جرګې جوړیدل، داساسي قانون تصویب، دملي اردو او ملي پولیس تشکل ، دټولو افغانانو او باالخصوص دپښتنو او بلوڅو دحقه حقوقو او سرنوشت پورې تړلې دډیورنډ دکرښې برخه لیک او نورو ډیرو مهمو مسایلو په هکله هیڅوک سترګې نشي پټولې اونه بې تفاوته پاتې کیدلې شي. زمونږ دملي ګټو



"لوی خدای، لوی علم، لوی جهان" سیاسي فلسفه

ساتونکې او ضامن یوازې او یوازې اولس او د افغان اولس ملي وحدت ګڼل کیدلې شی ، کوم یوه چې د داخلي جنګونو او وروستیو حوادثو په موده کې د یرغل ګرو او مغرضو هیوادونو لخوا په لومړۍ درجه د تجاوز هدف ګرځیدلې او سخت زیان من شوېدې.

رابه شو دموجوده ګلوبالیزم په پروسه کی دناسیونالیزم بینادی مؤثر او یو جانبه رول او تاثیر ته !په سرمایداری نظام کی دصنعت نسبی چټک انکشاف ، د قبیلوي مناسباتو هډماتې ،په ډیرو هیوادونو کې دملی ټولنواو ملي مناسباتو سریع تشکل او ورسره دناسیونالیستي روحي راژوندی کیدل او تقویه کیدل واقعا ځینی هیوادونه په ځینی نورو باندې برلاسي کړل. د سرمایداري نظام نوې اقتصادي لاسته راوړنې هم خوږۍ او تحریک کننده وې. نظامي او اقتصادي برلاسي نومورې هیوادونه توسعه طلبۍ اوا ُتیلیتارسیتي زیاتې منفعتي سودجودیي ته وهڅول او ناسیونالیزم دخپل ظهور دلمرخاته څخه دا ستعمار او استثمار انګیزه وګرځیده. د جنوبي امریکي، اسیا او افریقا لویي وچې داروپایي کوچني هیوادونو مستعمرې جوړې شوې، ځایي ا ولسونه دټیټو او غیر نجیبو انسانانو په حیث په مرګ، غلامۍ او یا په ډیر نیک صورتاو تصادف سره په شاقه دوامداره کار او زیار محکوم او د هغوی دبې شمیره کلونو دزیار او زحمت محصول، هست و بود په یوه ورځ چور او چپاول او پخپله زنځیر، زولانه او غراب لکه دحیواناتو په څیر بار او دنړی په ګوټ ګوټ کې دغلامانو په حیث وپلورل شول او هر ځای په شاقه کارونو وګمارل شول. په لویه امریکا او ځینی نورو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملکونو کې دځينې دغه قومونو څخه شوک دنموني لپاره نه پيدا کيږي او د وراثت سلسلې يې شليدلې دي. په دغه وختونو کې د استعماري هيوادونو اقتصادي زير بناء غصب شوې او چورشوې طلا، نقرې، قيمتي تيږو او نورې دارايي، دغلامانو، وسلو او مصنوعه اموالو فروش، دمخدره موادو ازاد قاچاق تشکيلوله او پولي سيستم او امکانات په طلا، نورونجيبه فلزاتو او تيږو ولاړوو چې يو څو کوچنيو اروپايي هيوادونو راټول کړي او پخپلو بانکونو کې يې ذخيره کړي وو او ددې لارې يې هم دنړۍ د اولسونو لاس او پښې ترلې وې. نو هغه شوک چې دملي او بين المللي مسايلو دتناسب، تعادل او نورو ارزښونو دتوازن په هکله سطحي او يو جانبه برخورد لري او استقلال، خپلواکي، ځمکنۍ بشپړتيا او ملي منافع دگلوباليزم په لوبه کې په يوه دَو ړدې په اوسنيو شرايطو کې به يې سرنوشت لدې څخه هم بدتر ويي. او دهغه کسانو څخه چې نن هم په افغانستان کې دملي وحدت پرضد دريز لري، غير شعوري، نا خوداگاه او احمقانه په پټو سترگو انترناسيو ناليستان چوړ شوي، د ازادبازار، ليبرال اقتصاد، واحد گمرکي سيستم او ديته ورته مسايلو بې سوره ډُهلونه غږوي، زما پوښتنه داده چې ولې ددوی د ننني متوليانو اسلاف هغه وخت انترناسيونالستان نه وؤ او نه يې غوښتل د نورو ملکونو تجارتي مالونو په مخ دازاد بازار ،ليبرال اقتصاد ،او واحد گمرکي سيستم د قوانينو او اصولو له مخې د خپلو گمرکونو دروازې خلاصې او باالمثل معامله وکړي او يواځې دمرکانتيليزم mercantilisme کلک پيروان او دواراداتو دروازې يې يواځې دغصب شو او چورشوو مالونو په مخ





خلاصې او دتجارت په مخ ترلې وې ؟ نن هم دازادبازار، ليبرال اقتصاد او واحد گمرکي سيستم په شرائطو کې چې کله ددغه هيوادونو شخصي گټو ته خطر متوجه کيږي دنورو ملکونو په مالونو دټولو موجوده قراردادونو او اصولو پر خلاف په يوه او بله بهانه تعذيرات لگوي او حتا بانکي سرمايې يې کنگل کوي .دا ډول مثالونه نه ذکر کوم ځکه چې کم نه دي . پدی ډول د ازاد بازار، ليبرال اقتصاد ، واحد گمرکي سيستم، انترناسيو ناليزم او دننني گلوباليزم بنيادهغه وخت دامپرياليستي ناسيوناليزم دمالي سودجويانه، خائنانه اتيليتاريزم پواسطه ايښودل شوې، کله چې يې په اقتصادي ـ اجتماعي سرمايداري نظام کې اقتصادي برلاسې پيدا کړ او د ډيپو گانو دروازې يې نه ترل کيدلې، دخپل مال د محصول څخه د ډډې کولو په خاطر دغه اصول طرح او نور ملکونه يې په جبر د هغې منلو ته اړايستل. پدې ډول دبشري تکامل په پروسه کې دا د سرمايداري ناسيوناليزم ارتجاعي ترين غير انساني شکل گڼل کيږي چې په مقابل کې يې دملي ناسيوناليزم عادلانه مبارزه برحق عمل او دعادلانه، صلح اميزه او پايداره انترناسيوناليزم او په سوله کې دټولو اولسونو دگډ پايداره ژوند او د بشريت ارگانيک گلوباليستي انتگريشن يواځينې متضمن گڼل کيږي. ترڅو چې پايداره، مطمئن ناسيوناليزم وجودونلري دپايداره مطمئن انترناسيوناليزم منځته راتگ نا ممکن دي.د ۱۷ ÷ ۱۸ پړيو څخه وروسته صنعتي سرمايداری پرمختگ وکړ، گودامونه په صنعتي مالونو ډک او دترلودروازو ترشا تجارتي ـ اقتصادي سياست مرکانتيليزم په مناسباتو او شرايطو او منطقوی بازارونو او محيطونو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددغومره تولیداتو عرضه او خرڅلاو ممکن نه وؤ. دا کټ مټ د هغه وخت سره برابره وه کله چې دوی دناسیونالیزم په خره چپه سپاره وؤ، رابښکته او دانترناسیونالیزم روحیه او احساس یي قوي شو. په همدې وخت کې مشهور انګلیسی اقتصاد پوهان ادم سمیت ( Adam Smith ۱۷۹۰ ÷ ۱۷۲۳ ) او داوید ریکاردو ( Dawid Ricardo ۱۸۲۳ ÷ ۱۷۷۲ ) نوي اقتصادي تیوری رامنځته کړې چې د اقتصادي تجارتي لیبرالیزم، کمپراتیف ارزشي سیستم، بین المللي ازاد تجارت او ازاد رقابت د شرایطو سره یې سمون درلود. همدا سې په المان کې فریدریش لیست Friedrich List د واحد ګمرکي سیستم او د مقایسوی قیمتونو تیوري رامنځته کړه. ددغه تیوریو په نتیجه کې بین المللی تقسیم دکار او بین المللی تجارت طرحه رامنځته او ددغه هیوادونو په عوایدو کې د پام وړ زیاتوالي راغې او په حقه سره ویل کیدې شي چې اقتصادي ګلوبالیزم د همدغه وخت څخه شروع شو. دوی دنوي اقتصادي روشونو او قوانینو او بین المللي تخصصي تقسیم د کارله مخې با کیفیته مواد په ډیر ارزانه قیمت تولیدول او دازاد بازار، ازاد رقابت، بین المللي تجارت د شرایطو له مخې چې پخپله یې طرحه کړي او په نړیوالو یې جبراً منلي وؤ، خپل تولیدات ازادانه د نړۍ په ټولو بازارونو کې عرضه کول او د محلي تولیداتو دروازي یو په بل پسې تړل کیدلې او باالمقابل نوموړو هیوادونو ټول تولیدات او ټول تجارتي بازارونه دخپل مونوپول لاندې راوستل او پدې توګه په ۱۹ او ۲۰ پیړیو کې په ټوله نړۍ باندې ددغه هیوادونو نظامي، سیاسي او اقتصادي امپر اطوري حاکمه شوه. د مثال په ډول





کله چې په افغانستان کې د شاکر د چیني سازۍ فابریکه جوړه شوه، جاپاني چیني توکي چې پخوا ډیر قیمته خرڅیدل، قیمتونه یې ډیر راټیټ او ارزانه شول، خو کله چې د شاکر فابریکه د رقابت د توان د نه لرلو په نسبت وتړل شوه، جاپاني چیني دوباره څو چنده نور هم قیمته شول. دوی د نړۍ ټول صنعت، تجارت، زراعت، انرژیتیکي منابع، دمخدره موادو قاچاق، د اسلحې د تولید او فروش، لویه صنعتي، زراعتي، هوایي، زمیني او بحري ماشینري او تولیدات پخپل لاس ونیول. دوی په نړۍ کې بین المللي بانکونه، شرکتونه، محاکم، استخبارات، دکنترول او تعقیب مرکزونه، بین المللي اداره "ملګري ملتونه" او دکسموپولیتیزم سیاسي تاکتیکونو او ستراتیژیکي طرحې عملي کول شروع کړل. دا په حقیقت کې په ۱۹ او ۲۰ پیړیو کې داستعماري او امپریالیستي سرمایداري نظام انترناسیونالیستي ګلوبالیستي ستري لاسته راوړنې وي .د شلمې پیړۍ په ۶۰ کلونو کې دنړیوال استعمار رنګیدل، دمستعمره هیوادونو ازادیدل او په شعوري یا لاشعوري ډول دسوسیالستي هیوادونو په خوا کیېد هغوی دریدل او ددغه وخت په اصطلاح دمترقي جنبشونو څخه بې قید و شرطه دفاع کول بین المللي سرمایداري نظام دستر بحران سره مخامخ کړ او دسو سیالستي او کارګري جنبشونو اعتبار په نړۍ کې پورته ولاړ. پخواني شوروي اتحاد هم په لمړۍ مرحله کې په ځیني ساحو لکه فضانوردي، نظامي او دځیني موادو په تولید کې لکه فولاد، د ډبرې سکاره او نور، سترې بریاوې حاصلې کړې خو په مجموع کې د شوروي دولت رهبري او حتا د شوروي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولني جمعي شعوري سطحه، علمي، تخنیکي او اقتصادي تولید پوتنسیال هیڅکله ددې جوګه نه وه چې دغه ډول یو عظیم جنبش په فکري، سیاسي، علمي، تخنیکي او اقتصادي لحاظ تغذیه ، رهبري او په ځان پسې کش کړي. او که واقعیت وویل شي هغوی د خپل ځان د رهبرۍ جوګه هم نه وؤ او حتا د دغه بین المللي موقف چې لږه موده یې تر لاسه کړې وؤ په ارزش نه پوهیدل او نه یې ماهیتاً ددې تقوا درلودله. نو ډیر زر د هغوی د پردې تر شا څیره ټولو هیوادونو ته ځرګندیدله او ورځ په ورځ یې خپل دوستان له لاسه ورکول. خو کله چې یې په افغانستان خائنانه حمله وکړه افغانانو دغه دختو بت دړې وړې کړ او نن پخپله د ځان د راټولولو نه دي او لکه نابکاره بار د ټولې نړی لپاره عظیم پرابلم ګرځیدلی دی. د پخواني شوروي اتحاد او سیوسیالستي نظام په ړنګیدو سره نړۍ عملاً د امریکا په محور په یوه مونیپولار نړیوال سرمایداري نظام او اداره باندې بدله شوه. دا ډول نظامونه، سیستمونه او پدیدي که اجتماعي دي، فزیکي او یا په بل هر ډول کمیت او کیفیت سره چې وي ، که چیرې ذاتي متعادل او متوازن ماهیت ونلري د خپل یو جانبه عطالت په لرلو سره هیڅکله پایداره نشي پاتې کیدلې او عاجل ذوال یې حتمي ګڼل کیږي. د بلې خوا سرمایداري نظامونه چې د یو جانبه مادي سودجویي په بنیاد منځته راغلي او پایي بقاء یې هم یوازې د جبر او زور له لارې ممکنه ده ،چې دا د ناپایدارئ دوهم دلیل ګڼل کیدلی شي او دریم دا چې په هغه نظامونو کې چې شخصي یو جانبه منفعت او مادي اقتصادي اتیلیتاریزم اساسي او عمده هدف او منظور او سي بشري ټولنیز ارمانونه او پرګرامونه تل د پښو لاندې پایمال شوي او





دا د دغه ډول نظامونو د ناپایدارۍ دریم دلیل ګڼل کیدلی شي. زما په عقیده امریکې ته پکار دي پخپل داخلي او خارجي سیاست کې عمیق کیفي بدلون راولي او دا کار باید سر له همغې ورځې څخه شوې وای کله چې شوروي اتحاد ړنګ او امریکا په نړۍ کې یوائیني سترمونیپولار آبر قدرت پاتې شو. خو له بده مرغه پرته لدې چې د امریکي په داخلي او خارجي سیاست کې هیڅ کوم کمي او کیفي مثبت بدلون راغې برخلاف د پخوانی شوروی اتحاد سره د ساړه جنګ د شرایطو د بین المللی تقابل د پوتنسیال د خلاء څخه په استفادی سره په شرقي اروپا ، مرکزي اسیا ، بالقان منځني ختیځ او جنوب شرقي اسیا کې په پوره باصقین سره پر مخ ولاړل او د ۲۰۰۱ کال د سپتمبر د یوولسمې نیټې څخه وروسته د ګلوبالیزم په نوي تاکتیکونو او ستراتیژۍ د مستعمار نوم "بین المللي تروریزم" تر شعار لاندې د نړۍ په ډیرو هیوادونو کې د خپل مستقیم نظامی حضور پر لور پرمخ ولاړل. ګلوبالیزم د بشری ژوند په ټولو اړخونو کې عملا نوي ابعاد او نوي جوانب پیدا کړل او په حقیقت کې ګلوبالیزم په ګلوبال ګلوبالیزم یا سوپر ګلوبالیزم باندې واووخت چې نه یې د امریکی د موجوده سوپر مونیپولار ابر قدرت داخلي دموکراتیک موقف او نه په ۲۱ پیړۍ کې د بین المللي علمي، اقتصادي او اجتماعي انکشافاتو او مناسباتو سره سمون درلود. همدا سبب وؤ چې پخپله د امریکې په داخل کې د دموکراتو قوتونو او هم د نړۍ په ګوټ ګوټ کې او حتا د امریکي د نږدې اندیوالانو لخوا د شدید عکس العمل سره مخامخ شول او په میلونونو انسانان د شدید اعتراض په نامه کوڅو ته راووتل او د امریکې ضد لاریونه یې اجراء کړل

(c) ketabton.com: The Digital Library



.موجوده علمي، تخنيکي او اقتصادي انکشافات معجزه کوي او په راتلونکې ډېره لنډه موده کې دهغې لاپسې ستر انکشافات نن ورځ په تصور کې هم راتلای نشي او هرډول امکانات هر چاته په لاس کې ورکولې شي چې کنترول به يې دهيچا له لاسه پوره نه وي. له بلې خوا ددې کوچنۍ دنياګۍ په خيټه کې ظالمانو دومره چاوديدونکي مواد ځای په ځای کړي چې نه يوائې دغه کوچنۍ کره به څو ځو وارې هواته دوړه کړي بلکه دمولانا جلاالدين بلخي په قول:

اګر برګيری يک ذره ازجای    فروريزد همه عالم سراپای

په ټول ماحول او کهکشانونو کې به زلزلې جوړې کړي.پدې کې هم هيڅ شک نشته او يو منل شوې حقيقت دې چې علمي – تخنيکي انکشافات ډير چټک او بشري ذهنيتونه په مجموع کې دخپل زيات عطالت او کهنه پرستۍ له مخې دهغې پسې نشي رسيدلې او په تخميني ډول دهندسي او حسابي تصاعد په تناسبونو سره يو له بل څخه وروسته پاتې کيږي، خو شته دې داسې ذهنيتونه چې ددغه انکشافاتو او نواوريو طرحې، ډيزاين او پيشبيني او پيشګويي کوي، واقيعتونه همغسې چې دي درک کولې او دبشري ټولنې دخير او شر راتلونکې په دقيق ډول سنجولې شي. له بلې خوا ليدل کيږي چې بشري ټولنه په مجموع کې دوه ځانې شويده. دسپتمبر دپيښې عاملين اکثرا دا مريکي، انګلستان اويا نورو اروپايي هيوادونو اوسيدونکي وؤ. بن لادن هم په افغانستان کې دروسانو او کمونيزم په ضد دهمدغه هيوادونو دقوماندې لاندې جنګيده او طالبان هم يو وخت دامريکي سره دسياسي معاملې جوګه ګڼل کيدل. صدام حسين دامريکي څخه وسلې ترلاسه کولې او دايران پر مقابل کې جنګيده او يا په منطقه کې ترې ټولو





هيوادونو دخطر احساس کاوه او خميني هم يو وخت دامريکی دتائيدوړوؤ. اندريويانګ دجمهور رئيس کارتر شخصی نماينده او په ملګرو ملتونو کې د امريکي دهئيت رئيس پدې باره کې ليکي: "دخميني نهضت دامريکي داموزشی سيستم تر تاثير لاندې منځته راغلې او دهغې څخه الهام اخلي. زه په اطمنان سره ويلې شم چې دايران دانقلاب ارمانونه دجهان دبشردحقوقو دنهضتونو دارمانونو سره يو شې دي. کله چې دغه انقلاب بريالې شي جهانيان به وپوهيږي چې خميني يو د قدسيانو او پاکو انسانانو زمونږ دعصر څخه دې او په پای کې دګلوباليزم اوسني تشکيلات، اهداف، تاکتيکونه او ستراتيژي چې دسرمايداري نظام په نابرابر و شرائطو کې يې دټولنی دقاطع اقليت دشخصي خصوصي بيرحمانه سودجويي په بناء تشکل موندلې او بنيادګذاري شوې او نن هم تعقيبيږي په هيڅ صورت سره دبشري ټولنې دنننی او راتلونکي ژوند دغوښتنو او ضرورتونو سره مطابقت نلري. لکه چی دمخه ماورته اشاره وکړه ګلوباليزم هيڅکله هغه يوائينۍ يوطرفه جاده نده لکه چی ځيني کسان فکر کوي. ګلوباليزم په حقيقت کې دبشر دپيدايښت دلمړۍ ورځې څخه دخير او شر، حق او باطل، ظالم او مظلوم، عدل او ناروا.... او انسان او شيطان تر منځ ډيره اوږده او نابرابره تاريخي مبارزه ده چې دشرائطو په مساعدت او مخالفت سره په نننی ګلوباليزم منتج شوی او وروسته لدې دتاريخ دجبر او اوسني عصر دشرايطو دتقاضاوؤ په حکم په موجوده تشکيل او اهدافو سره له يوې ورځې قانوني ژوندحق هم نلري او هم دانن دهغې په ټولو بنيادونو کې بايد ژور کيفي او کمي بدلون راوستل شي. Bernard Von Plate دګلوباليزم داساساتو تر عنوان لاندې په يوه مقاله کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دګلوبالیزم په باره کې داسې لیکي:" ګلوبالیزم دیوه داسې تکامل څخه عبارت دې چې په مختلف متضاد شکل سره پرې بحث کیدلې شي: دهغې دپلویانو لپاره ګلوبالیزم په اوله درجه دیوه ډیر پرمنفعته اقتصاد په لورداسې یوه لاره ده چې دتجارت او رقابتي قیوداتو په رنګولو سره په مخ ځې. خو دهغې دمخالفینو په نظر ددولتي اداري فعالیتونو په مقابل کې دبین المللي مخ په زیاتیدونکي مسئولیتونو راکمول دي" دګلوبالیزم په اوسني اهدافو، طرز تفکر، تاکتیک او ستراتیژی سره هیڅکله نننی او دسبا ورځې بشري ټولنه نشي اداره کیدلې. دهغې لپاره دمعقول طرز تفکر او منطق لرونکې اداره پکارده. کله چې دامریکي جمهور رئیس په ناڅاپي توګه عراق ته سفر وکړ، سربازانو سره یې دملاقات په وخت وویل" اې قهرمانو سربازانو تاسې دلته راغلی یاست چې په عراق کې دامریکي دخلکو دګټو څخه دفاع وکړئ" ایا دعراق خلک حق نلري چې په خپله خاوره کې دخپلو ګټو او حقوقو څخه دفاع وکړي؟ همداسې د ۲۰۰۴ کال دفیبروري په څلورمه نیټه په یوه ویناکی جورج بوش وویل" پر مختللي هیوادونه نشي کولې چې په خلاصو سترګو هغه بهیر ته وګوري چې دپراخه وژونکو وسلو داستعمال له لارې دستروګوابنونو سره مخامخ شي". داډول خبرې کیدلې شي په شخصي لحاظ دیوه شخص شخصي نظر اوسې خو جمعی شعور او جمعی منطق هغه هیڅکله د منلو وړ نه دي.زه پدې عقیده هم یم دموجوده ګلوبالیزم انساني عاملین په هره سطحه، هره ساحه او هرځای کې چې دي عادې او ساده خلک ندي. دډیروکمو شیطاني کسانو څخه پرته هغوی حتما دعالي شعور، عالي امکاناتو خاوندان او دبشریت دعالي ارمانونو او دګلوبالیزم دارګانیک او سالم انکشاف او



"لوی خدای، لوی علم، لوی جهان" سیاسي فلسفه

رهبری په خاطر به مصمم شوي اوسي. هغوی چې قرنونه قرنونه دبشري اجتماعي، اقتصادي، علمي او تخنیکي دینامیزم انکشاف پیشبیني او پیشګویي کولې شي، هغوی چې وینې ۵۰ کاله پخوا چې ترانزستور یعنې نیمه هادي یا نیمه عایق کشف او نن یې په معجزه اسا ډول بشري امکانات د رادیو، تلویزون، تلیفون، تلګراف، مخابرې، فاکس، کمپیوتر، انترنیت او دژوند په ټولو نوروساحو کې په فوق العاده ډول لوړ کړې نو حتما په دې هم پوهیږي چې اوسنې طرز تفکراو برخورد چې ځیني شیطاني کسان یې لري دنننې عصر دایجاباتو، جمعي شعور او منطق سره هیڅکله نه سمون لري او نه ضرورت، هغوی تقریبا بشري نننې اوسباني لایتناهي امکانات او مادي زیرمې تصور کولې او بشري ټولنه پخپله عالي شعور او عالي انساني منطق دیوه واقعي خوشبخته مستقبل په لور رهبري کولې شي. هغوی حتما پدې هم باور لري دغه بشري ټولنه چې دوه ځانې ده حتما به بچې زیږوي او دغه نوي دلړمې بچې به حتما دغه زړه لړمه سرترپایه خوري اوپه اصطلاح دامریکي دجمهور رئیس په قول هغوی هیڅکله باید دې ته حاضر نه شي چې نننې بشري تمدن، بشري ټولنه او ورسره ځانونه په خلاصو سترګو دنابودی په لور رهبري کړي. ددې ټولو خبرو سره سره که بیا هم ځیني کسان دموجوده ګلوبالیزم د شیطاني اړخ سره علاقمندي لري زه یو کوچنې مثال راوړم: په ۲۰۰۲ میلادي کال کې یواځې دشپږو پر مختللو هیوادونولکه امریکا، جاپان، المان، انګلستان، فرانسي او هالیند یواځې د ۲۱ لویو شرکتونو عاید ۲۹۸۲ ملیارده ډالره شوي دي چې دهغې جملې څخه امریکا ۱۳۶۳، جاپان ۶۷۴، المان ۴۰۲ انګلستان او هالیند ۴۴۶ او فرانسی ۹۷ ملیارده ډالره

(c) ketabton.com: The Digital Library



عایددرلود. یا داچې په ۲۰۰۱ م کال کې امریکا ۱۲۴، انگلستان ۵۴، فرانسې ۵۳، بلجیم او لوکسمبورگ ۵۱، هالیند ۵۰، چین ۷۴، المان ۳۲، کاناډا ۲۷ ملیارده ډالره مستقیمه خارجي سرمایه گذاري کړیده. داهم دویلو وړده چې په راتلونکي هر کال کې دهر في نفر او سیدونکي په سر دتحقیق او کشفیاتو په خاطر امریکا ۹۶۳، سویدن ۸۸۸، فنلیند ۸۴۸، سویس ۷۹۷، جاپان ۷۷۴، المان ۶۴۳، ډنمارک ۵۷۷، هالیند ۵۳۶، فرانسه ۵۱۸، اطریش ۴۸۶، بلجیم ۴۸۴، انگلستان ۴۵۳ ډالره سرمایه گذاري کوي. دابه وسنجوؤ په افغانستان کې دفي نفر د کلني عاید سره. وروسته دسنجش څخه که منطق اجازه راکړه په موجوده گلوبالیزم کې قمار وهلو ته به بدې ووهو. لیکن امریکا چې نن یوائینې نړیوال ستر آبر قدرت او لوی اقتصادي، نظامي، علمي او تخنیکي طاقت دې هم هر وخت په گلوبالیزم کې خپل او دبل مشارکت ته حاضر ندې او یا وایم یوائې هغه وخت د ازاد بازار اصول مني چې یې گټه په کې وي او په نورو وختونو کې دنورو هیوادونو په تجارتي مالونو، تولیداتو، صادراتو باندې بندیزونه او تعذیرات لگوي او حتا دمملکتونو، شرکتونو، ټولنو او افرادو شخصي دارایي کنگل کوي او هیڅکله بې گودره دغه د سریشو ډنډ او پلندۍ ته نه داخلیږي. که بیا هم محترم هیوادوال غواړي خپلې ملي گټې پدغه تخته په یوه دو کښیږدي زه ورته برې غواړم. امید دې چانس او بخت ورسره یاري وکړي.





# یو یشتمه پیړۍ او دنړۍ اجتماعی ـ سیاسی نظام

دحضرت مسیح دزیږیدنې راوروسته بشري ټولني دژوند په یو یشتمه سلیزه قدم ایښې دې. خو دبشري ټولنې تاریخي دوره شپږزره کلن عمرلری. داجتماعي او فردي ژوند متقابل او متناسب عطالت او دینامیزم په نظر کې نیولو سره بشریت په یوه حساب دفزیکي ،جسمي او شعوري بلوغ او دبلې محاسبې له مخې دنفس دتزکیې مرحلې ته رسیدلې دې. فردي فزیکي او شعوري بلوغ زما په نظر دیته ویل کیدې شي چې دیوه انسان دبدن اعضا په فزیکي لحاظ دفعالیت کافي کچې ته رسیدلي او سیې، اوشعوري بلوغ به داوي چې دانسان په پریکړو او تصامیمو کې عقل پر احساساتو برلاسې وي. که بشري ټولینز جوړښت او جمعي شعوري کچې او معیارونو ته نظر واچول شي دفزیکي او شعوري فعالیت ټول ارگانونه یې متشکل او دنننې وخت دغوښتنو او تقاضاوؤ سره سم دهر ډول فزیکي ، منطقي او معقول فعالیت توقع ترې عملا کیدلې شي. خو که داپوښتنه راولاړه شي چې دبشري ټولنې په نړیوالو ذات البینې فعالیتونو، مناسبتونو او تصامیمو کې عقل پر احساساتو

(c) ketabton.com: The Digital Library



برلاسې دي؟ ځوابيي منفي دې! شلمه پيړۍ دبين المللي علمي، تخنيکي، اجتماعي، اقتصادي هراړخيزوامکاناتو او مناسباتو دټينګښت او چټک پرمختګ سليزه ده خو که يوځل بيا دا پوښتنه وشي چې ايا بشريت ددغه نوؤ امکاناتو او شرائطو مطابق دسليم عقل له مخې کومه منطقي معقوله نتيجه ګيري کړې چې څه ډول ددغه امکاناتو څخه دبشردعامه ښيګڼو په خاطر استفاده وشي؟ ځواب بيا هم منفي دې! جهاني ټولنه او په خاصه توګه پرمختللی هيوادونه بې ساري علمي - تخنيکي، اقتصادي او هر ډول نورمادي امکانات او ستري غذايي زيرمې په واک کې لري. ايا دغه زيرمې او امکانات په معقوله او سالمه توګه دبشريت په ګټه مصرفيږي؟ ځواب منفي دې! جنګ يوه ډيره ناولې او داستعمار او استثمار له وختونو ډيره تورمخې پديده ده. بشريت نن ټول امکانات د هغې دمخنيوي لپاره په لاس کې لري چې قانوناً دهغې دذهني او عيني عواملو جرړې دتل لپاره وباسي. ايا پدې باره کې هم څوک سالم نظر او فکر لري؟ داځل هم ځواب منفي دې! خو که داسې پوښتنه مطرح شي چې نن هم دنړۍ سرمايه داره هيوادونه، شرکتونه او اشخاص دبې مفهومه زراندوزۍ او اتيليتاريستي خائنانه سياست له مخې غواړي دناداره هيوادونو چې ترننۍ ورځې پورې يې ټولې شتمنۍ چورشوي او اولسونه يې په ۱۰۰۱ بدبختيواخته دي نور هم استثمار او ددې کار لپاره دناتو او وارسا دنظامي سازمانونو غړي هيوادونه چې اوس په يوه وندر ترلي او دننني مونيپولار نړيوال سياسي سيستم په چوکاټ کې غواړي په نوی مدرنه کمپيوتري وسلو سمبال شي، ددې او دا ډول نورو پوښتنو ځواب به





هميشه مثبت وي. نو د ۲۱ پيړۍ په موجوده او راتلونکي علمي، تخنيکي او اقتصادي امکاناتو او پدغه ډول يو طرفه تفوق طلبانه او خائنانه سود جويانه طرزتفکر او برخورد سره زه موجوده تمدن دبشريت لپاره دعطف لوړافق بولم او که چيرې نړيوال پخپلو کړو وړو او نظرکې تغير رانولی د بشر دموجوده تمدن سقوط زه حتمي ګڼم خو ښه به داوي چې جمعي شعور پر احساساتو مستولي او نړيوال ددغه حتمي خطر او زوال څخه وژغورل شي. ټولنيز عالمان او څيړونکي وايي چې بشري ټولنه تر اوسه پورې نيمه ليونيانو رهبري کړې ده خو په يويشتمه پيړۍ کې چې دبشري ژوند ټول اړخونه او مناسبتونه به دقيقا علمي ميکانيزه ښه ولري او يواځې مسلکي پروفيسيوناليستي اداره به دهغې دصحيحي او سالمې رهبرۍ له عهدې څخه ووتلې شي او ددغه ليونيانو ځای بايدورو سته لدې يا په شفاخانه او يا دارالمجانين کې وي او چارې بايددعلمي منطق، عدالت او اجتماعي منل شويو اصولو او مقرراتو له مخې دعالمو او پوهو اشخاصو لخوا اداره شوي وای. ليکن سره ددې چې نړيوال دخپلو ذات البيني چارو دسمون او دچاپيريال سره دسالم انساني معقولو کړووړو ټول عظيم امکانات په لاس کي لري بيا هم د ۲۱ پيړۍ شروع څوک هيڅکله په نيک فال نشي نيولې او تر ننۍ ورځې پورې هر څه ددې ګواهي ورکوي چې دټولو حوادثو انکشاف يواځې په منفي جهتونو پر مخ ځي. واک، اختيار او کنترول د بشري ژوند په ټولو ساحو کي عملا دنړيوالې مافيا په لاس کې دې او ټولي چارې پخپله خوښه دخپلو ګټو دتامين په غرض پر مخ بيايي او حکومتونه، دولتونه، اجتماعي سازمانونه او نورې هر ډول

(c) ketabton.com: The Digital Library



خیریه ټولنې هر چیرې او په هره سویه چې دي کاملاً بې وسعې او په حقیقت کې دهغوی دچاروا و پلانونو پټ او ښکاره عاملین او دموجوده دنباله دار سریال کارتونیک او روبوتر لوبغاړي دي. که چیرې دا خبره ثوک دروغ ګڼي نو په اوسنیو عظیمو ذهني او عیني بشري امکاناتو سره به یې ددغه بې مفهومه عظمت طلبۍ او سودجویۍ مخه نیولې شوې وای. نن دتولید عظیم امکانات او عظیمي مادی ذخیری موجودي دي خو دنړۍ نیم نفوس له لوږې او سوء تغذي څخه رنج ګالي، یخني او ګرمي یې سر، ډډې او پښې سیزي او سره ددې چې تقریبا ټول نړیوال ددموکراسۍ مدعیان او دنړۍ په ډیرو هیوادونو کې سوسیال دموکراتیزم ددغه اولسونو دژوند په ټولو ساحو کې دپراګماتیک واقعیت په حیث وجود لري ، هیڅوک یې د درد نه دوا کیږي. که دوی وایي مونږ دخپلو ټولنو مسئولیت په غاړه لرو نو لطفا دې ووایي چې ددغه هیوادونو شتمنۍ چا لوټ کړي او نن هم ګوندې هم دغه کسان دخپلو شتمنیو د سرپرستۍ واک لري؟ پکار داوؤ، دغه کسانو دخپلې بزرګوارۍ، هیومانیزم او دموکراتیزم چې دوی یې مدعیان او په اصطلاح باور باور پرې لري ، دعمیق درک، فهم او عالي شعور په لرلو ټولو نړیوالو واقعیتونو ته د عدل او انصاف له مخې غاړه ایښې وای.دوی چې د سازماندهي دلوی طاقت او قدرت لري او دنړۍ دلیري ستراتیژۍ او تاکتیکونو په باره کي وړاند وینه کولې شي او په دي هم ښه پوهیږي چې داننۍ وضعه هیڅکله پدې حالت نشي پاتې کیدلې او په معجزه اسا شکل سره به همزمان هر ځای په کومه نیکمرغه ورځ ، چې ډیره به لیري نه وي ، بدلیږي او بالاخره به دانسانیت دلوی نامه په خاطر خپله قبله



"لوی خدای، لوی علم، لوی جهان" سیاسي فلسفه

له بدبۍ نه دنیکۍ په لور بدلوې او لکه ثرنګه چې دوی نن دا لوی جهان او ټول بشریت په لوی غضب اخته کړې او امکانات او واک یې لري ، همداسې یې دخوشبختۍ څښتن کړې وې او ځانونو لپاره یې د انسانانو په حیث دلویو او نیکو انسانانو لوی نوم ګټلې وې. په غیر صورت کې که د دوی پیسي چې نن که ۱۰۰ ملیارده او سبا که ۱۰۰۰ ملیارده هم شي ارزش به یې په څه کې وي او ایا په ژوند به یې کوم مثبت تاثیر ولري ؟

په ډیر تاسف سره چې نړیوال مطبوعات ددې مدعي او ډیر عیني شواهد داسې ثرګندوي چې د ۲۰۰۱ کال د سپتمبر د یوولسمې نیټې ناوړه او لعنتی پیښه د کوم چا د شومو اغراضو په خاطر یوه پلانیزه شوې ډرامه او په اصطلاح یوه" معمولي " کوچنۍ غوندې بهانه وه چې محض د څو زره بې ګناه کوچنیانو ،ځوانانو او سپین ګیر ، ښځو او نرو ژوند یې واخیست او دځینو کسانو چې هیڅ قصور یې نه درلود بیلیونوه سرمایي د ایرو سره ایرې شوې ،خو بالمقابل د ځینو نورو هغه ۱۰۰ ملیارده به البته چې ۱۰۰۰ ملیارده شوې اوسي او دچا پخواني نړیوال سیاست به نوې ګلوبال دینا میزم پیدا کړې اوسي تر څود ځیني کړیو اتیلیتاریستي پالیسي ور سره نوې تحرک او ابعاد ومومي او دیوویشتمي پیړۍ دامکاناتو او غوښتنو سره سم نوې ګلو بالیستي ستراتیژۍ ته واړوي او په ټوله نړۍ باندې تحکم لپاره یواځې یوه کوچنۍ غوندې پلمه جوړه شي . داچې په زرګونو انسانان قتل عام ، په ملیاردونو ډالر، تاسئیسات چې دامریکا په خلکو پورې یې اړه لرله د DDT دپوډرو غوندې هوا ته دوړه شول، یعني چې ځینو وبایلله او نورو وګټله او نن د نړۍ په ګوټ ګوټ کې د بې مفهومه او نا

(c) ketabton.com: The Digital Library



ثرګندو عنوانونو ،نومونو او دلایلو په طرحه کولو سره بې ګناه انسان وژنه ، بشري کلتوري لاسته راوړنواو ارزښتونو ړنګونه ترنا معلوم زماني او مکاني ابعادو پورې دوام لري ، همدغه ډول طرحې په یویشتمه پیړۍ کې البته چې د امپریالیستي سرمایداري دموکراسۍ واقعي بڼه او ثیره ګڼل کیدلې شي. هو ! فقط لکه د DDT پوډرو غوندې. تراوسه معلومه نده چې حقایق به دغه ګناه دچا په غاړه واچوي.

همداسې په عراق کې دکیمیاوي، بیولوژیکي او ذروي وسلو دلویو ذخیرو او تولید په باره کې دامریکې ، انګلستان، اسرائیلو او نورو استخباراتي سازمانونو ډنډوره هم یوه پوچه ډرامه او ددروغو هنګامه وه چې نړیوال عامه ذهنیتونه خړپړاو دوی خپل ماهیان ونیسي. دغه د مترقي غربي نړۍ په اصطلاح لویو انسانانو ثومره لوی دروغ وویل او ثو ورځې وروسته یې په اعترافونو خپل ټول هضم کړي له ځمکې بیرته وثڼل او یواځې په همدې ټوله معامله ختمه شوه ، او چې ددغه دروغو په پلمه ثومره بې ګناه انسانان ووژل شول ،ثومره ښارونه او ملکونه ړنګ او ترکومه وخته پورې به دغه لړۍ دوام پیدا کوي ، په دې هم ټول سترګې پټوي .دهمدغه دسیسه کارانو ددسیسو او دروغو سبب نن هم په میلونو نړیوال دهمیشني خطر او غم او درد سره مخامخ او دنړۍ په کنج کنج کې بې ګناه کوچنیان، ښځې ، نر وژل کیږي او دسیسه کاران تل په نوي او نوي طریقو خپلو تاکتیکونو ته دوام ورکوي او هڅه کوي خپل یو دروغ اوفریب په بل دروغ او فریب باندې سپین او ریښتني کړي او خپل ثرګند اعترافونو بادې سترګې پټوي . دوی ټولو نړیوالو ته داحمقانو په سترګه ګوري او نړیوال هم رښتیا په احمقانه





ډول ددغه دروغو دمشورې ثخه درښتیا دراوتلو په انتظار ناست دي . په افغانستان کې هم دادریم قرن او دریم وار دې چې په اصطلاح دوست قوتونه راځې او دځیني وطن پلورونکو او معامله ګرو سره په تباني کې دافغان اولس په سرنوشت لوبې کوي او ملنډې وهي او نن هم همدغه معامله دوام لري. کاشکې داسې دوستاناو بېګانه پرسته افغانان مونږ ته خدای نه وې راکړي او نن یې هم راثخه خدای زر واخلي. ځکه چې مونږ پوهیږو زمونږدغه "دوستان" پخپلو کورونو کې ډیر لوی لاینحله پرابلمونه لري. دوی هغه پر ځای پریښي او مونږ ته یې دمرستې لاس را اوږد کړې؟دوی په زرګونو ملیارده کسر دبودجې او داسمان ثخه لوړې دلویي غوښتنې ناولې ارزوګاني او دحرص او آزکثوړې یې هم لا ټولې تشې معلومیږي ، دوی د هغې د ډکولو په خاطر راغلي دي. او بیا هم وایي له مونږ سره په ملیاردو ډالرکومک کوي ؟ددوی پخپلو ملکونو کې امنیت ندې تامین او هره ورځ چې یې بچیان مکتب، پخپله کار یا مغازې ته ځي په اصطلاح پر ځانونو دشهادت کلمې وایي او دقیامت په ورځ دبیا لیدلو په امید سره رخصتونه اخلي. خو خپل ځوان بچیان یې رالیږلي چې زمونږ امینت وساتي؟ دا دود او دستور له پخوا معلوم او پایلې یې هم پوره ثرګندې دي . دبل غولول په حقیقت کې دځان غولول دي .په ۲۱ پیړۍ کې بشریت دجمعي شعور بلوغ ته رسیدلې او علمي، تخنیکي او اقتصادي عالي انکشافاتو لوړ امکانات په لاس کې لري. نه شپه تورتم ده او نه منهي بې شماره. هر ثوک چې هر څه کوي له اغاز ثخه تر انجام پورې هر څه ثرګند دي. که چیرې د ۲۰۰۱ د دسپتمبر دیوولسمې نیټې پیښه یوه دسیسه

(c) ketabton.com: The Digital Library



او یوه پلمه وه خو تر شایي ستري قرباني، ځاني او مالي تاوانونه پرېیښی دي. ولې یې عاملینو ته جزا نه ورکول کیږي؟ ولې د امریکې او لس د دموکراسۍ په دومره عالي معیارونو سره دومره بې وسعې دي او خپل غږ نشي پورته کولې؟ کله چې په عراق کې د کمیاوي، بیولوژیکي او ذروي وسلو موجودیت او جوړونو مسئله دروغ شوه او نن پدغه پلمه هره ورځ بې گناه انسانان وژل کیږي ولې دغه د جهان د سوسیال دموکراتیزم علمبرداران خپل غږ نه پورته کوي او ولې عملي اقدام نه کوي؟ د دې په عوض چې دغه د سیسه کاران د خپلو دروغو او د بیگناه انسانانو د قتل عام په تور په جزاء ورسیږي، په عراق کې د امریکایي اداري مشران هره ورځ تور لستونه جوړوي او پرته د مدعي علیه، وکیل او مدافع او محکمې نور انسانان په اعدام او جزا محکوموي او حکمونه پرې عملي کیږي. په فلسطین کې دغه ډول تور لستونه د اسرائیلي مقاماتو لخوا هغه وخت خانه پُری کیږي، کله چې د اسرائیلو د توپونو، راکټونو، طیارو او ټانکونو قطارپه کوم کلي یا ښار تیر شي او د مور په غیږ کې بچې څخه نیولې تر سپین گري پورې مړي پر ځای پریږدي. دا د دموکراتیزم د کوم اصل او قانون سره برابره ده؟ امریکې د بین المللي یوائیني حکمَ په حیث د افغانستان په قضیه کې د افغان اولس په وړاندې مسئولیت درلود. پخپله یې وویل افغانانو ته یې شا اړولې وه. اوس چې یې مخه کړې هم ده د واقعیتونو له مخې له مسایلو سره برخورد نه کیږي او غواړي اوس هم د خپلو ځولاسپوځو حاکمیت وساتي، د دموکراسۍ ټول اصول له پښو لاندې کړي او او بشري ارزشونه بې ارزښه کړي. پدې ډول دغه قضیه او غمیزه قرنونه دوام کولې شي خو





د حل لار به هیڅکله پیدا نه کړي او نه به افغانان له خپل عزم او هوډ څخه واړولې شي. مونږ نه پوهیږو امریکائیان کومه یوه غواړي؟ تروریزم د ډیرې ناولې پدیدي په حیث د ډیر پخوا څخه د بشر د سرنوشت سره تړل شوې او د ۲۰۰۱ کال د سپتمبر دیوولسمې نیټې څخه راپدې خوا یې نوي گلوبالیستي او سوپر ګلوبالیستي ابعاد او جوانب پیدا کړي. چا دغه ناولې پدیده رامنځته کړې، څوک یې تمویلوي، ساتنه کوي او څوک ترې ګټه اخلي. پدی باره کی هیڅوک نه غواړي سپیناوې راشي، ځکه چې خبره معلومه ده، خو عاملینو په سرګولاسونه ایښي چې مونږ څوک نه وینو ګوندي مونږ به هم نه ویني. لیکن د مرګ قاصد یې د هر کور مخې ته، هره کوڅه او هر محل، موټر، طیاره، مکتب، مسجد، کلیسا او معبد کې درولې او هره لحظه هر سړي د ځاني او مالي خطر سره مخامخ دي. سره د دې چې دوی د خپل حفاظت لپاره په ملیاردو ډالر مصرفوي چې بار یې غریب خلک په غاړه اخلي، خو شک نه شته دوی چې د خلکو له انظارو څخه د ځان د پټولو په خاطر څپیړي ایښي دي، همداسې پټې سترګې به تر هر چا د مخه د نابودۍ کندې ته ولیږي. ولې پدی باره کې فکر نه کیږي او ولې د یوه بین المللي سیمنار یا کنفرانس په ترڅ کې نه توضیح کیږي او مسئولینو او عاملینو ته یې د انتقاد گوته نه نیول کیږي بیا هم ځکه چې خبره معلوه ده او د زورورو د زور په خاطر نور هم په خوله د سکوت مهر ګرځوي. په دې توګه د دغه ډول مسایلو او قضایاوؤ لست هرڅومره چې څوک وغواړي اوږدیدلې شي خو نتیجګري ترې یواځې یو ډول کیدلې شي:

ـــ په ۲۱ پیړۍ کې د پخوا نیو زړو میتودونو له لارې ممکنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نده بشري ټولنه، نوې اقتصادي نظام او نوي علمي ـ تخنيکي انکشافات اداره او رهبري شي.

ـــ په ۲۱ پيړۍ کې د قدرت، دولت او اتيليتاريزم دليونيانو پر ځای بايد د سالم عقل، شعور او منطق په بناء د عالمو، پوهو او مسلکي باتقواء اشخاصو، پروفيوناليستي ملي دولتي او بين المللي اداري، سازمانونه او ټولنې جوړې شي او له همدا اوس څخه پدې پروسه بايد عملي کار پيل شي.

ـــ په همدې ۲۱ پيړۍ کې نيم بشري نفوس له ولږي او نيم ډېر مړښت، نيم ډېرو پيسو دلرلو او نيم د نه لرلو له مخې د خدای په لوی رنځ، درد او لوی غضب اخته دي او له هرې ورځې څخه بلې ته مشکل لا پسې زياتيږي. که پدې باره کې يو څه تعادل راوستل شی دواړه خواوې د دغه غضب څخه خلاصيدلې شي.

ـــ په ۲۱ پيړۍ کې به انساني ټولنه ډير زر ستر او عظيم نور علمي، تخنيکي او اقتصادي امکانات ولري. زمونږ کوچنۍ نړۍ پخپل کوچينوالي سره بې حسابه مادي زيرمې لري او په معقول تنظيم سره هر څومرها ولسونه تغذيه کولې شي. له بلې خوا بشري امکانات يوائې پدې کوچنۍ نړۍ هم نشي محدوديدلې نو تنګ نظري او حرص ته هيڅ ځای نه پاتې کيږي .که چيرې دې او داسې نورو مسايلو ته توجه ونشي:

ـــ په يوه ډيره ښکلې او رڼه ورځ چې نړيوال به کاملا د هر څه څخه بې خبره وي يو کوچنې معصوم ماشوم به د خپلو لوبو د کمپيوتر له لارې نړيوال امنيتي سيستم ته داخل او غواړي به لکه هميش د طفلانه جنګونو دلوبو ننداره وکړي او يا به همغه ميلانهول او يا بې سده ليونې د وخت او زمان شرايطو مجبور





کړې وي چې د سليم عقل پريکړو ته غاړه کيږدي خو خودخواهي، حرص او آز به اجازه نه ورکوي. دا به د ځان لپاره مرګ او قيامت بولي، سترګې به پټوي او د خپل تخرګ لاندې د کمه به کښيمنډي او نړی به لکه د سپتمبر په يوولسمه هوا ته دوړه کيږي. خو داځل به د دغه اتش بازۍ نه کم نندارچي وي او نه به څوک پدې بريالې کيږي چې يوه قطعه يادګاري عکس يې واخلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د حرکت لومړۍ کلیزه

درنو استادانو، پوهانو او دقدر وړدوستانو ! دحرکت خپروني کارکوونکي دخپلې خپرونې دلومړۍ کلیزي په مناسبت له تاسې محترمو څخه دزړه له کومې مننه کوي چې دغه کوچنې مو دیوه کال په اوږدو کې راسره په مادي او معنوي لحاظ وروزه، وپاله، لاس په لاس مو راسره وګرځاوه او دهیوادوالو او نړیوالو په وړاندې مو په خبرو راووست او معرفي مو کړ .

حرکت په عالم الاسباب کې دلوی جهان دمادي پیدایښت ، ابدیت او موجودیت مقوله ده. دا جهان ابدي او موجود دي ځکه چې متحرک دي او متحرک دي، ځکه چې ابدي او موجود دي .یعني حرکت شکل دموجودیت دمادې دي.

حرکت د لوي جهان دپیدایښت، معرفت، افادې، کمیت، کیفیت او قانونمندۍ مقوله ده. دا جهان متحرک دي ځکه چې موجود دي او موجود دي ځکه چې متحرک دي ، قانونمند دي ځکه چېد خدای د لوی علم له مخې قانونمند پېدادي. قانونمندي او موجودیت دواړه د حرکت مستلزم او مقید دي ، یا په بل عبارت قانونمندي او حرکت شکل دموجودیت د وجود



"لوی خدای، لوی علم، لوی جهان" سیاسي فلسفه

او مادې ګڼل کیږي . ماده قانونمنده او هره قانونمندي مادي ده. له مادې څخه وتلې قانونمندي وجود نه لري او ماده یواځې په قانونمند شکل سره وجود لرلې شي .هر حرکت په حقیقت کې د مختلفو خلقتونو د قانونمندۍ افاده ده. حرکتونه متنوع او مختلف دي ، خلقتونه هم د حرکتونو دتنوع او اختلاف په اندازهمتنوع او مختلف دي .همغسې چې مختلف حرکتونه یو پر بل باندې بد لیږي اوهر حرکت په انرژي باندې د بدلیدو له لارې په مختلف خلقتونه هم یو پر بل باندې بدلیدونکي دي. حرکتونه مختلفو

خلقتونو ته مختلف اوصاف او کیفیتونه ورکوي نو ځکه خو خلقتونه هم یواځې د مختلفو حرکتونو له لارې قابل د معرفت او افادې ګڼل کیږي.دا لوی جهان ځرنګه چې ابدي دي ځکه چې خدای ابدي دي نو حرکت هم ابدي دي ځکه چې حرکت شکل د موجودیت د وجود او مادې دي او دا هر څه د خدای د مقضی الامر ارادې له مخې ممکن ګرځیدلي دي.کله چې حرکت دهرخلقت او پدیدې د داوصافو ،خواصو ،موجودیت ،کمیت او کیفیت مبین او ځرګندوی دې نو ټولو پدیدو او خلقتونو داوصافو او خواصو د معرفت علت او مسبب هم ګڼل کیږي. که دې مسئلې ته لږ څه نور ځیر او ژور فکر پرې وکړو ، نو وبه وایو چې دا ټول او خواص چې انسان ترې متحسس او متأثر دې ، یا په بل عبارت احساس، ذهن، فکر شعور، عشق، مینه، خوند ، رنګ او که په لنډ ډول وویل شي ټولې معنوي او مادي پدیدې او کړه وړه دحرکت مستلزم او که لږ څه غیر دقیق وویل شي پخپله حرکت دې.

راشئ چې خپل ذهن فکر او عملي کړه وړه په همدغه دعالم

(c) ketabton.com: The Digital Library



الاسباب دخلقت او موجودیت په اصلي علت او برهان متمرکز او د حق او حقیقت په واقعیتونو ځانونه پوه کړو. راشئ دخپل شعوري درک له مخې دغه لوی حقیقت ، قانونمندي او واقعیت ته غاړه کښېږدو او دحقیقت او واقعیت د لاري لارویان شو. حقیقت او واقعیت د خدای دمقضي الامر ارادې له مخې د حرکت او قانونیت مقید او مستلزم ،دخدای دټولو خلقتونو د خلقت مسبب ګرځیدلي او همدغه لاري ته صراطالمستقیم ویل شویدي .

مونږ دخپلي خپرونې دیوکلن کار دنتیجګرۍ په حیث ویلی شو ، شک نشته چې مونږ به دناپوهۍ او ناقص درک له مخې غتې غتې خبرې کړي اوسي، زمونږ خبرې به دکم تجربه ګۍ په سبب دلیک او لوست دمروج دود او دستور سره برابرې نه وې، زمونږ لیکني به د ډیرو پوهانو له سویي څخه ډیري ټیټې ا و لوستل به یې ورته دخپل وخت ضایع کیدل ښکاریدل، مونږ به نه وي کړې شوي چې خپلې مفکورې هغسې چې لازم وؤ افاده کړو او ډیرو لوستونکو لپاره به پرې پوهیدل مشکل وو.... او همداسې ډیر تخنیکي او طباعتي مشکلات او نیمګړتیاوې .

. مونږ په یوه خبره کې رښتیني او صادق یو چې حق به وایو او حق به پالو. مونږ به خپلې ملي او وطني ګټې ساتو او دفاع به ترې کوو .مونږ خپلي شخصي ګټې هیڅکله په نظر کې نه نیسو . خو که په جمعي ګټو کې زمونږ شخصي ګټې هم ساتل کیږي ،دا مو طبیعي ،انساني او قانوني حق دې. دا زمونږ دژوند او مبارزي لار او ستراتیژیک ارمان دې.

فردي او اجتماعي عقیده مقدسه او دهر انسان طبیعي او قانوني حق او دتجاوز څخه مصئونه منل شویده . مونږ به تل





دخپلې فردي او جمعي عقیدي څخه دفاع کوو او دپردیو دتعرض څخه به یې ساتو. مونږپخپله دخشونت، حسادت، زور زیاتی او جنګ څخه کرکه او نفرت لرو. پخپله به ددغه ډول عمل عاملینو نه ګرځو او دنورو ددغه ډول عمل څخه به هم جلو ګیري کوؤ. زمونږ لارد «وما علینا الاالبلاغ» لاره ده. نور به هم دغه کار ته اړباسو او دتیري او تجاوز مخه به یې نیسو .

مونږ پخپلو چارو کې استادانو او شاګردانو ته ضرورت لرو چې استادان مو سمې لارې ته واړوي او شاګردان زمونږ د ستراتیژیک ارمان دتر سره کولو په خاطر زمونږ داستادانو څخه د راتلونکي ژوند د اصولو ،تفکر ،قوانینو او مبارزي لار ې چارې زده کړي.

مونږ پورته څه ناڅه پخلو نیمګړتیاو واعتراف وکړ. پخپلو ګناهونو اعتراف مشکل کار دې ، ډیر کم کسان ددې کار شهامت او جرئت لري. مونږ به هم شاید ډیر څه پټ کړي اوسي او یا به ورته متوجه شوي نه اوسو یا دا چې "خپل عیب دولو منځ دې" څوک یې نشی لیدلې . دبلې خوا مونږ ډیر خوشحالیږو چې زمونږ دوستان زمونږ عیبونه او نیمګړتیاوې مونږ ته په ګوته کړي او مونږ پرې اعتراف وکړو.

خپرونه چلول ټولنیزه چاره ده او ټولنیز مادي او معنوي ملاتړ ته ضرورت لري. له بلې خوا درنو دوستانو مونږ ستاسې په ملاتړ او تکیه دعلمي ، سیاسي او کلتوري مسایلو دخپرنو او خپرونو تعهد کړیدې ، په ځانګړي ځان دا ډول چارې هیڅکله سرته نه رسیږي . که تاسې زمونږ په خبرو کې رښتینولي ګورۍ ، که دخپروني مطالب ستاسې دارمان نماینده ګي کولې شي او دخپروني سره یې موافق یاستۍ. نو

(c) ketabton.com: The Digital Library



وطنپرستانه دین همدادي چې دغه ډول اقدام دهر چا له خوا چې وي باید ملاتړ او بې شايبه مرسته ورسره وشي . که مونږ پوه شو چې زمونږ اقدام زمونږ دهیوادوالو د نظراو په هیواد کې دعامه ګټو سره سمون نلري په همغه لحظه به یي په ټپه ودروؤ.

مونږ په پوره صداقت هیوادوال په عمده ولسی او وطنی چارو کې شریک دریز او نظر ته رابللي، مونږ د تیرې فرهنګي تشې دډکولو په خاطر دخپرونې له لارې دموضوعاتي سیمینارونو غوښتنه کړې او پخپلو محدودو امکاناتو مو خپرونه په ټوله نړۍ او افغانستان کې علاقمندانو ته رسولې ده .هیوادوالو، ډیرو پوهانو او دوستانو په رڼه ټنډه زمونږ ددغه اقدام هر کلې کړې، ځینو آنې بهانې کړي، چوپه خوله پاتې شوي او پرته دیوه لاس دګوتو په شمیر چې مونږ سره یې مادي مرسته کړې، او مونږ ورته کور ودانې ویلې ،دنورو دوستانو مرستې مونږ ته ندي رارسیدلي. هغو مشرانو، پوهانو او علاقمندانو چې مونږ ته یې لارښوونه یاو قلمي څیړنیزي علمي مرستي کړي ،زه یې په ډیره قدردانۍاو کور ودانې سره نوموونه یادوم : محترم ډاکتر شاولي ، محترم کاندید اکدمیسن محمد ظاهر افق ، محترم ډاکتر عبدلمحمد درمانګر ،محترم ډاکتر عبد الصمد حامد ،محترم عبد الرحیم هاتف ، پوهاند محمد قاسم جمدر، محترم عبدالاحد سرسام، محترم داکتر اصغر خیل منګل، جنرال محمد هاشم پوپل، پوهندوی حاجي محمد نوزادي، محترم توکل همکار، محترم امین الدین سعیدي، محترم محمد رحیم یوسفي او ډیرو نور دوستان او هیوادوال. خوشته دي ځینی کسان چې زمونږ اقدام ته دشک، تنګنظرۍ او حتا دحسارت په سترګه ګوري. هغیي به حتماً ځانته دلیل





لري. دغه کسان زمونږ دروشنفکري قشر لویه سرمایه ده . مونږ دهغوی دلیل منو او احترامانه ترې هیله کوؤ چې که له مونږ سره یې شریک کړي او په ډیر جرئت درهنمایي په روحیه مونږ انتقاد، تر څو دکجروۍ څخه نجات پیدا کړو او په را تلونکي کې مشترک اولسي او وطني دین مشترکاً په تفاهم سره ادا کړو . هغو کسانو ته چې پرته له کوم دلیل د حسادت له مخې مونږ سره هم غږي ندي ، مونږ یي په مقابل کې دمخالفت دلیل نلرو او بیا یي هم تفاهم او ګډ ګټور کار ته رابولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ناوړه ستراتیژۍ او ناوړه تصادف

که ووایو چې بشري تاریخ یوائې دسترو آبر قدرتونو دناوړه ستراتیژیو او ناوړه تصادفاتو ناوړه لوبه او ډرامه، افغانستان ددغه ناوړه ستراتیژیو او تصادفاتو دتقاطع او تقابل محراق او ورڅخه دزیږنده حوادثو او وقایعو دآستوګنې مناسب ځاتوبې وو نو، اشتباه به مو نه وي کړې. تل پردي جنګونه او مخالفتونه په مونږ تپل شوي، پردي غمونه تل دافغان اولس په کور میلمه او هر اشغالګر او دبد نیت خاوند دافغانستان جیوپولیتیک ستراتیژیک موقعیت دخپلو مخالفینو پر ضد دیوه مستحکم بالاحصار په حیث سنګر ګرځولې او دافغانانو په وینو یې دجنګ او ربل ساتلې دې. بشري تاریخي دوره دافغانستان دجنګي تیاتر په کیسو ډکه ده چې دنړۍ دجنګي تاریخ ستره برخه جوړوي. افغانانو تل له خپلې لمنې څخه اور اخیستې خو پدې ندي پوهیدلې چې ددغه ټولو بدبختیو علتونه او جرړې دافغاني ټولنې د ذات البیني ناوړه مناسباتو، وروسته پاتې والي او ناپوهۍ کې ښخې دي. افغانان ددې په عوض چې دحل لارې ولټوي دبدو عواقبو پړه دخپل قسمت په غاړه وراچوي او په پټو سترګو یې مني. دغه





ډول کړو وړ زمونږ داولس دبدبختۍ او وروسته پاتې والي اصلي عوامل جوړ کړي او په حقه سره نن دنړیوالو تر منځ دسیال ژوند جوګه نه یو.

کومه ناوړه ستراتیژي چې مونږ پرې بحث کول غواړو او په تاریخ کې د"لویې لوبې" په نامه یاده شوې، هغه وخت شروع شوه چې کله انګریزان دخپلو استعماري او استثماري اهدافو په لټه کې دهند لویې وچې ته ورسیدل او دتزاري روسی په مقابل کې دافغانستان په شمال شرقي، شرقي او جنوبي سرحدونو کې پریوتل او دقدمه په قدمه وړاندې تګ پالیسي یې اختیار کړه. پدغه منطقه کې نومورې ناوړه ستراتیژۍ نوې رنګ او نوي ابعاد پیدا کړل او دمنطقې ټول سیاسي انکشافات ترې ترننۍ ورځې پورې متاثر دي. داد هغه وخت سره هم متصادفه وه چې لا د تیمور شاه کورنۍ دخپل منځي دښمنیو څخه نه وه خلاصه چې د سردار پاینده محمد خان دکورنۍ سره په شخړو کې اخته شول او وروسته دغه عداوتونو بیا د سردار پاینده محمد خان داولادې تر منځ دوام پیدا کړ. افغان اولس ددغه عاقبت نا اندیشه امیرانو او شاهانو لخوا جبراً یو دبل په مقابل کې راپاڅول کیدل، خپل منځي جنګونو ته اړ کیدل او دخلکو او هیواد سرنوشت دناوړه تصادفاتو قرباني وؤ، داد هغه وخت سره هم متصادفه وه چې لومړې نړیوال جنګ پای ته رسیدلې وو او دنړیوالې سیاسي وضعې په مساعدت سره سترو اولسونو دخپل راتلونکي سرنوشت په باره کې تصمیمونه نیول او دهند په لویه وچه کې میشتو اولسونو هم هر یوه دخپل مستقبل لپاره مشخصې طرحې درلودلې او په رڼو سترګو، کامل شعور او متینو

(c) ketabton.com: The Digital Library



قدمونو سره یي دراتلونکي په لور قدمونه اخیستل. افغانان ددې په عوض چې د سلیم عقل له مخې په نړۍ کې دآزادۍ، حق او عدالت دلاری ستر مبارز علامه سید جمال الدین افغان په شاوخوا ، چې لا په افغانستان کې وؤ، راټول او په پوره مسؤلیت او دقیق سنجش سره راتلونکې تګلاره غوره او ټاکلې مشخص هدف او ارمان ولري او دخپل سیاسي تشخُص مطابق سیاسي دریځ اعلان کړي، نومورې ستر نړیوال سیاست مداریي دخپلې خاورې او پلرنۍ ټاټوبي څخه وتلو ته مجبور .خپل منځي دښمنیو ته یي دوام ورکړ او نتیجه یي دا شوه چې افغان اولس دخپلې خوشباورۍ او دهغوی د تش په نامه مشرانو دخودخواهۍ او عاقبت نا اندیشانه اعمالو په نتیجه کې دناوړه تصادفاتو ښکار او درې وارې د دښمنانو دیوجانبه جبري پلانونو له مخې یي خپې ستراتیژیکي منطقې له لاسه ورکړې.

په ۱۹۱۹ کې کله چې امان الله خان دا ستقلال اعلان وکړ او د هند دلویي وچې په شمول اکثر قومونه په کامل اتفاق او پرته له تبعیض دهغه په ملاتړ راپورته او کیدلې شول ټول تصامیم ددغه لویي وچې دقومونو دغوښتنو سره سم ونیول شي. له بده مرغه امیر امان الله خان دخپلې کورنۍ، دربار او نورو مرتجعو ډلګیو دمخالفت سره مخامخ شو، افغان اولس یو ځل بیا دناوړه تصادف قرباني او راتلونکې ټولې پریکړې دانګریزانو په خوښه نیول کیدلې . ددې ټولو خبرو سره سره د افغانستان استقلال بې تاثیره پاتې نشو او دهند په لویه وچه کې یي سیاسي وضعې ته ستر بدلون ورکړ. اولسونه بیدار او دخپلو مشرانو په شاوخوا راټول شول. دخپلو مشخصو اهدافو





له مخې یي مشخص سیاستونه غوره کړل. خان عبدالغفار خان ، مهاتماګاندي، جواهرلال نهرو او محمد علي جناح دورځني سیاست مشهورې څیرې او شخصیتونه وګرځیدل. افغانان دخپل مشر خان عبدالغفار خان په شاوخوا راټول خو ددې په عوض چې په دغه حساسه او سرنوشت سازه مرحله کې د خپل استقلال ،ازادۍ او د افغانانو د ملي وحدت اساسي مسایل په تاریخي ، سیاسي او حقوقي لحاظ مطرح او حل وفصل کړي ، د خپل پخواني شعار "خدایي خدمتګار»دبیرغ لاندې چې د انګریزي حکومت د اختناق په وخت کې یي غوره کړې وؤ ،ودرېدل.د خدایي خدمتګار شعار خورا انسان دوستانه او هر مسلمان باید دغه ډول همیشنې دخیر ښیګڼې او صاف او اخلاق ولري او بلکه د هر انسان شخصي عقیده او کړه وړه باید همدغه ډول اوسي ،دخدایي خدمتګار شعار په هیڅ صورت سره د هیڅ ډول سیاسی ارمان، هدف، مسؤلیت، تعهد ، تشخُص او مبارزی څخه نماینده ګی نه کوی ، نو افغانان هم دهند د لویي وچې د ټولو اولسونو د عامو او سراسري قاره یي ازادي خواهانه اهدافو کې ښکیل پاتي شول او تر ننه ورځې پورې د خپلو مشخصو او ټاکلو ارمانونو او اهدافو په تر لاسه کولو کې بې برخې پاتې دي. په کار دا وؤ چې افغانانو هم په دغه مشخصه سیاسي وضعه کې د مشخص هدف په خاطر مشخصه سیاسي لاره غوره کړې وې او دهر څه دمخه یي خپل حیاتي هدف او ارمان پخپل قابو کې راوړې وې ،ځکه چې مهیل دښمن په منطقه کې خپل راتلونکي پلا نونه اګاهانه او زیرکانه تعقیبول او خپل اساسي رقیب یي یوه لحظه هم له نظره نه شو غورځولې او بلکه دټولو ځایي قومونو ذات البیني

(c) ketabton.com: The Digital Library



تضادونو څخه يې د افغاني قضيې او افغانانو په مقابل کې د سپر په حيث استفاده کوله. همدا سبب وو چې پښتانه او بلوځ قومونه د خپلو حقه حقوقو څخه بې برخې پاتې شول او تر نن ورځې پورې د استعمار ټول تکتيکي او ستراتيژيکي پلانونه په همدې محراق متمرکز او نن هم که افغانان د سليم عقل له مخې خپل اهداف تشخيص نه کړي او لازم تصميم ونه نيسي ،دغه ناسور زخم به تر ابده پاتې وي. نن چې په افغانستان کې بين المللي قوتونه په اصطلاح د سولې ،امنيت او بيا ابادونې په خاطر حضور لري او په ظاهر کې که هر ډول منډې ترړې دوام لري ،خو په حقيقت کې د زاړه استعمار زړې ستراتيژۍ له همغه ابتدا څخه تر نن ورځې پورې اندکترين تغير ندې کړې او د پخوا په څير دوام لري . پاکستاني حاکمانو هميشه د افغانانو په مقابل کې د ډير تشدد څخه کار اخيستې ، بې ګناه انسانان يې وژلي او حتا د عادي قانوني حقوقو څخه يې بې برخې ساتلي دي. زه نپوهيږم د کوم سحر ، جادو او مسمريزم له مخې افغان مشران نن هم يواځې د عدم تشدد او بلکه د تسليمۍ په سياست د پخوا په څير کلک ولاړ دي. په داسې حال کې چې پاکستان د افغانانو په مقابل کې يواځې د تشدد څخه کار اخلي او هغه افغانان چې په پاکستان کې اوسيږي د عادي قانوني حقوقو څخه هم محروم دي . شک نه شته چې د استعمار لاندې سياستونه تل په سينه پراته وي خو هيڅ يوه اصيل افغان خپل غليم هيڅکله نه دې په ګونډو شوې او تل يې" په ګونډو د ژوند کولو څخه په ولاړې مرګ سل واری بهتر ګڼلې دې ".

بايد ووايم چې نه يواځې افغانان بلکه نور اولسونه هم د ناوړه ستراتيژيو او ناوړه تصادفاتو معرضګرځيدلي دي. خو



"لوی خدای، لوی علم، لوی جهان" سیاسي فلسفه

هغوی دغه حوادث خپل سليم عقل او وجدان ته د مراجعی او ملي ترون او پيوستون په قوت او سنجش سره د ګذرا پديدې په حيث په ممکن اقل زمان کې له خپله سره اړولی او د راتلونکی لپاره يې د هغې په مقابل کې لازم تدافعي تدابير نيولي دي .

د افغانانو د اولسي قيام په نتيجه کې د پخواني شوروي اتحاد په ړنګيدو ، په نړۍ کې د امريکي د نړيوال يوقطبي سياسي سيستم په رامنځته کيدو او د ۲۰۰۱ م کال د سپتمبر ديوولسمې نيټې د پيښې وروسته د امريکي "نيک نظر" يو ځل بيا د افغانستان خواته شويدې. رښتيا چې امريکا په سياسي لوبو کې دايمي دوستان او دښمنان نلري او په ډيره اسانۍ يو دبل ځای نيولې شي. امريکي او پاکستان په نوي تعهداتو سره پخواني تعهدات راټينګ او د شمالي ټلوالې سره په نوې معاملې کولو يې په افغانستان کې د طالبانو حاکميت ته په معجزه اسا شکل خاتمه ورکړه او په منطقه کې يې خپل حضور تثبيت کړيدې. د تروريزم پرضد تش په نامه نړيوال له مبارزه شروع او په سوق الجيشی وضعيتونو کې بنيادي تغيرات رامنځته شول . سيال اولسونه د نوؤ ستراتيژيکي وضعيتونو مطابق د خپلو جمعي ګټو په خاطر نوې موضع ګانې اشغالوي اما افغانان د جمعي سود او زيان سره په پوره بې تفاوتۍ د خپلو شخصي ګټو لوبو ته دوام ورکوي او تل دا هيروي **تر څو چې جمعي ګټې مصئوني نه شي شخصي ګټې هيڅکله مصئوني نه شي پاتې کيدلې.**

نړيوال، پاکستان، ايران او نور ګاونډيان د افغانانو او په خاصه توګه د پښتنو او بلوڅو قومونو په هکله نوي او نوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



تصاميم نيسي او نوي ناوړه ستراتيژۍ غوره کوي عملي کول يې غواړي. هغوی خپل مغرضانه او آزامندانه پلانونه هيڅکله د چا څخه پټ ندي ساتلي او نن هم دغه شوم پلانونه هر چا ته څرګند دي او ټول بېګانه پرسته افغانان هم د پخوانيو امراضو او ډيرو نورو نيمګړتياوؤ په سبب د هغوی لپاره د ناوړه تصادفاتو زمينه سازۍ او جاسوسي او په پټه لارې او ګودرونه ورته په ګوته کوي .

د بن د بې مفهومه او بې بنياده د غونډې څخه وروسته په ډيرو سترو ملي او وطني مسايلو کې لکه د بن د غونډې د پريکړو په عملي کيدو ، اضطراري لويي جرګې، د اساسي قانون په جوړولو او تصويب، د ولسمشرۍ په ټولټاکنو او د اولسي، مشرانو جرګو او ولايتي شوراګانو په ټاکنو کې د ځيني افغانانو د بې تفاوته ، غير مسؤلانه، غير واقعبينانه او د پرديو په ګټه موضعګيريو د پرديو د زغردې لاسوهنې زمينه برابره کړه . پاکستان چې د افغانانو د پنځه ويشت کلنې غميزې په اوږدو کې خپل خير زمونږ په شر او بدبختۍ کې لټولي ، د دې وضعې په درک سره يې اشتها لا پړسيدلې او يو کرت يې سفير د بي بي سي سره په مرکه کې ، البته د خپلو متوليانو په ملاتړ ، د ډيورنډ د کرښې په باره کې د خپل صلاحيت څخه پورته غير مسؤلانه خبرې وکړې او د ۲۰۰۵ م کال د سپتمبر په مياشت کې پخپله پرويز مشرف دغه ډول غير سياسي او غير ديپلوماتيک اظهارات تکرار کړل . د دې سره سم ځيني بيګانه پرسته دولتي مسؤلينو ، سياسي مبصرينو د تلويزوني او راديويي پروګرامونو ، ګردي ميزونو له لارې د دښمنانو په ګټه متذبذب سياسي بحثونه ، دريزونه او اظهارات پيل کړل . لازم





دا وؤ چې ديوې دولتي اعلاميې په واسطه ورته قاطع ځواب ورکړې شوې وای ، بر خلاف دغه بيګانه پرستانو ته د دې زمينه برابره شوه چې لا پسې د مليونو نو انسانانو د حقه حقوقو او سرنوشت په هکله د خپلې ناولې خيټې ناولې خبرې وکړي . دا ډول تصميمونه معمولاً د مسؤلو کسانو لخوا په معين وخت کې نيول کيږي او عمل پرې کيږي . زمونږ ګاونډيان دې په موجوده ګذرا وضع نه غوليږي او نه دې دا ځيني کسان تاريخي مختورۍ ته غاړه ږدي . په خيټه وږي په اولس کې شپې سبا کولې شي ، خو تاريخي مختورن ته په اولس کې د شپو تيرولو حق هيڅوک نشي کولې . ښه به دا وي زمونږ ګاونډيان او بل هر څوک زمونږ په دوستۍ محاسبه وکړي نه زمونږ په غلامۍ ! په ساينس کې ځينې قضا يا تعارفات ګڼل کيږي چې ثبوت او توضيح ته يې ضروت نه ليدل کيږي . د ډيورنډ په څير مسايل هم سياسي تعارفات او بديهيات دي ، د حل لاريې معلومه او هغه د افغانانو حقه حقوقو ته غاړه ايښودل دي .

ځيني کسان وايي سياست چټله لوبه ده . رښتيا ده چټل سياست مداران چټله لوبه کوي . خو زه وايم سياست علم دې، سياست منطق دې . سياسي لوبې يواځې په علم او منطق سره د حل لار پيدا کوي . پور په ورکولو ، حق په اداکولو او سياسي مسايل يواځې د منل شوو عادلانه اصولو ،قوانينو او حق ته په غاړه ايښودلو د حل لار پيدا کولې شي. زه داسې مثال نشم وړاندې کولې چې کومې سياسي لوبې دې د چټلو ، غير عادلانه او د چا د شخصي مغرضانه غوښتنو او اميالود پوره کولو له مخې د حل لار پيدا کړې وي .

هره سياسي پيښه حتماً د سياسي حل لار لري . ځيني کسان

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیاست پټ میږه ګڼي. داسې هم نده. هر سیاست مشخص هدف او ارمان لري او دهغې په مقابل کې مشخص دریز پکار دي. پرته لدې چې سیاست علم او منطق دې. ځانته متودولوژي، ترمنولوژي، مقولې او قوانین لری. دهغې سره کړه وړه یوازې دسیاسي پوهانو کار دې. همغسې چې ترکاڼي دبیزو کار ندې. دسیاست سره هم هر کس او ناکس کار نشي لرلې. سیاست ټولنیزه پدیده ده. دوه جانبه او څو جانبه اړخونه لري. یو جانبه قضاوت او پریکړې هیڅکله نه مني. نه دمنلو وړ دي او نه عملي کیدلې شي.

مونږ خپلو دوستانو او دښمنانو ته وایو. چې داوبو په سر خس او خاشاک باندې ونه غولیږي دسیند اصلي بهیر دهدف په لورلاروهي. افغانان لا ژوندې اولس ګڼل کیږي. دژوندي اولس په سینه، چې لا زړه یې دربیږي هیڅ ډول دیوالونه، کرښې او اغزن بندیزونه پایدار نشي پاتې کیدلې. ضرور نده چې په افغانستان کې دا اوربل شي چې آسیا وسیزي او په آسیا کې د اور بلیدل په نړۍ کې داور بلیدلو په معنادي او دبې مسؤلیته اورونو بلول پرته د چاپیریال له سیزلو څخه نورې پایلې نشي لرلې ! ! !





# پاکستان رښتیا دافغانانو په وړاندې دوه مخې سیاست لوبوي ؟

په وروستیو وختونو کې چې کله د پاکستان جمهور رئیس درښتینولۍ ډګر ته راښکل شود هغه واقعي سیاسي څیره نړیوالو ته څرګنده او دبوقلمون غوندې یې له یوې ورځې څخه بلې ته رنګ بدل کړ. سیاست پټ اختر نه دې. سیاست پوهان په ټولو سیاسي خبرو ښه پوهیږي او سیاسي اصطلاحات ،مقولې ، قوانین او ترمنولوژي ځانته ټاکلي او مشخصې معناوي لري .که چیرې ځینې «سیاست پوهان» نه غواړي ځانونه پوه کړي او یا دخپلو غلطو خیالاتو مطابق هڅه کوي اصطلاحات او ترمنولوژي تحریف او غواړي مقابل لورې وغولوي نو حتماً به لکه دپاکستان جمهور رئیس غوندې دنړیوالو او هیواد والو په وړاندې خپل اعتبار له لاسه ورکوي.

زه پدې عقیده یم چې یو مخې سیاستونه وجود نلري ځکه چې سیاست یوه مخې لوبه نه ده. یوازې ډیر ساده کسان دا منلې او فکر کولې شي چې دمختلفو هیوادونو یا دیوه هیواد دننه د مختلفو طبقاتو، قشرونو او حتا دیوې لویې کورنۍ د غړو تر

(c) ketabton.com: The Digital Library



منځ سیاستونه او مناسبات دي هم کله صادقانه یو مخي او سي .سیاستونه که داخلي دي او که خارجي د تاریخ په اوږدو کې همیشه دوه مخي ،کثیرالوجوه ، څو جانبه او څو بعدي ماهیت لري .هر څوک که دیو مخي صادقانه سیاست تظاهر کوي حتماً به دپاکستاني حکومتي واکدارانو غوندې ددام مخې ته داني او یادکوهي او پانې لوري ته د رهنمایۍ څخه پرته بل هدف او مرام نلري .

دې کې شک نشته چې بشري ټولنه د غلام په مقابل کې د بادار ،ددهقان په مقابل کې د فیودال او دکارګر په مقابل کې د سرمایدار د یو مخي سیاستونو شاهده او دغه ډول نموني هم دلري چې تل یې یو جانبه جابرانه ،آزمندانه او حتا خائنانه بڼه درلودله . نن چې د نړۍ په ډیرو پر مختللو هیوادونو کې دولتونه ،حکومتونه او دلویو شرکتونو متصدیان ځانونه ددمو کراسۍ مدعیان او علمبرداران ګڼي او په ډیرو هیوادونو کې نسبي سوسیال دموکراتیک نظامونه عملي بڼه هم لري ،دموکراسي په حقیقت کې یوله اشکالو ددیکتاتوریو څخه دې او تر څو پورې چې خصوصي ملکیت او بې ارزښته توری کاغذي پیسي چې د فساد او ناوره استفادې ناولې جرړې پکې خښې دي ، وجود ولري دموکراسي تحقق نشي پیدا کولې. استثمار به د همیش لپاره دوام ولري او دغه ډول مناسبات په تاریخ کې د استعمار او استثمار په نومونو یاد شوېدي . دهمدغه ډول یو مخي استعماري سیاست په نتیجه کې وو چې انګریزي او روسي تزاري استعمارګرو دولتونو تر ۱۹ م پیړۍ پورې په خپلو یو جانبه اجباري پریکړو سره د افغانستان بهترینې منطقې په خپلو امپراطوریو پورې وتړلې چې





دافغانستان پر پیکر دناسور زخم په څیر پاتې او وینې تږې بهیږي .

د پخواني شوروي اتحاد په ړنګېدو او دامریکې په محور د یو قطبي نړیوال سیاسي سیستم په ټینګیدو سره په نړیواله کچه ګلوبال یو مخې سیاسي نظام رامنځته شوې او غواړي په ټوله نړۍ کې دګلوبال افراط او تفریط یو نا انډول د خپلې خوښې سیاسي ټولنیز نظام جوړ او برقراره وساتي. دا هم د سیاسي فلسفې له اصولو او قوانینو له مخې یوه ناانډوله یو جانبه ناوړه لوبه ده او سیاسي نظام نشي ګڼل کیدلې . نن چې د ملګرو ملتونو تر مشرۍ لاندې له څلویښتو څخه دزیاتو هیوادونو ملکي او نظامي نماینده ګان فغانستان ته راغلي او غواړي زمونږ په هیواد کې سوله ،امنیت ، دموکراسي او بشري حقوق تأمین ،وطن اباد او بلا تشبیه مونږ ته جنتي ژوند جوړ کړي ، حال داچې ددوی په خپلو ملکونو کې دغه ټول پرابلمونه لا ینحله پاتې دي . دا هم ساده لوبه نه بلکه دډیر تأمل او تعمق وړ یوه کثیرالمجهوله معادله ده او په پټو سترګو ددغه ډول مسایلو منل یا ردول دواړه لویه سیاسي خطاء او ګناه ګڼل کیږي. دا دوطنپرست روښنفکر قشر دنده ده چې وضعه په هر اړخیز ډول د خپلې سیاسي اګاهۍ په قوت تحلیل ،په شعوري لحاظ هضم او خپله ټولنه ددغه تورتم په ګګلیچونو کې د ترقۍ او رښتیني دموکراسۍ په لور رهبري کړي . خو له بده مرغه زمونږ دغه سنکر تر نن ورځې پورې خالي او بې صاحبه پاتې او هغه څوک چې په سیاسي ډګر کې په نظر راځي ټول د استعمار او استثمار په وندر تړلي معامله ګران ګڼل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه څه چې د پاکستاني دولت دیو مخي یا دوه مخي سیاست پورې اړه لري هغه د پاکستان د جوړیدو د هدف او ماهیت څخه پوره څرګند او واضح دې. پدې باره کې هر ډول بحث په حقیقت کې د موضوع څخه لیري کیدل او د پاکستان د جوړیدو د ماهیت استعماري اهدافو لپاره زمینه سازي کول دي .ځکه چې د دغه مسایلو ځواب معلوم او پخپله د دغه ډول قضایا سیاسي متعارفات ګڼل کیږي او تعریف او تفسیریې د وخت ضایع کولو څخه پرته بل څه نه دي . زما په عقیده د افغانانو او افغانستان په وړاندې د پاکستان د دولت سیاست همیشه یو مخې ، دښمنانه او خائنانه وو او تل یې یوائې د خپلو متولیانو د زړو پلانونو له مخې پخوانۍ استعماري ناوړه ستراتیژي قدم په قدم عملي کړې ده .

د پاکستان دولت په ۱۹۴۷م کال کې د انګریزي استعماري پلانونو له مخې په غیر قانوني او غیر حقوقي ډول د دغه منطقې د میشتو اولسونو او افغانانو د بنیادي حقوقو د پښنو لاندې کولو په بناء جوړ شوې او تر نن ورځې پورې یې د قانوني دولت بڼه نه ده غوره کړې. نن هم پاکستان په خپله خاوره کې د خلکو لپاره نه منلې سراسري منتخب قانون ،نه ټولې سراسري سیاسي نظام او نه خپلواک دولت لري . نو ځکه په اصطلاح خپل ګناه کاران لاس ټولي پردو ملکونو ته د محاکمې لپاره لیږي او د انګلستان د دفاع وزارت د یوه لوړرتبه مامور د ۲۰۰۶ کال د سپتمبر د ۲۹ نیټې په قول، په ډیر لوړ قیمت یې په امریکایانو خرڅوي.

د پاکستان دولت لپاره په یویشتمه پیړۍ کې دا هم د شرم خبره ده چې له یوې خوا د موکراسۍ چیغې وهي خو له بلې خوا





د پاکستان په اصطلاح واحد دولت په ځینې سیموکې د ۱۹۰۱د F.C.R. (فرنټیر کریمس ریګولیشن )د ځنګل قانون حاکم او خلک د پولیټیکل ایجنټ خود کامه حاکم پواسطه پرته د قانوني وکیل او استیناف د حق څخه دیوه تن په ګناه ټول قوم تر لوړې کچې سزا پورې محاکمه کیدلې شي. دا ډول دي د استعماري او استثماري ملکونو د دموکراسۍ حقیقتونه او واقعیتونه . پوښتنه پیدا کیږي ، چې د پاکستان حقوقي او قانوني نظام په کوم بنیاد ولاړ دي او څه ډول په واحده محکمه کې مختلف عدلي نظامونه چلیدلې شي ؟ د پاکستان د دغه ډول ظالمانه نظام په سبب د دغه سیمو خلکو هم ندي کړې شوي چې د دغه د ځنګل قانون مات کړي او د بشر د حقوقو او دموکراسۍ علمبردارانو هم پرې تر نن ورځې پورې سترګې پټې او غوږونه کاڼه اچولي دي. اوس پخپله په لر او بر افغانانو پوري اړه لري چې ځانونه څه ډول احساسوي ؟د لر او بر افغانانو د وروري ، قامي ، ارثي او ذاتي اړیکې او مناسبات په څه ډول او کومه کچه تأمینول غواړي ؟ په څه ډول د خپلو حقوقو ادعا لري ؟ ځانونه افغانان ګڼي او که پاکستانیان ؟ د پاکستان په نامه کوم ثابت او منل شوې هیواد وجود نه لري. ټولې نظام وجود نه لري. پایداره حکومت وجود نه لري. واحده اداره او مرکزي دولت وجود نه لري. هغه چا چې هڅه کړې چې د دغه ډول یو نظام ، حکومت ، اداره او دولت جوړ کړي ، هغه لا پرې ایمان او باور نه لري .نو زه نه پوهیږم ،هغه افغانان چې په خپله خاوره ، په همغه پخواني پلرني کور ، پخواني دود او دستور او دلر او بر سره په پخواني اړیکو او مناسباتو کې اوسیږي او ځانونه پاکستانیان ګڼي ،په هغه نامه چې یو قسمت

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې نن د بنګلدېش په نامه يادېږي ، بل قسمت به يې سبا د پنجاب ، بل د سند ، بل د بلوچستان او بل به يې د پښتونستان او يا جنوبي افغانستان په نومونو ياد شي. زه په دې هم نه پوهېږم ، په افغانستان کې هغه افغانان چې غواړي خپله خاوره او خپل اولس ، ولې ؟په کوم دليل ؟د څه په خاطر ؟چاته ؟چې نه ادرس لري او نه هويت او نه ځيني دغه کسانو څخه چې لا دقيق هويت او ادرس هم شايد و نه لري او په اصطلاح نوم يې په پنسل نوشته وې او په کوم صلاحيت دغه دومره لوی اولس او دومره لوی ملک ، نه پوهېږم چاته بخشش کول غواړي ؟دا ټولې پوښتنې د تأمل وړدي ، خو نه پوهېږم ولې څوک ددغه مسايلو پوښتنه نه کوي؟

هغه افغانان چې پخپل ملک کې د سيال ابرومندانه ژوند جوګه نه وو او پاکستان ته تښتيدلي هميشه (آي. اس. آي ) په غېږ کې نيولي ،روزلي او د تخريبي اعمالو لپاره يې بيرته په پټه افغانستان ته رالېږلي دي. افغانانو سره ددې چې هميشه د خپلو پښتنو او بلوڅو ورونو د حقه حقوقو څخه دفاع کړي ، خو کله چې پاکستان د کشمير او بنګلادېش په سر درې واره د هند سره شخړه درلوده او درې واره وار يې سخته ماتې وخوړله، افغانستان نه يوازې د خپلو خلکو او خپلې ځمکې د حقوقو د تر لاسه کولو په خاطر هڅې او ادعا ونه کړه بلکه تل يې د اسلامي اخوت او نيک ګاونډيتوب له مخې همدردي ښودلې او مرستې ته حاضر شويدي. خو کله چې روسانو د ټولو متحدينو سره په افغانستان خاينانه حمله وکړه او شرق او غرب او ټولې نړۍ په ډيره ظالمانه او جفاکارانه توګه د نړيوالو عظيمو لاينحله پرابلمونو حل د افغانانو د سرنوشت سره غوټه او غوښتل يې





هغه په افغاني جنګي تياتر کې حل کړي ، پاکستان په ډير رياکارانه او خاينانه شکل دهغې لپاره زمينه سازي وکړه او ټول امکانات يې د بهرنيانو په واک کې ورکړل. وطنپرست سياسي مشران يې يا مړه ، يا له ملکه وشړل او يا يې دفعاليت ټولې لارې چارې پرې وتړلې ، او هغه څوک چې د پاکستان په خدمت کې وو ،ښه يې وروزل او دفعاليت ټول امکانات يې ورته برابر کړل .حضرت صبغت الله مجددي د اکتوبر په څلورمه د امريکا غږ راديو سره په مرکه کې دغه مسئلې ته په اشاره وويل : پاکستان اوس هم په دولت کې ځيني کسانو سره اړيکي لري ،پيسي ورکوي او د افغانستان په کورنيو چارو کې لاسوهنې کوي.

د پاکستان دواکدارانو شوم نيت د افغانانو په وړاندې هميشه څرګند وو .ذوالفقار علي بهوټو غوښتل افغانستان د پاکستان په پنځمه صوبه بدل کړي ،ضيأالحق په افغانستان کې د (آي اس آي ) له لاري د مستقيمي مداخلې او نظامي قطعاتو د لېږلو څخه هم ډډه ونکړه ،نواز شريف خپله لويه لاسته راوړنه د افغاني اردو ړنګول ګڼل او د اختر عبدالرحمن ارمان د افغانستان تر ټولو لوی اجتماعي ،سياسي ، کلتوري ،اقتصادي او ... لوی ارزش د افغانستان پلازمينه د کابل ښار سيزل وو او پرويز مشرف غواړي دغه پروسه آخرين منزل ته ورسوي . پاکستان څه کاره دې چې ددې خبرو جوګه شي او نه يې عقل دومره قد ورکوي . پاکستان تل د خپلو متوليانو په مشوره د افغانانو د حوصلې د ازمويلو لپاره عجيب خاينانه پلانونه وړاندې کړي او افغانان يې هميشه د ناوړه تصادفاتو او انجام شوي عمل سره مخامخ کړيدي. څه موده د مخه په کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې د پاکستان سفير او ورپسې پخپله پرويز مشرف د ډيورنډ
د کرښې په باره کې غير سياسي او غير مسؤلانه څرګندونې
وکړې او د افغانانو غصه يې راولاړه او ورسره سم يې روزل
شوي کسان د القاعده او طالب په نوم ولو په دغه حساسه مرحله
کې چې امريکايانو د سپتمبر د يوولسمې څخه وروسته ورسره
ډير حساسيت درلود ، سرحدي سيمو ته د ماجراجويي لپاره
راوليږل او په همدې نيرنګ يې د امريکا مادي او نظامي ملاتړ
تر لاسه او د سرحدي سيمو د ځپلو لپاره يې يو لک او څلوېښت
زره عسکر مارش کړل .

پاکستان په همدې بهانه سرحدي تحکيمات ، اغزن سيم او
حتا د سرحد په اوږدو کې د ديوال غزولو ډرامه دومره ګرمه کړه
چې که پخپل وخت اقدام ونه شي نو القاعده او طالبان به ټول
افغانستان لاندې کړي. دې کار افغاني دولتي ، سياسي
مسؤلين دومره وارخطا کړل چې پرته د اندکترين سنجش او
عواقبو ته په پاملرنه ، هرڅه عاجل د دغه پلانونو د عملي کيدو
غوښتونکي شول. درې اړخيزه مشترک کميسيون تشکيل او
ملاقاتونه شروع شول .پاکستان د خپلې اردو د عظمت د نمايش
او افغاني اردو د بې مورالـه کولو په خاطر د مشترکو تطبيقاتو د
نمايش لوبه پيل او تش په نامه سياسي مبصرينو چا عمداً او
دستوري ، چا ناخود ګاه او تجاهل العارفانه د ګردي ميزونو
،راديويي او تلويزوني متردد ، مذبذب او حتا خاينانه بحثونو
له لارې خپل نظريات او غير مسؤلانه عقايد اظهار ول پيل کړل
چې د پاکستان د بعدي قدم پورته کولو لپاره ښه وسيله او
انګيزه وګرځيده .حال دا چې هر څوک پدې ښه پوهيږي چې دا
ډول تصميمونه د باصلاحيته ، بامسؤليته او اګاه مسلکي





اشخاصو لخوا نيول کيږي او عملي کيږي. دا ډول دي د
افغانانو په وړاندې په اصطلاح د پاکستان اود هغوی
د متوليانو زيرک او په هر لحاظ سنجول شوې ، « نيک نظر » او
د افغانانو بې خبري او خوشباوري.

زما په عقيده سياست ډير ديناميک شوې ، سياست په
مقدمه جبهه کې په واقعيت او عمل کې د ګرم سنګر لوبه ده او
يواځې سياسي زيرک کسان پرې پوهيدلې شي. لکه څرنګه چې
« ترکاني د بيزو کار نه دي »سياست هم د هر بې باوره او
خوشباوره رسالت نه ګڼل کيږي !!!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دافغانستان پېښې
# او دخپروني غبرګون

• د ۲۰۰۴م کال دجولای دمیاشتې په ځلورمه نېټه دامریکې دآزادۍ ورځ ولمانځل شوه. پدغه مناسبت ښاغلي حامد کرزي دافغانستان دمنځمهالي اسلامي دولت جمهور رئیس ته دآزادۍ مډال ورکړ شو. پداسې حال کې چې په افغانستان کې بهرني پوځیان میشت ،د افغانستان استقلال او ځمکنۍ بشپړتیا له هرې خوا د تهدید لاندې او دافغان اولس غمیزه دوام لري او له یوې ورځې څخه بلې ته لا پسې تودیږي مونږ ددغه مډال ترلاسه کونه په دې فال نیسو چې دغه ویاړ نه به ښاغلي حامد کرزي لاپسې خپلو تاریخي مسئولیتونو ته متوجه ، په هیواد کې به د اداري فساد ، رشوت ، اختلاص ، دمخدره موادو دقاچاق او ټولو نورو نیمګړتیاوو جرړې وباسي او لا به یې دې ته وهڅوي چې په پوره سنجش قاطعانه عمل وکړي، خپل خلک او هیواد دداخلي او خارجي معامله ګرانو او دلالانو دمنګولو څخه آزاد او پخپله دتاریخي قندهار دیوې بلې نومیالۍ ځیرې په حیث تثبیت دخپل هویت وکړي . هغه وخت





به افغان ولس ته پکار وي له خپلې خوا هم ښاغلي کرزي دآزادۍ په عالي نشان سرلوړې او دزړه له کومې مبارکي ورته ووایي .

• په افغانستان کې بې سواده او ډیر ساده خلک کله نا کله ډیرې پخې خبرې کوي. دوی وایي خدای هر څه کولې شي خو داسې تیره نشي پیداکولې چې پخپله یې پورته نه کړې شي او بل خپل مخلوق دخپل ملک څخه نشي شړلې . لیکن زمونږ ځینې په اصطلاح سیاسي رهبران چې په حقیقت کې دموجوده وضعې درامنځته کیدو اصلي عاملین او مسئولین ګڼل کیږي، داهیروي چې دخلکو له انظارو څخه پټ نه کوم عمل سرته رسیږي اونه پټ پاتې کیږي او خوشې په خوشې هڅه کوي دخپلو ویناوو او لیکنو له لارې ځانونه بې ګناه وښیي او دخپل بام واورې دبل په بام وغورځوي. دوی سره ددې چې هیڅ حقوقي او قانوني صلاحیت او مسئولیت هم نلري دنورو دحقوقو دسلبولو حکمونه صادروي. داډول اظهارات او پریکړې دعادي افرادو څخه نیولې دلوړ رتبه دولتي، علمي، اجتماعي او سیاسي اشخاصو پورې په ډیره اسانۍ سره صادریږي او ددې په عوض چې دموجوده کړکیچنې وضعې څخه دوتلو لار ولټول شي وضعه لاپسې پیچلې کوي او مقابل لوري متقابل عمل ته هڅوي. زه پدې عقیده یم کومې مرداري ختې چې مونږ پخپله جوړې کړې دبل په ډیران یې نشو غورځولې لازمه داده پدغه ختو تر هغه وخته په شریکه وګرځو چې مرداري ترې ووځي پخې شي، دغورځولو نه بلکه داستفادې او کار اخستلو وړ وګرځي . راشئ دافغانانو په حیث خپل ګریوان ته سرونه راښکته او سوچ وکړو چې لدې نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نور پدې او ولس او هیواد څه کول غواړو؟ راشئ د خپلو ګناهونو پېټې له اوږو څخه راښکته، د خپل وجدان په تله یې وتلو او پخپله قضاوت وکړو چې له چا نه کم دي؟ که بیا لازم وو نورو ته د انتقاد ګوته ونیسو. آیا ضرور نده د نورو سیالوا ولسونو په وړاندې د خپلو کمبودیو او ولسی ناخوالو په خاطر احساس د جخالت وکړو؟

- د تاریخ په اوږدو کې په افغانستان کې چې کله چارو څه نا څه د ملي تړون او پیوستون په لور سمون موندلي همیشه د افغان او ولس د ښمنانو او د هغوی د لاسپوڅو هڅې کړیدي چې افغانان په نورو او نور د سیسو او توطئو کې ښکیل کړي. د بن د کنفرانس د پریکړو د نیمګړتیاوو سره سره بیا هم ممکنه وه چې افغانانو خپل پخواني عداوتونه چې هیواد اوا ولس ته یې نه جبرانیدونکي تاوانونه اړولي وؤ یو خوا پریښیي وې او د بین المللي قوتونو په موجودیت کې یې په هیواد کې د یوه ملي دموکرات دولت تهداب ګذاري کړې وې. په همدې امید د بهرنیو هیوادونو څخه په میلونو مهاجرین خپل وطن ته راستانه شول. لیکن د افغانستان د ښمنانو چې د افغانانو په غمیزه کې یې تل خپلې ګټې په نظر کې لرلې د پخوا په څیر یې د قومي، سمتي، مذهبي او ژبني تربګنیو اور ته لمن ووهله او د بن د پریکړو پر خلاف د دې په عوض چې جنګسالاران او ملیشې خلع سلاح شي شخصي نظامي قوتونه او ملیشې، مسلح ډلې، بندي خانې چې انسانان پکې په غیر انساني شکل سره ساتل کیږي او ملی عایداتي منابع چې د جنګسالارانو په واک کې وې نن هم د هغوی په واک کې دي او د زور د وسیلي په حیث د ضرورت په وخت کې ترې کار اخیستل کیږي.





امریکایي او نګلیسي قوتونه یو د بل په ملاتړ په افغانستان کې د مختلفو قومونو په مقابل کې د مور او میرې په شکل چلند کوي او هغه سلوک چې په امریکایي بندیخانو کې د افغانانو سره شوې انسانیت، افغانیت، اسلامیت او دموکراسۍ یې هیڅکله نشي منلې او په افغانستان کې یې وضعه لا پسې پیچلې کړې او بین المللي عکس العملونه یې راپورته کړیدي. له بلی خوا د مرکزي دولت، بین المللي مؤسسو او ځیني داخلي او خارجي پوهانو په مرسته قوانین، دموکراتیک ریفورمونه او بنیادونه جوړیږي خو د غه ټولې شیطاني او رحماني چارې د یو لاس څخه اداره کیږي او که غل دلاندې کیږي په مل وراړوي او که مل دلاندې کیږي په غل یې وراړوي او د دغه لوبې انجام طبعاً معلوم دې. په هر صورت په افغانستان کې اساسی قانون، د انتخاباتو، احزابو، مطبوعاتو او ځیني نور قوانین د لویې جرګې او نورو مربوطه مسئولو ارګانونو لخوا تصویب او منظور شویدي او د جمهوري ریاست او پارلماني انتخابات په نژدې راتلونکې کې هم په نظر کې دي. پکار دا وؤ چې افغانانو ټول موجوده نزاکتونه او د د ښمنانو لاس وهنی په نظر کې نیولي وې او د مصوبو او قوانینو په رڼا کې د ذات البیني اختلافاتو سره سره په پوره وسعت نظر او د تفاهم په ډیرو امکاناتو سره د یوه ملي دموکراتیک دولت د جوړولو لپاره یو لاس شوې وې. اختلافات په ټولو جوامعو کې وجود لري خو کله چې دغه اختالافات ملي ګټې په خطر کی اچوي او د ملي خیانت تر سرحده رسیږي ټولې مخالفې ډلې د ملي ګټو په خوا دریږي او ملي حکومتونه او دولتونه پایداره پاتی کیږی. بر خلاف زمونږ په ټولنه کي، د انتخاباتو په نژدې کیدو سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



شخصي عقدې لـه يـوې ورځـې څخـه بلـې تـه پړسـېږي او داختلافـاتو کچـه لـوړيږي. شـک نـشته پـه قطعـي برخـورد منتهـي او دافغـان ولـس دغميـزي سـريال بـه دسـره پيـل کيـږي او يـا بـه دافغـان اولـس دسرنوشـت پـه بيـه يـو بـل سـازش دهغـوی ددښـمنانو تـر مـنځ صـورت نيـسي. څـه مـوده دمخـه چـې ځينـي وتلـو قومانـدانانو دبـې وسـلې کولـو دپروګـرام دعملـي کولـو څخـه سـرغړونه وکـړه مرکـزي دولـت ددې پـه عـوض چـې قاطعانـه عمـل وکـړي دهئيتونـو پـه ليږلـو او امتيـازاتو دورکولـو لـه لارې يـواځې هغـوی دومـره قـانع کـړل چـې پـه لفـظ کـې ووايـي چـې مـونږ د "DDR" پروګـرام منـو. ايـا ملـت داحـق نلـري پـوه شـي چـې دغـه سـازش د څـه شـي لـه مخـې وؤ او کـوم امتيـازات ورکـړې شـول؟همدا سـې د جنـرال عطـا محمـد او جنـرال خـاکريزوال تـر مـنځ پـه شـخړه کـې چـې يـو پـر بـل بانـدې دمخـدره مـوادو دقاچـاق دتـور دلګولـو پـه سـر پـيښ شـوې جنـرال عطـا محمـد دمـزار دپوليـسو قومانـدانی ټـول منـسوبين دقومانـدان پـه شـمول بنـديان کـړي وو. ددې پـه عـوض چـې دغـه عمـل قاطعانـه غنـدل شـوې وې دکورنيـو چـارو وزارت نماينـده هغـه يـواځې يـو سـوء تفـاهم وبالـه او دکورنيـو چـارو وزيـر اضـافه کـړه چـې هغـوی دځينـي عاليرتبـه دولتـي مـامورينو دمخـدره مـواده پـه قاچـاق کـې دلاس لرلـو پـه هکلـه پـوره شـواهد تـر لاسـه کـړيـدي او ګـواښ يـي وکـړ کـه دغـه کـسان دقاچـاق څخـه لاس وانخلـې نـو نومونـه بـه يـي افـشاء کـړي. پوښـتنه داده چـې دمخـدره مـوادو کرنـه او قاچـاق دملـي او بـين المللـي قوانينـو لـه مخـې منـع دي. جـرم سـرته رسـيدلې. مجـرم معلـوم دې. آيـا څـوک حـق لـري پـدې غټـو غټـو جرمونـو غټـې غټـې تيـږي راواړوي او مجـرم پـه جـزا ونـه رسـيږي. نـن هـم پـه افغانـستان کـې غيـر مـسئول او واجـب





الاحتـرام کـسان شـته؟ آيـا تـر دې وروسـته بـه هـم افغانـستان دبـې ګنـاه مجرمـانو دټـاټوبي پـه حيـث پـاتې وي؟ دمرکـزي دولـت اکثـر منـسوبين داسـې افـاده کـوي چـې ګونـدې دټوپـک سـالارانو پـه مقابـل کـې ځکـه دسـازش نـه کـار اخلـي چـې زور يـي نـه لـري. خـو زمـا پـه نظـر دا خبـره سـمه نـده. کلـه چـې دعبدالرشـيد دوسـتم او دفاريـاب والـي او قومانـدان تـر مـنځ شـخړه پيـښه وه او دملـي اردو او پوليـسو کـوچنۍ ټـولګې ورورسـيدل نـو جنـرال دوسـتم پـه لمـړي قـدم دغـره څـوکې تـه رسـيدلې وو او کـه "بـين المللـی دوسـتان" نـه وې وررسـيدلي نـو دوهـم قـدم بـه يـي پـه ازبکـستان يـا ترکيـه کـې وې او کلـه چـې يـي دبي بي سي سره خبرې کولې چې: مـا چی ګناه کرديم. مـا بی ګناه هستيم. مـا بـه قـوت هـای دوست بـين المللـی احتـرام داريـم..او داسـې نـور خـو کلـه چـې يـي "دوسـتان" خواته رسيدلي وؤ بيا ډاډه معلوميده.

- پـدی وروسـتيو وختونـو کـې دبغـاوتونو خبـره هـم تـوده شـوې او هـره ولـسوالۍ هـم پـه اصـطلاح خپلـه خودمختـاري اعلانـوي او بـالاخره بـه ټولـې ولـسوالۍ پـه ولايتونـو بـدلې شـي. دکورنيـو چـارو د وزارت پـه يـو کيلـوميترۍ کـې دشخـصی زنـدان کـشفيدل او دنـورو خودسـريو ډيريـدل بـه حتمـاً دمرکـزي دولـت مـشروعيت دسـوال لانـدې راولـي. او دا کـار پخپلـه دنـړۍ دهيوادونـو، پـه افغانـستان کـې دبـين المللـي نظـامي قوتونـو، مؤسـسو او شـرکتونو سـره دمناسـباتو، قـرار دادونـو او دمليـاردونو ډالـرو تـرلاسـه کولـو او مـصرفولو مـسئله هـم دپوښـتنې لانـدې راولـي او مـشروعيت بـه ونلـري او کلـه چـې دا ځينـي ځوانـان دخپلـو کڅـوړو سـره پخپلـه مخـه ځـي مـسئوليت بـه يـي دچـا پـه غـاړه وي؟بايـد خـارجي هيوادونـه او مؤسـسي پـدې

(c) ketabton.com: The Digital Library



باره کې د تأمل څخه کار واخلي.

- په هیواد کې د نامعلومې وضعې په خاطر روسانو هم پدې وروستیو کې د پخوانې پورونو خبره راولاړه کړیدۀ. کله چې ډاکټر عبد الله عبد الله روسیې ته سفر کړې وؤ دا خبره د اجنډا په سرکې وه . پخوا هم کله چې پروفیسور برهان الدین رباني د ۱۹۹۱ م کال د نومبر په ۱۱ نیټه د مجاهدینو په نماینده ګۍ مسکو ته سفر کړې وؤ د روسانو په ګټه یې معامله کړې وه او د افغانا ولس په حقوقو یې خاورې اړولې وې خو په عوض کې یې د ملګرو ملتونو د پنځه فقرئیز پلان په مقابل کې چې ممکنه وه د هغې د عملي کیدو په نتیجه کې په افغانستان کې یو نسبي ملي دولت جوړ شوې وې ، د کودتا ملاتړ یې د روسانو لخوا ترلاسه کړې وؤ. امید دې چې روسان یو ځل بیا په اصطلاح د نیک ګاونډۍ توب تعهدات د پښو لاندې نه کړي او خپل ملاتړي یو ځل بیا کودتا ګانو ته ونه هڅوي.د بین المللي سوله ساتي او د ناټو د غړو هیوادونو د نظامي قوتونو څخه چې په افغانستان کې میشت دي زمونږ هیله دا ده د هغه تعهداتو او مسئولیتونو له مخې چې د خپلو هیوادونو په نماینده ګۍ یې د ملګرو ملتونو د امنیت شورا ، د بشر د حقوقو د منشور ، د بین المللی عامه نظم او سوسیال دموکراتیزم د اصولو او موازیو په وړاندې لري په افغانستان کې د ملي دموکراتیک دولت د جوړیدو حد اقل شرائط برابر کړي او پرې نږدي چې افغانستان وروسته لدې هم د مخدره موادو د کر او قاچاق او جهاني تروریزم د روزنې او صدور د مرکز په حیث پاتې شي او بې ګناه افغانان بیا هم غمونه او بدبختۍ وګالي.





# رښتیا ویل ترخه او مشکل دي
# خو ویل یې حتمي او ضروري !!!

شلمه پیړۍ زمونږ د نړۍ د بشري تمدن په تاریخ کې خاص ځای لري او سترې پیښې یې په غیږ کې رانیولي دي: ستر علمي، تخنیکي او اقتصادي انکشافات؛ ستر اجتماعي، سیاسي او اقتصادي بحرانونه ؛ستر نړیوال او محلي جنګونه، انقلابونه او ملي ازادي بخښونکي جنبشونه.

هو !دا هغه څه دي چې شلمه پیړۍ پرې د تیرو پیړیو په نسبت متصفه ،مشخصه او کرغیړنه ده.نن بشریت د خپل بود او نبود په دوه لارې کې ولاړ دې او کولای شي یو له دغه دوو څخه انتخاب کړي.د انګلستان ستر فزیکدان پروفیسور شتیفین هاوکنګ St.hawking د موجوده بشري تمدن عمر ۱۰۰۰ کاله پیشبیني کړې دي. خو زه وایم په داسې غیر مسؤلانه کړو وړو سره به هغه ۱۰۰ هم نور دوام ونکړي.حال دا چې د سالم انساني برخورد په صورت کې د هغې د بقاء لپاره لایتنا هي زیرمې او امکانات موجود دي.له بده مرغه د انسانانو د همدغه ناسالمه کړو وړو په نتیجه کې نن د نړۍ ۲،۲ ملیارده انسانان له لوږې او سوءتغذي له مخې رنځ او درد ګالي او په ناعلاجه امراضو اخته

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي .او همدومره کسان نور دچاغۍ او پرخورۍ له مخې د عين مشکل سره مخامخ دي.

يا داچې ځيني هيوادونه دجمعي تباه کوونکو وسلو په برابرولو او دجنگ له لارې دبرلاسي په خاطر دزرگونو مليباردو ډالرو په مصرفولو صرفه نه کوي چې په دواړو حالاتو کې به بشر د موجوده تمدن دنابودۍ په لور پر مخ ځي او عمر به يې ډير لنډ وي. خو دمعقول انساني برخورد په صورت کې دحل لاره ډيره څرگنده ، اسانه او اصلاً د نړۍ په مخ ناحله او لا علاجه پرابلمونه به هيڅ پاتې نه شي .

افغانستان د اسيا په زړه کې پروت کوچني هيواددې چې دتيرو پيړيو راهيسي دنړيوال استعمار د «لويي لوبې» ميدان وو .د شلمې پيړۍ په دوهمه لسيزه «۱۹۱۹» يې انگريزي استعمار چې په خاوره يې لمر نه پريووت مات،په نړۍ کې دا ستعمار دشکست مرحله پيل او دانگريزي استعمار لمن دانگلستان په کوچنۍ جزيره پورې ورغوټه شوه . دهمدغي پيړۍ په اخري دوهمه لسيزه «۱۹۸۹» کې افغانانو سور استعمار چې په خاوره يې لمر نه پريووت مات او ټول اسيايي او شرقي اروپايي هيوادونه چې ددغه استعمار دجغ لاندې وو ازاد شول.

دواړه کرت چې په حقيقت کې ددوه سترو استعماري آبر قدرتونو او يالويو جهانشموله اقتصادي ،سياسي او نظامي سيستمونو او انقطابونو سره جنگ وو ، هرڅه پکې ددغه انقطابونو د ټول طاقت اوزورازمايي په ډيره لوړه کچه سرته رسيدل او په نړيواله سطحه دبشري ژوند په نظامي ،سياسي ،اجتماعي، اقتصادي اونورو ټولو ساحو کې،په ټولو





ابعادو ،معنا او مفهوم ، جنگ، تجربې او لوی ازمايښونه روان وو . په دې جنگونو کې دافغان اولس دمادي او معنوي ژوند دټولو ارزښتونو ،عقايدو او نورو تعلقاتو هيڅ کنج او کنار مصئون نه وو پاتې او افغانان دخپلو او پرديو دوحشيانه بيرحميو سره مخامخ وو .بې شخصيتي، بيگانه پرستي ،غلام صفتي، بيسوادي ، مالپرستي او خصوصاً ذات البيني افغان دښمني هغه يوائيني اوصاف وو چې دښمنانو دهغي له مخې په افغاني ټولنه کې دخپلې لوبې داساسي لوبغاړو( رهبرانو ،جاسوسانو ،قوماندانانو ... ) او نورو لپاره سربازگيري کوله ، هغوی يې دخپل ميل سره سم روزل ،پالل اوپه اصطلاح لوی شخصيتونه يې تر جوړول او بر خلاف افغان ناسيوناليزم،وطن پرستي، افغان دوستي، علميت، شخصيت او افغاني ملي رهبري نه پخلا کيدونکي دښمنان گڼل کيدل .په دې بيرحمانه او خائنانه لوبه کې دجنگ ميدان افغانستان اود تجربې او سوخت مواد له هرې خوا افغان انسان وو . افغان ځوان نسل چې په حقيقت کې دافغاني ټولنې فزيکي او معنوي طاقت جوړوي دوروستي ۲۳ کلن جنگ په موده کې زيږيدلې او په همدغه ناسالمو شرايطو کې چې ژبني، نژادي، مذهبي، سمتي، قومي او نورو هرډول تبعيضونو ته لمن وهل کيده يو دبل په مقابل کې دکرکي، نفرت، بغض ،کيني، حسادت، لوټمارۍ او جنگ په روحيه روزل شويدي. چرس، بنگ، هيروئين د مجازي انرژۍ اوطاقت داحياأاو ډيري ناچله پيسي اود عياشئ وسايل په حقيقت کې ددغه ځوانانودحيات دخريددوسيلي په توگه ديوي مړۍ وچې ډوډۍ څخه دمخه هري جبهې ته رسيدل اودهر قوماندان په

(c) ketabton.com: The Digital Library



تصرف کې ورکول کېدل او دجبهو سنګرونه او دعیاشۍ محفلونه پرې ګرم ساتل کېدل.

له بلې خوا دنړۍ په هر کنج کې هرډول زړي او نوي وسلې چې پیدا کیدلې دتخریب او ازمایش لپاره اوهر پدر ازاره او مادر ازاره اجیرکه خپل وو که پردي، که عرب وو که عجم، که کافر وو که مسلمان، که دسي آي اي او که دکې جې بې په حلقو کې وو دخپل چپ او ښي افراطیت سره د افغانستان جنګي ازمایشي تیاتر ته وارد او دحرفوي بېرحمه جاني لوبغاړو لخوا دعمل په ډګرکې تجربه کېدل.دا په حقیقت کې دجهانیانو او خصوصاً د سترو آبر قدرتونو لخوا دافغان اولس په حق کې عظیمه جفاء اونه بخښونکې ګناه وه. دافغان اولس ټولنیزه شعوري سطحه او اقتصادي نظامي امکانات په هیڅ صورت ددغه بار د پورته کولو جوګه نه وو .نو ځکه یې خپل ټول ارزښونه او خپل ژوند پکې بایلود او نن افغاني ټولنه دبې سواده،بې مسئولیته،بیګانرسته رهبرانو ،قوماندانانو ،جنرالانواوداسې نورو په لښکربدله،دخپل ځان لپاره نابکاره بار او «ځانځاني ښامار» ګرځیدلې ده. دهمدغه بیوسه افغانانو دهډ ،پوست،شرف او عزت په بیه که ځیني وطنفروشه افغانانو بنګلي،مقامونه او پیسي ګټلي او ځیني نورو پري جنتي ژوندته ځانونه رسولي او نن ددموکراسۍ علمبرداران غواړي ددغه نابکاره تخم څخه په اصطلاح دموکرات فصل رازرغون کړي ،خو حقیقت دادې چې په اوسنیو شرایطوکې دافغاني ټولنې سرنوشت پیشبیني او سمون دهرچا له توان څخه وتلې کار دې .

دپخواني شوروي اتحاد په ړنګیدو سره نړیوال نظام او





نړیوال سیاسي، اقتصادي او نظامي انقطاب له منځه ولاړ،سوړ جنګ چې دسوسیالیزم او کپیتالیزم ترمنځ یې دوام درلود او هر کال په زرګونو ملیارده ډالره په مستقیم اوغیرمستقیم ډول ورته تخصیص کیدل او بشري ټول دخیر ښیګڼي پروګرامونه یې دخیټې او زنګون لاندې کړي وو ختم او ددریم نړیوال او بلکه د موجوده تمدن په ژوند کې د اخري جنګ خطر چې هره لحظه یې بشریت تهدیدوه عملاً له منځه یووړ. نړۍ یو قطبي،په اصطلاح ایدیولوژي واحده او امریکا د یواځیني بې رقیبه ستر آبر قدرت په حیث دنړیوال سیاسي، اقتصادي اونظامي حاکمیت په محراق کې واقع او هرڅه دهغوی دخواهشاتو په مدار او محور وڅرخیږي ،د وارسا تړون ړنګ چې ورسره سم باید د ناتو تړون هم ړنګ او نړۍ داوسني سیاسي،اقتصادي او نظامي دینا میزم او یو جهته عطالتي غیر متعادل او غیرمتوازن حالت څخه دجمعي خیر ښیګڼي او ګټو په خاطر دجمعي شعور او منطق په بناء او دننني عصر دمنل شووؤ دموکراتیکو اصولو سره سم دیوه نړیوال سالم ګډ سولئیز ژوند په لور رهبري او بشریت دحتمي تباهۍ څخه ژغورل شوي وای. خو له بده مرغه د توقع په خلاف دسره استعمار څخه ازاد شوي هیو ادونه دروسي په شمول دبې کیفیته او بې خصلته عناصرو په څیر داندکترین عطالت ،مقاومت او سنجش څخه پرته دناتو له لمنې لاندې شول او نن یې په نړۍ کې موجوده ناسالمه او دخطر څخه ډکه دینامیکه سیاسي ـ نظامي وضعه رامنځته کړه .

دیویشتمې پیړۍ په شروع کې په موجوده یو قطبي نړیوال سیاسي نظام او ترینګلي سیاسي نظامي وضعه کې دامریکې

(c) ketabton.com: The Digital Library



په انتخاباتو کې دجورج بوش برې او په کابینه او دجمهوري ریاست په مقامونو کې دپخوانیو جنګ سالا رانو او نظامیانو ځای په ځای کول، په اسرائیلو کې داریل شارون چې په جنګي جرمونو متهم دې دحکومت جوړیدل او دفلسطینیانو په مقابل کې یواځې دجنګ لاره غوره کول، په اروپا کې دښي اړخه نا سیونالیستي ګوندونو واک ته رسیدل او رابیدا اریدل، دتیر کال د سپتمبر په یوولسمه دتروریستي عمل په نتیجه کې دلویي تراژیدیې رامنځته کیدل اود هغې په بهانه د نړیوال تروریزم تر عنوان لاندې د بې مفهومه، عاقبت نااندیشانه او غیر مسئولانه ستراتیژۍ غوره کول او غیر مستحق، تنګنظره، متعصبه او بیګانه پرسته وطن دښمنه لړ کۍ ډله واک ته رسول او دټول مملکت واک هغوی ته سپارل او یا د عراق په مقابل کې دټولو نړیوالو دهرډول اعتراضونو سره سره نظامي عمل ته ملا تړل، په حقه سره دنړیوالو لپاره نیک فال نه ګڼل کیږي .

خو ددې ټولو خبرو سره سره بیا هم مونږ پدې باور یو چې تر ننۍ ورځې پورې چې تاریخي پیښو همیشه مثبت پرمختګ لرلې نن هم دغه قانون پرځای دې او تغیر نشي موندلې، سوسیال دموکراتیزم نن په نړۍ کې یو ریالستیک او پراګماتیک حقیقت او واقعیت جوړوي. په نړۍ کې د حق، عدالت او سولي پلویانو د تاریخ په هره مرحله کې قاطع اکثریت تشکیلاوه او له بلې خوا طبیعي او اجتماعي قوانین تل د توازن او تعادل په بنسټ ولاړدي او هغه پیښې چې ددغه قوانینو په خلاف پیښیږي تل ګذرا او موقتي ماهیت لري او هیڅکله دعامو قانونمندیو په مقابل کې نشي ځنډ کیدلې .





مونږ پدې باور هم یو چې سیاست علم دې او د سیاسي مسایلو سره یواځې علمي کړه وړه پکاردي ، شک نشته چې ځیني کسان سیاست هنر او ځیني نور هغه چټله معامله او لوبه بولي .خو زه وایم که دځیني سیاستونو او ځیني سیاسي رهبرانو داعمالو له مخې قضاوت وشی، کیدلې شي سیاست لیونتوب، خیانت او جنایت وبلل شي لیکن سیاست تل علم پاتې شویډاو هغه وخت یې دحل لار پیدا کړې چې کله ورسره علمي برخورد شوې او لیونیان اود عقل معذوران له هغې څخه لیري پاتې شویدي.

مونږ پدې عقیده یو چې په یویشتو کلونو کې یوانسان دجسمي او شعوري بلوغ مرحلې ته رسیږي. بشریت چې یواځې دحضرت مسیح ع دمیلاد څخه راپدې خوا په یویشتمه پیړۍ قدم ایښې دې طبعاً دجمعي شعور او تعقل مرحلې ته رسیدلې او وروسته لدې لیونیان او میلانهول باید سیاست رهبري نکړي .

مونږ پدې خبره هم پوره باور لرو چې هره سیاسي وضعه دحل سیاسي لار لري. هغه څوک چې دحل نظامي لار غوره کوي دابه دهغوی دلیونتوب، عدم تعقل او منطق او حماقت څخه پرته بل څه نه وي .

په افغانستان باندې دپخواني شوروي اتحاد یرغل او دهغې په مقابل کې افغاني او بین المللي عکس العمل، دافغانستان څخه وتلو ته دهغوی مجبورول ، د ملګرو ملتونو دپنځه فقرئیز پلان له مخې په افغانستان کې دیوه ملي دولت دجوړیدو بېپاره طرحه وړاندې کول او دامریکا له خوا په هغې باندې دتضمین کوونکي په حیث امضاء کول دپورتنیو

(c) ketabton.com: The Digital Library



قانونمند یو له مخې معقول منتج عمل ګڼل کیده او افغاني روشن فکران په همدې علت کلک متیقن وو چې د امریکې په تضمین سره به حتماً په افغانستان کې د ملګرو ملتونو پروګرام عملي کیږي او هیڅوک به دا قدرت ونلري چې د دغې په مقابل کې خنډ شي. خو کله چې ځیني شیطاني قوتونو په هراړخیزه تباني او مصلحت سره د دغې په مقابل کې کودتا وکړه او امریکې هم سمدستي اعلان وکړ چې نور به د افغانستان په کورنیو چارو کې لاسوهنه نه کوي، طبعاً د هیچا لپاره د منلو وړ نه وه. ځکه چې د دغه پلان د اماده کولو او په دغه اړه د مختلفو هیوادونو او ډلو د توافق حاصلولو لپاره کلونو وخت او ډیرو مالي مصارفو ته ضرورت وو. او د هرڅه څخه مهم، تلافي ناپذیره او نه بخښونکې داوو چې د دغه عدم مسئولیت د احساس په نتیجه کې د افغان اولس مال، عزت، شرف، ناموس لوټ، هیواد په ټوله معنا او مفهوم وران ویجاړ، په سلګونو زره انسانان مړه او غمیزه تر اوسه پورې لادوام لري. دا خبره هغه وخت هم کومه پټه معما نه وه او نن پخپله امریکا اعتراف وکړ چې د شوروي عسکرو د وتلو وروسته یې افغانستان ته شا کړې وه. پوښتنه دا پیدا کیږي چې ایا یوه نړیوال ستر بې رقیبه آبر قدرت، د دموکراسۍ علمبردار او یوازیني تضمین کننده هیواد (ځکه روس خو مدعي وو) دا حق درلود چې خپله ذمه واري سرته ونه رسوي او اوس چې یې سرته نده رسولې افغانان کومې دادګاه ته مراجعه کولې شي؟ او دا خبره به ځکه ګټه ونلري چې نن امریکا پخپله هم قاضي هم حکم او هم مدعي پاتې شوې ده.

نه! امریکا هیڅکله ددې حق نه درلود او نه ورته کوم دلیل





لرلې شي چې داسې وحشي او بې مسئولیته په پردو خرڅ شوو کسانو ته د کودتا حق ورکړي چې د خپل اولس د عقیدې، دین، مذهب، مقدس جهاد، خپل انسان، وطن او په مجموع کې د بشري ټولو ارزښونو په مقابل کې خائینانه قدعلم وکړي او پرې ونه رحمیږي.

د سپتمبر د یوولسمې نیټې د پیښې وروسته په افغانستان کې یو ځل بیا د جنګ لاره غوره کول د اوږده جنګ او د افغان غمیزې دلادوام په معنا وو، ځکه هیچا دا فکر نشو کولې چې د طالبانو قوت به دومره زر مات شي. او دبلې خوا که طالبان دومره بد خلک وو، څه ډول تر پرونه پورې د امریکې سره د معاملې جوګه او د اعتماد او ملاتړ څخه یې برخورداره وو. او که چیرې ښه خلک وو، څه ډول ممکنه ده د داسې یوه ستر هیواد پلانونه چې د دموکراسۍ په فضاکې د جمعي شعور، منطق او خیر ښیګڼې له مخې سنجول شوي وي په عاجل ډول ۱۸۰ درجې تغیر وکولې شي؟ حال دا چې د امریکې سره د سولئیز حل هر ډول امکانات هم موجود وو. په هر صورت طالبان د خپلو قهقرایي بدعتونو سره په خپله مخه ولاړل او په عوض یې همغه پخواني لوبغاړي چې د خاینانه او جنایتکارانه اعمالو څخه یې نن هم د کوچني څخه نیولې تر زاړه پورې په خوب کې بوګنیږي او بشري تاریخ یې د ثبت او درک څخه عاجز او عار ترې لري، په برګو کماندویي دریشیو کې د پنځه کلن ماشوم څخه نیولې تر اتیا کلن پورې اغوستې وې، د قدرت په ګدۍ کښیني او د لومړۍ ورځې څخه د دغه حرفوي جانیان د داسې جنایتونو او خیانتونو عاملین ګرځې چې په تاریخ کې یې تر اوسه چا سارې ندې لیدلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددي ټولو خبرو سره سره امریکا په غټه تنه په خپله ګناه اعتراف کوي او په واز کومي چیغې وهي چې بیا به داډول اشتباه نه کوي او د کفارې او تلافي په خاطر متهې رابډوهي. خو په نتیجه کې د ټولنیز ترکیب څخه بې بنیاده او د موضوعاتي فهرست څخه بې محتوا او پوچ د بن کنفرانس جوړیږي او د هغې په نتیجه کې د ۲۰۰۱ م کال د دسمبر په ۲۲ بې صلا حیته موقت دولت جوړیږي ،په افغانستان کې په اصطلاح نړیوال سوله ساتي ځواکونه ځای پځای کیږي، د توکیو په بین المللي کنفرانس کې بیا هم په اصطلاح د افغانستان د بیا ا بادونې په خاطر ۱۵ ملیارده د پنځه کلنې بودجې په حیث منل کیږي او ټول خوش باوره افغان اولس او تش په نامه روشنفکران پدې باور پیدا کوي چې دا ځل به د نړیوالو دموکراتو قوتونو په موجودیت کې حتماً په افغانستان کې د یوه دموکرات دولت بنسټ ایښودل کیږي او ټولې ناسمه او ناوړه پیښې به د ګذرا پدیدو په حیث موقت خصلت ولري او ډیر زر به له منځه ځي.خو د غه وضعې د لویې جرګې په انتخاباتو ،ترکیب، پریکړو او د انتقالي دولت په ترکیب د امورو په جریان کې دوام لري .وضعه له یوې ورځې څخه بلې ته خرابیږي، امنیت په قطعي ډول وجود نلري.د یوه عادي افغان څخه نیولې تر جمهور رئیس پورې هره لحظه د مرګ د خطر سره مخامخ او یوه ګړۍ هم په خپل ژوند باور نلري .هر ځای زور حکومت کوي او دولتي لوړ رتبه مامورینو په ولایاتو کې ځانونو لپاره ملوک الطوائفي جوړې کړي او له ویرې مرکز ته نشي راتلای.د هوانوردۍ وزیر ډاکتر عبد الرحمن او د حامد کرزي معاون اود فواید عامي وزیر حاجي عبد القدیر چې جرئت یې کړې وو او کابل ته راغلي وو په





رڼا ورځ د بین المللي قوتونو په حضور کې ووژل شول خوځوک یې د پوښتنې حق نشي لرلې . په افغانستان کې نه یوازې ټول ارزشونه بې ارزښه شوي بلکه کاملاً پرڅټ اووختي دي. یوه قاطع لږکۍ ډله نه یوازې په نورو اقلیتونو بلکه په قاطع اکثریت هر ډول ظلم او ناروا روا ګڼي، په زرګونو انسانان د سوسیال دموکراتیزم د علمبردارانو او د بشر د حقوقو د محافظینو په حضور کې زندۍ کیږي او شاوخوا د شتوکې لیوان او ټپوسان د انسانانو په غوښو اخته دي او دوۍ د غه صحنې او منظرې خاینانه په چکچکو بدرګه کوي او د خپلو راتلونکو « افتخاراتو » د نمایش په خاطر ترې کستونه ډکوي.

پوښتنه پیدا کیږي چې د غه لږکۍ ډله ،د غه د قدرت په ګدۍ ناست وطن د ښمنه عاملین او پیژندل شوي شمالي ټلواله څوک دي؟ احمد ،محمود ،کلبي ... یا پښتون ،تاجک ،اذبک ،هزاره،ترکمن ... او که خلقي ،پرچمي،شعله یي،ستمي،اخواني، ... اویا د نورو ډلو نمایندګان شامل دي ؟ د غه ټلواله لکه چې له نوم څخه یې معلومیږي په اصل کې ځینې تنګنظره شمالي اوسیدونکي دي چې له پخوا یې سکتریستي تجزیه طلبانه ،بیګانه پرستانه ،خاینانه عقاید او نظریات درلودل.د جهاد په وخت کې یې د ټولو جهادي ډلو پرضد د روس سره ځانګړې یو جانبه معامله وکړه ،د حیرتان ــ کابل په لار د سالنګ په سوق الجیشي ــ اکمالاتي منطقه کې یې هغوۍ ته دوامداره اکمالات اود هغوۍ د عسکرو مصئون عودت تأمین کړ ،په ۱۹۹۱ میلادي کال کې یې د ملګرو ملتونو د پنځه فقرئیز پلان په مقابل کې،چې په افغانستان کې یې د یوه نسبي ملي ګرا دولت د جوړیدو امکانات برابرول ،په مسکو کې د روس او

(c) ketabton.com: The Digital Library



دکارمل د ډلې سره دقرارداد په امضاء کولو سره کودتا وکړه ،کابل یې اشغال او دخاورو او ایرو په ډیریو یې بدل ،شخصي او دولتي شتمنۍ یې له یوې مخې لوټ او ټول ښاریان یې دلسګونو او سل ګونو زرو بچیانو ویر ته کښینول ،دوی بې حسابه ناچله پیسې په روسیه او هند کې چاپ او دټول افغان اولس شخصي او عامه شتمنۍ یې پرې غصب ، بې حسابه دالري ذخیري یې پرې جوړې ،خپل قومي زلمیان یې پرې په بیه واخستل او دنورو قومونو په مقابل کې یې دطوپ خولې ته وتړل او په دښمنۍ یې واچول ، دهمدغه پیسو پواسطه یې دټولو ورونو قومونو چټل خواره بیګانه پرستان راټول ،د ۲۰۰۱ م د سپتمبر دیوولسمې وروسته د امریکا سره په معامله کې په سوونو ملیونو او بلکه ملیاردونو ډالرو اخستلو سره یې امریکایان په افغانستان باندې حملې ته وهڅول او غمیزه تر نن ورځې پورې دوام لري. نن په دغه ټلواله کې دټولو قومونو ،ټولو احزابو او ټولو اقشارو هغه بې وطنه،بې مسؤلیته او بې سویې ټولې هغه کرغیړنې څیرې راټولې شوي چې د مشروع رقابتونو له مخې خپل سیاسي، اجتماعي، قومي، نژادي او داسې نورو معقولو انساني اهدافو او ارمانونو ته دمنل شوو دموکراتیکو معیارونو له مخې درسیدو سویه او توان نه درلود او نلري خود لویي غوښتنې، ځان غوښتنې، مقام غوښتنې او نورو ناروا غوښتنو حرس یې تر هر چا اُچت او ددغه ناروا غوښتنو دعملي کولو په خاطر دخپل وطن ،اولس ،قوم ،تاریخي افتخاراتو او بشري ټولو منل شوؤحقوقو او عنعناتو په مقابل کې هرډول خائنانه معاملې ته اماده دي ،نن هم ټول واک ، ټول مقامونه او





ټوله سرمایه په لاس کې لري ،نن هم هرډول خاینانه معاملو ته حاضر دي او باصلاحیته نماینده یې ملي ( متحده )جبهه ده چې ددولت ټول واک په لاس کې لري او دخارجي متولیانو سره دناروا معاملو متصدي ده.

شمالي ټلواله او یا په بل عبارت ددغه افغان دښمنې ډلې هرغړې د روس او نورو افغان دښمنه هیوادونو د ستراتیژیکو خاینانه پلانونو له مخې داوږدې مودې په ترځ کې تشخیص ،تربیه او هغوی ته دمجازي شخصیت ورکولو په پروسه کې دافغان اولس بې حسابه مادي او انساني قربانۍ پلان ګذاري او پدغه لارکې هر ډول متقابل متصور خنډونه همیشه په بې رحمانه توګه له منځه وړل شویدي. حتا دهمدغه خاینانه پلانونو له مخې دټولو بین المللي نورمونو په خلاف د ازاد او مستقل هیواد په مقدس حریم یرغل ته هم حاضر شول. دا ټلواله دخپلو خاینانه فکرونو او خاینانه عملونو پرته دوطن ،اولس او خلکو په مقابل کې د هیڅ ډول ذمه وارۍ احساس دمسئولیت نلري او په لحظوي توګه دخپلو شخصي او ګروپي ګټو په خاطر خپلې قبلې ، جبهې او انډیوالیو ته تغیر ورکولې شي. چې په تیره تقریباً دیرش کلنه دوره کې یې مونږ څرګند او بې شمیره مثالونه ولیدل .

شمالي ټلوالې په روسیه او هند کې دناچله ،تورو او غیر قانوني افغانیوپه چاپولو سره د افغانستان دټولو خلکو شخصي ،خصوصي ،ملي او دولتي شتمنۍ غصب او غلا او دهرڅه دمخه یې پرې تاجک ، دټولو شمالي سیمو او بلکه په ټول افغانستان کې زلمیان اجیرونیول ،دمرګ او جنګ ماشین یې پرې ګرم وساته او د ورونو قومونو ترمنځ یې ددښمنۍ اور

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته لمن ووهله. دوی همداسې ددغه پیسو په زور ضعیف النفسه روشنفکران، سیاسي ـ اجتماعي رهبران، قوماندانان، ژورنالستان، لیکوالان، مطبوعاتي نمایندګۍ، مشران او واکداران اجیر ونیول او ترننه پورې یې پرې جنګي او تور تبلیغاتي ماشین فعاله ساتلې دې. راشئ ددغه غلا او غصب اندازه ځان لپاره تخمین کړو:

که قبوله کړو چې دتورو پیسو له چاپ څخه دمخه،
دیوه ډالر بیه ۱۰۰ افغانۍ
دتورو پیسو له چاپ وروسته،
د یوه ډالر بیه ۱۰۰ ۰۰۰ افغانۍ کیدلې

که پخوا ۱۰۰۰۰۰ افغانۍ ۱۰۰۰ ډالره کېدل، د تورو پیسو له چاپ څخه وروسته د افغانۍ ارزش زرچنده ټیټیږي او ځمونږ هیوادوالو ته د یو لک افغانیو په عوض یوائې سل افغانۍ او په بل حساب د زرو ډالرو په عوض یوائې یو ډالر په لاس کې پاتې کیږي. یا که دچا شتمني ۱۰۰۰ ملیونه ډالرحساب کړو نو ۹۹۹ ملیونه ډالر دشمالي ټلوالې په جیب کې پریوتل او یوائې یو ملیون ډالر زمونږ هیوادوال ته پاتې شول. که دمملکت ټوله شتمني په نظر کې ولرو دزرګونو بیلیونو او بلکه ملي شتمني چې په حساب کې نشي راتلای، او ددغه ټولې شتمنۍ ۹۹۹ برخي دشمالي ټلوالې په جیب پریوتي او یوائې یوه برخه غریب اولس ته پاتې ده. د ۱۹۹۲ م کال څخه راپدې خوا یې په عامه دارایي چور جوړکړې، لا دوام لري، افغان اولس او حکومت او حتا خارجي قوتونه یې په خپلو مهیلیتونو ګروګان نیولي او په هیوادکې داوسنۍ ناوړه وضعې عاملین همدوی ګڼل کیږي.

دتورو چاپ شوو پیسو څخه که به یو کانتینر افغانستان ته راتلې، ځونه روسیې او ځونه هند ته پاتې کیدلې او خپل ټول مصارف یې ددې لارې تاً مینیدل او په بین المللي بازارونو کې پرې ډالر اخستل کیدل، یوائې خدای ته معلومه ده. هو دا یوه خبره معلومه ده چې دروسیې د سفارت یوه غټه ډله دهمدغه تورو پیسو له لارې دډالرو دقاچاق په تور ونیول شوله او ویل کیدل چې په اشد مجازات محکوم شول.

کله چې دحامد کرزي حکومت نوې افغانۍ چاپ کړې یو ځل بیا شمالي ټلوالې بې حسابه تورې پیسې له دغه ملکونو څخه راوړې او ځرنګه چې ټول واک او اختیار هم ددوی لاس کې وو، دغه تورې پیسې یې ټولې په نوؤ افغانیو سپیني او خپلو ذخیرو ته یې ټیل وهلي او یو ځل بیا یې ټوله ملي شتمنۍ غصب او چورو چپاول کړه.

پاتې کیږي دلاجوردو، زمردو، الماسو، د اوه زره ټنو اپین دقاچاق چې هر کال په افغانستان کې تولیدیږي او دخارجي متولیانو سره دګرمو دوامداره معاملو مجموعه به څومره شي چې د شمالي ټلوالې لوړرتبه غړي یې خارج ته په چلولو اخته دي دا سنجش هیوادوال پخپله کولې شي.

دهمدغه پیسو په زور دشمالي ټلوالې جمهور رئیس برهان الدین رباني لس کاله پاچاهي وکړه، دهمدغه پیسو په زور ټولو کسانو یې خارجي بانکونه په ډالرو ډک کړیدي، دهمدغه پیسو په زور، کله چې دولت د استقلال دجشن دلمانځلو توان نلري، دوی خپلې شخصي سالګري ددولت، وزارتونو، ولایتونو، ریاستونو، خارجي نمایندګیو او مدیریتونو تر

(c) ketabton.com: The Digital Library



کچې په بیشانه ډماموا و مصرفونو لمانځې ،دهمدغه پیسو په زور دوی ټول افغان اولس او حتا خپل متولیان ځان سره ګروګان ساتي او ټولو ناروا مقاصدوته ددغه لاري ځانونه رسوي ، دهمدغه پیسو په زور ددي په عوض چې اولس ته دخپلو خیانتونو او جنایتونو حساب ورکړي او سزا ووینې ،په خاینانه ډول قهرماني ګاني ، مارشالي ګاني ،جنرالي ګاني او مقامونه ترلاسه کوي او دهمدغه پیسو په زور یې دملي نامقدسي جبهې په نامه سیاسي لوبه روانه کړیده. سره ددې چې دوی اود دوی سره دسورو نور یاران دجمهوري ریاست پورې په ټولو لوړو مقامونو یې خیټه اچولې او دعوایدو ټولې سرچینې همدا اوس هم په واک کې لري او دبین المللي قوتونو په حضور کې برعلاوه ددي چې خپلې اداري قانوني او حقوقي دندي نه اجرا کوي او په تعلل او کج قلمیو سره داختلاص ،رشوت ،غصب او اداري فساد زمیني برابروي ،په څرګند ډول دامنیت مسئول دبې امنیتي ،قانوني مسئول دبي قانوني او اداري مسئولین د بي ادره ګۍ عاملین ګرځي. دولت ته ستر خنډونه ایجادوي او دبازسازۍ دنیم نیمګړو پلانونو دپلي کیدو مخنیوي هم کوي. دوی دخپلو خارجي او داخلي متولیانو او فرصت طلبانو سره په ناروا ډلي ټپلي جوړوي او خاینانه غوښتنې وړاندي کوي ترڅو دخپل شرمساره عمر موده اوږده او څوک یې دمحاکمي میز ته را کش نه کړي شي.

په یوه هیواد کې ملي منل شوي ارزشونه نباید بې ارزشه شي . سره ددې چې ارزشونه عمومي بشري لاسته راوړنه او زیږنده ده خو شک نشته چې ځیني ارزشونه یواځې ملي بڼه لري چې د هغې د کیفیت او کمیت له مخې دیوه اولس او هیواد





ملي او بین المللي حیثیت او موقف تثبیتیږي. مغرض او متجاوز هیوادونه تل هڅه کوي دنورو هیوادونو ملي ارزشونه پدي ډول بې ارزښه ،نظام رنګ اواداري ،حقوقي او قانوني سیستم ضعیف کړي چې خپل اجنټان او خدمت ګذارانو ته په غیر مستحق ډول لوړ امتیازات قایل شي او په ملي قهرمانانو او تاریخي افتخاراتو د خود فروشه ډلې له لاري ملنډې او تورونه لګول شروع کړي.

شمالي ټلوالې د ۲۰۰۱ دسپتمبر دیوولسمې نیټې وروسته وطن ته دخیانت په بدل کې ستر مادي او معنوي خائنانه امتیازات ترلاسه کړل او دبې حسابه پیسو او قدرت په زور اوس دهغې نمایشونه او ګذارشونه دهیواد په ګوټ ګوټ کې دخلکو سترګې ړندوي او غوږونه کڼوي.

ټول ارزښتونه یو څه ته او یو چاته خلک او یا دخلکو نماینده مؤسسات ،انستیتوتونه او متخصص ارګانونه قایلیدلې شي. رئیس جمهور حق نلري ارزشي امتیازات چاته قایل او ورکړي . یواځې د نورو افرادو په څیر دغه ډول امتیاز چاته پیشنهاد او کله چې دغه ډول امتیاز د مربوطه مقاماتو او مؤسساتو لخوا منظور شوي وي کولې شي منظور او یا رد کړي.

شمالي ټلوالې څرنګه چې دخپلو پیسو ،مقامونو ، بدمستیو او خپلو متولیانو په زور اولس او دولت ګروګان نیولې او هره ورځ ترې نوي او نوي امتیازات ،مقامونه ،القاب او نشانونه ترلاسه کوي. تاریخي مسؤلیت یې د جمهور رئیس حامد کرزي په غاړه دې او طاقت فرسا بار اورنځ یې بیوسه اولس په اوږو وړي او خارجي متولیان معاملګرانه او تجاهل

(c) ketabton.com: The Digital Library



العارفانه غوربونه کښوي او سترګي پټوي .

# دنوي افغانستان دجوړيدو د ۲۶۰ کليزي دنړيوال جشن غونډې ته

درنو استادانو، مشرانو او خويندو ورونو ! زما نيکې هيلې او احترامات ومنۍ !.دافغانستان دکلتوري ودې ټولنې د هميشني ابتکاراتو څخه په کوروداني او مننه چې نن يوځل بيا دنوي افغانستان دجوړيدود ۲۶۰ کليزي دنړيوال جشن په غونډه کې دافغانستان د معاصر تاريخ پوهانو د ځلانده ستورو دسترو خد متونو دوياړ ياد ابتکار ته لاس غزولې اود هغې د ارزونې په خاطريې د نړۍ د ګوټ ګوټ څخه ستر عالمان او تاريخ پوهان رابللي چې مونږ او تاسې دهغوی د ارزونو شاهد يو.

محترمو ! ۲۶۰ کاله پخوا ستر احمد شاه بابا پدې سيمه کې دميشتو قومونو په مشترکه مساعي او برابرو حقوقو سره ددولت په واقعي مفهوم دننني افغانستان دبنسټ ډبره کيښوده او ټول اوسيدونکې پرته له تبعيضه متساوی الحقوق افغانان





وګڼل شول. نوموړې تشکل نه يوائې دهغه وخت په کچه بلکه دنن ورځې دمدني ټولنو د ارزشونو له مخې خورا لوړ معياری دموکراتيک عملي تشکل ګڼل کيږی. ستر احمد شاه بابا دهمدغه دموکراتيک اصل په مټ دپراخه پرګنو ملاتړ حاصل او پدې سيمه کې يې لويه امپراطوري جوړه کړه.دخپلې امپراطورۍ په ګوټ ګوټ کې يې دټولو لپاره دمنلو وړ ټولنيز پراخ بنسټه حکومت او دولت جوړ او په ملک کې يې افغاني پرګنيزه عملي دموکراسي برقراره وساتله چې تاسې محترمو استادانو دهغې په مختلفو اړخونو پوره رڼا واچوله.

درنو استادانو او حاضرينو ! زمان او مکان دوه مقولې دي چې دهرې پديدي او خلقت او باالخصوص دټولنيزو پديدو او نظامونو دايجاد، تحول، تکامل او پايښت په پروسه کې ټاکلې او قاطع رول لری. يو ه عالم ديوه ستر تصميم دنيولو په وخت کې دزمان ارزش داسې ارزولې "نن وخته دې خو سبا به ناوخته وي". ستر احمد شاه بابا ددغه کتګوريو دعملي ارزش له مخې په تمام عيار ټاکلی وخت دشرايطو مطابق پخپل منطقي تصميم سره په ملک کې خورا معقول ټولنيز سياسي نظام جوړ کړ چې بديل يې زمونږ راتلونکي تاريخ ونشو ليدلې او دغه ترلې ټينګ نظام هميشه دخارجي غاصبانو او داخلي متعصبو تنګنظرانو دسترګو اغزې ګرځيدلې وو.

زمان ددرې مرحلو څخه متشکل دې: ماضي، حال او راتلونکې. ماضي دهرې ټولنې دحال او مستقبل بنسټ جوړوي چې ۲۶۰ کاله پخوا دهمدغه لوی احمد شاه بابا په خارق العاده ابتکار او دافغان اولس په قهرمانۍ په بې ساري او بې بديله توګه د واحد افغانستان تر بيرغ لاندې د افغان ملت بنياد

(c) ketabton.com: The Digital Library



ایښودل شویدي. حال زمونږ او ستاسې رسالت دي چې دخپل ملي وحدت او دتاریخي ارزښتونو او افتخاراتو د استفت د رسې سر تر منزله د راتلونکي نسل تر لاسه ورسوو او خپل رسالت په ټاکلی منزل کې په پوره کمیت او عالي کیفیت سره ایفاء او په پوره ډاډ سره یې راتلونکی نسل ته وسپارو.

ټولنیزي پدیدي، نظامونه، دولتونه، اداري، سازمانونه او انستیتوتونه دهر څه دمخه تاریخي پدیدي دي او دوخت په هره ګړۍ او شیبه کې دهغوی رول او رسالت مشخص او ټاکلې دې. کله چې دزمان او مکان په تغیر سره سیاسي ـ اجتماعي وضعه بدلیږي، ورسره سم دحل سیاسي لارې او رسالتونه هم تغیر مومي دمثال په توګه میرویس نیکه، احمدشاه بابا ، وزیر محمد اکبر خان ، امان الله خان ، مشروطه خواهانو، ویښ زلمیانو، نورو سازمانونو، او ملي قهرمانانو پخپل وخت کې ټاکلي رسالتونه او مسئولیتونه درلودل. حامد کرزې ، دهغه دولتي اداري، موجوده سازمانونه او زمونږ همدا نننۍ غونډه هم ټاکلې رسالت او مسئولیت لري. لوی احمدشاه بابا خپل رسالت پرون ایفاکړې او هغه چاچې ندي ایفاکړي دهغوی په هکله تاریخ لازم قضاوت کړیدي. پدې ستره غونډه کې، دتاریخ پدي حساسه مرحله کې چې افغان اولس د مرګ اوژوند ، بودونبود په پوله شتیږي، پکاردادي چې مونږ ددې ناوړه حالت او وضعي څخه د وتلو لار او خپل رسالت تشخیص، تثبیت او دهغې دایفاء په خاطر مشخص او جدي اقدام وکړو. غونډه دنوي افغانستان د جوړیدو د ۲۶۰ کلیزي نړیوال جشن تر عنوان لاندې جوړه شوې ده. په همدې بنیاد هغه قومونو او اولسونو چې ټاکلې ملي تشخص ، تعهد او ترون یې نه درلود



"لوی خدای، لوی علم، لوی جهان" سیاسي فلسفه

هم دخپل قومي او هم داولسي او ملي تشخص،تعهد او ترون څخه برخمن شول او دلومړي ځل لپاره یې د نړۍ په دې لویه او په هر لحاظ ډیره ستراتیژیکه منطقه کې دخپل سیاسي ،اداري او ټولنیز نظام او دولت څښتن ، د همدغه نظام دبیرغ لاندې ، په همدغه تشخص ، تعهد او ترون سره یې لویه امپراطوري جوړه او دادې نن یې مونږ او تاسې د ۲۶۰ کلیزي د جشن په ویاړ راټول شوي یو. خو ددغه عادلانه او منصف نظام د خصوصیاتو په باره کې چې ددموکراسۍ په خورالوړو هر اړخیزو ملي مناسباتو او معیارونو یعنې اولسي او ملي دموکراسۍ په اصولو او قوانینو ولاړوو هیچا بنیادي او دستاینې وړ څه یادونه ونه کړه.هو ملي دموکراسي او فردي مساوات چې په ملي او بین المللي قوانینو ،اصولو او مقاولو او دملګرو ملتونو دبشر د حقوقو په منشور کې د ټولې نړۍ د اولسونو له خوا د معتبرو منل شوو اسنادو په حیث تسجیل شویدي. نه لکه په افغانستان کې چې مافیایي وسله وال قوماندانان ،قبیلوي مشران او جهادي رهبران د ملي ، قومي ، ګروپي ، مذهبي ، سمتي اوداسې نورو نومونو او موقفونو له مخې په جوړ جاړي ،مشارکت ، ځما ځمۍ او پټه پنابانديې د نعماتو او بیت المال په چور سره جوړ راغلي دي.

هو ! نه ددغه ډول یوه فوق العاده نظام او نه د هغه ملي مدبر شخصیت ، قوماندان او اولسي ټولنیز رهبر چې مختلف قومي مستعد ،با تقوا ،وطنپرست او په خپلو خلکو مین افغانان یې دد موکراسۍ داصولو له مخې دهغه وخت په خورا مشکلو شرایطو کې سره متحد کړل ،نه کومه ارزونه او یا لا اقل د قدردانۍ کومه یادونه وشوه.دروغجن به نه شم که ووایم نن چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ټولي نړۍ له هیوادونو څخه نظامي ، جاسوسي، ملکي دولتي او غیردوتینمایندګان او شرکتونه دا لسم کال دې چې د همدغه نظام په بنیادي ړنګولو او سر او مال په ویش اخته دي او نه مونږ پوهیږو او نه دوی چې با الاخره څه کول غواړي ، هم په دې باره کې ، ددې ستري غونډې برخه والو نه یوائې کوم پریکړنده تصمیم ونه نیوه ،حتا کوم چا یي په باره کې یوه پوښتنه هم راولاړه نه کړه او په داسې تاریخي او دافغانانو لپاره د نن ورځې د مرګ او ژوند په مهمه مسئله کې خبره د پنځو تنو تاریخ پوهانو داثارو دیاد و بود په غونډه بدله شوه او هغه هم لا څوک یاد او څوک لا له یاده هم پرېوتل.په حقیقت کې دغه ستره غونده هم چې ډیرو پوهانو په کې ګډون کړې وو ، لکه د نوروغونډو په څیر په یوه عادي غونډه بدله شوه. نه په کې د تیرو تاریخي ویاړونو ،افتخاراتو او نیمګړتیاوولازمه ارزونه او کره کتنه وشوه اونه په کې د افغان اولس د موجوده لویي غمیزي د حل لاره په ګوته او نه کوم عملي تصمیم ونیول شو .

مونږ په دې عقیده یو چې هره سیاسي وضعه او مشکل ځانته اساسي علت، تضاد او اساسي غوټه لري. تر څو پورې چې همدغه اساسي غوټه خلاصه نه شي، هر مشکل چې وي په خپل حال به باقي پاتې وي. ژوندي او ملي متحد اولسونه په داسې حالاتو کې اساسي مشکل ،تضاد او علت تشخیصوي او په خپل ټول فردي او جمعي شعور او مادي امکاناتو سره د همدغه اساسي مشکل د حل په لارکې سره متفقانه تړون او عمل کوي او مخکې له دې دغه مشکل ریښي و ځغلوي او بجي وزیږوي ، په خپل قابو او محاصره کې راولي او د پای ټکې ورته ږدي ، نه دا چې له یوه مشکل څخه ۱۰۰۱ مشکله ځان





لپاره جوړاود یوې لومې په ځای دبې شمیره لوموپه جال کې ترلې پریووځي. نن ټول افغانان، دولتي مسئولین، پخپله حامد کرزې، په افغانستان کې دخارجي میشتو قوتونو مسئولین دخارجي دولتونو چارواکي او ټول نړیوال په پوره اتفاق سره وایي چې: دافغانستان بود ونبود دپوښتني لاندې دې، په افغانستان کې نظام نشته، امنیت نشته، اداري فساد ، رشوت ، اختلاس ،د مخدره موادو کر کیله او قاچاق ،اداري ،قانوني ، حقوقي او حتا افغاني انساني بحرانونه او ډیری نوری په لسګونو او سلګونو ناخوالي موجودی دی.داکتوبرپه میاشت کې په افغانستان باندې دامریکي له حملی راهیسې شپږګ کاله پوره شول. داکتوبر په اتمه نیټه دامریکي دکانګرس دهیئت رئیس ویلي چې په افغانستان کې دبوش سیاست ناکام دې او امریکا به حتماً افغانستان دهمیش لپاره له لاسه ورکړي. دا په حقیقت کې هغه تجاهل العارفانه اظهارات او اعترافات دي چې د افغانانو په مطلقه بېوسۍ او بې کسۍ دلالت کوي. هغه افغانان چې څه موده دمخه یي پخواني شوروي ستر آبر قدرت ،چې له ویرې یي همدغه امریکایانو او اروپایانو په خپلو کورونو کې خوب نه درلود او هرکال یي بې شمېره بیلیو نونه ډالر د ساړه او تاوده جنګ په لار کې مصرفولې ، مات او له خپل ملک څخه وشړه ، او داامریکایان ، اروپایان او نور وو چې زمونږ ملک ته د خدمت او کومک لپاره راغلل ، خو خیانت یي وکړ او زمونږ ملک او اولس یي داسې بې وسه او بې کسه کړ. خو کرزې صاحب اوس هم مصمم دې په همدې خارجي قوتونو ،د هغوی پورې تړلیو افغاني جنګي جانیانو، دبشر دحقوقو په ناقضینو،

(c) ketabton.com: The Digital Library



مفسیدینو او مختلسینو او نورو او نورو پواسطه نظام او دولت جوړ کړي او افغان اولس نور او نور هم له پښو پرېباسي . دا کار پخپله دکرزي دحکومت او دولت قانوني او حقوقي مشروعیت دپوښتنې لاندې راولي. خو باک یې نه شته ، ترڅو چې د زمان د دجال له شا دوی لپاره څه دوړېږي د دوی پرې ساعت تیر دي او دملک او اولس غم خو بې له هغې هم نه لري.

بین المللی قوتونه دملګرو ملتونو او امریکې په مشرۍ چې عملاً ټول جهان اداره کو ، همداسې دغه تجاهل العارفانه تظاهر هم کوي چې دوی ګوندي ، په افغانستان کې دامنیت د تامین او اصلاحاتو څخه عاجز دی. که دا خبره رښتیا وي ، نو د دوی حضور په افغانستان کې دڅه په خاطر او دا دومره بې شمیره بې ګناه افغانان هره ورځ د څه لپاره مري ، دا دومره قوتونه په دې غریب ملک کې د ولې ځای پځای شوي ، دا دومره مصارف د څه لپاره او سل او زر نورې خبرې دجدی پوښتنې لاندی راولي. له بلې خوا دافغانستان ګاونډیان چې لا پخوا په کمین کې ناست وو او خپل توسعه طلبانه حرصونه او پوچ ارمانونه یې چاغول بیل بیل باندېني هیوادونه له هغوی سره مشترک پلانونه تعقیبوي او عملاً یې دافغانستان ځمکنۍ بشپړتیا او جغرافیایي فزیکي موجودیت دخطر سره مخامخ کړې دي. دغه او دې ته ورته ډیرو نورو مسایلو ته ټول وطنپرسته افغانان دشک په سترګه ګوري او همدا مسئله نن دافغانانو او باندېني او ځیني ګاونډي هیوادونو تر منځ په اساسي تضاد او شخړه اووختې ده. ځکه که یو اولس او هیواد جغرافیایي موجودیت او استقلال ونلري نور ارزښونه یې هم هیڅکله تحقق نشي پیدا کولې. دافغانانو لپاره چې دوطن سره





مینه په خاصه توګه دتقدس حیثیت او مقام لري نو کله چې روسانو په افغانستان خائنانه حمله وکړه، افغانانو عمومي قیام وکړ او تر هغې ارام کښیننا ستل تر څو چې یې اخري عسکر د امو له دریاب څخه پورې نه وته .دا په تاریخ کې همیشه همداسې وه او نن هم په حقیقت کې ټول افغانان په همدې علت پاڅیدلي دي.

دتعجب غټه خبره داده چې نن د یو موټي افغانستان جغرافیایي موجودیت دځیني اجنبي پلوي افغانانو لخوا دخطر سره مخامخ دي او حتا درسمي تریبونو او پارلمان دموقف څخه دغه ډول غیر مسئولانه او خاینانه څرګندونې کیږي. دا چې وایي سیاست چټله لوبه ده ، رښتیا هم نن په افغانستان کې سیاست په چټله لوبه او کثیر المجهوله لا ینحله معادله بدل شوې او یوه تکه توره مکدره فضاء یې په افغانستان کې رامنځته کړې ده.

اولس ددغې وضعې له سپیناوې څخه عاجز دې. یواځې ملي وطنپرسته روشنفکر قشر یعنې تاسې محترم استادان کولې شۍ په هغې کې لازم صراحتونه او وضاحتونه راولۍ، اولس ته دوست او دښمن په ګوته او تر منځ یې رڼه بیلدونکې کرښه کش کړۍ. ایا تاسې دغه کار وکړ ؟ دغه سپیناوې مو راووست ؟ او دغه رسالت مو سرته ورسوه ؟

محترمو استادانو ! دیرش کاله کیږي چې دا ډول غونډې جوړیږي ، که نور هیڅ مو له لاسه نه کیږي ، په خپلو ستغو سپورو ویناوو که له یوې خوا د خپل زړه براس باسو ، کیدلې شي د خوم چا په جیب کې یو څه هم واچول شي او له بلې خوا مونږ او تاسې چې د یو څه تنفس امکان هم لرو ددغه ډول غونډو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دجوړيدو فرصت او حوصله هم لرلې شو. خوزمونږ اولس همغسې چې يې تېول بود و نبود ددغه ظالمانو سره پخپل عادلانه جنګ کې له لاسه ورکړي، ديوې شيبې حوصله هم نده ورپاتې. کاشکې نن دهغه اعجاز، جادو او نهايي تصميم په باره کې يو څه فکر او تصميم نيول شوې وای چې دمرګ په پوله پروت افغان غم ځپلي اولس ته داخري سلګۍ په فرصت کې ورته نجاتد اميد واری پيغام پروت وې.

هو !هيڅوک هيچاته دقيامت د ورځې ، نه دجنت وعدی ورکولې شي اونه له دوزخ څخه څوک ويرولی شی. خو مونږ کولې شول لا اقل نن يو داسې تصميم ونيسو چی د افغان اولس لپاره د تيرو افتخاراتو په تر لاسه کولو سره ، په راتلونکې کې سر اغاز جوړ شوې وای.

شرم دې دهغه چا لپاره چې نن هم دقسم خوړلي دښمن خاينانه نظام اولعنتی ميډيا فعاله ساتي، ورته دخپلي خيتې نه توجيهات برابروي او ددغه لويي غوښتونکې، ځان غوښتونکي تنګنظره دجال دډولۍ لاندې سر ټيټی روان دي. پکار دادی:

- ننني غونډه بايد دخپل روشنفکری رسالت او بی له تاخيره مسوًليت له مخی موجوده خاينانه مجهول سياستونه واضح او ددوست او دښمن تر منځ که خپل وي که پردي، که پټ وي که ښکاره روښانه کرښه کش او په څرګند ډول يې يو تر بله سره تفريق او اولس ته په ګوته کړي.
- دهمدغه تشخيص له مخې دعمل يوه څرګنده سياسې فتوا بايد صادره شي.
- يوه باصلاحيته افغاني روشنفکری شورادې جوړه او





ددغه شورا لخوادې له دری مياشتو څخه تر شپږو مياشتو پورې وخت ورکړې شي چې په موجوده وضعه کې ژور بنيادي اصلاحات شروع او سرته ورسوي.

- په غير صورت کې دې دهمدغی باصلاحيته ملې وطنپرسته روشنفکري شورا لخوا بديل اعتمادي متخصص کسان ددولت او حکومت لپاره پيشنهاد او معرفي شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دموکراسي
# په تیوری او عمل کې

دموکراسي دیوناني کلمې « demos ــ اولس ،خلک ؛او kratos ـ قدرت ،حاکمیت » څخه اخستل شوې او یو د اشکالو د اداري ده، چې په رسمي ډول د اکثریت حاکمیت په اقلیت او دټولو خلکو ازادي او یوشان حقوق تأمینوي . خو په عمل کې نه پخوا دبشر په تاریخ کې کله اولسي حاکمیت عملي بڼه درلودلې، نه اوس څوک دنړۍ په کوم کنج کې داسې نمونه ښودلې شي او نه په راتلونکي کې څوک دهغې تضمین او ذمه واري کولې شي. تر اوسه پورې مونږ یواځې دحاکمو نظامونو او طبقو ددیکتاتورۍ نمونې لرو او بحث پرې کولې شو. اولس په هره ټولنه کې وسیع البنیاده پدیده، جوړښت او بنسټ تشکیلوې چې دبشري ټولنې دژوند په ټولو اړخونو کې یې همیشه پریکړنده رول لوبولې، دتل لپاره دحقیقت او واقعیت معیار پاتې شوې او ددموکراسۍ سره لازم وملزوم او یو دبل په وجود کې تحقق پیدا کوي . که څوک غواړي ددموکراسۍ په واقعي مفهوم ځان پوه کړي او دتیورۍ او عمل سره یې کره وړه ولري باید خپلې خبرې او عمل ددموکراسۍ او اولس دیو تر بله





نه شلیدونکي ارتباط او متقابل استلزام دعمده اصل او منبع څخه پیل کړي . غربي دموکراسي دسیاسي نظام په حیث د سرمایي د خصوصي علاقمندیو او د حاکمي طبقي او اداري نظام د مشترکو امتیازاتو په نظرکې نیولو او تباني سره تحریفي ، رسمي او عملي بڼه پیداکوي او دټولنې د قاطع اکثریت د خیر ښیګڼې د پروګرامونو او د ټولنیزو ــ اقتصادي مناسباتو او تولید سره هیڅ ډول عملي اړیکي نلري او دموکراسي دټولني ، ټولنیزو، ټولنیزو تولیدي ، اقتصادي او نورو مناسباتو مافوق ، یواځې ایدیال معنوي ماهیت پیداکوي او د پوچ بې ماهیته نوم څخه پرته هیڅ ډول مادي قابل داحساس او قابل داستفادي ارزش نلري ،ځکه چې په اصطلاح ټول دموکراتیک نظام او میکانیزم د سرمایدار او اداري حاکمیت د ګټو په محورباندي دوران پیداکوي .زه پدې عقیده یم چې هر ارزش ، حتا هغه چې مونږ معنوي ګڼو ، هم یواځې دمادي کمیتونو او ارزشونو پواسطه قیمت ګذاري کیږي. د مثال په ډول ، استقلال ،ملي حاکمپت ، پخپله دموکراسي او ډیر نور چې د ځینو ، په آند معنوي ارزشونه ګڼل کیږي مادي ارزش لري او یواځې د مادي ارزشونو پواسطه یې کره کتنه او ارزونه کیدلې شي. راشئ ، پدې خبره غور وکړو ، که چیرې په اصطلاح همدغه معنوي ارزشونو تر شا مادي ارزشونه وجود ونلري ( چې حتماً یې لري ) څوک به ورته ارزش قایل شي ؟ فکر کوم که مونږ ددموکراسۍ ارزش او کیفیت په یوه اجتماعي ــ اقتصادي نظام کې د دغه نظام داستثمار د کچې د ټیټوالي له مخې اندازه او قیمت ګذاري کړو ، دا به ددموکراسۍ د ماهیت د پوهاوي لپاره ډیره څرګنده ،اسانه او

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوره منطقي لاره وي. دموكراسي د هر تاريخي اجتماعي ـ اقتصادي نظام او دهغې پورې اړونده حاكمو او محكومو طبقو ذات البيني مناسباتو د ضرورتونو او مجبوريتونو له مخې ، تاريخي ـ سياسي پديده ګڼل كيږي. زما په نظر په دريواړو تاريخي ـ اقتصادي نظامونو كې د قواوو ،وسايطو او مادي زيرمود كچې ، ابعادو ،كميت او كيفيت ته په تش اشاره سره هم زمونږ د مطلب د حل افاده كيدلي شي. يوه برده دار څومره مره يان لرل ،څومره يې پرې پخپله مصرف كاوه ، په كومو وسايطو يې څومره توليد كاوه او څومره ورته ګټه پاتې كيدله او د مصرف او ګټې تناسب يې په فيصدي لحاظ څومره وو .يوه فيودال څومره ځمكې ، دهقانان او څه ډول وسايط درلودل ، څه شې يې كرل او ريبل او په كال كې يو وار دګټې او مصرف تناسب يې څومره وو . اوس به راشو د لسو ، سلو او پنځه سوه مليياردو ډالرو سرمايه دار ، وسايطو ، مادي او تخنيكي بيزونو او كومپلكسونو، لسګونو او سلګونو زرو كار ګرانو ،د هغوى طيارو ،ټانكونو ، موټرو او نورو عظيمو توليداتو ، د ثانيې ، دقيقې ،ساعت ورځ ،مياشت او كال ګټې ،توليدي ضريبونو او تناسبونو ته . دغه تفاوتونه په هيڅ ډول فيصدي ، تناسب او هيڅ قيمت سره د مقايسې وړ ندي. په همدې كچه دموكراسي او كه بهتره به داوي ووايم چې ظلم او ناوړوا هم دمقايسې وړندي. سرمايداري نظام د خپل نظام او سرمايې د بقاء په خاطر پنځه سوه كلنه تجربه لري. هغوى حاضر دي د سرمايداري مافيا دناوړه ګټې لپاره هر ډول شرايط ، تحريفي تيورۍ او حتا د چور او چپاول زمينه هم برابره كړي چې څرګندې بيلګې يې په وروستيو كلونو كې مونږ په افغانستان كې ليدلې شو . هغوى





ددې كار لپاره د مليونو انسانانو قرباني ، محلي ، منطقوي او حتا نړيوال جنګونه پلان ګذاري او تسليحاتي مسابقات هم په كار اچولې شي.دوى د سرمايداري طبقې په ګټه مالي او پولي بحرانونه رامنځته كوي ځكه په هر بحران كې يوازې غريبه طبقه متضرره او د سرمايداري طبقې ګټې دوه چنده كيږي. د مثال په ډول كله چې بنزين دوه برابره قيمته كيږي ، معمولاً د ټكسي او موټر كرايه هم دوه برابره كيږي. خو موټر او ټكسي نيم مصرف او نيمه ګټه كوي. په بحران كي مصرف ثابت پاتې كيږي او د سرمايدار ګټه دوه برابره شوه. ټولنيز مناسبات هغه وخت دموكراتيك دي چې ا ولسي د خير ښيګڼې بنه ولري او په اولسي پراخه پايداره بنياد باندې بناء وي . په غير صورت كې هره دموكراسي دمعين نظام او معينې طبقې ديكتاتوري ګڼل كيږي . د خصوصي ملكيت او د تورو پيسو په فزيكي موجوديت سره چې د استثمار ،ناوړه ګټې ، فساد او غير قانوني سود او مالي ذخايرو وسايل برابروي ، دموكراسي هيڅ وخت عملي بڼه نه شي پيدا كولې او بلكه پخپله دموكراسي ددغه ډول عواملو څخه يو عامل ګرځي . ديكتاتوري او دغه ډول تش په نامه دموكراتيك نظامونه يوازې په زور، ظلم ، جبر ، دروغو ،نيرنګ ، اردو ،پوليس ، مخصوص امنيتي قوتونه ، حكومت او دغه ډول نورو وسايلو په ذريعه چليدلې او ساتل كيدلې شي. خو ټولنيز دموكراتيك نظامونه دزور او ظلم محتاج ندي او په سولئيز ډول دجمعي سراسري پايداره سولې دتامين ضمانت كوي. كه څوك غواړي چې په نړۍ كې سراسري سولئيز نظام ټينګ شي لازم دي ټولنيز مناسبات په اولسي وسيع البنياده پايداره قاعده ودرول شي ، په غير

(c) ketabton.com: The Digital Library



صورت کې به بشري ټولنه دهمیش لپاره ددموکراسۍ دحقیقت او واقعیت په برقرارۍ کې ګمراه او بې برخې پاتې وي . نن چې له نیکه مرغه جمعي شعور، علم او اقتصاد پرمخ تللې ، دا کلکه امیدواري شته چې اولسونه به دخپل جمعي شعور دوجدان دغږ له مخې خپل تاریخي رسالت درک او دټولنیزي دموکراسۍ دتحقق په لور به چټک قدمونه واخلي .دتاریخ په اوږدو کې ځینې تیوریسنانو هڅه کړې دموکراسي داولسي ټولنیز ارزش او ورځني عملي ژوند او مناسباتو څخه بې محتوا کړي .له دې لارې هغوی هڅه کوي په اصطلاح خالصو دموکراتیکو ادیالونو ته ځانونه ورسوي، چې وجود نه لري . دخپلو نظامونو واقعیتونه پرده پوشي او اقتصادي بحرانونه ، ټولنیزو بدبختیو او ناخوالو علتونه په تحریفي شکل فورمولبندي او په پړه یې هغه څوک چې مدنظر لري ونیسي او یا یې د هر چا په قسمت او بخت پورې وتړي. هغوی مذبوحانه اظهارات او استدلال کوي چې ګوندې دخپلې دموکراسۍ د حفاظت او حراست په خاطر یې عظیمه بیرو کراسي ، قوانین، مؤسسې، انستیتوتونه او ارګانونه ایجاد کړیدي . زه وایم که داخبره سمه او په حقه وي نو دبشریت دپیدا ښت څخه تر ننني ورځې پورې به یو ددغه پرنسیپونو څخه تحقق موندلې وې .دلوی تشویش خبره داده چې نن دغه مبارزه ډیرې حساسې مرحلې ته رسیدلې، ټولې خواوې مساوي امکاناتو خواته نږدې کیږي او بشریت پخپله دخپلې تباهۍ لپاره هر ډول وسایل او امکانات برابر کړي، وضع هم له بل هر وخت په نسبت ډیره ترینګلې، ټولې خواوې دمخامخ ټکر په موضع کې یو بل ته ولاړې او له هیڅ لور د تفاهم علایم نه





لیدل کیري، شعور له منځه الوتې، هر چاته ځانونه حق په جانب ښکاري او یواځې داحساساتو له مخې په پټو سترګو په وړاندې قدم اخلي. پداسې شرائطو کې دعواقبو جاج کومه نا حله معما نده او محترم لوستونکی پخپله دهغې پیشګویي کولې شي.

نن دنړیوالو ماجراجویانو او افراطیونو او نړیوال دموکراتیک بهیر تر منځ یو بل انقطاب عملا د تشکل په حال کې دې. ماجرا جویان او نړیوال افراطیون دمشترکو ګټو په بناء غواړي وضع په موضعي او نړیوال کچه متشنجه وساتي او حتا دبشریت دتباهۍ په بیه قمار ووهي خو له نیکه مرغه نړیوال دموکراتیک بهیر له یوې ورځې څخه بلې ته نړیوال ابعاد ، ټینګ ارتباط او اعتبار پیدا کوي او په نړیوالو مسایلو کې دفرد ، ګروپ، سازمان، قشر او داسې نورو په حیث خپل فردي او ډلئیز عکس العمل او تاثیر واردوي. په عراق باندې د امریکې او انګلستان دحملې دامادګۍ په پروسه کې عملا دغه تقابل ولیدل شو. افراطیونو هڅه کوله ددغه جنګ اور ته لمن ووهي نو یې دخپلو استخباراتي سازمانونو په مرسته هڅه وکړه ددروغجنو دراماتیکو صحنه سازیو له لارې نړیوالو ته وښایي چې په عراق کې دتصور څخه پورته کیمیاوي او بیولوژیکي وسلو ذخیري موجودې او په ۴۵ دقیقو کې اتمي وسله هم جوړولې شي ، سره ددې چې په ټوله نړۍ او په هغه جمله پخپله په انګلستان او امریکې کې ددغه جنګ پر ضد مظاهرې وشوې، د بلکس په مشرۍ دملګرو ملتونو هیئت چې په عراق کې د څیړنو مسئول وؤ په قاطعیت سره دغه دروغ رد کړل او داکتر کلي چې پدغه باره کې یې مسئولیت درلود او

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرته دخودکشۍ څخه يي په بل څه زور نه رسيده بيا هم په عراق کېي دجنګ اور بل، دغه متمدن هيواد يي دخاورو ايرو په ډيرۍ بدل او نن هم هره ورځ په سلګونو بې ګناه کوچنيان، ښځې او نر او سپين ګيري او ځوانان وژل کيري. هو ! ماجرا جويانو په ډيره سپين سترګۍ خپل ناولي تصميمونه عملي کړل، هغوی وروسته پدې هم اعتراف وکړ چې دغه ډول وسلې په عراق کې پيدا نه شوې او وروسته لدې به هم پيدا نشي. دا خبره تونی بلير د ۲۰۰۴ کال دجولای په ۷ نيټه دسنا په وړاندې وکړه يعنې پخپل جرم يي دټولې نړۍ، دټولو سوسيال دموکراتانو ، دهاګ دبين المللي محکمې او ملګرو ملتونو په وړاندې اعتراف وکړ. تونی بلير دانګلستان صدراعظم دا خبره هم سمه ورسره غبرګه کړه چې په عراق باندې حمله بيا هم حتمي وه ځکه هغوی دملګرو ملتونو پريکړه نه وه منلي. دا چې چا پريکړه نه وه منلي او څوک ددغو پيښو دعواقبو مسؤل دي پدې باره کې دی پخپله محترم لوستونکي قضاوت وکړي. زما لپاره دتعجب وړ خبره داده چې دغه کسان دهمدغه سوسيال دموکراتيزم دعلمبردارانو لخوا چې پر ضد ئيي مظاهرې کولې دبل ځل لپاره په ولسمشرۍ ومنل شول. زما پوښتنه داده. همدې ته وايي دسوسيال دموکراتيزم اصلي ماهيت، عالي مرام، ستراتيژي او انصاف؟ يا دا چې نن هم ددغه محترمانو په مقابل کې کوم مضمر جبر، طلسم او جادو قرار لري، نه يوائې د هغوی لاسونه او پښې يي تړلي بلکه په شعوري ترګمۍ يي هم اخته کړي دي. زه پدې عقيده يم تر څو چې سياست ا ولسي او ټولنيز نشي، سياسي پايداره دموکراسي وجود نشي لرلې. يا دا چې هره سياسي دموکراسي په موجوده شرايطو کې دهمغه





حاکم نظام او طبقې ديکتاتوري ده. په سياسي دموکراسۍ کې منفعت شخصي او خصوصي او مسئوليت جمعي ټولنيزه بڼه لري. تاريخ ددغه ډول دموکراسۍ څخه پخپله سينه کې ډيرې بدې خاطرې ساتلي دي. دهمدغه سياسي دموکراسۍ په ضر ابخانه کې اتم بم جوړ شوې، دهمدغې سياسي دموکراسۍ دتضادونو اونه پخلاکيدونکو دښمنيو له بازار څخه لمړې ځل اتم بم استعمال شو. دسياسي دموکراسۍ دګټې وټې څخه ده چې يو هميشه په ګټه او بل هميشه په تاوان کې دي. په نړۍ کې دمسکراتو، مخدره موادو او نورو مضره موادو مخه نه نيول کيږي، اشتهارات او تبليغات يي هره خوا سترګې ړندوي او غوږونه کڼوي، دسياسي دموکراسۍ په نتيجه کې ده چې ايکالوژيکي او محيطي دژوند صحي شرايط په نظر کې نه نيول کيږي ،هره خوا بدشکله ناروا جنګي ماشينونه غوريږي، دفابريکو دزهرجنو غازاتو لوخړې هوا ته پورته کيږي، ټوله نړۍ زهرجنه کوي او د مهلکو امراضو باعث ګرځي خو ګټه يي ځانګړي افراد تر لاسه کوي، داوزون طبقه له منځه وړي او نړيوال درادي‌و اکتيف شعاعاتو دمستقيم تماس او ضرر سره مخامخ کوي او دسياسي دموکراسۍ علمبرداران دخپلو شخصي ګټو اوملحوظاتو له مخې نه حاضريږي بين المللي مقررات او پريکړې امضاء کړي او ويي مني. خو تش په نامه يي ورځې لمانځي چې همدا نن هم په کابل او نورو ښارونو کې ونمانځل شوه. ټولنيزه واقعي دموکراسي هيڅکله د ننني شخصي سياست په ناپايداره بنياد پايداره نشي پاتې کيدلې او دسياست په آزمندانه محيط او تنګ کميس کې نه ځايږي. راشۍ چې دموکراسي په ټولنيزه پايداره قاعده ودروؤ او

(c) ketabton.com: The Digital Library



دټولنیزي پایداره دموکراسۍ دشرایطو څخه خوند واخلو.ټولنیزه دموکراسي پخپله خود کفاء او خود بقاء نظام دې خو سیاسي دموکراسي «کله چې سیاست اولسي او ټولنیز نه وي» خپل ځانته خپل قبر پخپله کنی.دټولو بین المللي دموکراتو قوتونو څخه زمونږ هیله داده چې مونږ ته په هیواد کې دټولنیزي دموکراسۍ پوخ تهداب کښیښنودل شي. افغانان چې پخپل ملک کې دټولنیزي دموکراسۍ تجربه لري دغه نظام به ښه وپالي او وروزي.افغانستان نن دشرق او غرب دکلتورونو دتقاطع محل ګرځیدلې. افغانان دسیاسي دموکراسۍ تجربه نلري زمونږ په هیواد کې سیاسي مناسبات قومي او قبیلوي بڼه لري. ګوندونه او سازمانونه چې اوږده سابقه نلري او اکثر روشنفکران چې په غرب کې هم اوسیدلي او روزل شوي دي دخپلو قومي او قبیلوي مناسباتو څخه نشي وتلې او نن چې عملاً دبین المللي سیاسي لوبو په ډګر کې قرار لري په سیاسي لحاظ ډیر نزدیک بینه او هغې ته دپخوانیو تربګنیو او ګوندیو په سترګه ورته ګوري. که د کاکا زوې کوم ګوند جوړوي نو دې یې هم باید جوړ کړي او که چیرې دوه ورونه هم په ګوندی کې سره جدا شوي هیڅکله بیا ندي یو شوي. زمونږ په هیواد کې وروستیو سیاسي پیښو دا هم وښودله چې زمونږ اولسي خلک دروشنفکرانو په نسبت دزیات وسعت نظر خاوندان دي. دولسمشرۍ په ټولټاکنو کې زمونږ د اولس شکیبایي او سالم برخورد زمونږ داولس او دبې ځایه نا سالمو ډلو ټپلو جوړول زمونږ دروشنفکرانو په هکله زما دمدعا دثبوت دلیل ګڼل کیدلې شي. زمونږ اولس افغان شموله سراسري سیاسي مرکزي قوي رهبري غواړي خو زمونږ





روشنفکران دخپل تنګ نظرانه موقف او دید له مخې ددغه ډول رهبرۍ جوګه ندي. همدا سبب دې چې دبې شمیره ګوندونو په جوړولو سره یې بې شمیره پرابلمونه ایجاد کړیدي .محترم حامد کرزي ته هم ولسي خلکو پرته دتبعیضه پښتنو، تاجکو، ازبکو، هزاره او نورو یوشان رایه ورکړه. لازم وؤ چې حامد کرزي هم دافغان اولس داعتماد په بدل کې دملي منافعو په بناء دملي اشخاصو څخه ملي حکومت جوړ کړې وې ، خو له بده مرغه کرزي صاحب دخپل حکومت په جوړولو کې خارجي فاکتورته زیات ارزش قایل شوې او نن دکابیني هر غړې څومره چې د خپل متولي ګټې په نظر کې نیسي هغومره خپلې ملي ګټې په نظر کې نلري. دغه کار په حقه سره دیوې خوا دملي وسیع البنیاده حکومت دجوړیدو امکان له منځه وړې او دبلې خوا یې په حکومت کې ملوک الطوائفي او بې بندو باري رامنځته کړیده . کله چې حامد کرزې هڅه کوي دغه تشه دمشاورینو ، مشاور وزیرانو، مشاور معینانو او نورو په مقررۍ ډکه کړي مخالفین یې هغه دخوږې ګوتې څخه نیسي او خپل نماینده ګان پرې مقرروي او وضعه له بد څخه بد تریږي.نن سبا په افغانستان کې هر اړخیز تشکلات او دموکراتیک ریفرومونه جریان لري ددغه ډول ریفورمونو لپاره وسیع البنیاده ټولنیز نظام ضروري دې . حال دا چې په افغانستان کې دا ډول نظام وجود نلري . ټولنیز نظام هغه دې چې له ځان څخه ددفاع توان ولري خو زمونږ اوسني نظام دبین المللي قوتونو په مرسته هم دخپل استقرار څخه برخورداره ندې . له بلې خوا زمونږ دټولنې پخواني ډیر قوی نهادونه له یوې ورځې څخه بلې ته یو په بل پسې ړنګیږي او کوم نوي نهادونه چې دخپل ماهیت

(c) ketabton.com: The Digital Library



له مخې موقته بڼه لري او تشکل يې ندې موندلې دا روندو ندو داجراء جوګه ندي. په پای کې محترم حامد کرزي د افغانستان داسلامي جمهوريت منتخب جمهور رئيس په ډيرو حساسو ټولنيزو او دولتي مسايلو کې خپل هميشني وسعت نظر له لاسه ورکوي، يواځې مجاهد پاتې کيږي او په نورو ټولنيزو قشرونو او باالخصوص په وطنپرسته روشنفکرانو باندې د اعتماد څخه کلکه ويره لري. اميد دې پدغه ټولو نيمګړتياوؤ برې ومومو او پدې حساسو شيبو کې خپل تاريخي رسالت سرته ورسوؤ.





# دخپروني دريمه کاليزه

دحرکت دخپرونې دريم کال د سپتمبر ديوولسمې پيښې دشپږم او دبن د بې بنياده او ناکام کنفرانس د پنځم کال سره سمون لري چې د تروريزم دبې مفهومه ستراتيژۍ او ناکام جنګ له لارې په غوره کولو سره يې سياست په نړۍ او افغانستان کې په کثير المجهوله معادله او لاينحله معما بدل کړې او نن چې دامريکې دموکرات ګوند په پارلمان کې داکثريت په ګټلو ، غواړي په نظامي بودجه تعذيرات ولګوي، بيا هم دامريکي جمهور ريئس جورج ډبليو بوش دويټو دصلاحيت څخه په ناوړه استفادې سره په عراق او افغانستان کې د نظامي پوتنسيال دلوړلو په خاطر په کال سل مليارده ډالر تر لاسه او هڅه کوي چې د سياست کثير المجهوله معادله د نامعلوم وخت لپاره لاينحله پاتې شي. خو په اوسنيو شرايطو کې ددغه ډول غير مسؤلانه لوبو او بې مفهومه دروغجنو او دوامداره تروريستي پيښو تسلسل او ځنځير اخري سپرغۍ به بې له شکه ددريم نړيوال ذروي جنګ پټاکی وچوي. ديويشتمې پيړۍ په پيل کې اصلاً دنړيوال سياسي نبض پر ضد ددغه ډول سياست غوره کول او په نړيواله کچه ددغه ناسم سياست پلوی ټيمونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



رامنځته کیدل، په حقه سره دبشریت دراتلونکی ژوند لپاره سپېره او بد فال ګڼل کیږي. په همدې زماني مقطع کې پاکستان په موازي ډول په ذروي طاقت او نږدې سل زره تروریستی روزنیز مرکزونو په ایجاد د تروریزم په ځاله بدلول او په ټوله نړۍ کې دداسې یوې سرکشې او تاریکي قوې تیتول دوهمه نه جبرانیدونکی نړیواله ستره اشتباه ګڼل کیږي. په افغانستان کې دامریکې او انګلستان لخوا دافغانستان دګاونډیانو پر ضد دطالبانو څخه دیوې حربې په څیر استفاده ، دافغان اولس په نماینده ګۍ دهغوی سره دیوه سیال قوت په حیث معامله او باالاخره دشمالي ټلوالې دمتعصب لړکي په ګټه ددغه قوت ټکول درې واړه هغه ناسم عوامل دي چې دنړۍ پدغه هر لحاظ ستراتیژیکه منطقه کې یې دجنګ اوربل کړې او دمصؤنیت احساس ترې هیچا لپاره متصور ندې. نړیوال پرابلمونه دنړیوال سلیم عقل، هم آهنګۍ او ملاتړ په نتیجه کې دسمون لار پیدا کوي او افغانان به یې هم دنړیوالو سره یوشان ګالي، پالي او دسمون ملاتړ به یې کوي. که هر اولس خپلې داخلي او خارجي چارې په ایمانداری سره سرته ورسوي په نړۍ کې به هیڅ مشکل پاتې نشي. پکار دادي پخپل ملک کې دسمون پسې د معرفت څراغ بل کړو ، دخاین او صادق تر منځ توپیر ته قائل شو او لازم وضاحتونه رامنځ ته کړو.دبن دکنفرانس څخه وروسته دافغانستان مؤقت ، انتقالي او منتخب دولت، لویه جرګه ، پارلمان او محلي شوراګانې، اساسي قانون، مختلفې مستقلې ادارې، کمیسونونه او دموکراتیک انستیتونه جوړ او بین المللي ملاتړ او ډیرې مادي مرستې تر لاسه شوې خو دا چې دبن کنفرانس په نامعقول بې پلانه او بې پروګرامه دشخصي او





ګروپي ګټو په بنیاد رامنځته شوې وو په همغه یو جانبه عطالت خپل قهقرایي مسیر طې کوي. او دچارو دسمون په خاطر چا یوه لوټه هم نده ایښې.دملګرو ملتونو او امریکې په مشرۍ دبین المللي قوتونو په راتګ سره هر افغان او خصوصاً روشنفکر قشر پدې باور وو چې افغاني غمیزه به حتماً دحل لار پیدا کوي ځکه چې دغه ملکونه ستر نظامي، اقتصادي، علمي ـــ تخنیکي پرمختللې ټولنې لري، دعالي منجمنټ او مدیریتونو څخه برخمن او سوسیال دموکراتیزم دهغوی دټولنیز ژوند ورځنۍ عملي بڼه ګڼل کیږي. امنیت به تأمین، اقتصادي وده به حتمي او ټولنیز نظام او دموکراسي به په افغانستان کې په ښه وجه برقراره شي.لیکن ددې ټولو بې شمیره مثبتو فاکتورونو دموجودیت سره سره دشپږو کلونو وروسته په ملک کې نظام نشته، اداره نشته، قانون نشته، عامل ارګان او شخص وجود نلري، فساد ، رشوت، اختلاس، دمخدره موادو کر کیله او قاچاق ددولت دمسؤلینو او ارکانو ورځینې کار او مصروفیت ګڼل کیږي. شاه او ګدا ، داخلي او خارجي یوشان دظلم، ناروا او بې قانونۍ څخه شکایت کوي. په افغانانو دقیامت ورځ جوړه ده هر څوک نفسي نفسي چیغې وهي نه صور اسرافیل «ع»شته او نه مسئول شخص په سترګو کیږي چې د حی علی الفلاح چیغه وکړي او دغه په ګونډو بې کسه او بې وسه اولس دسوال دکچکول څخه رابیرون، پخپلو پښو یې ودروي او دخپلې عقیدې، ارادې اوو اک خاوند یې کړي . افغان خو هغه اولس وو چې دچا په غلامۍ کې هم غلام ندې پاتې شوې او نه یې دچا جوتې خوړلي. دغه کسان څوک دي چې دسوال او راکړې په دودښه پوهیږي او پرته له عاره په ډیر ویاړ پردو ته د

(c) ketabton.com: The Digital Library



جاسوسۍ او خوشخدمتۍ مهرونه يو تر بله سره په سيالۍ په ځانونو لګوي او د تاريخي مختورۍ څخه هيڅ باک نلري. په شخصي لحاظ يو شوک د نه منلو تهمت او ناوړه کار پر ځان منلي شي خو دا کار ديوه اولس، ټولنې او يوه ملت په نوم او نمايندګۍ نشي کولې او نه بايد اولس چاته دا حق ورکړي. په کوم هيواد کې چا دولتي اداره، پارلمان، فضاء، حقوق او نظام د جنګي جنايتکارانو، د بشر د حقوقو د ناقضينو، بې سواده جنګ سالارانو، مفسدينو، رشوت اخستونکو او قاچاقبرانو څخه جوړ کړي، د چا په ملک کې چې امنيت نه وي څوک نژدې ۲۰۰ زره تحصيل يافته، باتجربه متعهد افسران کوڅو ته بې سرنوشته وباسي، په کوم ملک کې د کابينې غړي، اداري لوړ رتبه مسؤلين په ښکاره د پرديو ملکونو په جاسوسۍ اعتراف کولې شي، په کوم ملک کې داخلي او خارجي اشخاص او افراد شخصي زندانونه لرلې شي او د خارجي ملکونو معلوم الحال اجنټان ګوندونه او سازمانونه لرلې شي. په کوم ملکي امنيتي مسئولينو په ښکاره د دولت پر ضد مسلحانه مظاهرې کړي چې په لسګونو کسان پکې مړه او زخميان شوي اوسي. اوس خلک ټول پوهيدلي چې دغه کسان ټول ديوې لوبې لوبغاړي دي چې په مختلفو وختونو کې په مختلفو ځيرو سره مختلف رول لوبوي. د مارچ د مياشتې په دوهمه اونۍ کې ملي متحده جبهه اعلان شوه او دولت او ډلئيزو رسنيو هغوۍ د پردي مغرضو ملکونو پورې تړلې کسان وبلل او خلکو هم د پخوانيو ډلو ټپلو غوندې پر هغوۍ په حقه باور ونکړ. د ملت د مقدسې مقولې څخه ډير وطنپرستانه او انسان دوستانه شعارونه لکه ملي متحده جبهه، ملي تړون، ملي وحدت، ملي





عزم، ملي سيالي، ملي وطنپرستي، ملي ښوونه او روزنه، ملي ژبه، ملي ايديولوژي، ملي ترمنولوژي، ملي ادبيات او کلتور، ملي ښار او کنترول، ملي اردو، ملي پوليس، ملي روشنفکر، ملي سرمايه دار، ملي متخصص، ملي مترقي باشعوره انسان او ديته ورته مفاهيم مشتق چې پراخه وطنپرسته پرګنې پرې راټولېږي، ملي دموکراتيک بنسټونه، مناسبات او انقلاب پالي او ساتي او په ملي او بين المللي کچه ديوه واقعي دموکراتيک انساني، سياسي، اجتماعي، اقتصادي عادلانه نظام او مناسباتو د استقرار او پايښت تضمين کوي. خو هغه په خوردضابطې کې ناکام خوردضابطان، د بې صلاحيته او بې کفايته دولت مردانو بې سويې کلانساله بچيان چې د موريانې په څير د مستعجل په نوم اردو ته شامل او د اردو اهنين دسپلين يې په صفر کې ضرب کړ او يا هغه کسان چې په خپل ملک کې يې په اجتماعي، شعوري، سياسي، فزيکي او اخلاقي لحاظ احساس د حقارت او کهترۍ کړې، د ګونګيانو غوندې په تورتميو سوړو کې پټ شوي، نه يې د شين آسمان رڼ لمر او نه يې د وطن د مور تودې غيږې مينه او خوند ليدلې او ټول دغه عالي وطني منلي ارزښتونه يې د خپلو متوليانو په غلامۍ کې له لاسه ورکړي، نه د دغه ارزښتونو په ارزش پوهيږي او نه د دغه ډول کارونو جوګه دي. د اخبره نن پوره څرګنده شوې چې خارجي قوتونه، ګاونډيان او په واک کې پاتې افغانان په افغانستان کې د افغاني خودګردانه ټولنيزو وطنپرست نظام د مهار کولو او غلام ساتلو په خاطر د تبعيض او تفرقې ناوړه او ناروا ستراتيژي او تاکتيک غوره کړې او د اوږدې مودې لپاره د هغې تطبيقول غواړي. هغه کسان چې د نظامي ژوند د الفباء

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره اشنا دي پدې ښه پوهیږي چې د توپ، راکټ او هوایي بمونو او په کل کې د خارجي قوتونو په وسیله په پردي ملک کې امنیت نشي تامینیدلې. د امنیت د تأمین معیار، محک او عامل یوائې او یوائې د هغه ملک خلک دي، اولس دې او هغه هم پدې شرط چې د ټولنې د ټولو اقشارو او طبقو تر منځ هر اړخیز عدالت تأمین او اولس د دولت ملاتړ اوسي. نن خارجي قوتونه د لیرې مسافې او لوړې ارتفاع څخه د توپ، راکټ او الوتکو په وسیله د بمبارد ناکامه پالیسي غوره کړې. پیاده قوتونه له حرکته پریوتي او د هرې خیمې او بوسارې شاته ځانونه پټوي او د مقابلې قابلیت یې له لاسه ورکړې. دوی هڅه کوي یوائې مخالف قوتونه له ځانه لیرې وساتي او یوائې په ړندو بمباریو د ملکي بې ګناه خلکو، ښځو، ماشومانو آو سپین ګیرو وژلو او نسل کشۍ ته دوام ورکوي. مخالف جنګیالیان هم د خرپ او ترپ تاکتیک له مخې خپلو حملو ته دوام ورکوي او بې ګناه قربانیان په منځ کې یوائې د افغانستان خلک دي چې د طالب، القاعدې او تروریست په نومونو اعلانیږي تر څو واقعیتونه د خپلو خلکو څخه پټ وساتي. دوی ځیني مظالم چې د نړۍ په خلکو روا ګڼي د خپلې خاورې څخه په زرګونو میله لیرې په ګوانتانامو، ابو غریب، بګرام، قندهار او نور ملکونو کې سرته رسوي خو دا هیر وی چې د خلکو د انظارو څخه هیڅ عمل په پټه نه سرته رسیدلې او نه پټ پاتې کیدلې شي. ډیره موده کیږي د خارجي، داخلي او دفاعي چارو په وزیرانو شخړه روانه ده. حال دا چې مونږ پخپله نه خارجي، نه داخلي او نه دفاعي پالیسي او ستراتیژي لرو. که مو لرلې نو مؤثریت به یې معلوم وې. مونږ د باندنیو چارو له وزیر څخه تر نن ورځې پورې





د افغان اولس د نماینده په حیث یوه سیاسي خبره او یو سیاسي دریز نه اوریدلې او نه لیدلې بلکې د بې ځایه تو جیهاتو او ژستونو شاهد وو چې د ایران، پاکستان او حتا د المان دولت د عکس العمل سره مخامخ شو. سیاست د سیاسي عباراتو او کلماتو افادی ته چې د پر مختللو هیوادونو د سیاسي تقریرونو او ژستونو په تقلید سرته رسیږي نه ویل کیږي. سیاست د یوه اولس د جمعي شعور د وجدان غږ دې چې په مختلفو داخلي او خارجي سیاسي جبهو کې یې باید د باندنیو، کورنیو او دفاعي چارو وزیران د ملي دریز او سیاستونو په حیث افاده او پلي کړي. پدې عواملو ځانونه پوه کړي چې ولې په ملک کې دیرش کاله جنګ روان دې؟ ولې زمونږ د مهاجرینو دومره سپکاوې کیږي او په دومره فضیحت سره د پاکستان او ایران څخه ایستل کیږي او بین المللي نورمونه، او پریکړې په نظر کې نه نیول کیږي؟ ولې زمونږ ټول اولس پاڅیدلې او جنګیږي؟ نه یوائې دا چې ټول نړیوال د غه ټولې پیښې غندي او محکوموي خو زمونږ د چارو مسؤلین زمونږ خپل خلک مجرم بولي او په مرګونو او سپکاوي یې خوا یخې کوي!!! د ۲۰۰۷ کال د جون د میاشتې په ۱۴ د ملي متحدې جبهې مشرانو د زم زم په اوبو د تیرو ګناهونو د پریمنځلو وروسته چې چا په ړیرو او چا په بریتو ګوتې وهلې دیوې نوې طرحې په وړاندې کولو سره موجوده دولت په بې شمیره تورونو تورن کړ. راشۍ یو ځل خپل ګریوان ته سترګې واړوو او پدې خبره ژر سوچ وکړو چې د پرون او نن ورځې د جرمونو مجرمان څوک وو او څوک د سبا لپاره پدې خاطر امادګي نیسي او هلې ځلې کوي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د سلیم عقل او وجدان په حکم

مونږ پدې کې هیڅ شک نلرو چې هر چاته خپلې ګټې معتبرې دي، دهغې لپاره مبارزه کوي او نه په دې کار څوک ملامتوؤ . دملا نصرالدین په څیر خلکو ته په ننني شرائطو کې نه د ژوند حق ورکول کیږي او نه یي لرلې شي. افغانانو پخوا هم لوی قوتونه مات کړي، پخوانې شوروي اتحاد یي هم مات کړ او امریکا به هم ماته کړي خو د سیال ژوند کولو حق به پیدا نکړي. ددې علت هغه کرکجنه وضعه ده چې دافغان اولس دجمعي شعور په ضمیر کی یي یو دبل په مقابل کې ځای نیولې، هیڅکله دشعور سطحې ته نه راپورته کیږي او دمعقولې نتیجګیرۍ څخه دتل لپاره عاجز پاتې دي.

دتاریخ په اوږدو کې افغانان د هر جنګ د سون مواد وؤ. دسون مواد پخپله سوزي او یواځې نور ترې مستفید کیږي. دکوم چا نوم سرتیراو یا سرباز وؤ بل ورته ویلي وؤ ددا سې سر څخه به زه هم ډیر پخوا تیر شوې وای. دسرڅخه تیریدل او یا سر بایلل نه لازمي او نه کافي شرط او نه کوم ویاړ ګڼل کیږي یواځې سیال انسانان دي چې په افتخار سره خپل سرونه ساتي او لازمي او کافي شرط یي ګڼي. راشئ تر څو سرونه راپورې





دي دهغې دساتلو په باره کې فکر وکړو او دمعقولو پریکړو لپاره یي وساتو او په کار یي واچوؤ !

دروسانو دیرغل څخه وروسته نړیوالو دافغانانو په حق کې په ډیره ناروا او جفا سره داپریکړه وکړه چې دشرق او غرب، سوسیالیزم او کپیتالیزم، روس او امریکې عظیم او ګلوبال پرابلمونه دافغانستان په جنګی تیاتر کې حل کړي. له یوې خوا لکه چې دامریکې دهغه وخت جمهور رئیس رونالد ریګن به ویل " افغان مجاهدینو ته سلام چې دهغوی عقیده او ایمان دبشریت دآزادۍ سمبول او الهام بخش دي" له بلې خوا ددوستۍ، نوع پرستۍ او نیک ګاونډیتوب په نامه ورورد ورور او پلار د زوي په مقابل کې د بې رحمانه او بې باکه قتل وقتال لپاره هڅول کیدل. افغانان دخزان دپاڼو غوندې رژیدل او دهغه ورځې څخه تر ننه پورې نه د افغانانو په ذهن کې دهیواد او خلکو په ګټه کوم فکر پیدا شو او نه چا موقع ورکړه.

نړیوال شرقي او غربي انقطاب رنګ، سوړ جنګ ختم او هغه په زرګونو ملیارده ډالر چې دریم نړیوال او ساړه جنګ په لار کې یو دبل په مقابل کې به یي مصرفول پخپلو جیبونو کې یي پاتې شول. هو !دافغان اولس فرد فرد ، ددوه میلونو شهیدانو کونډې او یتیمان، دیو نیم میلون معیوبینو بې وزله بچیان او دافغانستان سمه او غر یوه احسن پاداش ته سترګی په لار وؤ.

هغه احسن پاداش دا شو ،ټول افغانان چې تر منځ یي دنفاق اورونه بل شوي وؤ دباروتو او وسلو په ګودامونو کې پوره لس کاله یواځې پاتې شول او یو ځل بیا یي دګاونډیو په مرسته یو بل سره ښه ووژل او دګور دچینجو غوندې یي په پټو سترګو سره وخوړل. په تیرو پنځه ویشتو کلونو او دهغې څخه پخوا هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



په افغانستان کې د افغانانو د بې اتفاقۍ، دښمنۍ او ټوټه ټوټه کولو لپاره د سوسیال او بورژوا دموکراسۍ د تقابل په موده کې سترې تحقیقاتي پروژې تر سره شوې او د هر ډول تبعیض او ر ته لمن وهل شوې وه، هر افغان د تنهایي او بې کسۍ احساس کوي ، نن هم هره ورځ نوې ولسوالي، علاقداري او محلي امرین او قوماندانان د ملوک الطوائفۍ او خودمختارۍ غوښتنه پورته کوي، په افغانستان کې مطلقه ځانځاني، کرکه او نفرت حکمفرما او هر څوک یو اځې نفسي چیغې وهي او افغانستان په ټوله معنا او مفهوم بې صاحبه مال او متاع ګرځیدلی، هر څوک یې لستوڼي کشوي او پریکوي یې او پر هر سیاسي دکان کې د سودا لپاره عرضه کیږي. لنډه دا چې د کوم سر نوشت سره چې د ۲۵ کلنو په موده کې مخامخ وؤ نن لا د نړیوالو او ګاونډیو تر منځ د افغانانو په سر نهایي معامله روانه ده او زمونږ دولت مردان او سیاسي مبصرین او حتا پوهان دهغې لپاره تجاهل العارفانه توجیهات برابروي.

هو ! پداسې حال کې چې د افغان اولس فرد د اخرت د ورځې په څیر نفسي چیغې وهي، یواځې د شخصي ګټو او بقاء په لټه کې دي او دهیواد او ټولنیزو ګټو په مقابل کې د مسئولیت او احساس د درک څخه عاجز پاتې دي ، په مقابل کې د امریکې په مشرۍ په اصطلاح خارجي سوله ساتي ځواکونه په افغانستان کې موجود دي چې تر شا یې ملي متحد اولسونه ولاړ او خپل منځې مشخص تعهدات، تعلقات او ټاکلي اهداف لري. دهغې لپاره دغې منطقې ته راغلي او هغه به تعقیبوي. ګاونډي هیوادونه هم د افغانانو په څیر د خپلو وطني ګټو سره بې علاقې ندي او د سیالو هیوادونو په حیث د بین المللي سوله





ساتي ځواکونو سره دهمدغه افغانانو د برخه لیک په هکله مشترکاً معاملې کوي ،ځکه هغوی پوهیږي تر څو اجتماعي ګټې محفوظې او مصئونې نه وي شخصي ګټې محفوظې نشي پاتې کیدلې او افغانان یا خو لا شعوري غافل پاتې دي او یا خو ځیني کسان د خپلو شخصي ګټو او موقفونو د حفاظت په خاطر په ټولو معاملو معاملګرانه سترګې پټوي.

په هر صورت د افغانستان شاوخوا سیمې د نفوس، مادي ذخیرو او جغرافیایي موقعیت له لحاظه تر هر بل ځایه ډیرې غنې او مهمې ستراتیژیکي منطقې ګڼل کیږي. افغانستان پدې منطقه کې دیوه ځلورلارې او مستحکم بالا حصار په حیث دځانګړې ستراتیژیک موقعیت څخه بر خورداره دې. له دغه ځایه هره خوا هره سیمه په ډیره اسانۍ او برلاسي سره په نښه کیدلې شي. تاکیداً بایدووایم چې با شهامته، وطنپرسته او دهیواد او خلکو په ګټو مین افغانان په نننۍ سیاسي لوبه کې ددغه برلاسې فکتور څخه په پوره جرئت او ډاډ سره استفاده کولې شي او همدغه مطلب زما ددې لیکنې اساسي هدف تشکیلوي .

د ۲۰۰۴ کال د اپریل په ۳۰ نیټه ۱۰ نوې هیوادونه چې اکثراً پخواني سوسیالستي هیوادونه او د روسانو کلک ملاتړي وو د اروپایي اتحادیې غړي شول او سبا ته به د ناټو غړي هم شي. اکراین، سپینه روسیه، او ځیني نور هیوادونه هم همدغه لار تعقیبوي. روسیه هم ددې په عوض چې د نننۍ یوجهته دینامیزم او عطالت مخې ته خنډ شي په ډیر شرم او ر شکل سره، خپل سرونه د اروپائیي اتحادیې، امریکې او ناټو دلمنې لاندې کوي. ښامار یې په سینه ورخیږي او لکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دمسمریزم شوی موږک غوندې د سوړې دننوتلو توان یې له لاسه ورکړیدې. خو سرنوشت یې معلوم او ښکاره دې او هغه په نوې لوبه کې دلویې روسیې ړنګیدل دي.

ناټو چې په نوې وسلو باندې د سنبالیدو او توسعیي لپاره یې هیڅ ډول سیاسي او اجتماعي منطق وجود نلري او لا پخوا باید دغه سازمان منحل شوې وي، ورځ په ورځ توسعه پیدا کوي، د روسیې شمالي او غربي سرحدونه یې اشغال کړي او د پخواني شوروي اسیايي جمهوریتونو په راخپلولو سره به د روسیې جنوبي پولي هم د واک لاندې راولي. دافغانستان د سنګر څخه چې شاوخوا ټولې سیمې دهوايي تکتیکي او ستراتیژیکي او ځمکنیو لیرې ویشتونکو قواوؤدفعالیتونه په شعاع او تیر رس کې قرار لري حتما به دامریکې په مشرۍ موجوده قوتونه په افغانستان کې ددغه لوبیي لوبې په سیاسي - نظامي مرکزي وضع الجیش کې پاتې کیږي او خپل حضور به ساتي.

خو ددې ټولو خبرو سره سره روسیه او د سیمي لوی او واړه هیوادونه یو ډول امیدوارۍ ته سترګې په لار دي او هغه دا چې ګوندې یو ځل بیا به دافغانانو د بې سنجشه قربانۍ په نتیجه کې دفلک څرخ ددوی په ګټه څرخي او امریکائیان به هم لکه د روسانو په څیر پدغه پلندۍ کې ډوبیږي او دافغانستان په ونډۍ کې به بیا هر چاته خپله خپله برخه رسیږي. زما پوښتنه داده چې افغانان څه شي ته سترګې په لاره دي؟؟؟

یو ځل بیا دافغان اولس بې سنجشه قرباني! یو ځل بیا عین سرنوشت! یو ځل بیا د خپلو او پردو لخوا عینې موضعګیري او لکه پخوا همغه لعنتي پاداش! او دغه پروسه به په متوالي





شکل تر ابده دوام پیدا کوي؟؟؟ او تل به افغان اولس لکه پسه غوندې دقصاب په غولي دحلالکې لپاره تړلې ولاړ وي؟ نــــــه!

داسې وايي "هر اولس دهمغه حاکم او آمر سزاوار دې چې پرې حکم او آمر کوي" او علامه سید جمال الدین افغان په حقه سره لیکي "زه دظالم او مظلوم دواړو سره عداوت لرم. دظالم سره پدې خاطر چې ظلم کوي او مظلوم سره پدې خاطر چې دظالم ظلم پر ځان مني" افغان اولس ددښمنۍ ورنه دې. خپل دین او رسالت یې دوطن په وړاندې تل ادا کړې. پدې به وروسته بحث وکړو.

کله چې بین الملل قوتونه په افغانستان کې خپل حضور ساتي حتما به لکه چې همدا اوس مخامخ دي، دافغان اولس دعکس العمل سره به مخامخ وي او افغانان به هم حتما هغوی وتلو او ماتې ته مجبوروي. دا یو معمول تاریخي فاکتور، حقیقت او واقعیت دې او افغانانو تر اوسه پدې باره کې بل مصلحت نه دې منلې. خو سوال پیدا کیږي. ایا دغه ډول نظامي حضور یوائې په افغانستان کې دې؟ یوائې دامریکې دا ډول نظامي حضور دنړۍ دسلو څخه په زیاتو هیوادونو کې شته. دا یو بین المللي پرابلم او بین المللي مصلحت، تړون او پیوستون غواړي. افغانان لکه څرنګه چې یې د تاریخ په اوږدو کې ندي کړې شوي، نن هم دغه پرابلم په یوائې ځان نشي حلولې او که غواړي دغه کار وکړي انجام یې لکه هر وار، داوار هم بل ډونه شي کیدلې، یعني چې امریکا به ماته کړي، خو پخپله به هم یو ځل بیا د غیر وغماز او شغالانو لپاره د مرګ په پوله پریوځي ..دافغانستان دښمنان غواړي پدې لوبه کې پخپلو معاملو سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغانان او تاریخ یي دا بد لپاره خاورو ته وسپاري او افغانان هم نن پخپله ځانونو ته قبر کني او دګور په خوا منډې وهي. افغانانو پدې منطقه کې تل استعماری قوتونه مات کړي او او ولسونه او هیوادونه یي دهغوی له شر څخه ژغورلي او ازاد کړي دي . خدایي خدمتګارانو دخان عبد الغفار خان په مشری دهندوانو سره یوځای مبارزه وکړه ، هند یي د هندوانو لپاره ازاد کړ ،خو پخپله محکوم پاتې شول ، درې واري هند په پاکستان حمله وکړه او مات یي کړ، په آسیا یي جمهوریتونو باندې دتزاریزم او بلشویزم دتیري په وخت او همداسې دایران او عراق دجنګ په وخت کې افغانانو هیڅډول خپلې سیاسي غوښتنې او ملاحظات په نظر کې ندي نیولي او دخوړي ګوتې څخه یي هیڅوک ندي کش کړي، سره ددې چې دلائل به موجود وؤ. خو بر خلاف دافغانانو په غمیزه کې ګاونډي هیوادونو دافغان اولس په شر کې خپل خیر لټولې او یواځې خپل سیاسي اهداف یي چاغ کړیدي او نن هم په ډیر خائنانه شکل نه یواځې لاس وهنې بلکه څرګند تیرې او تجاوز دوام لري.

جنرال مشرف او دهغه مارشالایي ډلې ته پکار ندي چې دخپلو خلکو او دمنطقې دسیاسي وضعې پر خلاف یي دامریکي دلمنې لاندې موضع نیولې او القاعده او بنیاد ګرایي چې پخپله یي په سند او پنجاب ک ځای پځای کړې او هلته یي براس راووځې خو دوی په هغه ازادو سرحدي سیمو کې نظامی تریسمار جوړ کړې چې اصلا حق نلري هلته قدم کیږدې او پدې بهانه قومي مشران وژني ، کورونه یي سیزي او پر ځای یي نظامي تحکیمات جوړوي او اغزن سیمان نیسي. ځیني کسان



"لوی خدای، لوی علم، لوی جهان" سیاسي فلسفه

لا سترګې پټوي او دبي بي سي درادیو له لارې په ډیره بې مسئولیتۍ سره ځیني اظهارات کوي او له بده مرغه لر او بر افغان دهغې په مقابل کې په حقیقت کې پټه خوله پاتې کیږي.

.زه داولسونو سره دعداوت دمسئلی سره موافق نه یم هغوی تل خپل رسالت سرته رسولې ، دا سیاسي او دولتي وطنپرست مشران، اجتماعي شخصیتونه او روشنفکر قشر پورې لري چې همیشه پداسې حساسو شیبو او دتاریخ په تاریکو کګلیچونو کې باید خپلی ټولنې دیوه نیک او څرګند مستقبل په لوررهبري کړي. خو سوال پیدا کیږي کوم مشران او کوم روشنفکر؟

ــــ هغه چی دافغانستان دوروسته پاتې اجتماعي - اقتصادي مناسباتو خام او نارس محصول ،دشعور او درک سترګې یي لاپټې، دخپل رسالت او دندو په وړاندی احساس دمسئولیت نشي کولې او یواځې په بچګانه، تنګ نظرانه لوبو کې یو دبل دپښو وهلو او امکاناتو دخنثا کولو په مرض اخته دي ؟

ــ هغه چی دپردیو دواکمنۍ په وخت کې دهیواد او خلکو په وړاندې دعدم احساس او پردیو ته دخوش خدمتۍ دمعیارونو له مخې هر بې سواده یا سواده په غیر مستحق ډول کورکورانه په نظامي او ملکي دولتي رتبو او مقامونو ، مسلکي، علمي، اکادمیک صلاحیتونو او رتبو او د نړیوالو معیارونو ، پرته په دیپلومونو او یا نورو القابو مفتخر شوي او په پنځو ورځو کې دمقامونو ، رتبو او افتخاری القابو دټولو پوړیو څخه اووختي دي؟

ــــ هغه چې د بې شمیره پاچا ګردشیو ، حکومتونو ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



دولتونو، حزبونو، فرکسونونو، ډلو ټپلو په سطحه جداګانه تشکيلات پرسيدلي او جوړ شوي او هر چا دخپلې سليقي له مخې کسان په پوره بې مسئوليتۍ سره ګمارلي او نن ديوې پوستي دپنځه کسيزي ډلې دقوماندان څخه نيولې تر لوړو مقامونو پورې هر څوک ځان لپاره با صلاحيته غير مطيع شخصيت قايل دي او نن په اصطلاح پخپله افغاني روشنفکر قشر په يوه نابکاره بار، مکدر سياهي لشکر تبديل او دنيکو او بدو تميز پکې مشکل دې.

ـــ هغه چې دهيواد څخه بهر روزل شوي، او سيدلي او ددموکراسۍ او مدني ټولنې په ټولو اصولو او قوانينو اګاه دپوهنتونونو استادان، سياسي مبصرين، اديبان او پوهان خو بيا هم دافغاني ټولنې دهرډول تبعيضونو په لومو کې بند پاتې دي او بستري يي دبي بي سي، امريکا غږ او نورو رايوګانو، مجلو، ورځپاڼو، جريدو او داسې نورو دفترونو کې اچولي بيا هم دمختلفو سليقو او مناسبتونو له مخې په پوره بې مسئوليتۍ سره عريضي او طويلي مقالې ليکي، تحليلونه، تبصرې او مصاحبې کوي او تر څو چې خبر نګار بس ورته ونه وايي نه بس کوي؟

ـــ او يا هغه چې په تيرو دورو کې ټکول شوې، ځپل شوې او خولې يي داسی تړلي چې په زور به يي پر ي خلاصې نه کړې؟

ـــ هغه چې پرون په اصطلاح دکمونست، مجاهد او بې طرفه په نوم يو بل په واک کې شريک کيدو ته سره حاضر نه وؤاو يا نن چې دځينې بين المللي کړيو سره د ځينې ډلو دشخصي ګټو او ملحوظاتو له مخې متقابلو معاملو په نتيجه کې يو ځل بيا په عمده ډول دپخواني مجاهدينو مشران واک ته





رسيدلي او بيا بل چاته اندکترين حق نه قائليږي؟

ـــ او يا بالاخره محترم حامد کرزې چې په وطني او بين المللي ملاقاتونو کې دچپن، قره قلي او کاليو په اغوستلو سره دخپل وسعت نظر تظاهر کوي خو په حساسو وختونو کې خپل درونند رسالت هيروي او په اصطلاح ديوه مجاهد په حيث دموجوده جنګ سالارانو، جهادي مشرانو او نورو سره په ائتلاف، تفاهيم او کمپرمائز ډډه لګوي؟ په هيواد کې ټولې بنيادي چارې په ټپه ولاړې او يوائې په نمائشي، ګذرا او مؤقتي چارو بسنه کيږي؟

دادي زمونږ دافغاني ټولنې موجوده حقيقتونه او واقعيتونه چې بايد ويې منو او دهغې له مخې لازمې نتيجګيرۍ وکړو. پداسې ترګميو او سياسي بحرانونو کې دچارو سمون اسان کار ندې او هيڅکله د نيکو او بدو تر منځ څرګند سرحدونه او پولي وجود نلري. تشخيص، تصميم او اقدام پداسې حالاتو کې مشکل وي. دفرانسې مشهور متفکر او فيلسوف ارنست رنان ليکی "وقت های می ايند که گوئی هر چيز از دست رفته است، همان است وقت شروع کار". په نورو هيوادونو لدې څخه ډير زيات بد حالتونه راغلي خو هغوی دهرې وضعې څخه لازمه نتيجګيري کړې او اشتباهات يي دوباره ندي تکرار کړي، نه لکه چې مونږ دشوؤ اشتباهاتو او ګناهونو په بنياد دلا لويو ګناهونو تصميمونه نيسو او پلانونه جوړوؤ.

هو ! نن دافغانانو لپاره واقعا سرنوشت سازه حالت او وضعه ده. نن مونږ لپاره بهترين وخت دشروع دکار دې چې نيک تصميم ونيسو او لازم اقدام وکړو. راشئ دهيواد او اولس دعالي ګټو په خاطر يو تربله سره دوروری لاسونه ورکړو او

(c) ketabton.com: The Digital Library



متحد عمل ته ملا وتړو.

مونږ افغانانو ته دهر څخه دمخه خپل خدای ته رجوع کول پکار دي چې پخپل فضل وکرم سره مونږ دجمعي شعور دتورتم او کدورتونو څخه راوباسي او دعقل او شعور په رڼا کې خپل ځانونه او دوست او دښمن وپیژنو او دښو او بدو تمیز وکړې شو !

مونږ ته یو مهدی پکا دی چې دوخت وزمان ددجال دمکروفریب دداmونو او لومو څخه مونږ ته نجات راکړی !

مونږ ته پدې حساسه شیبه کې صوردا سرافیل ع پکاردې چې دحقیقي قاضي په وړاندې احساس دمسئولیت وکړو، ویده وجدانونه رابیدار او د حب الوطن احساس او شعور مو دوباره را ژوندې شي !

مونږ ته دحی علی الفلاح یوه داسې کړیکه پکارده چې د هر کاڼه غوږ تر عمقه ورسیږي، دغفلت له خوبه مو راویښ او دنړیوالو سره سیال ژوند ته مو وهڅوي !

مونږ ته دا افغاني جمعي شعور په ضمیر کې یوې داسې زلزلې ته ضرورت دې چې ټول هغه بنیادونه چې د پردیو لخوا زمونږ په ذهن کې د ورور وژنې، نفاق، عداوت او تبعیض په خاطر اباد شوي له بیخه ړنګ، دغه خامې ختمې پخې او د وروری او افغاني ذات البیني تفاهم په بناء نوي بنیادونه ایجاد کړو !یواځې پدې صورت کې کیدلې شي مونږ دموجوده وضعې څخه دخپلو خلکو او هیواد په ګټه لازمه استفاده وکړو !نن چې په افغانستان کې کوم قوتونه موجود دي

ــ اول خو دډیرو هیوادونو څخه نماینده ګي کوي او دیوه هیواد قوتونه نه .دوهم دهغوی تر شا داسې ټولنې پرتی دي چې



"لوی خدای، لوی علم، لوی جهان"
سیاسي فلسفه

دموکراسي پکې منلې او عملي حقیقت او واقعیت ګڼل کیږي

ــ دریم دهغوی تر منځ هم دنړیوالو سیاسي -اجتماعي مسایلو په هکله ستر تضادونه وجود لري

ـ څلورم دا چی دا یو نړیوال پرابلم دی او مونږ پخپل منطقی برخورد سره نړیوال ملاتړ تر لاسه کولی شو.

ــ پنځم مونږ پدې باور یو چې دموکراسي کوم حکم، فرمان، آمر او حتی یواځې قانون هم نه دې چې په زور هره خوا صادر شي، بلکه دموکراسي دهرڅه څخه دمخه پاکه عقیده، اخلاق، تربیه او لوړ انساني اجتماعي شعور ته ویل کیږي او کله چې دغه صفات دټولنې او فرد په ذهن کې ځای نیسي هیڅکله دداسې وحشیانه، غیر انساني قرون وسطایي اعمالو مرتکب نشي کیدلې لکه چې نمونې یې په افغانستان، عراق، ګوانتامو او ځینې نورو ځایونو کې وښودل شوې. بشریت نن ددغه ډول اعمالو څخه نفرت لري او په نړیواله کچه ددغه ډول اعمالو په ضد عکس العملونه او مظاهري دوام لري او دهغوی خپل خلک لدې کبله احساس دشرم او خجالت کوي.

دپورتنی بحث له مخی په لاندی ډول نتیجګري کیدلې شیي

١ــ په بین المللي لوبو کې پردي غمونه په خپله ذمه اخستل او په حلاجي کې خپل هډونه په ځانګړي توګه ورکول نه ثواب دې، نه شهامت، نه وطنپرستي او نه دسلیم عقل او وجدان مشوره او مصلحت. بین المللي پرابلمونه یواځې په بین المللي ترون، پیوستون او ملاتړ سره دډیرې اوږدې مودې مبارزې په نتیجه کې حلیدلې شي. دداډول طوفانونو څخه ځان لري او په امن کې ساتل غوره مشوره او مصلحت ګڼل کیږي.

٢ــ په ننني منطقوي سیاسي لوبه کې افغانانو ته پکار دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د خپل مرکزي ستراتیژیک موقعیت او چانس څخه په استفادې سره خپل ملي وطني موقف تقویه او پرې نږدې چې کله هم وروسته لدې د شاوخوا قجیرانو او ګیدړانو خوراک شي.





# په یوویشتمه پیړۍ کې بشري قانوني او حقوقي ارزشونه او معیارونه

قانوني او حقوقي هر ارشي او تداوم د بشري ژوند سره له همغه وخت څخه نه شلیدونکي مناسبات او اړیکې پیدا کړي ،کله چې دا لوی جهان او ټول خلقتونه د خدای دلوی علم له مخې د "کن فیکون" د حکم په صدور قانونمند او متعادل پیدا او انسان یې د انساني تقوا او علم له مخې اشرف المخلوقات او خپل خود مختاره خلف ګرځولې دې. په پورتنۍ جمله کې څو عمده اصله لکه قانونمندي، تعادل، حقوق، مساوات، تقوا او خلافت په سترګو کیږي. همدغه اصول په مجموع کې د هر نظام دخلقت ، تکامل، پایښت او معرفت مستلزم او متضمن او دخدای د مقضي او مقدر قانون "قضاء او قدر" له مخې یو اځینې مقید شرط ، دین ، مذهب او شریعت ګڼل کیږي. هیڅ شې وجود نلري مګر په قانونمند شکل سره . قانونمندي شکل د موجودیت د جهان او هرې پدیدې دې او انسان له هغې سره په قانونمند کړو وړو مکلف او مؤظف ګرځیدلې دې . تعادل په یوه نظام کې د پدیدو د ظهور ، هم آهنګۍ او پایښت اصلي عامل او عمده اصل او یو اځې د متقابلو حقوقو ، وجایبو او ذمه واریو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



صورت کې یو نظام جوړیدلې او پایښت لرلې شي. د تبعیض پرته مساوات او تقوا د نظام د بقاء لازمي او کافي شرط او خود مختاره مقدر خلافت د مسئولیت هغه درونډ بار دې چې انسان د هغې په احساس سره کولې شي خپل تاریخي رسالت سرته ورسوي. مطلق مختار او مطلق مجبور وجود نلري او هر څوک د بین المللي او ملي تسجیل شوو قانوني او حقوقي ارزښتونو او معیارونو په وړاندې مقید او مجبور دې او پرته د سرکشۍ او امتیاز څخه باید هغه ومني او غاړه ورته کښیږدي .لوی فلسفي شاعر رحمان بابا د غه متقابل مسؤلیتونه څه ښه افاده کړیدي:

دلته دم او قدم دواړه په حساب دي
پل غلط له لارې مه ږده بې حسابه

لیکن نن ځیني بې مسئولیته نړیوال د ټولو انسانانو او فرهنگي زیرمو د تباهۍ لپاره په نوو ذروي ستراتیژیو یو تربله سره مسابقې ته امادگي نیسي.هر نور مال انسان د هرې ورځې په پای کې د گټې او تاوان او ښو بدو محسابه او قضاوت کوي. پنځه کاله وشول چې ښاغلي حامد کرزې د خپلې جهادي ډلې سره په افغانستان کې حکومت کوي. د هغوی ترشا ملگري ملتونه، امریکا، انگلستان، ناټو او په مجموع کې د ۴۵ نړیوالو پرمختللو هیوادونو ملکي او نظامي طاقتونه په ټول اقتصادي توان سره ولاړ دي. د غه هیوادونه د لوی نظامي، اقتصادي، علمي تخنیکي، سیاسي تجربو او عالي مدیریتونو او منجمنټ خاوندان او کم تر کمه یې عملاً ۵۰۰ کاله په ټوله نړۍ حکومت کړې دې. نن هم دوی د نړۍ د ټولو هیوادونو اقتصادی زیر بناوې د گلوبالیزم په کچه پخپل واک





کې لري او د ژوند ټول اړخونه اداره کوي .دوئی زمونږ هیواد ته د امنیت د تامین او بیا آبادونې لپاره راغلي دي، خو له لومړۍ ورځې د اسې معلومیږي چې د کوم لوی او خطرناک جنگ لپاره اماده گي نیسي. دارگ په داخل، دارگ په دروازو پورې تړلي سرکونه او د کابل په ټولو د توجه وړ کوڅو کې سنگر بندۍ او استحکامات دوام لري. د هیواد په ستراتیژیکو منطقو کې اساسي قشلې او تاسیسات جوړیږي. برخلاف پخواني نظامي مؤسسات او تاسیسات او اردو ړنگ شوې او بیکاره مسلکي افسرانو یې لویه سیاسي او ټولنیزه ستونزه رامنځته کړیده .د بیا ابادونې هیڅ نښې نښانې نه په سترگو کیږي یو اځې د بې حسابه ډالرو د هضمولو په خاطر د کاغذ په مخ د راتلونکو وختونو تخیلي پلانونو طرحې جوړیږي. خو په ځیني تاریخي منطقو کې لکه شیرپور او د ښاري ماستر پلان خلاف په ځیني ساحو لکه ښاري پارکونو ،کلتوري مرکزونو او یا نورو ساحو کې چې د زوراباد په نومونو په خپل سر پروژې د جهادی مشرانو، قوماندانانو او د موجوده حکومت ځیني بیگانه پلوي اندیوالانو له خوا په کار اچول شوې دي او د خارجي پیسو ټولې سر چیني هم په لاس کې لري چارې په پوره سیالۍ پر مخ ځي.

خو له بده مرغه پدې وروستیو وختونو کې د ځانمرگي بریدونو او د آیساف او ناټو د نوې ستراتیژۍ له مخې د هوایي، راکټي او لیري ویشتونکو توپونو په بمبارۍ او ډزو کې کومه لوټه چې د تنظیمي جنگونو او شرق او غرب په زور ازمایي کې ولاړ پاتې شوې وه شک نشته چې هواره به شي دا چې د زوراباد د پروژو سرنوشت به څه کیږي معلومه هده.

د معتبرو دولتي او خارجي رسنیو په قول د مخدره مواد

(c) ketabton.com: The Digital Library



قاچاق او کر کیله له یوې ورځې څخه بلې ته پراختیا مومي او نژدې ده چې دنړۍ سل په سلو کې اپین په افغانستان کی تولید شي او دا کومه د تعجب وړه خبره هم نده ځکه دهمدغه رسنیو په قول په افغانستان کې نظام، اداره، حکومتاو قانون نشته او فساد، غلا، اختلاس ،د خلکو تښتونه، په کوچنیانو ډلئیز تجاوزونه او انارشي ورځني دود او دستور ګرځیدلې او هغه څوک چې دا کار نه کوي په اصطلاح په افغانستان کې احساس دحقارت کوي ،ځکه چې دا یو غیر معمول کار ګڼل کیږي اونسبي نورمال انسانان فکر کوي ګوندې دکومې ګناه مرتکب شوي دي ځکه چې دا کار د عام دود او دستور سره په تضاد کې واقع کیدل کیږي . له بلې خوا دا هم یو تاریخي حقیقت دې چې نړۍ زورورانو همیشه دمخدره موادو قاچاق پخپل واک کې لرلې او که دا کار ونکړي دا لویي سرمایي به یي له کومه کړې وې او دا احمقانه مصارف به له کومې لارې پوره کوي ؟ دوۍ هر وخت چې دنړۍ په کوم کنج کې واک درلوده تل یي داپینو مزرعې جوړې کړې او دنړۍ هر تود بازار ته یې رسولي دي. دا چې څوک پدغه زهرو خپل ژوند له لاسه ورکوي، خپل دي یا پردي د دوۍ لپاره دا خبره د ارزش او پام لرنې وړ نه ده. پرون اپین دهند او جنوبي امریکې د حاصل خیزو ځمکو څخه تولیدیده او د اروپایانو پواسطه چین او نورو ملکونو ته وړل کیده چې د تریاکو لوی جنګ یي پایله وه او پخپله امریکایان وو چې سل زره چینایي معتادین یي دامریکایانو په اعتیاد باندې د روږدي کولو لپاره امریکې ته بوتلل او نن چې دامریکې او اروپا په بازارونو کې هر ډول مخدره مواد آزاد خرڅیږ. او دهیچا څخه پټ حقیقت ندې بیا هم همدغه





امریکایان او اروپایان یي نن له افغانستان څخه خپلو خلکو ته په پراخه پیمانه رسوي.دا ډول ده په څو جملو کید کرزي صاحب دپنځه کلنې دورې او خارجي «دوستان»د بیا ابادونې پایلې او نتیجګیری. دوئې چې هر ډول فکر کوي، خو زمونږ په فکر داخلي او خارجي ټول ټیمونه دامنیت او بیا ابادونې په چارو کې په قطعي ډول ناکام دي. مونږ دا نشو منلې چې دوۍ په دې کار کې بې وسعې دي. له بلې خوا په کابل کې دانګلستان نوي سفیر وویل چې په راتلونکو دیرشو کلونو کې به په افغانستان کې پاتې شي. همداسې دامریکې ددموکرات ګوند نوي کاندید بارک اوباماهم داګست په دوهمه نیټه ویلي، که دې په انتخاباتو کې بریالې شي له عراق څخه به خپل قوتونه خارج او افغانستان ته به یي ولیږي. دافغانانو سره همدومره جفا کافي وه. ښه به دا وي زمونږ دغه "دوستان"نور خپل حضور په افغانستان کې پای ته ورسوی او په ډیر منطقی او معقول شکل سره دیوویشتمی پیړۍ دایجاباتو او دهغوی ددیموکراتو ټولنو دغوښتنو مطابق واک دافغانستان اصیلو خلکو ته وسپاري. افغانانو تل دخپلې خاورې دساتلو توان لرلې او اوس یي هم لري.په حقیقت کې هغوۍ همغه پلانونه عملي کول غواړي، دکومو په خاطر چې افغانستانته راغلي دي . امنیت او ابادي د هغوۍ په پلانونو کې هیڅ وجود نلري، یوائې د ګذرا پدیدي په حیث که چیري په موقتي پروژو کي چیري په سترګو شي او لکه چي عملاً لیدل کیږي ډیري ددغه ډول پروژو څخه داسي بي کیفیته وي چې د استفادي دمخه او یا لا اقل د ډیري کمي استفادې څخه وروسته له منځه ځي. نن چې بشري شعوري اګاهي دبلوغ مرحلې ته رسیدلې او دهر ډول تحول، تکامل او

(c) ketabton.com: The Digital Library



منطقي پوهاوي دپذيرش قابليت وجود لري، نن چې اقتصادي زيرمې او امکانات دټولي نړۍ د وږو او بربنډو دمړولو او پټولو لپاره کافي دي او که نه اوسي په کمه توجه سره يي سرشاره زيرمې توليديدلې شي، ... ايا دا مناسب ده چې يواځې دهوس ، لويي غوښتنې، شوخۍ او ساعت تيرۍ ، ساديزم، بربريت ، وحشت او حيوانيت دغريزو له مخې دمليباردونو انسانانو دپيړيو پيړيو ټولو علمي ــ تخنيکي، اقتصادي، اجتماعي، حقوقي، قانوني سالم بهير ته شا او خپل ټول امکانات او با الخصوص اوسنۍ ميډيا او مطبوعات په لعنتي پديدو بدل تر څو ديوه انسان اخري مړۍ چې داخري نفس لپاره په خوله کې لري، ترې راوشوکوي ؟د څه لپاره؟راشئ ! "د سليم عقل او وجدان حکم" ته غاړه کيښږدو !راشئ !دمليباردونو انسانانو دميلونونو کلونو دژوند او مبارزې دسليم بهير منل شوؤ ارزښتونو ته چې دټولو نړيوالو په خورا معتبرو اسنادو کې تسجيل او دعملي ژوند بنه يي غوره کړې ازرش قايل شو ، راشئ !چې دټولو سالمو انسانانو غوندې يو شان فکر وکړو ! او که نه نو ! دسپتمبر يوولسمې او ډيرو نورو پيښو دا هم وښودله چې يو پر بل باندې دبرلاسي امکانات هم عام ګرځيدلي دي. راشئ !دمقابلې پر ځای دتفاهم لار غوره کړو. ښه به داوي دشر، فساد او تروريزم شيطاني ځالې او مزرعې په پاکستان او دنړۍ په کنج کنج کې وتړل شي. دا ډيره ناکامه هڅه او دنړيوال دموکرتيک نظام لپاره دزهرو او ذقوم حيثيت لري. دا يوه بهانه ده، دا يوه دسيسه ده، دا يو ډير تور او ناکام پلان او پروګرام دې، دا اوس په حقيقت بدل شوې واقعيت دې چې نن د نړيوالې مافيا تورې څيرې دچپګرا ، راستګرا ، القاعدې،



"لوی خدای، لوی علم، لوی جهان" سیاسي فلسفه

طالب او بل هر بنيادګر چې تصور يي کيدلې شي په يوه محل قوماندې کې سره راټول او ځانونو لپاره طلايي هګۍ اچوي او دنړۍ دبې ګناه انسانانو لپاره دتباهۍ ګودالونه، کندې او اسفل السافلين جوړوي.نن جهاني ټولنې يو جانبه عطالت پيدا کړې او د يابو په شا دکوربار په څيريي خپل توازن او تعادل له لاسه ورکړې، پريوتل يي حتمي او برې به دسالمو قوتونو په برخه وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# افغان هېواد پال ملي روڼ آندي باید خپل تاریخي رسالت سرته ورسوي !

اگر یک ذره را بر گیری از جای
فروریزد همه عالم سراپای
« مولانا جلال الدین بلخي»

دشلمې میلادي پیړۍ په پای کې د سیاسي لوی نړیوال بحران رامنځته کېدل، په ناپایداره یو قطبي محور او بنسټ دنوي نړیوال سیاست تشکل او په دغه سیاست باندې د پېژندل شوو افراطي ځیرو تسلط، هیڅکله په یویشتمه پیړۍ کې دنړیوالو لپاره دنیک فال زیرې نشو ګڼل کېدلې او دا هم کومه دتعجب وړخبره نه ده چې نړیوال او افغاني سیاست نن په کثیر المجهوله معادله او جړه مشوړه بدل شوې دې. تر څو چې دغه مجهولات په نړیواله او ملي کچه دمعلومو متحولاتو او نورماتیفونو له لارې په منطقي قانونمند ډول دحل ځواب پیدا نکړي دامنیت او سولئیزګډ ژوند تامینیدل هم ناشونې کار ګڼل کیږي.د ۱۹۷۹ م کال په پای کې پخواني شوروي اتحاد دشپیته کلنې دوستۍ او بین المللي قوانینو او تړونونو پر خلاف پر افغانستان خاینانه حمله وکړه او برژنسکي دامریکي د پخواني جمهور رئیس جیمي کارتر امینتي سلاکار هم پدې



"لوی خدای، لوی علم، لوی جهان" سیاسي فلسفه

اعتراف وکړ چې: "این ما بودیم که شوروی ها را تشویق نمودیم، تابه افغانستان تجاوز نظامی نماید و درین پروژه پاکستان رفیق راه ما بود..." پدې ډول افغانستان دیوه ډیر خاینانه پلان له مخې دنړۍ دسترو هیوادونو ترمنځ په تمام عیار جنګي میدان او تیاتر بدل شو. دنړیوالو تضادونو او شخړو ستر غامض پرابلمونه دافغانانو دسرنوشت سره غوټه او افغانان دجنګ په تاوده ډګر کې دنړیوالو سترو آبر قدرتونو دجفاء او ناروا سره مخامخ شول. دغه جهنمي طاقتونو یوائې دجنګ بدیل غوره کړې وو، غوښتل یې د کمونیزم او کاپیتالیزم، شوروي او امریکي او کې جي بې او سي آی اې ترمنځ ګلوبال متضاد لاینحله پرابلمونو ته د افغانستان په جنګي ډګر کې د حل لار پیداکړي، خو افغانان نه په اخلاقي لحاظ ددغه لویې جفاء او ناروا سزاواراو نه په مادي او معنوي کچه ددې جوګه وو چې دغه لوی ناورین دې پخپل کور کې وزغمي او یا دې دغه لوی بار په خپلو اوږو پورته کړې شي. خو جبراً افغان اولس دغه غیر عادلانه او نا برابر جنګ ته اړ ایستل شو او دنړۍ دمخ د ټولو زړو او نوؤ وسلو ذخیري دافغانستان په جنګي تیاتر کې استعمال او وازمایل شوې او دکمیاوي او ذروي وسلو پاتې شوني او تفالې دافغانستان په خاوره راپریوتې. دجنګ دسوخت مواد په ټولو جبهو کې یوائې صادق او مؤمن مسلمان افغانان ووچې د څو تنو معامله ګرو په ذریعه جبهه په جبهه ځغلیدل، دومو په شان ویلیدل او جبهې یې ګرمې ساتلې. لیکن یو دسوچ او فکر والا افغان پیدا نشو چې ددغه باتور اولس په سمه لار رهنمایي سره یې خپل تاریخي رسالت او دین ادا کړې وې. او که چیرې به کوم وطنپرست

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغـان دغـه رسـالت ادا کـول هـم غوښـتل ، د بـين المللـي شـيطاني مافيــايي قوتونــو دغلبيــل دچــاڼ، جــال او دام څخــه د تيريــدو فرصت دغـه ډول کسانو تـه نـه وو ميـسر او حتمـاً هـر وطـن پرسـت انــسان پــه يــو ددغــه دامونــو کې لاس و پــښې او ذهنــاً تړلــې پــاتې کيـده او يـواځې هغـه کـسانو تـه چې د مافيـايي پروګرامونـو عملـي کـول بـه يـي غوښـتل د فعاليـت او ازادۍ چـانس ورکـول کيـده . نـو ځکـه افغـان اولـس نـه يـواځې خپلـې ټـولې مـادي شـتمنۍ بلکـه افغـاني وطنپرسـتي، عنعنـات، ملـي وحـدت، ټـولنيز جوړښـت او ټـول اسـلامي، اخلاقـي او وجـداني ارزشـونه چې پـه هـر سـنګر کـې د افغانـانو دبـري ضـامن وو هـم لـه لاسـه ورکـړل او پـه اصـطلاح بـې مورالـه او خلـع سـلاح پـاتې شـول. افغانـانو دنـړۍ هغـه سـتر قـدرت مـات کـړ چې لـه ويـرې يـي امريکـايي او اروپـايي امپريـاليزم پـه زرګونـو کيلـومتره وړانـدې پخپلـو کـورونـو کـې د شـپې خـوب نـه درلــود او ټولــو نړيوالــو ، شــرق او غــرب، عــرب او عجــم او باالخـصوص پاکـستان تـه يـي د ړنګيـدو د حاضـر خطـر څخـه نجـات ورکـړ او دنـړۍ دتـاريخ څـرخ يـي د امريکـي پـه يـو قطبـی محـور وڅرخـاوه. دتأسـف خبـره داده چې لا دنجـات د شـهيدانو دزخمونـو وينـې او پـه سـره ډولـۍ کـې دکونـډې نـاوکۍ اوښـکی نـه وې وچې او دغـم تورپـوړنې يـي لا لـه اوربـل څخـه نـه ووپريـوتې، دغـه ټـول معاملـه ګـران چې دټولـو افغـاني پرابلمونـو او دژنيـو دتـړون قاضــيان، حکمــان او مجريــان او مجرمــان ګڼـل کيـدل، ددې پـه عـوض چې دهـل جـزاء الاحـسان الا الاحـسان پـه حکـم افغانـانو تـه نيـک پـاداش ورکـړي ، «بـه مـا چـی» ګفتـه ،او پـه خپـل ملـک کـې ،پـه نـوي فرصـت سـره د ځـو ورځـو ارام تـنفس او بعـدي پلانګـذاريو پــه نيـت يـي خپلـې غـوټې لـه افغانـستان څخـه وتړلـې او افغـان





اولــس يــي دبــاروتو او وســلو دګودامونــو پــه ســر پــه نــه پخلاکيـدونکې دښـمنۍ کـې بـې سرنوشـته دمـرګ پـه پولـه پـه غـم او مـصيبت کـې خپلـو معاملـه ګرانـو تـه پريـښود تـر څـود دغـه اولــس دښــمنه او وطــن دښــمنه تــورو بلاګــانو پخپــل منځنــي جنګونـو کـې نـور هـم وځپـل شـي. خـو پخپلـه پرتـه لـه تبعـيض څخـه کمونــستان او کپيتاليــستان دنــاټو دچتــر لانــدې پــه مــشترکو جـشنونوکې راټـول او معلومـه نـده دکومـو اهـدافو پـه خـاطر نـوی سـتراتيژۍ جـوړوي او پـه مدرنـه وسـلو دچاپـه مقابـل کـې ځانونـه سمبالوي؟

ددغـه «هيومنيـستانو» سـترګی لـس کالـه وروسـته يـواځې هغـه وخت وغړيـدلې او دخپـل خـوب پـه غلـط تعبيـر پـوه شـول، کلـه چې يـي دمارکونـډيو او ذقومـو کرونـدي چې پخپلـه يـي کرلـې وې پـه نيويــارک او واشــنګټن د ۲۰۰۱ ، بــالي ۲۰۰۲ ، ســتامبول ۲۰۰۳ ، مادريـد ۲۰۰۴ ، لنـدن ۲۰۰۵ او نـورو ملکونـو کـې ثمـر تـه ورسـيدلې او افغانـانو دغـه دقربـانۍ ګـوډورو تـه ضـرورت پيـدا شـو. نوپـه اصـطلاح ټولـو شـرافنمندانه اعتـراف وکـړ چې ګونـدې مـونږ بـې موجبـه سـهواً افغانـان هيـر کـړي وو او پـه ډيـرو ښـکلو شـعارونو سـره دملګـرو ملتونـو او امريکـي دقمچنـي لانـدې نـژدې دڅلويـښتو متمدنـه ملکونـو نماينـده ګـان پـه افغانـستان کـې دسـولې، امنيـت او دهيـواد دبيـا ابـادونې پـه خـاطر کـار کـوي او ددوی پـه قول پايلې يي هم مثبتې دي.

خـو حقيقـت دادې چې دبـن دبـې بنيـاده او دټـولنيز ترکيـب لـه لحاظـه پـوچ او بـې ماهيتـه کنفـرانس او دهغـې دبـې سنجـشه طرحـو او پلانونــو پــه اســاس او دامپياليــستي هيوادونــو د خاينانــه تــاکتيکونو او ســتراتيژيو پــه بنيــاد چې کــومې دولتــي، حقــوقي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



قانوني اداراې، ټولنيز سازمانونه، مستقل کميسونونه، مطبوعاتي رسنۍ او نورې مختلفې ادارې او انستيوتونه چې په تشکيلاتي لحاظ يې په بوده او تنسته کې کمې نه ليدل کيږي او په يوه چوکۍ پورې دمشاور وزير، معين، مشاور مشاور او نورونومونو لس تنه تړلي، په مادي لحاظ په لسګونو مليارده ډالر خارجي« مرستی »چې راځي دهمدوی په جيبونو کې پريووځي او هر يو د اروپايي او امريکايي صدراعظم او وزير څو برابر معاش لري، دضدمرمۍ موټرو چې په کابل کې دضد مردمي په نوم ياديږي او دهر يوه په قيمت حد اقل کوچنۍ فابريکه جوړيدلې شي،« دسړي» په سر دلاسونو دګوتو دشمير څخه زيات دي او ددغه موټرو شمير که په لندن، ټوکيو، برلين، واشنګټن، پاريس او داسې نورو ملکونو کې دسرک په سر په لسګونو او زرو نو کې يو دې، په کابل کې دخدای په فضل هر دوم موټر همدغه دې. که مقامونه تنقيصيږي امتيازات پخپل حال پاتې او که وزارتونه له منځه ځي وزيران او مشاورين که چارو ته دوام نه ورکوي، امتيازات يي په خپل پخواني حال پاتې کيږي.تشکيلا ت او مصارف ورځ په ورځ پړسيږي خو عايد، توليد او مفيده ضريب له يوې ورځې څخه بلې ته نزولي قوس طې کوي او يا په حقيقت کې هيڅ وجود نه لري. ټولې توليدي او غير توليدي، انتفاعي او غير انتفاعي ادارې او مؤسسات په لسګونو او سلګونو ميليونه ډالر بودجه او کومکونه تر لاسه او کارونه خارجي او داخلي اکثرأ«د لوړو مقامونو او دولتونو» شرکتونه او اين جي اوګانې اجراء کوي او دوزارتونو او ادارو مسئولين په اونۍ يا ميشت کې يو کرت د امضاء لپاره په شعبه کې حاضري ورکوي او اکثر کسان لا د





اسانتيا په خاطر يواځې خپل نوم ليکي او يو تن د ټولو په خاطر دغه زحمت ګالي، او هغه ورځ ډيره ليري نه ده چې توليدي او انتفاعي ادارې تش په استهلاکي او يا په بل عبارت دالر خورک، پيسه خورک او مفت خورک ارګانونو بدل او دنړيوالو د رواداريو له مخې به زمونږ خسروانو لپاره بلا تشبيه لومړې ځل په ژوندديني جنتي ژوند جوړ شي. خو ښه داده چې دجنت وعده خدای پر رښتينی دنيا ورکړې او بل دا چې دغه جنتونه دافغان بې وزله انسان په دوزخونو بناء دي او په دوزخي بنياد باندې بل هيڅ ډول بنياد پايداره نشي پاتې کيدلې او دامتيازاتو خاوندان دې ډير اميدواره نه اوسي.

نن چې شکونه په يقين بدل شوې خارجي او داخلي مسئولين مجبور شوي اعتراف وکړي چې په افغانستان کې نظام نشته، قانون نشته، اداره نشته او دخارجيانو او داخليانو په شمول عامله اداره او شخص وجود نلري او ټول يو شان دموجوده وضعې څخه شکايت کوي او ظلم، ناروا، فساد، رشوت، تبعيض، جنګي جنايتونه، دبشر دحقوقو نقض، تروريزم، دمخدره موادو قاچاق او کر کيله او ډيرې نورې نيمګړتياوې ګوندې ددغه ډول ټولنې طبيعي اجتناب ناپذيره خصلت او زيږنده ګڼل کيږي. په نتيجه کې ويلې شو افغاني ټولنه يو نابکاره بار او افغانستان دبې مجرمه جرمونو او بې ګناه مجرمانو ټاټوبې ګرځيدلې او نن پکې دټولو ارزشونو دبې ارزښه کولو تجربې روانې دي. ژوند بې ارزښه، مرګ بې ارزښه،ځان بې ارزښه، جهان بې ارزښه، آزادي بې ارزښه، غلامي بې ارزښه، ايمان، وجدان، حيا ،شرم او داسې نور ټول ارزشونه بې ارزښه کول غواړي. دغه بهر نيان چې داوضعه يي

(c) ketabton.com: The Digital Library



رامنځته کړې او لا دوام ورکوي، ایا غواړې دافغانانو دصبر ، حوصلې ،اوسني مجبوریتونو اخرینه کچه ځانونو معلوموی او که قصداً په پوره سپین سترګتوب یې را پارول غواړي ، نن چې ټوله نړۍ د افغانانو په مقابل کې یوې خوا ولاړه او ټول بېګانه پرست افغانانان یې هم د« چلاسو» په څیر پیشقراول کړي ،افغانانو او د دوی په آنند ،خصوصاً پښتون قوم ته اخرین ګوزار ورکړي ؟ دعیان دبیان حاجت به څه وی؟ شک نه شته چې د افغانانو تر منځ همدوی ډیر د نفاق تخمونه کرلي او نن پرون هم ډیر مصرفونه په دې لار کې ګالي ، بیا هم زه نه پوهیږم ، ولې ،دوی دا خبره ، هیروي چې تاریخي شواهد هم بې بنیاده او خوشې په خوشې نه تکراریږي ، او دا چې افغانان د ټولو مخالفتونو سره سره په اخرین تصمیم او اخرینه لحظه کې تل واحد او یو موټي پاتې شویدي او له دې هم ډیرو بد ترینو حالاتو کې یې له دې څخه لوی قوتونه مات کړي دي. زه په دې باره کې هیڅ شک او تشویش نه لرم ، زما تعجب په دې کې دې چې څه ډول داسې لوی ، پرمختللي او په اصطلاح با اعتباره هیوادونه په داسې رسوایي سره د کوچنیو او غریبو وروسته پاتې هیوادونو په کورنیو مسایلو په خپله ګټه لاس وهنې کوي او پوښتنه داده کله چې په افغانستان کې وضعه

داسې ده لکه څرنګه چې دوی پورته ترسیم او تمثیل کړې او یو مسول عامل شخص هم په دې ملک کې وجود نلری، دا خارجی بانکونه، مؤسسات او هیوادونه په میلیاردونو ډالر چاته په کوم اعتبار او مسؤلیت دکوم هدف لپاره ورکوي؟ افغان اولس به هیڅکله ددغه ډول پورونو ذمه داري وانخلې او نه دې څوک دا ډول توقع ولري.





مونږ په دې عقیده یو چې کمال دارزښونو په ایجاد او تقویه کې دې نه دهغې په نابودۍ او بې ارزښه کولو کې. حضرت مولانا پرځای ویلي:

اگر یک ذره را برگیری ا زجای
فرو ریز د همه عالم سرا پای

داد علم قانون دې، داد خدای قانون دې، او دادبشریت او طبیعت قانون دې. هر څوک دخپل عمل دعکس العمل سره مخامخ کیږي. عمل او عکس تل یو تر بله سره متناسب دې. او یا:

قطره دریا است اگر با دریاست
ورنه قطره قطره است دریا دریا ست

انسانی باهمی او ګډ ژوند دهغوئۍ دسولئیز ژوند تضمین کوي. ځان غوښتنه نه کمال دې او نه ارزش ،بلکه دانساني خپل منځي حقوقو او وجایبو او دیني احکامو له مخی ناروا عمل ګڼل کیږي. خو ځینی ستر اولسونه چې دنړیوال تعادل، توازن او نظم ستر مسؤلیت هم په غاړه لری، غواړی چې ددنیا ټول نعمتونه ددوئۍ له ستوني تیر او پروا نشته که ټول نړیوال له ولږې تباه کیږي او که دوی پرې پړسیږي او پړک چوي هم بروا یې نه شته . لیکن دا هیروي چې قضاء او قدر، جبر او اختیار، دیترمینیزم او اندیترمینیزم، ایولوشن او ریولوشن، ریفورم او انقلاب یو تر بله نه بیلیدونکې سراسري عامه قانونمندي ده او هر مسئول چې بې مسؤلیته عمل وکړي په ذوال او نابودۍ محکوم دې ."

هر بشیه گمان مبر که خالیست
شاید که پلنگی خفته باشد

(c) ketabton.com: The Digital Library



او یا :

ټیټ مې مه بوله غورځنګ را باندې مه کړه
زه په دې افتادګۍ کې لوی ګړنګ یم

دا اعترافات د هغوی له ښه سرېتوب څخه نه دي ،ښه شوه دا معلومه شوه چې په زور کلي نه کیږي او د هر قانون شکن په مقابل کې د قانون نهایي فیصله جبر دې او یو شاعروایي: دا د تاریخ جبر دې او جبر نازولې دې . دا جهان قانونمند پیدا دې او یوائې په قانونمندۍ سره به پایي او هره بې قانوني تر هرڅه دمخه د ځان تباهي ده .سیاست نه بې قانونه روزګاراو نه د هر ناپوه لوبه ده. نظم او نظام په یوه ټولنه کې هغه وخت رامنځته کیږي او پایي چې په دغه ټولنه کې اجتماعي، اقتصادي، سیاسي، اداري، حقوقي او قانوني عدالت موجود وي او خلک د خپل سر، مال، ناموس او نورو ارزښونو په مصئونیت او امن پوره باور ولري. د دوی په خپلو ټولنو کې هیڅ یو له دغه ارزشونو څه نه تآمین دې او نه مصئون. د امن واقعي ضامن، معیار او محک خلک او اولس دې او کله چې اولس په خپل مصئونیت باور ونه لري او د عدل او انصاف څخه برخوردار نه وي په هیڅ قوت څوک جبراً په اولس اوامر او مقررات نه شي تحمیلولې.اردو او پولیس یوائې د خلکو د امنیتي استعداد ، طاقت او رسالت د روزمره چارو پروتوکولي اداري او ظاهري نمایشي طاقت او موقتي مجریان دي او په ځینې عاجلو مواردو کې ضربتي قوه او که دقیق وویل شي ، د اولسي طاقت تش نمایشي تمثال او مظهر هم ګڼل کیږی. د خلکو او دولت تر منځ متقابل اعتماد حتمي او ضروري دې او دا هغه وخت ممکن دې چې واقعاً د خلکو لخوا انتخاب ، د خلکو نماینده او





د هغوی خدمتګار اوسي.

خارجي قوتونه یوه هیواد ته د معین ترون، تعهداتو او پروتوکول له مخې راځي او مجبور دي د هغه هیواد قوانین او بین المللي قوانین یو تر بله سره پخپلو مناسباتو کې په پام کې ولري. مونږ باور نلرو چې خارجي قوتونه زمونږ په هیواد کې د امنیت د تأمین څخه عاجز دي. یوائې پکار ده د متقابلو عامه ګټو په بنیاد متقابله همکاري او تفاهم ایجاد شي او د ملګرو ملتونو د مشرۍ لاندې په افغانستان کې میشت بین المللي قوتونه د بین المللي مقرراتو او اصولو له مخې افغانانو ته په خپل هیواد کې د سولئیز ژوند کولو ډاډ ورکړي تر څو هغه ډلې چې اوس یې د جنګ لار نیولې د جنګ څخه لاس واخلي .

مونږ پدې هم پوره باور لرو چې په افغانستان کې موجوده وضعه د سیاسي حل لار لري او بین المللي قوتونه د دې جوګه هم دي چې په افغانستان کې یو مناسب سیاسي نظام مستقر او په یوه پراخ ټولنیز بنیاد دیوه روشنفکري بدیل په مرسته ملي دولت او ملي اقتصاد په پښو ودریږي او جهادي رهبران، جنګ سالاران، سرمایداران او عام اولس دیوه قانون لاندې یو شان د خپل مال، سر، حیثیت او نورو ارزشونو د مصئونیت احساس وکړي. ښه به دا وي چې دولت پخپل اولس او ټولو اقشارو یو شان باور ولري او ټولو ته د کار او فعالیت زمینه برابره شي او روشنفکر قشر ته هم پکار دي په مجهول هویت سره شپې تیرول پریږدي او د خپل رسالت له مخې د ملت او دولت تر منځ د تفاهم پل وتړي . تر اوسه پورې چې د ملت او دولت تر منځ د بې باورۍ فضاء موجوده ده یوائینې علت یې دا دې چې ملي وطنپرسته روشنفکرانو خپل دین او رسالت سرته ندې رسولې او دغه فضا مکدره پاتې ده.که افغانان د خپل هیواد راتلونکې سرنوشت

(c) ketabton.com: The Digital Library



روښانه ونه ګوري جنګ به حتماً دوام پیدا کړي او پای به ونلري ځکه چې:

از فساد او فساد اسیا ازکشاد او کشا اسیا.

او کله چې اسیا نا ارامه وي جهان ارام نشي پاتې کیدلې. دادلویانو او پوهانو خبرې دي!

افغان اولس د تاریخ په اوږدو کې د هرچا لپاره صادق دوست، نیک ګاونډی، پخپل لوز او قول ټینګ ولاړ، دډیرو سترو تاریخي پیښو د انعطاف سنګر او سرمشق او په هیواد او آزادۍ همیشه مین پاتې شویدې. ځان د سیالې معاملې جوګه ګڼي او د سیال معامله ګر په حیث د هر چا څخه د سیالې معاملې ادعا او تقاضا لري. تاریخ د دې ګواه هم دې چې د افغانانو سترګه د دښمن څخه نه سوزي، مخامخ پرې ورځي او د غلچکي او ځان مرګي برید څخه عار لري. دوروستیو تروریستي پیښو پلټنو هم دا وښودله چې عاملین یې پاکستاني الاصله او عربي الاصله امریکایان او اروپایان وو. خو پاکستان او ځینې نور هیوادونه هڅه کوي د خپلو ناولو اعمالو پړه او تور په افغانانو واچوي. لیکن دا مسئله نن دلمر څخه هم ډیره روښانه ده چې پاکستان د تروریزم په ځاله بدل او لکه څرنګه چې اسرائیل په منځني ختیز کې د شرارت په محور او محراق بدل شوې، پاکستان پدې منطقه کې د شرارت، جنایت او فساد مرکز ګرځیدلې دې. د پاکستان حکومت او ناولې استخباراتي اداره د انګریزي استعمار وفادار خلف په حیث د پاکستان په مسلمان او مستضعف اولس باندې د مردارې او بوینا کې څټې په ځیر پراته او په ډیر شرم آوره توګه دخپل مسلمان ملت د اسلامیت په تقدس ملنډې وهي او





دپخواني انګریزي استعمار ناولې استعماري پالیسي پرې په نظامي جبر سره تحمیلوي. د دې څخه معلومیږي چې د تروریزم، هر ډول بنیاد ګرایي په هر رنګ او لباس چې وي، عاملین یې پخپله نړیوال امپریالیزم او نړیواله مافیا ده. همدوی دي چې د همدې لارې د خپلو خاینانه اعمالو په خاطر بهانې جوړوي. پوره شپیته کاله د پاکستان د جوړیدو څخه تیریږي. د خپلو بادارانو په استعانت او مساعدت سره د هغه د استعماري پلانونو د عملي کولو په منظور ذروي او نورې ډول ډول د ډلئیزو وژونو وسلې جوړوي خو په خپل ملک کې یې تر نن ورځې پورې سراسري حکومت، اداره او قانون وجود نلري او پاکستاني اولس نن هم د FCR (فرنتیر کرایمز ریګولیشن) او پولیټکل ایجنټ د ګرز لاندې شپې ورځې سبا کوي. نن پاکستاني حکومت او استخباراتي اداره په حقه سره د عالم بشریت، امت اسلام او د پاکستان د مؤمن مسلمان اولس په تندي د بې ننګۍ نه پاکیدونکې تور داغ ګرځیدلې دې. نن په پاکستان کې د پنځوس زره څخه زیات تروریستي تربیوي مرکزونه جوړ او دا هم پټه خبره نده چې څوک دغه مرکزونه ایجادوي او د کومو مقاصدو په خاطر یې تمویلوي. سرتاج عزیز د پاکستان د باندینو چارو پخواني وزیر د ۲۰۰۶ م کال د سپتمبر د میاشتې په ۲۵ د امریکا غږ آشنا راډیو سره په مرکه کې وویل چې د پاکستان د مدرسو طالبان پخپله امریکا تمویلوي. همداسې د انګلستان صدر اعظم توني بلیر د ۲۰۰۶ م کال د اکتوبر په ۱۸ پاکستان ته د خپل سفر په وخت کې وویل چې پاکستان ته به خپلې مرستې د طالبانو او مدرسو په خاطر دوه برابره کړي. پداسې حال کې چې د امریکې، اروپا او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولې نړۍ خلک او سیاسي مشران پدې اعتراف او انتقاد کوي چې پاکستان د تروریزم مرکز ګرځیدلې او د اکثر تروریستي پېښو عاملین په همدغه مدرسو کې روزل شویدي، نپوهیږم ښاغلی تونی بلیر د هغی سره څه علاقه لری؟ او ولی ئی لری؟ او کله چې ټول پدې باور دي چې بن لادن، الظواهري، ملا عمر، طالب او القاعده ټول په پاکستان او په مشخصه توګه په کراچۍ، پنجاب، سند او کوټه کې دي او بین المللي قوتونه هم د تروریزم د نابودۍ لپاره دې منطقې ته راغلي دي، حامد کرزي د افغانستان جمهور رئیس هم مکرراً غوښتنه کوي د تروریزم مرکزونه چې هر چیرې دي پخپله ځاله کې دې بمبارد شي. پرویز مشرف پخپله هم اقرار کوي چې ۵۰۰ القاعده او تروریستان یې په سند او پنجاب کې ونیول او مریکې ته یې وسپارل او پدې کار امریکایان او انګریزان خوشحالوي. په پاکستان کې دا دود او دستور هم موجود دې، کله چې یې مشران کوم هیواد ته ځې په اصطلاح یو ډله تروریستان، القاعده او د مخدره موادو قاچاق بران له ځان سره ځنځیر زولانه بیایي او ورته سپارریي ځکه چې په پاکستان کې د هغوی د محاکمې لپاره قانون وجود نلري او کله چې یې کوم دغه ډول میلمانه یې کور ته راځي هغوی ورته د دغه مرکزونو د بمبارۍ ننداري او د قربانۍ وندۍ برابروي چې اخرین مثال یې د امریکې د دفاع وزیر په ویاړ په وزیرستان کې بمباري او همداسې له هغې د مخه په باجوړ کې د یوې مدرسې بمبارول چې د قاضي حسین احمد په قول ۸۰ تنه طالب العلمان پکې شهید خو پرویز مشرف اعترافاً هغه مسلح کسان وبلل چې د تروریستي اعمالو په خاطر تربیه کیدل. او دا یې هم وویل چې الظواهري، ابو





عبیده المصري او د القاعده نور کسان چې په پاکستانۍ ویزه راغلي وو د دغه مدرسې څخه یې لیدنه کړې وه. خو د پرویز مشرف څخه هیچا پوښتنه ونکړه چې ولې ویزي ورکوۍ او ولې دغه ډول مدرسې نه تړئی؟ او نه د تونی بلیر څخه چا پوښتنه وکړه، تاسې چې دې منطقې ته د تروریزم او القاعدې سره د مبارزې په خاطر راغلي یاست. د څه لپاره ورته د وه چنده بودجې بیلوئی؟ او ولې د پاکستان سره د دومره مدارا څخه کار اخیستل کیږي او حتا د دومره څرګند و شواهدو سره سره هغه د تروریزم پر ضد جګړه کې نږدې ملاتړې هم ګڼل کیږي. ډیر تعجب وړ بله پوښتنه داده ، سره د دې چې افغانان د تروریزم سره هیڅ تړاو نلري بلکه پخپله د نړیوال تروریزم د جفا هدف ګرځیدلې، ولې هر ځای چې تروریست پیدا کیږي د غوږ څخه یې نیسي کله چې یې د افغانستان خاوری ته داخلوي وروسته له هغې پرې بمبارد کوي او په لسګونو او سلګونو بیګناه افغانان ورسره وژل کیږي. معلومیږي چې پاکستان د خپلو بادارانو سره په تباني کې د خپلې زړې ستراتیژۍ د عملي کولو په خاطر د ټول عالم اسلام څخه په مهیلیت سره معصوم زلمیان راټولوي او د خپلو نامقدسو اهدافو په خاطر یې روزي او په هر بازار کې یې د قربانۍ په خاطر عرضه کوي . پاکستان د افغانانو د ۲۵ کلنې غمیزي په موده کې خپلو بادارانو ډیر ونازوو او په ډیره ناروا سره یې د افغانستان د چارو واګې پاکستان ته په لاس کې ورکړل او د بین المللي ټولو قوانینو او موازینو پر خلاف یې ټول ناروا اعمال د هغوی په حق کې روا وګڼل او نن یې په خپل غیر مسئولانه کړو وړو سره د بین المللي متقابلو حقوقو او وجایبو حد او اندازې پیژندلو درک له لاسه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکړې، بې بنیاده تقاضاوې او غوښتنې وړاندې کوي او دخپلو بادارانو اوځو تنو معلوم الحاله جاسوسانو په ډاډ دافغانستان په مقدس حریم خاینانه حملې کوي. مونږ پوهیږو چې پاکستان ذروي وسله لري او افغان اولس په ۲۵ کلن جنګ کې هر څه له لاسه ورکړي دي او لکه دزخمي زمري پخپل حریم پروت دې. دا په تاریخ کې همیشه همداسې وه. خو افغانستان تل دتاریخونو دانعطاف سنګر او دټولو امپراطوریو لمن د افغانستان له پولې څخه ټوله شوې او په ملا پورې یې ورغوټه شوې چې اوس له شرمه ګرځیدلې نشي.

یو متل دی: ګیرم فلک جامه دهد کو اندام؟ مرحوم محمد موسی شفیق هم ښه ویلي دي.

دبستان دایشیا کې زه استاد وم
تا لوستله هغه وختې سپاره
نن راپاڅې کړې په ما پورې ملنډې
تا او خدای بیا په همدغه قواره

په یوویشتمه پیړۍ کې داقتصادي ـ اجتماعي دینامیکو نابرابره بدلونونو او دهغې په بناء دناپایداره نړیوال سیاسي نظام په رامنځته کیدو ، نړۍ په همزمان او مکان پرمانتت دوامداره شخړو سره ددریم بلکه داخري نړیوال جنګ په درشل کې دریدلې ده. ملګرو ملتونو او دنړۍ سترو هیوادونو ته پکار دي نړیوال نظام داکثریت لپاره قابل قبول په یوه پراخه ټولنیز بنیاد ودروي او ددریم نړیوال جنګ دحتمي پیښدو څخه مخنیوې وکړي. دډیرو سترو هیوادونو مشرانو په ډیرو سترو سیاسي دروغو ویلو سره نړیوال عملاً په یوه سراسري جهاني کور په کور جنګ کې ښکیل او هر چاته یې دمرګ قاصد هر





ځای درولې دې . داد سلیم عقل او منطق په خاوندانو ده چې ددې وضعې څخه په نتیجګیرۍ سره دقدرت او سرمایې دلیونیانو تورلاسونه دنړیوالو په سرنوشت دلوبو کولو څخه لنډ کړي. نوي نړیوال شرایط او غوښتنې په زړو مناسباتو، زوړ منطق او زړو اصولو په ترنګړ کې نه ځائیږي . نوې نظام باید دریښتینولۍ، صداقت او دسیالانو نظام او ناسالمه، استفاده جواو بیګانه پرستانو ته پکې ځای نه وي. افغان دسیالې معاملې جوګه اولس دې. په تیر پنځه ویشت کلن جنګ کې دافغانانو سرنوشت پاکستان ته سپارل دنړیوالو ستره ګناه وه. پاکستان ډیر مهیلانه دغربي او عربي نړۍ دبې دریغه مرستو او ملاتړ څخه په سوء استفاده په افغانستان کې خپله زړه انګریزي استعماري ستراتیژي تعقیب او دټولو مادي او معنوي ارزښونو په له منځه وړلو سره یې له هر څه دمخه فرهنګي ـ سیاسي خلاء رامنځته او نن هم په ډیر آزمندانه او شرم آوره توګه په سرحدي سیمو کې دبیګناه خلکو وژلو ته دوام ورکوي او دډیورنډ په کرښه داغزن سیم او دیوال درول او دماینونو ښخولو ډرامې ته په پوره سپین سترګۍ د بین المللي اصولو او تعهداتو په خلاف دوام ورکوي. حال دا چې:

۱ ـ دډیورنډ کرښه نه قرارداد وو او نه معاهده او نه حقوقي او قانوني ارزش لري ځکه چې دا ډول تړونونه دسیالو هیوادونو تر منځ کیږي او برطانیه هغه وخت جهاني امپراطوري او افغانستان یې په حقیقت کې مستعمره وه

۲ ـــ معاهدې او قراردادونه دباصلاحیته ارګانونو او موسسو پواسطه ترتیب، دپارلمان یا لویې جرګې لخوا تائید او په خاصو رسمي تشریفاتو سره دمسئول مقام لخوا توشیح او

(c) ketabton.com: The Digital Library



منظوریږي. لیکن دډیورنډ دکرښي مسئله پخپله دډیورنډ دبرطانیي دباندنیو چارو وزارت د نماینده او دعبدالرحمن خان چې هغوی دخپلو پروګرامونو دعملي کولو په خاطر دځیني وعدو په ورکولو رابللي وو په پټه د عبدالرحمن خان په شخصي کور کې امضاء کړیده پدې ډول دډیورنډ دکرښې او تر هغې دمخه دوه نور تړونونه پر جبر په افغانانو تحمیل او هیڅ حقوقي او قانوني ارزش نلري . اولس دهغې په مقابل کې تل مخالفت کړیدې چې یواځې د وانه په جګړه کی ۱۷۶۳ انګلیسان وژل شوي وو. انګریزان په ماتې وتلي او پاکستان هیڅکله زمونږ سره دمعاملې طرف نه وو. لطفاً دې دتاریخ پاڼو ته مراجعه وشي.

نن چې دملګرو ملتونو تر مشرۍ لاندې بین المللي قوتونه په افغانستان کې حضور لري، افغانان دخپلو طبیعي منابعو، خپلې خاورې او اوبو څخه داستفادې حق نلري . په لسګونو ملیارده ډالر نړیوالو مرسته کړې خو یو بند دبرق جوړ نشو او برق له خارج څخه واردوو. دکونړ، کابل ، پنجشیر، لغمان ، هلمند ، کوکچې، امو او نورو سیندونو له اوبو څخه مونږ استفاده نشو کولې ځکه ګاونډیان اجازه نه راکوې او داځکه چې زمونږ ګاونډیان دهمدغه هیوادونو په مرسته اتمي طاقتونه جوړ شوي او افغانان دنړیوالې جفا سره مخامخ وو. مونږ افغانان دملګرو ملتونو دسازمان، دامنیت شورا او دبشر دحقوقو دکمیسون څخه احترامانه هیله کوو ، اوس چې دمعاملې اصلي طرف انګریزان هم په افغانستان کې دي افغانستان ته دې خپلې ځمکې وسپارل شي او پدې منطقه کې دې جنګ ته دپای ټکي کښیښودل شي .





# اداري مسئولیتونه، صلاحیتونه او حقوقي-قانوني مکلفیتونه

سالم سیاستونه چې دجمعي ښیګڼو په بنیاد ولاړ وي ،تل دمسئولیتونو اوصلاحیتونو منطقي تناسب ته حق قایل اویواځې پدې صورت کې د ټولنیز عدالت او نظام تامینوونکې او متضمن ګڼل کیدې شي. سیاست له هرڅه دمخه ټولنیزه اوتاریخي پدیده ده. دټولنیز ارمان څخه پرته پوچه اوبې محتوا هره معامله په هیڅ صورت سیاسي یا سیاست نشي ګڼل کیدلې او هر خود غرضه معا ملګر لکه چې تاروکې په پتنګانو حساب ندې او نفساني په عاشقانو حساب ندې ،نو هر شخصي معاملګر هم ملي خاین او مختورن دې ، سیاست مدار نشي ګڼل کیدلې. دا ډول کسان لکه دخپل ځان سیاست چټله لوبه بولي او په حقیقت کې هم د کوم چا د شومو اهدافو په خاطر په همدغسې چټلو سیاستونو پورې تړلي بې ارادې لوبغاړي او بازیګران ګڼل کیږي. .خو زما په نظر سیاست یواځې مقدسې ،بشردوستانه ، وطنپرستانه سیالې لوبې ته ویل کیږي او یواځې سیال ملي وطنپرست سیاسي لوبغاړي او قهرمانان دغه رسالت سرته رسولې شي. ټولنیزي دخیر ښیګڼي هلې ځلې دهرچا لخوا چې وي ، چې دپراخه پرګنو موجوده ستونځې او مشکلات حل کړې شي مقدس عمل او ارمان دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



او همدغه لوبه سياست ګڼل کيږي .په همدې خاطر سياست بايد هميشه پاکه او مقدسه لوبه وي. کارل مارکس واي: پاک او مقدس ارمانونه هيڅکله له چټلو لارو او ناپاکو اعمالو پواسطه نشي ترسره کيدلی .

هغه څوک چې پرته له صلاحيته يواځې مسئوليت ته غاړه ږدي ،هغوی که اشخاص دي ، قومونه دي او که دولتي ،حکومتي ، سياسي او ټولنيز رهبران دي په حقيقت کې سياسي غلامان ګڼل کيږي او يواځې د چارو بې ارادې عاملينو په حيث منل کيدلی شي ، لکه نن په افغانستان کې ټول دولتي،حکومتي او دمؤسساتو ټول کارکوونکي او مسئولين ، چې له ځانه هيڅ ابتکار او صلاحيت نه شي ښودلی او په پټو سترګو د نورو اوامر او هدايات عملي کوي.

هغه څوک چې مسئوليت نه مني او يواځې په صلاحيت خيټه اچوي ، هغو باداران ،مستبدين او يواځې د خپلو شخصي ګټو غوښتونکي ليونيان دي ،لکه زمونږ خارجي متوليان چې دټولو خپلو ملي ــ وطني اوبين المللي تعهداتو سره سره چې بايد يې مرعات کړي ، هرڅه يواځې دخپلو شخصي ګټو په نظر کې لرلو له مخې محاسبه کوي او نن يې په افغانستان کې دبادار او غلام نظام برقراره کړې دی . په نوي لاس خلاصي او مطلق صلا حيتونو سره په افغانستان کې د پردي ملک کس دملګرو ملتونو دنوي نماينده په حيث مقرريدل يې څرګند او بربنډ مثال دی . حقيقت دادی چې افغانستان نن د بين المللي مافياً په مر کز بدل شوی او افغاني بيګانه پرستان دمختلفو نومونو او دروغينو دلايلو په بنياد دخپلو اندکه شخصي ګټو په خاطر خپلې ملي شتمنۍ او ملي





ګټې دخپلو متوليانو لپاره د سر صدقه ګرځولي او حتا دخپل تاريخي هيواد افغانستان بود ونبود ، غواړي په اخرين دوکې وازمايي. څه چې نن په افغانستان کې تيريږي د هر اګاه او وطنپرسته افغان او د نړيوال مترقي ،دموکرات او اګاه انسان څخه کومه پټه معامله نه ده ، نو که افغان انسان د خارجي قوتونو د جبر او ظلم په نسبت پټه خوله پاتې کيږي ، ولې دغه د سوسيال دموکراتيزم او د بشر د حقوقو علم برداران پدې هرڅه سترګې پټوي او خپلو خولو ته يې قفلونه اچولي دي ؟د۲۰۰۸م کال دجنوري په دريمه لسيزه کې دنړيوالو اقتصادي ټولنو په بين المللي کنفرانس کې دافغانستان جمهور رئيس حامد کرزي په قهرمانانه ژست او اکټ سره دبين المللي تروريزم او نورو نړيوالو ستراتيژيکو پرابلمونو په باره کې شانداره وينا وکړه چې دټولو حاضرينو په دوامداره چکچکو بدرګه شوه .ښاغلي حامد کرزي دبين المللي تروريزم ، دمخدره موادو دقاچاق ،بين المللي داغ سياسي مسايلو او نورو پرابمونو په باره کې رهنمودي تاکتيکي او ستراتيژيک دستورونه صادر او ديوه قهرمان په څير چې د حاضرينو او حتاما لپاره دمباهاتو او وياړ سرمشق « و بريښيده » ، دستيژ څخه راښکته شو .

خو په دې ورځو کې ژمني اقليمي شرائطو اود بين المللي قواوو بې مسئوليته عملياتو او بمبارېو ، په افغانستان کې بيداد نښلولی وو اوهره ورځ دافغانستان په ګوټ ګوټ کې په لسګونو ،سلګونو او زرګونو بې ګناه انسانانو ،ښځو کو ،چنيانو ، زړو او ځوانانو دظلم ،لوږې او سړو څخه خپل ژوند له لاسه ورکاوه. پلرونو او ميندو خپل دزړه ټوټه بچيان په ۵۰۰ او ۱۰۰۰ افغانۍ چې نن چرګ په دغه بيه نه پيدا کيږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



، خرڅوي ، په افغانستان کې ننني وضعه واقعاً د هر افغان لپاره شرم او عار دې او داسې ډیرنور بې شمیره پرابلمونو چې حامد کرزې یې داجرا مستقیم مسئولیت په غاړه لري یو دبل لپاسه امبارونه جوړ کړي دي. لیکن کله چې ښاغلي حامد کرزي دشورا د دریم کال پیل غونډې کې خبرې کولې او یا هره ورځ چې عاجزانه دمیکروفون شاته ولاړ وي او اوښکي تویوي ،یوه له دغه دلخراشه وقایعو څخه هم یاده نکړه.

ولي ښاغلي حامد کرزې پخپل ملک کې د بشري،اقتصادي،اجتماعي، اداري، حقوقي ،قانوني او نورو بې شمیره ناورینونو په باره کې تاکتیکي او سترا تیژیک رهنمودي قاطع دستورونه نه صادروي ؟ولي یې په شپږو کلونو کې دملک دلومړي درجه مسئول عامل مجري شخص په حیث یو تصمیم هم ونه نیوه او عملي یې نکړ ؟ په شپږو کلونو کې یې بیبېشمیره کمیسیونونه او هیئتونه په ځانګړو مواردو کې دځانګړو اجراٌتو لپاره مؤظف کړل خو دیوه دنتایجویې نه پوښتنه وکړه او نه یې کومه پریکړه عملي کړه. ولي ښاغلي کرزې صاحب په خپل کور کې دغه ډول جرئت نلري ؟ددي څخه په څرګند ډول معلومیږي ،په رښتیا چې مونږ پخپل هیواد کې دهر ډول تصمیم ،عمل او صلاحیت څخه بې صلاحیته یو .لیکن دبل په مخکې ډیرې ښې منډې وهلې شو او د بل ناروا غوښتنې او شوم نیتونه په پټو سترګو عملي کوو ، خو خپل دین ، رسالت ،وطن او خلک را څخه هیر دي.

دجنوري دمیاشتې په ۲۹ نیټه مې داریانا ــ افغانستان د خپروني څخه واوریدل چې دامریکي جمهور رًیس جورج ډبلیو بوش وویل: مونږ په افغانستان کې ستري لاسته راوړنې لرو





او هغه په هر قیمت چې وي باید وساتو. زه نپوهیږم د جمهور رئیس مقصد دکومو لاسته راوړنو څخه دې ؟داچې په افغانستان کې دنړۍ ۹۵ فیصده اپین تولیدیږي ؟داچې دنړیوالو قوتونو داداري لاندې په شپږو کلونو کې یې عادي ابتدايي دولتي نظام جوړ نکړې شو ؟داچې یې دارګ په ۵۰ مترۍ کې امنیت تاًمین نکړې شو؟داچې یې ددولتي ارګانونو ترمنځ اندکترینه هماهنګي ایجاد نکړې شوه ؟او داچې رئیس جمهور ، معاونینو ، وزیرانو ، والیانو ،پارلمان ،قضایي ،حقوقي او نورو ارګانونو ملوک الطوایفي ګاني جوړي کړیدي ؟یا داچې ښه حلقه بګوش غلامان یې پیدا کړیدي ؟

په یویشتمه پیړۍ کې دا ډول مناسبات او اعمال دټولو نړیوالو ، با الخصوص دمترقي دموکراتو قوتونو او په خاصه توګه دافغانانو لپاره چې په ملک کې یې دا ډول خود سرۍ او ټولنه فاقد د اداري ،قانون او هر ډول نظام پاتې ده ، په تندي ابدي د بې ننګۍ ، عار او شرم ، نه پاکیدونکې تور داغ دې !

زمونږ د ټولنې اداري واقعیتونه په مجموع کې نن یو کثیرالبعدي متشتت ،خودسره ،خود خواه ،نا پوه او غیر قابل کنترول اداري نظام په ګوته کوي چې په هیڅ صورت سره د واحدې اداري ، واحد قانون ،واحد مذهب او واحدو اصولو لاندې راوستل یې نا ممکن ګرځیدلي دي. او دا ځکه چې په ملک کې د بې شمیره یو تر بله سره نه پخلاکیدونکو او په خپل سر باندینیو هیوادونو ،ادارو ،مؤسسو، شرکتونو ،مستقلو بې هویته امنیتي قطعاتو او... موجودیت ؛په دولت او حکومت کې د بې شمیره وزیرانو ، دجمهور رئیس بې شمیره مشاورین ،سلاکار وزیران ... ؛بې شمیره ستر جنرالان ،ډګر جنرالان... او دبریدګي په بستونو کې د هغوۍ مقرریدل ؛ او بې

(c) ketabton.com: The Digital Library



شمیره دغه ډول نور ډیر بې دوده او بې دستوره نورې ناخوالې او ورانې ویجاړې په ملک کې ددې سبب شوېدي چې ملک فاقد د ادارې ، فاقد دقانون ، فاقد دنظام وګرځې. هر یو ددغه خارجي او داخلي اداروا و مؤسساتو غیر مسئول او واجب الاحترام یعنې چې په عام وتام صلاحیت سره هیڅ ډول مسئولیت پرځان نه منل ،او یا داچې په افغانستان کې ټول داخلي او خارجي اوسیدونکي بې ګناه مجرمان او دغه جرمونه مجرم نه لري او دا دولت ،حکومت،پارلمان،مطبوعات، قضایي اوحقوقي ارګانونه ،ټولنیز سازمانونه ،مستقل بشري کمیسیونونه او نور عبث او پوچ شعارونه دي چې هیڅکله زمونږ د درد نه دې دوا شوي او نه به دوا شي. ټول دغه افعال ، ټول دغه کردار ، ټولې دغه پروژې او دبیا ابادوې پروګرامونه د ماښام په ترږمۍ کې په یخ لیکل کیږي اود لمر د راختو سره سم بیا ویلي وي او بلې ورځې ته یي کوم اثار نه په سترګو کیږي.په افغانستان کې په ورستیو ۹ کلونو کې یو بنیادي کار سرته ه دې سرته نه دې رسیدلې. دا ټول بې بنیاده چارې سرته رسول یواځې د هغوی د خپلې بیروکراسۍ او دموکراسۍ د تظاهر مظاهرې او د خپلو دموکراتیکو ټولنو ، انستیتوتونو او مؤسسو په سترګو کې خاورې ایري پاشل دي. داډول دي په واقعیت کي د افغانستان د بیا ابادونې بې بنیاده پروګرامونه ،چې زمونږ راتلونکي ټول وختونه به د هغې د ناوړه اغیزو او عواقبو باندې مصرفیږي ،دا ډول دي زمونږ د ټولنې د بې سیاسته سیاستوالو د سیاسی فلسفي ماهیت او واقعیت او واقعي بڼه او څیره .

دا ډول نظامونه بر علاوه له دې چې دنن ورځ لپاره هیڅ ارزش او ګټه نلري ،بلکه دراتلونکې دراتلونکي نسلونو لپاره





نه یواځې دافغانستان بلکه دنړۍ په کچه عظیم لا ينحله پرابلمونه ترشا پریښو دلې شي . دا ډول مناسبات دننني عصر دغوښتنو سره سمون نلري او نه دموکراتیک ټولنیز ارزشونه پداسې نظامونو کې تحقق پیدا کولې شي. زه نپوهیږم ولي زمونږ نړیوال «دوستان» مونږ په رډو بډو غړیدلو سترګو غولول غواړي ؟ نن ټول اولسونه شعوري بلوغ ته رسیدلي او په دې ټولو مسایلو او قضایاوو پوهیږي. یواځې دغه د سرمایي لیونیان دي چې په سترګو کې یي همدغه یو تصویر شین میخ ګرځیدلې او هرڅه په همدغه یوه رنګ ګوري او صم ،بکم او عمی پاتې دي. دوی څله یواځې د پخوا په څیر خوبونهویني ، دوی څله یواځې صلاحیتونه غواړې اوحتا هیڅ قانوني مسئولیت ته هم غاړه نه ږدې ،دوی په ټوله نړۍ کې یواځې خپل منافع ګوري ، ټوله نړۍ یواځې د خپلو منافعو ورشو ګڼي او دنورو منافع هیڅ په نظر کې نه نیسي. دا کار شونې نه دې. ټول هیوادونه مساوي متناسب حقوق او وجایب لري او هغه جداً باید مراعات کړي.مونږ هم یواځې د ټولو هیوادونو له خوا دهمدغه اصولو ،مقرراتو او قوانینو یو شان مراعاتول غواړو. مونږ د همدوي لخواد وضع شوو قوانینو له مخې د دوی سره شریکه معامله اوګډ کارکول غواړو ، ولي مونږ یو دبل په خبره سره نپوهیږو ؟ علت دادې همغه قوانین چې دوی په امتیازي بڼه او دخپل منفعت په خاطر لیکلي دي ،نه غواړي هغې ته غاړه کښیږدي او خپله او دبل برخه غواړي یواځې د خپلې رواداری له مخې تعین کړي ، چې دا کار په دې وخت و زمان کې د هیچا لپاره د منلو وړنه دې.

که څوک غواړي په افغانستان کې حتا خپله غربي تیپ او یا بل هر ډول دموکراسي او ټولنیز نظامونه په پښو ودروي

(c) ketabton.com: The Digital Library



،پکار دادي موجوده نظام له بیخه رنګ اودنوي ټولنیز ،اقتصادي ــ سیاسي نظام په پښو درولو سره نوي ټولنیز مناسبات او دمسئولیتونو ،صلاحیتونو منطقي تناسب تأمین او دحقوقي ـ قانوني تحقق زمینه برابره کړي.

یواځي پدي صورت کې دهیواد او ټولنې هر غړې اوفردځان دخپل هیواد با الاستحقاق وارث اومسئولشخصاو عضوې په حیث ګڼلې شي او قانوني اوحقوقي ارزشونه دتطبیق اوحراست ملاتړ پیداکوي. یواځي پدي صورت کي ټولنه اومناسبات په اوسنیو شرایطوکې دټولو دموکراتیکو ارزشونو دتحقق او حراست متضمن ګڼل کیدې شي.

په یوه هیواد کې دټولني هر غړې مکلفیت لري دخپل هیواد دموضوعه عامو دولتي قوانینو څخه پوره اګاهي ولري. په افغانستان کې څرنګه چې قاطع اکثریت دلیک او لوست سره پوره اشنایي نلري ،دا ددولت او حکومت مکلفیت ګڼل کیږي چې دعامو دولتي قوانینو څخه اګاهي دټولني دهر فرد تر غوږه ورسوي او هغوی پري پوه کړي.لوړ دولتي مسئولین په خپلو اداري واحدونو کې ددولتي قوانینو دتطبیق اوحراست مسئولیت او مکلفیت په غاړه لري او هر یو په خپل اداري واحد کې دحقوقي اوقانوني ارګانونو دنماینده رول ایفاً کوي او دخپل مافوق په وړاندید قانون د تطبیق او حراست مسئول ګڼل کیږي.لیکن له ډیره بده مرغه په افغانستان کې دغه ډول کسان دمسئولیت په لرلو سره سره په خپل غیر قانوني جرئت او صلاحیت سره له هر چا څخه دمخه پخپله دقانون څخه سوء استفاده او قانون شکني کوي او مسئول مقامات ورسره غم غرض نه لري او یا هم نشي لرلې. دمثال په ډول کله چې





دافغانستان داولسي جرګي رئیس محمد یونس «قانوني» او دجمهور رئیس حامد کرزي لومړې مرستیال احمد ضیاء مسعود ددوبۍ له لاري لندن ته روان وو ،د دوبۍ په نړیوال هوایي ډګر کې له محمد یونس « قانوني» سره دقیق نه پوهیږم څو میلیون امریکایي ډالر او ځیني قیمتي توکي او داحمد ضیاً مسعود سره لکه چې وروسته دقیقه معلومه شوه ۵۴ میلیونه غیر قانوني امریکایي ډالر او یو کیلو ګرام الماس ونیول شول(د ویکي لیک په حواله ) اودوی دواړه دپوښتنو ګرویژنو په خاطر د هوایي ډګر پولیسو دیوڅه وخت ل پاره دځان سره وساتل. موضوع د نړیوالو رسنیو له لاري انعکاس پیداکړ خو له دوی څخه نه خارجي متولیانو چې په افغانستان کي دامنیت ، قانونیت ،نظام ، دموکراسۍ ، دبشر دحقوقو دتأمین ،... او ډیرو نورو ارزشونود تحقق اوحراست مسئولیت په غاړه لري ،پوښتنه وکړي شوه او نه دافغان دولت واکدارانو چې دوی دهغه حکومت او پارلمان غړي وؤ ( البته چې حکومت نه ددي کار جوګه دې اونه ددې صلاحیت لري ) دهغوی څخه وضاحت وغوښته او نه محمد یونس قانوني او نه احمد ضیاً مسعود چې دواړه مستقیم حقوقي ، قانوني او اداري دولتي مسئولیتونه لري ،حتا دهیڅ ډول سپیناوي دمسئولیت احساس یي هم ونه کړ؟

دا ډول پیښې د افغانستان په شرایطو کې هره ورځینې معمول کار دې او هیڅوک یي پوښتنه هم نه کوي ! ولې ؟

ما فقط یو مثال ذکر کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# يوائې دمعاشونو منطقي تناسب په هېواد کې دنظم او اقتصادي عدالت ضامن دي

په افغانستان کې ديرش کلن جنګونه او جګړې، دروسانو يرغل او په کور کې دبنو کورکونو جوړيدل، افغانستان دخارجي دښمنو قوتونو په جنګي ميدان بدليدل او دافغانانو په حق کې هر ډول جفا روا ګڼل کيدل، دروس دشکست څخه وروسته هيواد ته دبې شميره بيګانه پرستو او بې مسئوليته ډلو او اشخاصو راتګ او عامه ،خصوصي او شخصی دارايي دغنيمت دمال په نامه چورول، دپلان له مخې افغاني متخاصمې ډلې په سياسي، اداري، حقوقي او قانوني خلا کې ازاد پريښودل او دامريکايي ، اروپايي او ناټو دقواوؤ انکشاف او په نوي وسلو سمبالول، دسپتمبر ديوولسمی وروسته په افغانستان يوځل بيا حمله او دبين المللي تروريزم او القاعدې په بهانه دنظامي قوتونو او سرمايي راتګ او افغاني ټولنه دبې شميره بې کفايته ډلو په مجموع الجزائر ويشل او ټول ارزښونه بط ارزښه کول ټول هغه څه دی چط په اوسنۍ وضعه منتج او دنظام شيرازه له بيخه نړيدلی ده





. اقتصادی عدالت دټولنيز نظام لپاره اساسی او لازمي شرط ګڼل کيږي. دولت او حکومت مجبور او مکلف دي دټولنې دټولو اقشارو او غړو لپاره متناسب عادلانه اقتصادي شرايط برابر کړي. دمعاشونو ډيروالې او کم والې دمشکل دحل لاره نده . هغه څه چې داقتصادي عدالت تضمين کوي هغه د اقتصادي او پولي ضرورتونو منطقي تناسب دي. ددغه منطقي تناسب دارزونې او تثبيت په خاطر مختلف دولتي ارګانونه او مؤسسې لکه مرکزي احصايه، قانوني حقوقي اداري او داسې نور ايجاد او دتحصيلی اسنادو موجوديت او عدم موجوديت او تناسب، سويه، لياقت ، کاري تجربه، دکار نوع او شکل، دخطر احتمالات، سفر او حضر، جوي شرايط، شپه او ورځ، عرضه او تقاضا ، ملي عايدات، رتبه، درجه او مقام، نظامي او ملکي دنده، منطقوي او بين المللي نورمونه او داسې نورو له مخې تعينيږي. هر تبعه بايد پخپل هيواد کې دژوند ، استوګنې، کار، امنيت، متقابلو حقوقو او وجايبو، صلاحيت او مسئوليت او صحي مراقبت متناسب مصؤنيت ولري. تفاوتونه او تناسب هيڅکله بايد دافراط او تفريط په کچه نه اوسي . هر څوک بايد په ټولنه کې دپاک حساب او محسابې لپاره په هر حالت او شيبه کې حاضر اوسي او مربوطه دولتي ارګانونه دهغې دحراست او کنترول دچارو مسئوليت په غاړه لري . افغانستان ته دنړيوالو مدني ټولنو دنماينده ګانو، چی په خپلو ملکونو کې دټولو دموکراتيکو او مدني حقوقو څخه په نسبي لحاظ بر خورداره دي، په راتګ سره ټول ارزښونه بې ارزښه شوي او زمونږ خلک په واقعيت کې خپلو حقه حقوقو ته لاس رسې نلري. پنځه کاله دمخه دبين المللي قوتونو په راتګ

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره چې ګمان کیده په افغانستان کې به نسبي ټولنیز عدالت تامین شي په حقیقت کې بین المللي او کورنۍ مافیا په تباني او یو تربل مساعدت سره زمونږ د دغه ارمان بستره کلکه ټرلې، هر ډول بې عدالتي روا ګڼل شوې او عدالت چې د نظام او د هغې د بقاء اساسي شرط ګڼل کیږي، په حقه سره مونږ د هر ډول نظام څخه بې برخې پاتې یو. بې عدالتي په افغانستان کې په مضمن مرض، ټولنیزه فاجعه، فضیحت او جبر بدله شویده. څرنګه چې نظام نړیدلې، مسئول او عامل ارګان او شخص وجود نلري، عامه نا رضایتي او تنفر سراسري شوې، نه څوک د پوښتنې شته او نه د چا د شګو بندونه د دغه طوفاني سیلاب مخه نیولې شي. چارواکو لکه په وچکۍ پراته مریضانو غوندې په اوتو بوتو پیل کړې او دا په اور باندې د تیلو اړولو حیثیت لري. ډیره موده کیږیي چې د مالیي وزارت د معاشونو د زیاتوالي وعدې ورکوي خو یوواریي هم په خپله وعده وفا ونکړه. حال دا چې دا د مسئلې د حل لاره نده. همداسې د ۲۰۰۷ م کال د سپتمبر په ۱۹ د مالیي وزیر د ځینې لوړ رتبه مقامونو د معاشونو کچه اعلان کړه. د مثال په ډول د جمهور رئیس معاش ۱۹۵۰ ډالره، د وزیرانو معاش ۱۳۶۰ ډالره، د پارلمان د غړو معاش ۸۰۰ ډالره او داسې نور. دا خبره د منلو وړ ځکه نه وه چې په بله ورځ د ښوونې او روزنې وزارت اعلان وکړ چې که څوک د مکتبونو د تعلیمي نصاب مطابق (چې په هغې کې ابتدایي نصاب هم راځي) د کتابونو تالیف ته حاضر شي نو ۶۰۰۰ ډالر به په میاشت کې معاش ورکړي (رښتیا یي ویلي چې دروغجن حافظه نه لري ) او نن عملاً دغه پروژه دوام لري. همداسې د L3 Communacation مؤسسه هره ورځ اعلان کوي که د چا



"لوی خدای، لوی علم، لوی جهان" سیاسي فلسفه

پښتو او انګلیسي ژبې زده وي مونږ د ترجمان په حیث په کال کې پرته د نورو امتیازاتو ۱۵۶۰۰۰( یو لک او شپږ پنځوس زره ) ډالر معاش ورکوو. همداسې د SOS انترنیشنل مؤسسه او نور هم دغه ډول اعلانونه کوي . نو د ټولو دغه ځوانانو ډیره ښه انګریزي ، پښتو او فارسي زده ده ، ولې یي په دغه معاش باندې یي قناعت کړیدې ؟څه موده د مخه د جنرال عبدالرشید دوستم د معاش په هکله د محترم اکبر بای له خولې ووتل چې ۷۰۰۰۰ ډالر د میاشتې معاش لري ، دغه بېچاره خو لا بې سواده دې او وزیر صاحبان خو ټول PHD لري ،او داسې نور. دا خبرې ځکه ګټه نلري چې ازاد مطبوعات نن پوره صلاحیت او حاکمیت لري او هیڅ خبره نه پټیږي. دا خبره هم نن پټه نده چې که څوک د کوم اروپایي هیواد تابعیت ولري، عالي تحصیلات هم ونلری او وغواړي چې د آیساف او ناټو د قوتونو په تشکیل کې افغانستان ته راشي پرته د نورو امتیازاتو او د فامیل د معیشت د تامین پر ۱۲۰۰۰ یورو او که عراق ته ولاړ شي ۲۰۰۰۰ یورو معاش ورکول کیږي. اوس پخپله د هغه لوړ رتبه مامورینو او وزیرانو معاش تخمینیدلې شي چې نه یوا ځې له یوه ځای بلکه له ډیرو ځایونو -دولت، بانک او یا شرکت ) څخه جدا معاشونه ، چې ډاکټر انوار الحق احدي د پارمان په وړاندې اعتراف وکړ چې کوم بانک ورته ۳۰۰۰ ډالر معاش ورکوي. غواړم چې د هغه څه نا څه امتیازاتو په هکله چې دغه کسان ترې برخورداره او په افغانستان کې په اصطلاح د خلکو تر منځ ورد زبان دي. هغه کسان چې په پورتنیو شرایطو سره افغانستان ته ځې، فامیل یي ټول امتیازات تر لاسه کوي "دراغلی کس معاش په شمول" د دې په عوض چې د وطنپرست

(c) ketabton.com: The Digital Library



په حیث په یو څه جیب خرخ یي قناعت کړې وې او دهیواد والو خدمت ته حاضرشوې اوسي دتصور څخه اوچت معاشونه اخلي او دهغې په خوا کې دغه کوچني امتیازات هم لري: نوموړی کس شپږ هفتې په افغانستان کې مکلفیت لري او شپږ هفتې په هغه هیواد کې چې فامیل یي اوسیږي دتیرولو حق لري . په هغه شپږو هفتو کې چې په افغانستان کې اوسي په میاشت کې کیدلې څو وارې دکرزي صاحب سره دضرورت یا مصلحت له مخې خارج ته سفرونه وکړي او یا ځانګړی سفرونه ولري او فوق العاده امتیازات ترلاسه کړي . که نوموړې په شیرپور، وزیر محمداکبر خان او شهر نو یا حیات آباد او اسلام آباد او یا بل ملک کې هر څومره کورونه ولري په کرایه یي ورکولې شي . کرایه یي خپله ده . خو دولت مجبور دې ده ته په امن ځای کې په لوړه ډالري کرایه کور ونیسي. نوموړې باید درې څلور قیمتي موټرې ولري چې معلوم نشي او دحملې په وخت کې یي دخطر احتمال کم اوسي. نوموړي کسان دا امکان هم لري چې دفامیل غړي راوغواړي او په لوړو ډالري معاشونو یي په مختلفو شعبو کې مقرر کړي. ډیرو کسانو داکار کړیدې. دغه کسان معمولاً شخصي شرکتونه او این جي او ګانې لري. دوی هر ډول دولتی قراردادونه ترلاسه کوي چې معمولاً نور کسان تر ۵۰ ٪ رشوت ورکولو پورې پرې مجبور دي او ددې لارې ډیرې ګټې کوي. رشوت، فساد او اختلاس خو ټول خلک وایي چې په افغانستان کې معمول کار دې . که دایمان عقیده د چا سسته وي ،نو دی کار ته به هم لاس غزوي . ډیره به خبره نه اوږدوم خو داخبره به هم وکړم چې دا ډول کسان څرنګه چې هم کافي پیسي او هم امکانات لري نو کافي اندازه قیمتي جیپ موټرې اخلي او





هریو موټر دمیاشتی تر ۳۰۰۰ ډالرو خارجي مؤسسو، شرکتونو او این جي او ګانو ته په کرایه ورکوي . دبین المللي مرستو په ارتباط داقتصاد وزیر او نورو دولتي چارواکو ویلي چې ددغه پیسو حد اقل ۸۰ ٪ کومک کوونکي ممالک پخپله مصرفوي. باقی پاتې په دفاعي او اپراتیفی چارو کې مصرفیږي یعنې دافغانستان بیا ودانولو پورې دغه پیسي اړه نلري او دفاعي او اپراتیفي چارې خو معلومي دي چې نن په کومه وضعه کې دي او امنیت هم په کومه اندازه تأمین دې .. دبین المللي مرستو دیوي بلې بیلګې په باره کې هم غواړم محترمو لوستونکو ته یو څه معلومات وړاندې کړم: یوې اروپایي خیریه مؤسسي ته دجوزجان په ولایت کې دآبرسانۍ په خاطر دکلیو دپراختیا وزارت سره ۱۷۰۸۸ ډالره مرسته کړې وه. ددې لپاره چې دغه پیسي پخپل ځای مصرف او سوء استفاده ترې ونه شي دغه خیریه مؤسسي خپل مشاور ددې کار لپاره معرفي کړې وو. ددغه پیسو څخه ۱۱۴۳۰ ډالره مصرف او باقي پاتی پیسي بیرته مسترد شوې وې . معاش چې نوموړی مشاور صاحب پدغه موده کې د کلیو دپراختیا وزارت څخه اخیستې وو ۷۳۰۰۰ ډالره کیدل . دې ته وایي پر ځای مرسته او پر ځای معاش اخیستنه ! دا چې دعیان دبیان لپاره حاجت نه وي نو ما هم په افغانستان کې د اقتصادي بې عدالتۍ په خاطر یوه تتمه شمه وړاندې کړه او دا پوره معلوم شوه چې غمیزه اصلاً نه دمعاشونو دسرسام اوره لوړوالي او نه د دهغی دکم والي له کبله پیښه ده بلکه د لوړ او ټیټ معاش تر منځ هیڅ ډول منطقي تناسب وجود نلري. نو دپارلمان محترم غړي خوشې په خوشې دخپلو معاشونو دلوړوالي په خاطر تنۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



شلوي او نور دولتي ارګانونو هم عبث د خپلو منسوبینو د معاشونو دلوړولو په منډو ترړو په خاطر د او سپني ځپلۍ په پښو کړیدي. بل مشکل پدې خاطر راولاړ شوې. هغه کسان چې په لسګونو زره ډالر معاش اخلي دهغوی معاش پیشکي حواله کیږي. خو زمونږ معیوب هیوادوال چې ۵۰۰ افغانۍ او یا هغه معلم او مامور چی ۱۵ کسیز فامیل وریغاړه دې معاش یي په شپږو میاشتو او حتاپه یوه کال کې هم نه اجراء کیږي. عجیبه خبره خو لا داده کله چې وروسته دډیرو منډو او مظاهرو دکوم باب یا فصل څخه کوم نیکبخت څو ډالر کومک وکړي ددې په عوض چې وروسته له یوه کاله ددغه خوارانو معاش اجرا شي وزیر صاحب پرې ځان لپاره ضد مردمي "په کابل کې په همدې نامه یادیږي" موټړ واخلي. په نتیجه کې ویلې شو چې ددا ډول مسایلو دحل لار تقوا، صداقت، وطنپرستي او دمعاشونو منطقي عادلانه تناسب او دټولو څخه مهم دچارواکو مسئولانه کړه وړه او دمسئولیت وجداني احساس دي.





# جنګونه او مخالفتونه دافغانانو دغمیزې دحل لاره نه ده.

دمیلادي شلمې پیړۍ شپیتمه لسیزه په افغانستان کې دډموکراسۍ په لسیزه مشهوره ده. پدې لسیزه کې روښانفکره ډلې څه نا څه فعاله شوې وې، ټولنیزي شعوري رڼایي په ټولنیزو لوړو افقونو څرک وهلې وو، سیاسي وضعې هم خپلې منګولې دافغان اولس له ستوني څخه لږ څه سستې او افغانانو دسیاسي تنفس یو څه مجال پیدا کړې وؤ. یو تعداد روښانفکرانو هڅې کولې پادشاه دمشروطه شاهۍ اساسي قانون منلو ته اړباسي او عملاً هم ددغه کسانو په نوښت مشروطه شاهي قانون جوړ شو چې دامیر امان الله خان له دورې څخه وروسته ځیني سیاسي آزادي ګانې لکه داحزابو قانون، دمطبوعاتو آزادي او ځینې نور پکښې په نظر کې نیول شوي وؤ. پادشاه دپخوا په څیر غیر مسؤل او واجب الاحترام خو دشاهي کورنۍ ځیني امتیازات راټیټ او دحکومتي چارو واک غیر شاهي کورنۍ کسانو ته قایل شوي وؤ.دا لسیزه افغانستان ته دخارجي لوړ رتبه هیئتونو خصوصاً دپخواني شوروي اتحاد، امریکې او سعودي عربستان، دراتګ سره هم متصادفه وه. واقعاً دا یو ډیر بد تصادف او یا پلانیزه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیشبیني شوې عمل وؤ چې په افغاني ټولنه کې یې ډیر ناوړه غبرګون رامنځته کړ. رښتیا هم پداسې یوه هیواد کې چې قانون حاکمیت او سابقه ونلري، خلک دوطني او ټولنیزو اساسي مسایلو په هکله بې خبره پاتې او دهغې په مقابل کې هیڅ ډول احساس د مسئولیت نشي کولې، یواځې یو تن دټولو امورو متصدي( هم حاکم، هم قاضي، هم مجري او هم حامي) پاتې شوې وي، دموکراتیکو ارزشونو ته هم نه دداخلي فاکتور، ضرورت او فشار بلکه یواځې دخارجي فشار له مخې دغه کار ته مجبور شوې اوسي او همزمان مختلفو انستتیوتونو، ټولنیزو قشرونو او اداري واحدونو ته د قبلي تجربې دنشتوالي او دحقوقو او وجایبو په مقابل کې دمسئولیت دعدم احساس په صورت کې واک ورکول کیږي، حتماً په ټولنه کې بحران رامنځته کوي. همدا سبب وؤ چې دقانون دتصویب او توشیح څخه دمخه مختلف نظریاتي ګوندونه تقریباً همزمان جوړ او دا چې ملي ایدیولوژۍ او ملی سیاسي محور او حرکت وجود نه درلود، ټولو ګوندونو پخپل سر په فعالیت شروع وکړه، میتنګونه او مظاهرې یې برابرولې او دهمغه لومړۍ ورځې څخه یې دپردیو هیوادونو په پلوۍ چیغې وهلې او دولت، حکومت او قانون یې دکنترول څخه عاجز پاتې وؤ، ځکه چې هر یوه قوي خارجي ملاتړ درلوداو په نتیجه کې په افغانستان کې دموجوده روښانفکري جنبش دلومړیو ورځو څخه سیاسي بنتون "انباق بازی" شروع او افغانستان عملاً دسیاسي بنوپه کور او یوه داسې خاره شاړه ځمکه بدل شو چې هر چا په کې دخپلې خوښې مارکوندۍ او غنې کرلې او ریبلې. ملي مصلحت، ملي صلاحیت، افغانیت، وطنپرستۍ او ملي طرحو هیڅ ارزش نه





درلود او نه یې په تاوده بازار کې کوم خریدار. له بلې خوا دسیاسي بنتون لوبه دمردۍ او نامردۍ په پوله روانه وه، مردان له دغه پولی نشول اووختلې نو ځکه تل نامردان ګټونکي وو.
همدغه نامردان تر پرون ورځې پورې په افغانستان کې دټولو بدو حوادثو اصلي عاملین او دهغې دبدو عواقبو اصلي مجرمین ګڼل کیږي. او نن هم هڅه کوي ددغه ډول لوبې بازار ګرم وساتي. ملي وطنپرسته کسانو کولې شول دخپلې ملی مبارزې سنګر دملي ایدیالوژۍ په بنیاد ګرم وساتي او دملي وطني ګټود حراست په خاطر ملي مقاومت راوپاروي. له بده مرغه دوی هم پدې کار کې تر نن ورځې پورې پاتې راغلي دي. خو نن یې له صفر څخه شروع کول حتمي او ضروري ګڼل کیږي او که دغه کار ونشي بیا به هم نامردان داوسنۍ لوبې ګټونکي وي. دروسانو په موجودیت کې دې وضعې لاپسې ناوړه انکشاف وکړ. چارې او صلاحیتونه دداسې کوچنیو اشخاصو په لاس کې ورکړلې شو لې چې هیڅ ډول احساس دمسئولیت یې نشو کولې او په ټولو حالاتو ې یواځې بې شعوره او بې ارادې عاملین ګڼل کیدل. دمقاومت دلیکو په جوړیدو او په اصطلاح داروپا، امریکا او عربي ملاتړو په رادمخه کیدو سره وضعه څور وارې نوره هم بدتره شوه. دشرق او غرب لخوا باالمثل مسابقه شروع او افغان اولس دسل او زر مجبوریتونو له مخې دغه کسانو( په اصطلاح رهبرانو) ته په لاس کې ګروګان ورکړې شو.دروسانو په وتلو اوپه ۱۹۹۲ کال کې داسلامی جمهوریت په جوړیدو سره چې افغانا ولس ترې ډیرې امیدوارۍ درلودلې، وضعه څه ډول شوه، ټول هیوادوال یې عینی شاهدان وؤ او که رښتیا ووایم زه یې له افادې لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



کلمات نلرم او نه عفت د قلم اجازه راکوي. طالبانو چې وعدې کړې وې کار به اهل کار ته سپاري او پخپله به خپلو مدرسو ته ځي، دواک خوند دومره مزه دار وو او دواک ساتلو په خاطر يې داسې بدعتونه وکړل چې په اسلام کې خو يې هيڅ روايت موجود نه وؤ حتا په کفر کې به هم چا نه وي کړې. دې وضعې پوره ۲۵ کاله دوام وکړ ددې ټولو ناوړه اعمالو بار افغان اولس پخپله شاه وړې. وهل شوې، رټل شوې، وژل شوې، بې پته شوې او تنکي بچيان يې په ناچله پيسو خرڅ شويدي او يا په زور د مرګ داژدها خولې ته اچول شويدي او لکه چې حامد کرزي پخپلو خبرو کې وويل دغه رهبرانو په سوونو ميلونه او حتی مليباردونو ډالر جمع کړي او خارجي بانکونو کې يې ذخيره کړيدي، د تصور او عقل څخه وتلي ويلاګانې او کورونه يې اباد کړي او تجارتي شرکتونه او کامپلکسونه يې جوړ کړيدي. پدې باره کې ټولې خبرې په ټولو کتابونو کې ليکل شوي او عيني شاهدان هم ژوندي ګرځي او هيڅوک دې باور نه کوي چې ګوندې هغوی به دغه راز پخپل زړه کې پټ وساتي. سياسي رهبر، مشر او قوماندان خو هغه دې چې په تعرض کې د جبهې په لومړۍ کرښه کې وي او اصلي ضربه پخپل ټټر اخلي او په شاتګ کې د جبهې په وروستۍ کرښې کې د خپلو زخميانو او مړو پالنه کوي نه دا چې د جنګ د قربانيانو د جيبونو په لټولو اخته وي. افغانانو ډير ښه فرصتونه له لاسه ورکړي دي. کله چې روسان ووتل او افغانان خپل وطن ته راستانه شول لازم وو چې د خپل هيواد سره د هيواد د مالک او اولس سره د خپل اولس په حيث معامله شوې وې او هر څه پخپل ځای امانت ساتل شوي وې. خو بر خلاف د دښمن په لمسون يې اردو ړنګه، وضع





الجيشونه او ستري قرارګاوې تخريب، سپکې او درنې وسلې د کبار په بيه خرڅې او دولتي او شخصي مالونه يې د غنيمت د مال په چور او چپاول کړل. کابل د افغانستان ستر سياسي، کلتوري او اقتصادي مرکز هم د بيګانه وؤ د ارزو سره سم وسوزول شو. حال دا چې د ملګرو ملتونو د پنځه فقرئيز پلان مطابق په افغانستان کې يو ملي ګرا دولت جوړيدلې شو. نپوهيږو د چا په لمسون د دغه پلان په مقابل کې کودتا وشوه او چپ او ښي يو شان د هغې عاملين وګرځيدل. نن چې په هيواد کې د ديرشو څخه د زياتو خارجي هيوادونو څه د پاسه ديرش زره عسکر موجود او عملاً اداره پخپل واک کې لري معامله ګر يې همغه کسان دي او نن هم د ملي مسايلو په سر معاملو باندې په ميلونونو او مليباردونو ډالر ښکته پورته کيږي. په همدغه موقت، انتقالي او سبا په انتخابي جمهوري دولت کې به همدغه کمونست، ملي ګرا، مجاهد، اخواني او نورې ډلې دخيلې وي. ملامت کوم يو دې او هغه قاضي کوم دې چې دغه تشخيص کړي. خو زمونږ د خلکو غميزه به دوام لري او زمونږ ملک په اصطلاح په داسې کونده بدل شوې چې هر ګاونډې يې د خولګۍ طمعه لري. علت يې څه دې؟ علت يې زمونږ ذات البيني اختلافونه او جنګونه دي. زمونږ خپل منځي جنګونه او اختلافونه زمونږ د غميزې د حل لار نده. پاک خدای د مازيګر په وخت قسم يادوي »والعصر« او دا ځکه چې مازيګر دورځې د نتيجګيرۍ وخت دې. افغانان د پنځه ويشت کلنې غميزې څخه وروسته کومې نتيجګيرۍ ته ضرورت لري او که نه؟ پدې پوهيږم او پخپله يې کلک پلوی يم چې افغانان پردې حاکميت پر ځان نه مني. دا يې انساني او قانوني حق دې. له بلې خوا

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدې افغانانو دخپلو افغانانو دظلم او ناروا څخه خپل ملک پریښې او وایې چې نور خارجي پوځونه دې راشي چې مونږ ددغه خپلو ظالمانو څخه وژغوري. ربښتیا وایې چې «په کفر کې ژوند کیدلی شي خو په ظلم کې نشي کیدلی» له بلې خوا همدغه افغانان دبن په کنفرانس کې سره جرګه شول او دغه قوتونه یې راوغوښتل، دریم دا چې دهمدغه ملکونو څخه هیواد ته په ملیاردونو کومکونه راروان دي او نن دګاونډي هیوادونو څخه خلک دکاره لپاره راځي. حال دا چې پخوا به افغانان درپه درکارپسې ګرځیدل، څلورم دا چې دا قوتونه دیوه هیواد نه بلکه دبین المللي قوتونه دي او پنځم دا چې دملګرو ملتونو لخوا اداره کیږي. شپږم دا چې په هیواد کې مختلف اجتماعی، اقتصادی، سیاسی او داسی نور ریفورمونه چې سل په سلو کې دتائید وړ او زمونږ په ټولنه او ملک کې دموکراتیک بینادونه جوړوي جریان لري. پخپله افغانانو خپل اساسي قانون جوړ کړ او که خارجیانو ورسره کومک کړې البته دغه ډول کومک ته به ضرورت وجود درلود. دلومړي ځل لپاره په هیواد کې دولس مشرۍ دموکراتیک انتخابات وشول چې په منطقه کې یې ساري ندي لیدل شوي او ښځو او نرو په کې یو شان ګډون وکړ او دنړیوالو دتعجب وړګرځیدلی. لیکن دډیر تجب وړ هم داده چې ځیني دریاست جمهوري کاندیدان چې دموجوده سناریو او ډرامې اصلي څیرې کار کونکي هم دي په یوه او بله بهانه داسې کسان یو تر بله سره ائتلافونه کوي چې هیڅ عقیدوي، نظریاتيي، پروګرامي او یا بل ډول نژدیوالي سره نلري او یا پخپل سر دټولتاکنو دتحریم غږونه پورته کوي او پدې نپوهیږي چې دا دهغوی حق ندي. ټولتاکنې یو ټولنیز





دموکراتیک اصل او پدیده ده چې معیار او محک یې پخپله اولس او د بین المللي بشري او دموکراتیکو قوانینو له مخې دا یواځې د اولس قانوني حقوقي حق ګڼل کیږي. دوی نور څه ونکړې شول پرته له دې چې دخپل ا ولس او بین المللي کړیو په وړاندې ځانونه بې اعتباره کړي. دوی همداسې داکار تل کړې چې افغانان دطالب، القاعدې، فوندامنتالیست په نومونو تورن او یا غلط راپورونه ورکړي او بې ګناه خلک ووژل شي. افغانان هیڅکله تروریست، بنیادګرا نه وؤ او هر افغان ځان لپاره لوی شخصیت قایل دي. افغانان حتا دښمن ته په کمین نیولو شرمیږي او هیڅکله دیته ندي حاضر شوي چې د ۱۰۰ تنو په مقابل کې ځان مرګي بریدړکړي. افغان به دتاریخ په اوږدو کې مجبورا ولس وؤ، تل به پرې جنګ تحمیل شوې او ظلم او ناروا ورسره شوي خو هیڅکله بې کلتوره او بې ایمانه ا ولس نه وؤ. افغانان خپل ځانګړي کلتوري دودونه، اصول او عنعنات لري او تل خپلو ټولنیزو ارزښتونو او دودونو ته لوړ احترام کوونکی ا ولس پاتی شوی او خپله شکیبایي یې کله هم له لاسه نده ورکړې او هیڅکله یې دپاملرنې څخه نده غورځولې . دا زمونږ مشران او دجمهوري ریاست منور او پوه کاندیدان وؤ چې خپله شکیبایي یې له لاسه ورکړه، دخلکو حق او غوښتنو ته احترام قایل نه شول، دخپلو عقیدو او مسئولیتونو په وړاندې یې احساس دمسئولیت ونکړې شو او هڅه یې وکړه دقانوني حقوقي ټولټاکنو څخه یوه بله سیاسي معامله او لوبه جوړه کړي." دافغانستان قهرمانو خلکو! ټولتاکنې خورا باارزښته ا ولسي منل شوې دموکراتیک اصل او ستاسې حق دې. تاسې چې ترې په ډیرو سختو شرایطو کې بې له ویرې دفاع

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړه ، خپل دغه حق پخپلو کلکو منګولو کې ټینګ وساتئ او خپله راتلونکې دموکراتیکه ټولنیزه ودانۍ پرې اباده کړئ. "ګرانو هیوادوالو ! تاسې چې په پوره دموکراتیک ډول مو ټولټاکنې ترسره کړي، تاسې چې دخپلې عقیدې له مخې په غرونو او رغونو کې دخارجي قوتونو او خپلو ورونو په مقابل کې جنګیږئ او مونږ ټول چې ددغه وضعې اصلي عاملین او مسببین یو ! ! ! زمونږ نیکونه او پلرونه هم پیړۍ پیړۍ وجنګیدل. د سرونو څخه یې منارونه جوړ شول. ځانونه او بچیان یې له لاسه ورکړل او خارجي یرغلګر یې له ملکه وشړل ،مونږهم خپل ځانونه، پلرونه او بچیان قرباني او روسان مو له ملکه وایستل او زمونږ بچیان به هم حتماً دا کار وکړي او خارجي قوتونه به له خپلې خاورې څخه وباسي، خو هیڅکله به زمونږ دمیندو او خویندو توري دغم پړنې او جامې بدلې نه شي. غم او بې اتفاقي به تل زمونږ په کو میلمه وي ښه به داوي پدې باره کې غور او لازمه نتیجه ګیري وکړو. ترڅو چې زمونږ خپل منځي جنګونه او مخالفتونه وي دا وضعه به دهمیشه لپاره دوام ولري.زمونږ پیشنهاد دادې چې زمونږ روښانفکره کسان یو څه شکسته نفسي پر ځان ومني او هغه لارې ته راښکته شي چې زمونږ اولس دمیزان دمیاشتې په ۱۸ نیټه په مخکې نیولې. پخپلو منځونو کې لوی طاقت جوړ شو او د سیالو سره په هر سنګر کې د سیالۍ جوګه شو. امین یا رب العلمین





# د بشر د ژوند د ونې ثمر باید هم حنظل او مار کونډۍ او سي ؟

د پخوانیو ساده او بې سواده خو په وطن مین او زهیر دهقانانو رواج او اصول به داوؤ چې اصیل نسلونه او تخمونه به یې د حیواناتو ، میوو او غله دانو لپاره ساتل او د نسلونو دبقاء ورشوګانې به یې د هرزه بوټو او کم اصل نسلونو څخه تل پاکې ساتلې. ټولنیز حریم هم دیوه ترلې نظام په حیث به د با تقوا او خواخوږو مشرانو لخوا اداره کیده او د هر ډول تعرض او نفوذ څخه کاملاً مصئون او غیر وغماز به یې په محیط کې نه پریښودل کیدل.صداقت،وطنپرستي او ملي نوامیسو ته وفاداري دټولنې د هر غړي لپاره دتقوا او اخلاقویو ائینۍ کچه ،معیار او محک ګڼل کیده او په دغه اصولو بې قید و شرطه پابندي دټولنې داعضاوؤ لپاره نه ماتیدونکې مقدس قانون ګڼل کیده او افغانیت او اسلامیت ددغه اصولو ،مقرراتو او قوانینو دحراست تضمین کاوه. د وخت په تیریدو سره ځیني ملي او بین المللي شیطاني خایني ، فرصت طلبي او استفاده جو کړۍ چې د حرص او آز کسي « مردمک چشم » یې تنګ ،خپله خوشبختي یې یوائې دبل په بدبختۍ کې لیدله ، عامه نظم ،قوانین ،مقررات او دولتي او حکومتي منل شوؤ اصولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځخه یي همیشه سر غړونه کوله او د جمعي حقوقو او قوانینو په غیر کي یي اصلاً د ژوند کولو استعداد نه درلود ، تل یي په ملي شتمنیو، ملي ښیګڼو او ملي تعهداتو قمار وهلې ،یا یي د بیګانه ګانو په واک او تصرف کې ورکړې او یا یي پرې پخپله خیټه اچولي او مورد د تعرض او ناوړه ګټې ګرځولې . دغه ناروا مناسباتو د بشري ژوند د بې شمیره کلونو په موده کې یو مضمن نړیوال پارازیت قشر ایجاد چې اوس نړیواله مافیا بلل کیږي او د خپل موجودیت په ټوله موده کې یي د خپل شیطاني خصلت له مخې ټولو خداي ،انساني او طبیعي مقضي او مقدر قوانینو ته شا اړولې او تل هڅه کوي یواځې د شیطاني مهیلیتونو په بنیاد خپل پارازیت ژوند ته دوام ورکړي. دا جهان قانونمند پیدا دې ، د قانونمندی له مخې قابل د معرفت ، په قانونمندی سره قابل د استفادې ، په قانونمند ډول قابل د تحول او تکامل او پرته له قانومندی بل هیڅ ډول کره وړه او برخورد نه مني. لیکن نړیواله مافیا غواړي پخپل شیطاني خصلت سره خداي عادلانه قوانین تحریف او په جبر او ناروا سره د خپلې خوښې نظامونه برقراره وساتي. دوی جمعي شعور ،جمعي ښیګڼو ،جمعي قوانینو ،جمعي منل شوؤ ارزښونو ،جمعي پریکړو ،...او نورو ... ته هیڅ ارزش قایل نه دي ،نو ځکه مونږ ددوی ټول دغه اعمال چې د هیڅ ډول منطق سره سمون نلري بې بنیاده او ناسم ګڼلي شو .خدای غني دې او دا جهان یي غني پیدا کړي دي. په دې لوی جهان کې غذایي ،انرژیتیکي او نورې هر ډول زیرمې نه ختمیدونکي دي. ددوی حرص ،آز او تنګ نظري لپاره هیڅ منطق او دلیل وجود نلري. ددوی د حرص کندولي په هیڅ شي نشي ډ کید لې او ژوند د ټولو خوندونو



"لوی خدای، لوی علم، لوی جهان" سیاسي فلسفه

،ټولو ارزښونو د لذت ځخه د همیش لپاره بې برخې او د قانون او ټولنې له ویرې لکه شوپرک په ترګمۍ کې ژوند تیروي .
دوی ډیر مال او ډیري پیسي لري خو ارام ، مصئون او خوشبخته ژوند نلري. دوی له دي ځخه خوند اخلي چې یواځې دوی هرڅه ولري او بل څوک هیڅ ونلري ،ددوی د ګټو سیمي باید هرچیري مصئوني او سي ولو که د چا په شخصي کور ،فامیل ،مال او متاع پوري هم اړه ولري.

د وی په ناروا ژوند کول غواړي ،په ناروا ګټه کول غواړي ، په ناروا قوانین ، مقررات ،اصول ماتول غواړي ،په ناروا جنګ کوي ،په ناروا مناسبات ساتي او په ناروا خپلي غوښتني په نورو تحمیلوي. نن دغه بدبختۍ دافرادو ، کورنیو ، قومونو او هیوادونو په کچه لمن غوړولي او هغه ګړی به هم ډیره لیري نه وي چې دا لوی جهان پدغه لوی غضب اخته کړي خو ښه ده چې هر دجال لپاره مهدي او هر خدایي قانون شکن لپاره د قضاء د جبر څپیړه موجوده ده.

امریکا ځان دنړۍ د دموکراسۍ علمبردار مدعي هیواد ګڼي ،سره ددې چې هره دموکراسي پخپل ذات کې ډیر مقید او تنګاتنګ شکل د دیکتاتورۍ دې ،او تر ننني ورځې پورې نه قابل دویاړ کومه نمونه د دموکراسۍ څوک په ګوته کولې شي او نه یي په راتلونکې کې څوک وعده ورکولې شي. خو بیا هم په ځیني غربي هیوادونو کې ځانګړي غربي تیپ دموکراسۍ او یا په بل عبارت ځانګړیاشکال د دیکتاتورۍ وجود لري. راشۍ ددغه دموکراسۍ محیط ته ورننوځو او د هر چا د حق د تناسب له مخې ددغه دموکراسۍ په خصوصیاتو قضاوت وکړو.

د۲۰۰۸ کال د مارچ په نهمه نیټه د امریکا جمهور رئیس

(c) ketabton.com: The Digital Library



جورج ډبليو بوش دامريکا دکانګرس هغه مصوبه چې دملګرو ملتونو دبشر دحقوقو د کميسيون داعلاميي دپنځمې مادې « احدی را نميتوان تحت شکنجه يا مجازات يا رفتاری قرار داد که ظالمانه يا برخلاف انسانيت وشئون بشری يا موهن باشد » په پلوی يي تصويب کړې وه ويتو کړه. امريکا دموکراته ټولنه ده. دامريکا کانګرس دامريکا دخلکو له خوا منتخب ارګان او د امريکا په دموکراته ټولنه کې د قوانينو د تدوين او حراست مسئول ارګان ګڼل کيږي. پوښتنه پيدا کړي. ولې او په کوم دليل دغه مصوبه ويتو شوه ؟ نړي دا قليم دتودوخي دستر خطر سره مخامخ ده.نړيوال غواړي هغه کنترول او تنظيم کړي. د ټولي نړۍ د ٪۵۵ څخه زيات کاربن داي اکسايد غاذات امريکا توليدوي. دغه غاذات برعلاوه له دي چې دتودوخي د کچې د لوړوالي علت ګرځي ، دبط شميره مرضونو سبب هم کيږي . امريکا ددي لپاره چې ډيرې ګټې يي کمې نشي ، ددغه نړيوالې عظيمې ايکالوجيکي معضلې حل ته غاړه نه ږدي. نړيوال همداسې غواړي دوګړو ضد دسوؤنو ميليونو ماينونو معضلې ته چې په ځمکو کې ښخ دي دپای ټکې کښيږدي او نور توليد يي بند کړي.خو داهم امريکا نه

غواړي. د ګوانتانامو ،ابو غريب ،بګرام ،قندهارا وپه کابل کې کورپه کور ،اروپا او ټوله نړۍ کې د شخصي زندانونو موجوديت او يا دنړۍ په ګوټ ګوټ کې د شخصي زياتو ګټو په خاطر نظامي حضورلرل او بې شميره ډير نور مسا يل هم ددموکراسۍ سره څه سمون نلري.

دوه ورځې دمخه پوره ديرش کاله له هغه ورځې څخه تيرشول چې افغانان دنړيوالو دجفا سره مخامخ دي او پوره شپاړس کاله





پرون پوره شول چې افغانان د افغاني مجاهدينو دجفا معرض ګرځيدلي او ورسره مخامخ دي.نژدې شپږ کاله پوره کيږي چې نړيوال قوتونه په افغانستان کې د امنيت ذمه واردي . خو دثور دمياشتي په اتمه د « مجاهدينو » دجشن په ورځ چې مليونونه ډالر ، پداسې حال کې چې افغانان له لوږي وابنه خوري ،په امنيت او فيشن اودرشن مصرف شوي ليکن مخالفين دجمهور رئيس تر لوژ پورې ځانونه رسوي،هرڅوک چې يي په زړه وؤ په نخښه کوي اووژني يي ،خو دخدای په فضل امنيتي مسئولين چارغاوک کرده ځانونه مصئونو ځايونو ته رسوي «خداي دي زمونږ له سره نه کموي» . د۲۰۰۸کال داپريل په څلورمه نيټه دبخارست په کنفرانس کې وويل شول چې افغانستان سره تراوسه ۳۵مليارده دالر مرسته شوې ده او راتلونکي کنفرانس چې په نژدې راتلونکې کې به په فرانسه کې جوړيږي ۴۱ملياردة ډالر نوره مرسته وشي. دافغانستان دماليي وزير دافغانستان دملي ستراتيژۍ دتطبيق په خاطر ۵۰ ملياردة ډالر نور دنړيوالي ټولنې څخه غوښتي دي اودا ټولې پيسي تر نن ورځې پورې يواځې په امنيت مصرف شوي او په راتلونکې کې به هم مصرفيږي. «شکردي چې امنيت خو دقناعت وړدي او زمونږ امنيتي رهبران هم دتروريستانو او پارلمان دضربې څخه بچ شول» . دالړۍ لا ختمه نده او هر يو دخپلي اشتها او ذوق له مخې دو بالاي يو په بل پسې لوړوي « چې هيڅ نه وي بيا هم يو څه شخصي جيب ته راپريوؤځي» . کله چې د امنيت مسئولين پخپله عاملين دبې اميتۍ وي شک نشته چې همدغه امنيت به دافغان اولس سر وخوري !د تعجب خبره داده چې دثور داتمې پيښې وروسته په دوه دري ورځو کې د خدای بلا اسلحه

(c) ketabton.com: The Digital Library



،دخدای بلا مخدره مواد ، دخدای بلا جاسوسان ،دخدای بلا باندونه... دستګیر او له منځه یوړل شول. که پدي ډول چاري پرمخ ولاړې شي القاعده ،تروریستان او وسله وال مخالفین به یو هم پاتي نشي ایله بهدا بیچاره ګان دخوبونو پوره کولو لپاره پوره فرصت پیدا کړي. کاشکې دوی د پیښنو مخنیوې مخکې له وقوع څخه کولې.

ددي لپاره چې بحث ډیر اوږد نشي ،باید ووایم چې د بشر د پیدا ایښت له لومړۍ ورځې څخه تل ناسالم او نالایق قوتونه د خپل ناروا او شیطاني خصلت له مخې همیشه د قاطع صالح اکثریت په اوږو لکه پارازیت ځته شوي ،ټول تیوریکي ،نظریاتي ،ایدیولوژیکي ،اداري ، حقوقي ،قانوني او نور ټول امکانات یي تحریف او مسخ کړي او په سوچه ناروا سره یي په خپله ګټه په کار اچولي. تل یي په ناروا سره تور تبلیغات کړي او د د ښمنیو اور ته یي لمن وهلې. ددین ،مذهب، ایدیو لوژۍ ، ... او نورو هر ډول مقدسو انساني، اولسي احساساتو او شعارونو څخه یي عوامفریبانه سوء استفاده کړې او په خپله ګټه یي مقدس اید یالونه او افقونه مسخ او په غلطه تعریف کړي او ددوستۍ د شعار لاندي یي دښمنۍ ،د سولي د شعار لاندي یي جنګ ،دابادۍ د شعار لاندي یي تخریب او نورو ټولو سالمو ارزښونو تحریف ته ترجیح ورکړې ،صالح اولس یي ګروګان نیولې ،دهغوۍ له جملې څخه یي خاین ،بیګانه پرست ،ایجنټ ،جاسوس او نورې هر ډول پلیتي ځیرې استخدام کړي ، خپلي ګټي یي په ناروا محفوظي ساتلي او دغه ډول پلیت سیستم یي په جبر د نړۍ په ټولو اولسونو تپلې دي خو دغه ډول کسان به پخوا حد اقل په خپله ګناه معترف او یو څه شرم حضور به یي





درلود او د اولس په وړاندې د خپلو قوارو د څرګندولو څخه به یي عار درلود ، دګونګیانو او خفاشانو غوندې به په غارونو کي پټ وؤ او یواځې د ماښام په ترګمۍ او د شپي په چپتیا کې به یي خپلو ناوړه اعمالو ته دوام ورکولې شو. لیکن نن د مملکت دلومړي کسانو ،د پارلمان دغړو ،وزیرانو او لوړو مسولینو په کچه د پارلمان او جمعي رسنیو په وړاندي په پوره سپین سترګتوب افتخار امیزه پردیو ته په خپله جاسوسۍ اعترافونه کوي. د ۲۰۰۱ د سپتمبرله یوولسمې د تروریزم سره د مبارزې د نامفهوم شعار لاندې دوۍ په ګرځنده مصئونو أسپنیزه کورونو کې ګرځي ،خو بې دفاع اولس لپاره یي د مرګ قاصدان په هر مکان او هرزمان کي هر ځای درولي دي.

په افغانستان کې داخلي او خارجي مافیا په تباني او مشترکه مساعي سره د دغه ډول یوه پلیت نظام برقرارول او د ټولو سالمو ارزښونو بې ارزښه کول غواړي. د دوۍ تجاهل العارفانه تظاهر او اکټونه چې ګوندي د امنیت د تأمین ، دفساد ، رشوت ،قاچاق ، اختلاص او مخدره موادو د مخنیوي څخه عاجز دي او ډیر معصومانه تظاهر کوي ، بې چاره افغان اولس خو باید هم پري باور وکړي. «ملي متحده جبه»او یا نوري نامتجانسي ډلې هم په ګردن پتۍ یو ځل بیا د اخري چانس او موقع غوښتنه کوي چې که د خپلو متولیانو د خوش خدمتۍ فرصت ترلاسه کړي. تا سي چې فرصت درلود دغه وخت په کړو پښیمانه نه یاست ؟ که تاسي غواړۍ د تیرو کړو د کفارو دین اداکړۍ نو اوس خو هم ټول قدرت او سرمایه ستاسي په لاس کې ده. خو نن ملي وطنپرسته روڼ آندي لا څه چې ټول افغان اولس پوهیدلې چې داخلي او خارجي مافیا د

(c) ketabton.com: The Digital Library



زړې ستراتیژۍ او پخوانۍ لوبې عملي کول غواړي.ښه به داوي دغه بې ځایه او ناروا ازمېښتونو ته دپای ټکې کښیښودل شي. نن په حقه سره هغه وخت رارسیدلې دې ،دغه نظام چې په سر ولاړ دې په پښو ودریږي او هر څه د عامه ښیګڼو په مجراً او مسیر کې پریوځي !!!

د بشر دژوند د ونې ثمره وروسته له دې باید مړغوني او مارکونډۍ نه اوسي !





# راشۍ ! چې همدا وړۍ شړۍ شي !

دعلم او تخنیک دپرمختګ او دګلوبالیزم دنړیوال تسخیر په نتیجه کې دنړیوال، منطقوي او محلي سیاستونو تر منځ توپیر له منځه تللی، زماني او مکاني فاکتورونو خپل مؤثریت او عطالت له لاسه ورکړې، هره سیاسي لوبه هر وخت په هر جغرافیایي وضع الجیش کې واقع کیدلی او لوی نظامي او اقتصادي طاقتونه دنړۍ په ټولو اکنافو کې همزمان حضور، تاثیر او مؤثیرت لرلې شي. سیاستونه بوقلموني شوي هم دي او خپلې قوارې او بڼې ته په لحظوي ډول تغیر ورکوي او ددوست یا دښمن په بڼه ځان ځرګندوي .دې وضعې سیاستونه په بین المللي او محلي ټولو ابعادو کې شکننده اود ستر بحران سره مخامخ کړي، جنګونو پرمانښت او مستمر حالت غوره کړې او په مطبوعاتو او امکاناتو باندې دتورو ناسالمه قوتونو په خېټه اچولو سره دغه وضعې سل او زر چنده دینامیزم پیدا کړیدې. تروریزم بله هغه توره بلا ده چې هر چا ته یې دمرګ قاصد په هره لحظه او هر مکان کې نیغ درولې او په حقه سره نړیوالو لپاره موجوده وضعه نوره دتحمل وړ نده. داد قاطع اکثریت په مقابل

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې د قاطع تور اقلیت د کرکې او وحشت ډرامه ده چې غواړي یوائې ځان لپاره د ژوند کولو حق قایل او نور د دوی په اصطلاح کم اصله نسلونه په نابودۍ محکوم کړي. پدې نړۍ کې ټولې حیاتي او انرژیتیکې زیرمې نه خلاصیدونکې دي او د شلمې پیړۍ علمي ــ تخنیکي پرمختګ ټول امکانات بشرته په لاس ورکړي چې د هغې څخه سالمه او د ټولو په ګټه کافي استفاده وکړي. یوائې پکار دي نړیوال نظام او مناسبات چې په نه پخلاکیدونکي انتاګونیستي (دښمنانه)، آزمندانه سود جویي او چوروچپاول په بنیاد ولاړ دي او بشري ډیر شتمنۍ په کې بې ځایه مصرفیږي او قواء او وسایط په کې عبث په فعالیت بخت دي، د خلکو ترمنځ د صداقت، تعاون او ریښتنولۍ په بنیاد ودرول شي. په یوویشتمې پیړۍ کې د معقول او متمدن انسان لپاره بل ډول ژوند نور ممکن نه دي او نه به ورته ضرورت موجود وي ځکه دروغ ویل، غلا کول او خلک غولول به نور ممکن نه وي. پیسې خپل فزیکي موجودیت ډیر زر له لاسه ورکوي، موجوده پیسي هیڅکله حقیقي ارزش نه وؤ او وروسته لدی هم هیڅکله ارزش نشي ګڼل کیدې. ځکه د غه پیسې د انسان د لاس د زیار محصول نه دې، دا ټولې د سرمایي د غیر قانوني صدور او سوء استفادې توري پیسې دي چې د بې وزله، بې ګناه انسانانو ملکیتونه پرې غصب او ژوندیې پرې له منځه وړل شوې دې. لازم دي مورالاً د غه حقیقت او واقعیت ومنو او غاړه ورته کښیږدو، مخکې له دې چې تاریخي جبر او ټولنیز شعوري فکري دینامیزم مونږ د هغې منلو ته مجبور او اړباسي. نوي انکشافات حکم کوي چې زاړه او انتاګونیستي (دښمنانه) نړیوال مناسبات باید رنګ شي ځکه



"لوی خدای، لوی علم، لوی جهان" سیاسي فلسفه

چې نوي مناسبات پد غه زاړه ترنګړ کې نه ځائیږي .کیدې شي ځینې کسان وروسته له دې هم احمقانه فکر وکړي او احمقان پاتې شي .لیکن بشریت او د سالم عقل او نظر خاوندان نور احمقان نشي پاتې کیدلې. د خلکو زور همغه تاریخي جبر دې او جبر همیشه نازولې دې .بدلیدلې نشي، منل یې حتمي دي. د خلکو زور د خدای زور دې. افغانی سیاست د تاریخ په اوږدو کې ندرتاً مستقله بڼه درلودلې. په نورو وختونو کې یا د بې سیاسته سیاست او یا د پردي سیاست په بڼه پاتې شوې دې. سیاست تاریخي او ټولنیزه پدیده ده. تاریخي پدې معنا چې سیاست همیشه مشخص دې او انتزاعیت نه مني. ورځنې سروکار یې د ورځنې مسایلو سره وي او باید د خلکو ورځنې عاجل پرابلمونه حل او ورته مقنع او مثبت ځواب ووایي. د نامعلوم سبا یا د قیامت د ورځې وعدې ورکول او محاسبه د انسان کار ندې. د قیامت د ورځې قاضي خدای "ج" دې. ټولنیز پدې معنا چې د سیاست کړه وړه د اولسي او وطني مسایلو، غوښتنو، ګټې او تاوان سره نه شلیدونکې کلک تړلی اړیکي لري او یو تربله سره لازم و ملزوم دي .لازم دي اولسې پرګنې د خپل ټولنیز ارمان د ترلاسه کولو په خاطر راوپښښي، تنظیم او د عمل په ډګر کې د ستراتیژیک هدف په لور رهبري شي . د شخصي او تنګظرانه ګروپي سیاستونو غږ پورته کول او په هغې وخت ضایع کول پوچه ډرامه او یوائې د شخصي ګټو په خاطر ډیره ناولې هڅه ده. سیاست د یوه هیواد خپله وطني او ولسي مسئله ده. خارجي سیاست د نورو هیوادونو د اولسونو سره د بین المللي منل شویو تعهداتو له مخې د یوه هیواد د اولس سیاسي لوبې معاملې ته ویل کیدې شي. پردې سیاست،

(c) ketabton.com: The Digital Library



فردي سیاست یعنې بې سیاسته سیاست، په یوه هیواد کې سیاسي تشه او خلا او په هیواد کې د سیاسي نظام عدم موجودیت. هیڅوک دبل چا په ګټه نه سیاست کوي او نه کار. هر چاته خپله ګټه منلې او خوږه ده. پردو ملکونو ته هر څوک دډېرې او بې قیدو شرطه ګټې په خاطر ځي او خپل سیاستونه عملي کول غواړي. خارجي سیاستونه، معاملې او لوبې دنړیوال ګلوبالیزم په شرائطو کې نه یواځې منفي بلکه ډېر ضروري عمل او دود او دستور دې .خو ددې کار لپاره ملي پیوستون، ملي تفاهم او ملي ګټو ته وفاداري لازمیاو اساسي شرط ګڼل کیږي .خو له بده مرغه افغانانو چې پورتني درې واړه کیفیته او ارزشونه دتیرو پنځه ویشتو کلنو جنګونو په موده کې له لاسه ورکړي او ځای یي بیګانه پرستۍ نیولې، ویي نکړی شول حتا دبن دکنفرانس څخه په را وروسته نسبي مساعدو شرایطو کې هم یو ملي سیاسي ټولنیز نظام جوړ کړي. نن په افغانستان کې دملګرو ملتونو او امریکې په مشرۍ بین المللي نظامي او غیر نظامي قوتونه او ارګانونه موجود دې .افغانستان دبین المللي سیاسي لوبې ډګر ګرځیدلې دې او افغاني مسئله او سیاست بین المللي شوي دې. پکار دادي چې افغانان دهغې په مقابل کې پخپل سیاسي او ټولنیز فکري تړون او پیوستون سره په واحد ملي سنګر کې راټول او دخپلو ګټو ددفاع په خاطر دمقابل لوري سره سیاله ملي لوبه وکړي او نننې یواځینې چانس له لاسه ورنکړی.یمونږ نن واقعاً ملي وطنپرسته ملا او قاضی، سیاست مدار، عالم ، طبیب، تجار، انجینر، داکتر، ادیب ، دهقان او نورو ته شدیداً ضرورت لرو . ایا افغان متهور او مفکر ملي متخصص لپاره به دشرم ځای نه



"لوی خدای، لوی علم، لوی جهان" سیاسي فلسفه

وي چې د خپل سیال متخصص په مقابل کې په بې وسۍ سر ټیټوي او خپل وطني او ولسي دین نه ادا کوي؟ په افغانستان کې دبین المللي قوتونو په موجودیت کې اساسي قانون او نور صنفي او قشري قوانین جوړ او تصویب، پارلمان، جمهور رئیس او محلي ارګانونه انتخاب او هر اړخیزه ټولنیز بشري حقوقي سازمانونه او ارګانونه جوړ شویدي. ممکنه نده دغه ډول پراخه هر اړخیزه ټولنیز نظام او ژوند دکوم چا دشخصي او کوچني ډلئیز ذهنیت او مناسباتو په ورشو کې محصور پاتې وساتل شي. یواځې پراخه پرګنیز سیاست او ذهنیت ددغه ډول ټولنیز هر اړخیز طرز دژوند دهضم حوصله لرلې او باریي پورته کولې شي .په نتیجه کې حق لرو ووایو چې موجوده دکوچنۍ ډلې نماینده حکومت چې ډیر کسان یې دبشري حقوقو په نقض، جنګي جنایتونو، ملي خیانتونو، اداري فساد او رشوت اخیستنې متهم دي، په اوسنۍ بحراني وضعه کې هیڅکله ددومره لوی تاریخي مسؤلیت دلرلو جوګه ندي. په کار ندي محترم جمهور رئیس حامد کرزې دعامل او حاکم شخص او دافغانانو دمراجعې او لازم تصمیم نیولو اچت مقام په حیث دنورو خود غرضه کسانو په څیر داپوزیسیون موقف غوره او شکایت وکړي. عامل ارګانونه یواځې معقول تصمیم نیسي او اجرات کوي. دافغانستان سیاست او دولت داري دهر ډول تبعیض پرته دقانون له مخې دټولو افغانانو یو شان حق دې. محترم جمهور رئیس دې دمسئول مقام او شخص په حیث دغه حق هغوی ته وسپاري او متقابلاً دې خلک خپل وطني دین او رسالت ادا کړي. ملي وطنپرسته مشران، روشنفکران دپارلمان غړی او داخلي او خارجي دموکرات قوتونه پرته له شکه پدغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډول تاریخي جرئت او رسالت سره حتماً دښاغلی جمهور رئیس حامد کرزي ملاتړي دي .بله عمده او ډیره مهمه مسئله داده، کله چې دولتي مامورین په اداري فساد، اختلاس او داسې نورو جرمونو متهم او پخپله عالیرتبه مسئول مقامات او دافغانستان په موجوده شرایطو کې ټول خارجي نماینده ګان او اداري مسئولین هم پرې اعتراف کوي، او په تیرو څلورو کلونو کې چې نژدې ۱۵ ملیارده ډالره دنړیوالو لخوا دافغانستان سره مرستې شویدي او ددغه ټولې مجموعې سرنوشت هم نامعلوم او دهر چا دنیوکې لاندې دي. ددې ټولو خبرو سره سره د ۲۰۰۶ کال دجنوري په میاشت کې نړیوال بانک هم اعلان وکړ، حاضردې چې افغانستان ته قرضې ورکړي او دلندن په کنفرانس کې چې نژدې د ۶۰ هیوادونو نماینده ګانو پکې ګډون کړې وو هم دډیرو ټولو مرستو وعدې ورکړې شوې، پداسې شرایطو کې اساسي پوښتنه داده چې خارجي دولتونه او نماینده ګی چاته، دچا په تضمین دکوم هدف په خاطر مرستې او قرضې ورکوي؟ او په راتلونکې کې به ددغه تجاهل العارفانه اجرأتو مسئولیت دچا په غاړه پریووځي؟ او دافغانستان ددولت لوړ پوړي چارواکي بیا هم دغه مرستې او قرضې په کوم مسؤلیت، تضمین، منطق او جرئت سره قبلولې شي؟ دا موضوع دټولو جوانبو لپاره دډیر تأمل وړده !!! دسیاست استادان، دولتي مسئولین دې هم وروسته لدې ددغه ډول بې بنیاده او بې سرنوشته قرضو او مرستو، دافغاني ټولنې دتاریخ، عنعناتو او پسیکولوژۍ په خلاف دامنیت په خاطر دنورو او نورو خارجي عسکرو د راغوښتلو لپاره بی بنیاده توجیهات او دلایل نه برابروي، نه دې نور دا ډول بط بنیاده او بې سیاسته سیاستونه





تبلیغوي او نه دې نور دا ډول تاریخي مسؤلیتونه په غاړه اخلي. بلکه دموجوده عیني واقعیتونو له مخې دې دداخلي او خارجي اړخونو سره په ګډ تفاهم کې په افغانستان کې دسولی دتأمین او دقانونمند دولت دجوړیدو او ټینګیدو په خاطر هلې ځلې وشي .ځکه چې له بده مرغه په یواځې ځان مونږ ددغه کار جوګه نه یو .هیڅ ډول خارجي نظامي قوت په بل ملک او په خاصه توګه په افغانستان کې امنیت نشي تامینولې .حتا د هر هیواد خپله نظامي اردو ددغه رسالت څخه عاجزه ده. په هر هیواد کې دامنیت دتامین معیار، محک او جوګه یواځې او یواځې دهمغه هیواد خلک او اولس دېچې صادقانه دغه مسئولیت په غاړه واخلي او بس.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دکابل ښار بې مفهومه پراختیا باید د ۲۱ پیړۍ په ایکالوجیکي فاجعه بدله نشي !!!




دې کې شک نشته چې ډیر لوی او مشهور ښارونه به د خوارو دهقاني جونګړو، ډیرې لویي فابریکي به د آهنګرۍ د کارګاه او ډیرلوی تجارتي مارکیټونه به دکوم کوچني دکان په بناء کا ملاګ بې پلانه پراختیا موندلي او دوخت د شرایطویو نواخت پرمختګ مطابق به ددې فرصت پیدا شوې اوسي چې ټولنیز ژوند، ښاري جوړښت او مادي زیرمې یو تر بله په





متقابل تناسب ، هار مونیزم او ارګانیک انکشاف کې سره ډډه ولګولې شي. ځکه هغه وخت نه د نن‌ني ګلوبالیزم په کچه عظیم تولیدات، نه بې شمیره نقلیه وسایط، نه د غښو د ځالې غونډې د ښاري سرکونو، آبرسانۍ، برق، مخابرې، کانالیزاسیون او ډیرې نورې شبکې موجودې وې. نه په ملیونو انسانان جبري او میخانیکي مهاجرتونو ته اړ ایستل کیدل، نه دولتونه د خلکو لپاره د صحي اوبو، کار، تفریح اونورو ډیرو ټولنیزو خدماتو په کولو مجبور وؤ. هرچا د نژدې ډنډ، جوړ، ویالی، خوړ او سیند څخه په لپه اوبه څښلې او هر جوی شیر بلاتشبه د جنت ویاله وه. نه دورځې درې وارې لمبل او جامې بدلول وؤ او د کړوسی څخه تر غورنیکه پورې په یوې جونګړې کې اوسیدل، نه نیتونه بد وؤ ،نه ګلوبال حرص او نه ګلوبال پرابلمونه .

هو ! بشري ژوند په لسګونو زره کاله په همدې ډول دوام درلود ،ګومان کیده چې هیڅ ډول پرابلم به نه رامنځته کیږي. لیکن حقیقت داسی نه وؤ. د پخوانیو بې پلانه ښاري انکشافاتو په نتیجه کې ډیر پر مختللي هیوادونه نن د ټولو امکاناتو سره سره د ډیرو لاینحله پرابلمونو سره مخامخ دي. د افغانستان دولت او خلک هم د هیواد، اولس او ښار د سیاسي، اقتصادي او ټولنیز ژوندله را تلونکي څخه ډیر غافله نه وؤ او د خپل سولئیز ژوند او کار په خاطر یې یو تر بله سره مساعي او همکاري لرله. په نړیوالو جنګونو کې بې طرفه پاتې کیدل اد دنړیوال ساړه جنګ په مرحله کې د عدم انسلاک لاره غوره کول د دولت او خلکو د معقول تفاهم او مساعي نیکه نتیجه ګڼل کیږي. ښاري ژوند او ښاري پرابلمونه هم دهغوی له

(c) ketabton.com: The Digital Library




نظره پټ نه وؤ او دهغې د سمون لپاره هلې ځلې کیدلې. د مرحوم محمد داؤد خان په ابتکار او داخلي او خارجي متخصصینو په زیار، کابل لپاره پنځه ویشت کلن ماستر پلان طرح او تدوین، چې دیوه متمدن ښار په حیث د ښاریانو ژوند، کار، تفریح، سپورت، تحصیل، عبادت، صحی خدماتو او نورد ژوند ټول ضرورتونه په علمی سنجش، پوره د قت او تناسب سره د ښاری خود سریو د مخنیوي په منظور په نظرکې نیول شوي وؤ. اوبه د ښاري ژوند د ټولو ضرورتونو او سهولتونو د اساسي عنصر او فاکتور په حیث د مسئولینو د توجه په محراق کې قرار درلود او دهغې دزیرمو د زیاتولو په خاطر د فوائد عامې وزارت د آبرسانی ریاست د خارجی او داخلی متخصصینو او کارمندانو لخوا اخیړني او دذخیرو د عملي ایجاد چارې روانی وې او ځرګند نتایج یې ترلاسه کړی وؤ. نو موړې زیرمې په لاندې ډول تثبیت او محاسبه شوې وې:

- دلوګرد سیند په مسیر کې د ځاګانو د کیندلو پواسطه د ځمکې لاندې اوبو د سطحې لوړول؛
- د پغمان ددرې د ځمکې د سر او ځمکې لاندې اوبو څخه اعظمي استفاده کول؛
- د قرغی د بند او راښکته ساحې له اوبو څخه ګټه اخستیل.
- د بند غازي د اوبو د سطحې لوړول؛
- په تنګی سیدان کې د اوبو د ذخیرې په مقصد د بند جوړول؛
- د اخیري امکان په حیث د هلمند د سیند معاونین د تونل پواسطه د کابل لورته را ګرځول.





د پورتنیو منابعو پکار اچولو څخه ممکنه وه یواځې 16 متره مکعبه في ثانیه اوبه لاس ته راشي چې له هغې جملې څخه 7 متر مکعبه في ثانیه د څښلو او 9 مترمکعبه في ثانیه د ښاري سرسبزۍ او یواځې د ښاری سپک صنعت د پراختیا لپاره کفایت کاوه او دهغې له مخې د کابل په ښارکې کولې شول یواځې 2.5 ملیونه نفوس ژوند وکړي. نه له هغې څخه زیات! حال دا چې د کابل د نفوسو شمیره نن پنځه میلونو ته نژدې کیږي چې دا پخپله شروع د فاجعې د. که چیرته د ماستر پلان ساحه پدې ډول چې کلتوري، تفریحي، تجارتي ساحې، پارکونه اونور په داسې غیر مسئولانه شکل او لیونتوب سره په رهایشي ساحو بدلې شي،



د استوګنو شمیره به ترلسو ملیونو اود ماستر پلان څخه خارج ساحو په آبادیدو چې نن په نخښنه شویدي او یا به سبا په نخښنه کیږي، اود
استوګنو په کورونو بدل شي، د استوګنو شمیر به دوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چنده نوره هم لوړ یعنی 20 میلونو ته به ورسیږي. دا به د کابل مرګ او دفاجعې انجام وي . پکار داوؤچې د چارو مسئولینو هر یوه په خپل وخت د کابل ښار پنځه ویشت کلن پلان ته د حقوقي، قانوني منظور شوي علمی سند او انستیتوت په حیث په مراجعه او ټینګی پاملرنې سره خپل رسالت او وظیفوي دین سرته رسولې وي او دنن په څیر د کابل ښاریانو سرنوشت یې د حتمي خطر د ګړنګ په څنډه نه وې درولې !!!

د ثور د اوومی نیټې د سیاسي بدلون څخه وروسته د کابل ښار پنځه ویشت کلن ماستر پلان پخپل ټول حقوقي او قانوني اعتبار زموږ د جدي توجه وړ او دا توجه هغه وخت لاپسې زیاته شوه چې کله ما دبلغاریي پایتخت صوفیي د ښار په بین المللی کنفرانس کې ګډون وکړ او د ښاري پرابلمونو د ټولو اړخونو سره اشناشوم. موږ دا خپل شعار وټاکه ((د کابل په ښارکې یوه خښته هم بې پلانه کښینښودل شي)) موږ هڅه شروع کړه د کابل ماستر پلان ته حقوقي او قانوني اعتبار ورکړو ځکه نو موړی پلان د مسئول مقام لخوا نه وؤ منظور شوی . موږ د همغه داخلي او خارجي متخصصینو په مرسته ماستر پلان تر غور لاندې ونیوه ،نیمګړتیاوې مو تکمیل ، د مربوطه مقام منظوري موتر لاسه او ټولو هیوادوالو ته مو د علمي سنجول شوي حقوقي قانوني سند په حیث د ټولو رسنیو له لارې اعلان کړ. د کابل ښار ماستر پلان زموږ ستراتیژي وه ، زموږ قانوني حقوقي اعتبار او زموږ دراتلونکي فعالیت او کار قانونمند رهنمود وؤ.

زموږ مشکلترین کار د کابل په ښارکې د یواځینې مالک





په حیث د کابل ښاروالی د قانوني حقوقي هویت څخه دفاع کول وؤ. واقعاً کابل ښاروالي د ښار مالکه نه وه ، کابل ښاروالي عامل ارګان نه وؤ بلکه دیوه طفیلي ارګان په حیث یې د کورنیو چارو وزارت لپاره د شپږ مې ګوتې حیثیت درلود. هروزارت ،مؤسسې او ارګان په ښارکې دکانونه ، مارکیټونه ،ساحې او آزاد تجارت درلود او ښاروالي د هغوی لپاره افتخاري خدایي خدمت ګذاره وه. ښاروالي د ګوتو په شمار زاړه روسي دمترکه درلودل چې یواځې خپل ځان یې وړلې شو او عواید یې په ټول عمر کې یواځې یوکرت -۲۰۰- ملیونو افغانیو ته رسیدلي وؤ چې د ښار د پاکۍ او صفایي له عهدې څخه نشو وتلې. موږ دښار د مالک په حیث د ښاروالۍ استقلال اعلان کړ. او ټول مقامات مو دیته اړ ایستل چې زموږ استقلال په رسمیت وپیژني. زموږ نږدې هدف د موقتي پروژو او اقداماتو له لارې د ښاروالۍ د ضروري خدماتو لپاره د پیسو پیدا کول وؤ. وروسته له دې موږ د دولتي مؤسساتو کارونه یواځې د پیسو په بدل کې اجراکول. موږ موقتي پروژې لکه مارکیټونه او کابل ښار ته د موادو د تګ او راتګ د کنترول په خاطر په څلور و خوا وؤکې د کاروانسرایونو په نامه ځایونه تعین کړل او دیوه مسلخ د آبادولو تصمیم مووینوه ، موږ پخوانۍ دوسیې تصفیه او باقیدارۍ مو حصول کړې او پدې کارکې مو د هیڅ مراعات نه کاوه او د هیڅ مقام فوق العاده امرونه مو نه منل. موږ نا ثبت شوي اماکن ثبت او ددې ټولو اقداماتو له لارې مو ډیر عواید ترلاسه او یواځې دولت مو 700 میلونه افغانۍ قرضداري شو چې د -250- میلونو افغانیو په بدل کې موترې د ولایاتو د ښاروالیو د ریاست نوي وسایط

(c) ketabton.com: The Digital Library



واخستل او همداسې د انگلستان سره د فواید عامې وزارت د قیر قرارداد چې هغوی فسخ کړې وؤ ترلاسه او ښاروالي له هر اړخه په پښو ودریده او په عامل ، باصلاحیته فعال ارگان بدله شوه. مونږ د غیر مترقبه حوادثو ظهور په وخت کې د شپه او ورځ د اماده ټیم د لرلو په خاطر -90- فامیلی او د مجردینو لپاره کوچنۍ پروژه جوړه کړه . مونږ ټول پخواني داخلی او خارجي قرضونه خلاص او د ځوانو داخلي انجینرانو او خارجي مشاورینو په مرسته مو د ماستر پلان مطابق د خوشحال مینې دری واړه قسمتونو ،دویم او دریم پروان ، خیرخانې مینې ، کلوله پشته ، تایمنی ، وزیرآباد ، قلعه فتح الله ، رحمان مینه، کارته نو او دښارد مرکز د سیما بدلولو په خاطر تفصیلي پلانونه جوړ، د ځمکو په استملاک ، د ساحو په تثبیت ، د سرکونو په نښه کولو . جغل آندازي او ښاري سرویس رو سرکونو د قیرکولو کار عملاً پیل شو.او ټول سرکونه مو جغل اندازی او اساسی او سرویس رو سرکونه مو قیر کړل. دولت یو پول هم له مونږ سره کمک ونه کړ. مونږ ملي تجار د یوې غونډې په ترځ کې دیته وهڅول چې د کابل سیند دواړه خواوې تجارتي سیمې واخلې او هر څه عاجل دغه سیمي په ښکلې مهندسۍ او کیفیت سره آبادې شي . ډیرې نمرې په همدغه غونډه کې تجارانو ته توزیع او ددغه سیمې د مهندسي او انجینري نقشو برابرول کابل ښاروالۍ په غاړه واخستل او حتا اکثرو تجارانو خپل تعمیراتي مواد هم را رسولي وؤ، خود روسانو په یرغل سره ټولو پلانونو تغیر وموند .

مونږ په کمه موده کې د ځوانو متعهدو انجینرانو، اداري هیئت او کارکنانو په خستگي ناپذیره کار او فعالیت چې شپه





او ورځ به یې کار کاوه خو اضافه کاري به یې نه اخستله ، تحسین نامې اخستلو ته به نه حاضریدل وکولای شول -9000- رهایشي او تجارتي نمرې محترمو ښاریانو او هیوادوالو ته توزیع کړو. یواځې مسلکي کسان پدې پوهیدلې شي چې په نوې پروژه کې د استوگنې د نمرو، سرکونو ،پارکونو ،کلتوري مرکزونو ،مسجدونو ، تجارتي ساحو او نورو دقیق په نخښه کول او د په مختلفو پروژو د ښاروالۍ د هغه په امکاناتو سره د ټولو سرکونو جوړول ، جغل اندازي کول ، قیر ریزي کول، ټوله ساحه استملاک کول او ۹۰۰۰ نمرې توزیع ته اماده کول او د یوه کال په موده کې دغه ټولې چارې سرته رسول او ۹۰۰۰ نمرې توزیع کول ،رښتیا هم څومره عظیم او ناشونی کارگټل کیږي. زه د ښاوالۍ ټولو منسوبینو په وړاندی چې هغه وخت یې دغه عظیم خدمت او رسالت سرته رسولې او په پاکۍ یې سرته رسولې په احترام سرټیټوم او کوروداني ورته وایم.

مونږ غوښتل ښاري تجارت ، ښاري صنعت او ښاري ترافیک پخپل لاس کې ونیسو حد اقل په هره ناحیه کې د میوې او ترکارۍ لوی اساسي مارکیت ، چې په پاکو اوبو سره د میوې او ترکارۍ د پرېمیځلو امکانات ولري، تیپیک نانوایي، تیپیک قصابي او داسې نورد خرڅلاو ځایونه د نمونې په توگه جوړ او په ټول ښار کې عمومیت ورکړو او ښاروالي په فعال او دخلکو په خدمتگار ارگان بدل کړو.

تریخ واقعیت دا دې چې په 1357 او خصوصاً د روسانو د نظامي یرغل څخه وروسته د افغاني ټولنې د مختلفو قشرونو په غیر مسؤلانه او غیر وطنپرستانه اعمالو او کړو وړو سره د افغاني ټولنې عنعنوي جوړښت رنگ او د هر غیر او غماز د

(c) ketabton.com: The Digital Library



مداخلې لاسونه افغانستان ته را وغزیدل، د وطنپرستۍ خبرې پدغه خارجي بادارانو ډیرې بدې لګیدلې، دوی په حقیقت کې خپلې نژدې د یوې پیړۍ تجربې ټکي په ټکي په ډیر کور کورانه شکل عملي کول غوښتل. د وطنپرستۍ ټغر له هیواد څخه ټول شو ځکه بیګانه پرستانو او فرصت طلبانو دد غه موقع څخه په استفاده په ټولنه حاکم اود ټولو چارو مجریان وګرځیدل. دې وضعې سل وارې لوی ضریت پیدا کړ کله چې په 1992 کې د افغانانو بې شمیره ډلې د کوم بنیادي پلان او پروګرام پرته د پیسو د بې حسابه ذخیرو سره لکه پردي دچوراو د غنیمت په خاطر د ذات البیني تضادونو سره په کابل هجوم راوړ. کابل چې پخپل تاریخی برم سره په منطقه کې د هر بدنیته د سترګو اغزې وؤ او هیچا د خپل حسادت اور پخپله سینه کې پټ نشو ساتلې خپلو او پردو یوشان د مسابقې په شکل بر ملا په چیغو او هلهلو سره بیګناه افغانان مړه او کابل یې وسیزه او رنګ کړ. پنځه ویشت کاله لا علاجه غمیزي په هیواد توره لمن غوړولې اولا دوام لري. د ۲۰۰۱ م کال د سپتمبر د یوولسمې وروسته ،کله چې دټولې نړۍ« مترقي »او«عدالت پسنده » قوتونه بې ویزي او بې پاسپورته په افغانستان را ننوتل ، د فرصت طلبانو او بېګانه پرستانو د بېګانه پرستۍ او افغان دښمنۍ تر زرو هم لوړاو نن ددې توري لمن لاندې هیڅ ډول قانون او ارزش وجود او حاکمیت نهنه لي اونه دي دویلو هغه څه چې چا لیدلي دي. مسئول عامل ارګان او شخص نه په سترګو کیږي، هر زورور غیر مسئول او واجب الحترام دې. فساد د دولت او ټولنې په ټولو پوړیو او قشرونوکې رواکار، ورځنې رواج او مود ګرځیدلې وؤ. وطنپرستان پخپل وطن کې د بیګانګ او حقارت



"لوی خدای، لوی علم، لوی جهلن" سیاسي فلسفه

احساس کوي او ځانونه ورته بیګانه ښکاري. بیګانه او بیګانه پرستانو د خپلو حامیانو د حمایت د چترلاندې هر ډول ناروا د غریبو خلکو او ملک په حق رواګڼي ،ثروتونه یې غصب کړي او ارزشونه یې له منځه وړیدي . ددې ټولو خبرو سره سره کابل د افغانستان د ستر تاریخي ، اقتصادي او کلتوري مرکز په حیث د نسبي امنیت او ژوند د وړتیاوؤ څخه برخورداره او په تیرو پنځه ویشتو کلونو کې د میخانیکي جبري مهاجرتونو معرض او د خلکو د تجمع ټاټوبی وؤ. د بن د کنفرانس څخه وروسته چې خارجی بې پلانه او بې حسابه غرض الوده سرمایي وارد او د قاطع اقلیت تر منځ تقسیم او قاطع اکثریت تري محروم پاتې دې نپوهیږم لاشعوري او که یوځل بیا د کابل ښار د مغرضانو د حسادتو نو د شعوري اخرینې ضربې په حیث د قرن د لویي فاجعې سره مخامخ کول او دغه تر ټولو لوی افغاني ارزش له منځه وړل غواړي.

هو ! نن هم هر یو د زر او زور خاوند ، هر قوماندان ، وزیر ، والي ، رهبر او نور هڅه کوي د مسابقې په ډول پرته د تمیز او سنجش د خپل نوکر، چاکر، باډیګارد ، خپل خپلوان ، و طنداراو نورو په نومنوباقې پاتې د تفریحي پارکونو ، سرسبزې ساحې، مکتبونو او یا نورو کلتوري ساحو په توزیع صرفه نه کوي. زمونږ لویه آرزو داوه چې د خیرخانې مینې -600- جریبه کلتوري ، تفریحي او سپورتي پارک چې کار یې پیل شوې وؤ او د کابل ښاریانو لپاره یوائینې د تفریح او تنفس محل ګڼل کیده بې رحمانه او غیر مسئولانه په زورآباد بدل شو. د شین کمربند ساحې خو لا پخوا د زورورو په زور اباد بدل شوې، تاریخي سیمي لکه شیرپور، بالاحصار، قلعه جنګي او کلوپ

(c) ketabton.com: The Digital Library



عسکري هم په امن پاتې نه شوې او د شهرکونو سلسله هم د کابل څخه د پروان، میدان شهر، لوګر او ننګرهار په لورپه پراخیدو ده. سره ددې چې کابل په سیسمیک (زلزلې) زون کې واقع، جیولوجیکي سروې، د ځمکې مقاومت او نوعیت، دتعمیراتي موادو خصوصیات او کیفیت او ډیرې نورې څیړنې په کې سرته نه دي رسیدلي. شیشیي بلډنګونه په سیالۍ سره یو له بله څخه پورته کیږي. سیپتیک څاګانې نپوهیږم په کوم لیول په غیر فني شکل پرته له دې چې د څښلو اوبو زیرمې په نظر کې ونیول شي جوړیږي او د کابل ساحه چې د کاسې شکل لري ټولې اوبه به په یوه قاعده راټولې او دوباره جدا کول په یې ناممکن کاروي. دا په مختلفو لیولونو «سطحو» د سپتیک څاګانو فضله موادبه په کوم قوت او کومو واټرپمپونو پواسطه او تر کوم وخته پورې یوبل ته پمپ کیږي او دا د ښاري بې کنتروله ککړتیا مواد به څه ډول او کومې ساحه کې انبار کیږي. دا هره قضیه د کابل د ښار د امکاناتو له مخې پخپل ذات کې جداګانه فاجعه ګڼل کیږي. ځیني کسان دا سې نظر لري چې اوسني کابل دې د خپلو ناخوالو او نیمګړیتاوؤ سره پرځای پریښودل شي او په شمالي سرسبزه ساحه کې دې نوی مدرنه کابل جوړ شي. همدا سې د سنبلې د میاشتې په لومړۍ او نۍ کې د فوایدعامې مسئول مرستیال وزیر د امریکا غږ اشنا رادیو سره په مرکه کې وویل چې د پنجشیر د سیند اوبه به د کابل لورته راو ګرځول شي، زما په نظر د پنجشیر په سیند د اوبو ذخیره جوړول سمه خبره ده خود دغه سیند اوبه د کابل لورته راګرځول اویا د شمالي په شنه سیمه کې د نوي کابل جوړول دو اړه پخپل ذات کې لویې بشري فاجعې ګڼل کیږي. زه



"لوی خدای، لوی علم، لوی جهان" سیاسي فلسفه

نپوهیږمه څه ډول یو متخصص مسئول کارپوه دغه پریکړې کوي او نور مسئول کسان دغه ډول خبرې بې ځوابه پریږدي؟

زه په پوره درناوې د ټولو لوړو مسئولو مقاماتو توجه دغه مهمې ملي مسئلې ته را اړول غواړم ،تر څو پرې نږدې چې کابل ښار دغه د افغانانو تر ټولو لوی ملي تاریخي ارزش د افغانستان ددښمنانو د بدو نیتونو قرباني شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دپاریس کنفرانس!
# ګذارشونه او واقعیتونه

د ۲۰۰۸ کال داپریل دمیاشتي په څلورمه نیټه دهانګري په پایتخت بخارست کي د ناتو دغړو هیوادونو سر مشریزه غونډه جوړه او په افغانستان کې دنوې ستراتیژۍ په باره کې لازم تصامیم ونیول شول. همدلته دجون په دولسمه په پاریس کې دافغانستان په مسایلو دیوه کنفرانس دجوړیدو او دپورته ذکرشوې ستراتیژۍ دابعادو دتشخیص او تثبیت پریکړه هم وشوه .البته دا کومه تصادفي پیښه نه وه او خپل ځانګړي عوامل یي درلودل او هغه داچې په ۲۰۰۷م کال کې په افغانستان کې دمخالفینو له خوا حملو شدت وموند او په ۲۰۰۸ م کال کې دغه کچه نوره هم په لوړیدو شوه. امریکې او دناتو غړو هیوادونو لا دمخه تردې په خپله نظامي ستراتیژۍ او تاکتیکونو کې پراخه بدلونونه راوستي وو ،پدې معنا چې دوی د خپلو قطعاتو په سوق الجیشي حرکاتو کې ډیر کمښت راووست ،دلویو ښارونو څخه یي دخپلو قطعاتود وضع الجیشونو دبدلولو او دایستلو مسئله راولاړه کړه ، اکثره خارجي هیوادونو دمخالفینو سره پټې خبرې ،پټ اړیکي او پټې وسلي او پیسي ورکول( دمثال په ډول انګریزانو په هلمند





کې) شروع کړل ،دافغان اردو او پولیسو دتقویي مسئله ورد زبان وګرځیده ،امریکې او انګلستان له لوړې ارتفاع څخه په هوایي بمبارۍ او له لیري څخه د دورمنزله طوبچي اوبې پیلوټه الوتکو په ذریعه داهدافو ویشتل پیل او دادملکي وګړو د مړګ ژوبلې په برخه کي یوه ډیره خاینانه او غیر انساني پریکړه وه ،خو ددې ټولو خبرو سره سره دمخالفینو دحملو او ځانمرګي بریدونو او په هغې کې دملکي وګړو او خارجي او داخلي نظامیانو د تلفاتو کچه لوړیدله.دمثال په ډول دري ورځې مسلسل د ۲۰۰۸م کال دفیبروري په ۱۷ ،۱۸او ۱۹ په قندهار کې د سپو دجنګ په میله کې ۸۰ تنه مړه او له دې څخه ډیر زیات کسان زخمیان،دقندهار په سپین بولدک کې ۳۷ تنه مړه او ډیر زیات نور زخمیان ،په قندهار کې یو متعلم مړ اڅلور تنه نور زخمیان شول. په همدې وخت کې دآیساف دهوایي قواوو یوه چورلکه په هلمند کې دیوه طالب قوماندان په کور کې په داسې حال کې ښکته شوه چې امنیت یې نیول شوې وو او وسله ،غذایي مواد او نور لازم توکي یي هلته ښکته کړل. په همدغه وختونوکې دامریکي دا ستخباراتو رئیس وویل چې افغان دولت یواځې ۳۰٪ خاوره په واک کې لري او پاتې برخه د طالبانو سره ده. د۲۰۰۸م کال د مارچ په ۱۱ دملګرو ملتونو سرمنشي بانکیمون وویل چې په افغانستانکې د ۴۰۰ څخه زیاتو اولسوالیو څخه افغان دولت یواځې ۲۶ اولسوالۍ په په واک کې لري ،امنیتي وضعه د ډیر تشویش وړده ، دخارجي قواوو تر منځ هم اهنګي نشته ، دولت ډیر ضعیف او اداري فساد او... لوړې کچې ته رسیدلې دې. په همدې وخت کې د۲۰۰۸م کال دمارچ په ۱۰ په امریکې کې دافغانستان سفیر دو

(c) ketabton.com: The Digital Library



اشنګټن ډي سي سره په مرکه کې وویل چې په افغانستان کې وضعه د ډاډ وړ نه ده ،طالبان د هیواد په زیاته برخه واک لري ، دخارجي قواوو تر منځ هم اهنګي وجود نلري او اکثره مناطقو ته هغوی نه غواړي خپل عسکر ولیږي او . د۲۰۰۸م کال دجون په میاشت کې دخارجي نظامیانو مرګ ژوبله ډیره لوړه او یواځې د مړو تعداد د ۴۶څخه واووخت .... همدا سبب وو چې دخارجي او داخلي قواوو او واکدارانو تر منځ عمومي پانیک او هرج و مرج راولاړ شو. فرصت طلبو اشخاصو په دولت او حتا په خارجي قوتونو انتقا دونه شروع کړل. مارشال فهیم په غازي ستوډیم کې په جمهور رئیس حامد کرزي لفظي او ژستي حملې وکړې ،پروفیسور برهان الدین رباني ،محمد یونس قانوني او د ملي متحد جبه غړو په خپله جمعي غونډه کې د دولت او خارجي قواوو پر ضد د ځر ګندو لفظي حملو او مخالفتونو څخه ډډه ونکړه او د هغوی ویاند سانچارکي پټه نکړه چې د طالبانو اونورو ډلو سره یې تماسونه نیولي او دا ځکه چې دولت دهغوی سره په خبرو کې پاتې راغلې دې. دغه ډول هرج ومرج او عمومي سراسري پانیک ددې باعث هم شو چې ډیر دولتي چارواکي او فرصت طلبان خپلې سرمایي مصئونو ځایونو ته ولیږدوي. د دوبۍ په هوایي ډګر کې د جمهور رئیس مرستیال احمد ضیاء مسعود او دافغانستان د اسلامي جمهوریت د پارلمان رئیس محمد یونس قانوني سره ، انګلستان ته دډالرو او نورو قیمتي توکو د لیږدولو په وخت کې لویه افتضاح رامنځته شوه.دثور دمیاشتې په اتمه دمجاهدینو دجشن دتجلیل په ورځ ددولت مخالفینو ځانونه دجمهوررئیس تر لوژ پورې ورسول ،د داخلي او خارجي





دامنیت مسئولو قطعاتو او اشخاصو په تیښته مصئونو ځایونو ته خپلې پښې سپکې کړې او د دولتي او حکومتي اراکینو سرنوشت یې څو تنو مخالفینو ته وسپاره .

پدې ډول دپاریس کنفرانس کومه عادي غونډه نه بلکه دلویي ماجرا او سترو حوادثو دبحبوحو او تلاطم دتیاتر څخه منتج مجبوري کنفرانس ګڼل کیږي او مالي سرچیني به یې هم دناتو دسرمشریزي دپریکړو او په افغانستان کې دعمومي ستراتیژیک او تاکتیکي لید لوري له مخې په پام کې نیول کیږي. داد امریکې ،ناتو او بین المللي قوتونو مشکل دې او هغوی به یې ګالي او پالي ، او لکه چې معلومه شوه تیره اونۍ دامریکې کانګرس دعراق او افغانستان دجنګونو لپاره ۱۶۲ ملیارده ډالره بودجه منظور او دناتو نور غړي به هم فکر نه کوم له هغوی څخه پدې کار کي پاتې راشي.

بل اړخ دمسئلي افغاني قضایا او مشکل تشکیلوي چې باید دافغانستان جمهور رئیس یې دحل په خاطر په تفصیل سره خپل ګذارش وړاندې او دحل ممکنې لارې چارې او امکانات په ګوته کړي وای.

دپاریس په کنفرانس کې دملي پرمختګ ستراتیژۍ پروګرام وړاندې شو چې په درې عمده قسمتونواودولس فصلونو کې طرحه شوې او دافغاني ټولنې د سترې غمیزې داسې پرابلمونه پکې پراته دي چې په تیرو ۳۰ کلونو کې یې نه یواځې افغانانو بلکه نړیوالو هم دحل لارونه موندله ، فکر نه کوم دغه ستراتیژیکه طرحه دافغاني مغز زیږنده او تراوش اوسي او محض یو تهمت به وي چې افغاني پلاوې په خپلو امضاګانو سره دغه لوی مسئولیت په خپله غاړه اخیستې دې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کرزي صاحب چې ټول ګذارش لکه دصرف میر دطالب غوندې په یوه نفس ولوسته یوائې دبریاوو اغراق امیزه تکرار وو او په ګذارش کې هیڅ داسې کلمه او جمله نه په سترګو کیده چې په افغانستان کې یې دبې شمیره مشکلاتو څخه په یوه له هغو هم دلالت کړې وي. حال داچې دیرش کاله سترې غمیزې په هیواد لمن غوړولې، هره ورځ په په سلګونو انسانان مري، ښارونه، کلي، بانډې، سرکونه، غرونه رغونه او هرڅه ورانیږي، په هیواد کې نظام، اداره او قانون وجود نلري او په عوض یې فساد، رشوت، اختلاس او انارشۍ قانوني بڼه غوره کړې، قهطي ده، پلرونه او میندې خپل بچیان په داسې بیه خرڅوي چې یوه بوجۍ اوړه پرې اخستل کیدې نه شي چې د څو ورځو قوت لایموت شي. رښتیا! هغه چا چې په دغه سند امضاء کړې او هغه څوک چې نن په افغانستان کې د چارو مسئول دې، هغوی نه دغه ډول مشکل لري او نه دهغې احساس او درک چې ویې ځوروي. ځوریږي یوائې افغان بیوسه اولس او په اصطلاح هغه با درکه، با احساسه او وطنپرست روشنفکران چې دغمیزې پدې دیرش کلنه ماجراکې نه دکوم بدیل محرک، نه دخپل اولس دبرحق مبارزې عامل ملاتړې او چې دمرګ په پوله خوځیږي او په خارج کې ددموکراسۍ دمصئونیتونو څخه هم برخورداره دې، نه یې دافغان اولس د حق په پلوی غیرارادي کومه کلمه له خولې راووځي. خو په سیاسي دکانداریو کې یوله بله پیشقدم او کله چې ددجال له کنډولي څخه غوړي څاڅي تل یې ترې لمنې لاندې نیولي وي.

پدې ډول د افغانستان په ننني جنګي تیاتر کې دټولو





ستراتیژیو او موضعګیریو ماهیت دتاریخ دقضاوت او ازمون دچاڼ څخه پوره برملا را وتلې او دهغې په ډیرو تاریکو کنجونو کې هم پټ او پناه وجود نلري.

دخارجي قوتونو ستراتیژي همغه دافغانستان ستراتیژیک بالا حصار ته د ځان رسولو پخوانۍ زړه لوبه ده چې دافغان اولس په قهرمانۍ سره یې تحقق پیدا کړ او دبخت څرخ یې دامریکي په محور وڅرخاوه. یوائې دافغانانو دقربانۍ له برکته خارجي قوتونو دامریکې په مشرۍ ځانونه افغانستان ته راورسولي او دلته حضور لري. پاکستان د بې تاریخه، بې جغرافیې او بې هویته هیواد په حیث دانګریزي استعمار دنا خلفه بچي په حیث دقرنونو دسیسو په نتیجه کې په عمده ډول د پښتون او بلوڅ قومونو دوجود څخه دهمدغه ستراتیژۍ دتحقق په خاطر تشکیل او په ایران کې خو امریکې له پخوا څخه وضع الجیش درلود او شک نشته امریکا به نن هم په خپلو خواخوږو حساب کوي. موږ نن په څرګند ډول وینو چې تاکتیکونه او ستراتیژۍ په سحر امیزه او معجزه امیزه شکل بدلون مومي، مخالف او موافق قوتونه دساعتونو او ورځو په جریان کې خپلې جبهې او تاکتیکونه بدلوي، دپاکستان دولت د ۲۰۰۱م کال دبین امللي قوتونو سره دالقاعدې په مقابل کې دخپلو تعهداتو څخه عدول کوي، دالقاعدې او طالبانو سره سوله او په افغانستان کې خپلې خائنانه مداخلې اعلانوي او عملي کوي، امریکا او بین المللي قوتونه دغه اعمال غندي او د ۲۰۰۱ کال دتعهداتو له مخې دپاکستان په خاوره کې دالقاعده تعقیب خپل حق ګڼي او څلور ملیارده ډالر ورته ځانګړي کیږي، خو پرویز مشرف دهغې مخالفت کوي او دغه پټ او پناه لوبې نن هم دوام لري. دافغانستان دمسئلې په ستراتیژۍ کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



عمده نوې خبره په کابل کې د روسي د سفیر هغه اظهارات وو چې « د روسیې پرته به په افغانستان کې د القاعدې پرضد مبارزه هیڅکله بریالۍ نشي» او همدا شان د پاریس په کنفرانس کې د پوتین په هغه خبره ټینګار چې «که خارجي قوتونه په افغانستان کې د القاعدې پرضد مبارزي پرته نور سیاسي اهداف تعقیب کړي روسیه به بې غرضه پاتې نشي» او همدا شان د جولای د میاشتې په اوومه نیټه د هند سفارت په دروازه کې ځانمرګي برید او په هغې کې د ۲۰۰ څخه د زیاتو کسانو مرګ ژوبله، د طالبانو لخوا د هغې د مسئولیت په غاړه نه اخستل او د ټولو څخه مهم څوورځې د مخه په افغانستان کې د مخالفینو پرضد د روسي وسلو د استعمال په هکله د امریکې او روسي دوجانبه موافقه د افغانستان مسئلې ته کاملاً نوي ګلوبال ابعاد ورکړل.

د پاریس په کنفرانس کې د حامد کرزي غیر مسئولانه ګذارش، دملي ستراتیژۍ په نامه د مالیې دوزیر لخوا د ۵۱ ملیارد و ډالرو او دبرق او اوبو لګولو وزارت او نورو لخوا د تش په نامه ستراتیژیو نپوهیږم په کوم اعتبار د بې حسابه پیسو غوښتل او سره د دې چې ملګري ملتونه، ناتو، امریکا او مؤسسات او اشخاص همیشه په خپلو رسمي اسنادو او خبرو کې د افغانستان حکومت، دولت، دولتي ارګانونه او حتا افراد او اشخاص په فساد او نورو هرډول ناوړه او غیر قانوني اعمالو تورنوي بیا هم دغه ټول پیشنهادونه د ملګرو ملتونو د سر منشي محترم بانکیمون لخوا سخاوتمندانه تائید او منل کیږي او محترمه میرمن لورا بوش چې په یوه غلچکي سفر کې تر افغانستانه او حتي تر بامیان پورې رسیدلې، او دا چې د محمد دوه لورګاني د سحر لخوا مکتب ته تللې شي، نو ټول افغانستان ورته ګل او ګلزار بریښي او په ټولو اسنادو





د تائید مهر لګوي.

مونږ د ملګرو ملتونو، نړیوالې ټولنې او ټولو هغه هیوادونو څخه د زړه له کومې شکرګذاره یو چې افغان اولس سره دغه ډول سخاوتمندانه مرستې کوي. خو کاشکې دا پوښتنه هم چا سره پیدا شوې وای چې دغه بې حسابه مرستو ولې دافغان اولس یوه کوچنۍ ستونزه هم حل نه شوه کړای؟ او نن هم افغانه میرمن چې لس کرته بوره شوې او یوولسم بچې د ځان د نجات په خاطر په ۵۰۰ افغانۍ خرڅوي او یا یې د هغه د ژغورلو په خاطر د کوم ظالم لمن ته غورځوي او نا معلوم سرنوشت ته یې سپاري. ولې؟

مونږ د نړیوالو څخه احترامانه هیله کوو چې د افغانستان په مسئله ژور سوچ وکړي، د زړو غیر عادلانه ستراتیژیو د تطبیق څخه لاس واخلي او د افغان معضلې د عادلانه حل لار ولټول شي. که په غیر عادلانه شکل د هغې حل ممکن وي تر اوسه پورې به د هغې د عاملینو دغه ارمان ترسره شوې وای. افغانان باید نور د دغه ډول بې رحمانه ازمون څخه وژغورل شي. مونږ افغانانو د دیرشو کلونو په موده کې هر څه د انسانیت او بشریت په نامه بایللي خو د خپل ملک ستراتیژیک افتخار موساتلی دی. مونږ د خپل افغاني ویاړ په ساتلو سره هرې عادلانه معاملې ته حاضر یو.

په غیر صورت کې د ماجرا انجام پرته له دې چې د پخوا په څیر دوام پیدا کړي بل ډول ممکن ندي. د هرې ماجرا په پای کې برې د افغانانو په برخه وو او وي به.

از کشاد او کشاد اسیا
از فساد او فساد اسیا

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زوړ استعمار ، زړه ستراتیژي

که تاریخي واقعیتونو ته نظرواچول شي ، انګلیس قوم د هغه سر سبیلو او پدر ازاره او مادر ازارو څخه ، چي د ټولي غربي اروپا څخه راټول ،د شمال بحر له لاري په جزیره راننوتل ، ځايي استوګن قومونه یي له منځه یوړل او جزیره یي تري خالي او د نژدي ۲۰۰۰ کلن تاریخ په اوږدو او ډېرو ترخو حوادثو ، ظلم ،ناروا او بي عدالتیو په کشمکشونو کي تري په حقیقت کې نننې غیر متجانس کانګلمېرات « غیر متجانس مخلوط» سود جو ، د سیسه باز کرغیړن انګلیس ملت« نیشن » متشکل شوې دې. نو ځکه خو د واحد قوم په حیث هیڅکله د قومي اصلیت ،تعهد ،اخلاقي ځانګړتیایي تقدس او دود و دستور پابند نه وو .په بین المللي مناسباتو کې ډیر سخت زړې ،ظالم ،بې وفاء او غولوونکې پاتې شوې او ځکه خو د ټولو نړیوالو معضلو ،کشمکشونو ،دښمنیو او نه حل کیدونکو پرابلمونو ایجاد ګر او نن چې څه بین الاقوامي دښمنۍ او او بد بختۍ دوام لري ،عامل یي همدوی دي . غریبۍ ته دپستۍ ،جنایت اوخیانت په سترګه ګوري او دپیسو د پیداکلو په لار کې هر ډول ظلم ، فریب او ناروا مباح





ګڼي. ددوی دمختورن سیاست د ملا تیر « Divide and role » مقوله تشکیلوي او په بشري سیاست کي ټولې سیاسي فاجعي یواځې او یواځې ددوی دخاینانه دسیسو په بناء چې دتاریخ په اوږدو کې یې د قومونو تر منځ راولاړې کړي ، پیښې شوي او په راتلونکې کې به یي هم علت همدغه دسیسي وي . زه پخپله دا سمه نه بولم چې څوک ټول قوم په دغه ډول تور تورن کړي . ځکه په انګلیس قوم کې هم ډیر کسان وو چې دادب ،علم ، کلتور ،اقتصاد ،فلسفي او دبشري ژوند په نورو اړخونو کې یي ستر خدمتونه سر ته رسولي او حتا د خپل قوم خاینانه او ظالمانه سیاستونو تور مخونه یي نړیوال تاریخ ته په امانت داریۍ سره سپارلي دي . یو متل دې چې « دوچو له تاوه لامده هم سوځي » . په هر قوم کې ښه او بد ، رحماني او شیطاني قوتونه وجود لري او مونږ وینو چې نن په نړیواله کچه غه دغه شیطاني قوتونه په لا علاجه ناسور سرطاني تبې بدل شوې ، مګر ټول نړیوال رحماني قوتونه هم په محلي او هم په بین المللي جبهو کې متحدانه ددغه شیطاني لعنتي سیلاب په مقابل کې د قطعانه مبارزې ملا وتړي. نو ځکه ددوی ددغه کهنه کارو بیرحمانه او خاینانه سیاست بازانو په نسبت ټول انګلیس ملت ته په بد نظر کتل کیږي . شک نه شته چې په انګلیس قوم کې د تاریخي ارثي او دودیزو عواملو له مخې به هم ددغه ډول شیطاني عمالو اکثریت قابل دملاحظې وي ،چې مونږ د نموني په ډول ، په نننې نړیوال سراسري جنګي ناورین کې د توني بلیر شیطاني خاینانه دروغجنې هلې ځلې مثال راوړلې شو ، مونږ لپاره به منطقي داوي چې هر وخت د ښو او تر منځ تشخیص او تفکیک ته قایل او هر څوک د خپلو ښو او بدو

(c) ketabton.com: The Digital Library



اعمالو مطابق د ښې او بدې جزا لایق وګرځي.

انګریزانو ددریایي غلو په حیث تل په شمالي بحر کې پردۍ کشتۍ تښتولي او مالونه یې ورته چورکړي او دې کار تر پنځلسم قرن پورې دوام پیدا کړ. کله چې د جنګونو په سبب داروپا او هند تر منځ تجارت د وچې له لارې د مشکلاتو سره مخامخ او واسکودیګاما ، مجیلان او کریستوف کولومب هند او جنوبي امریکې ته د بحري لارو په میندلو بریالي شول. هند سره داروپا تجارت نوې رونق پیدا کړ. انګریزانو هم تجارت او کشتۍ سازۍ ته مخه او په کمه موده کې یې تر ټولو قوي بحري قوتونه جوړه کړل. پرتګالیانو چې سل کاله دهند تجارت انحصار کړي وو ، دانګریزانو له خوامات او تجارت د انګلیس په انحصار کې پریووت او ۲۱۳ کاله یې په خپل لاس کې وساته. انګریزانو شمالي امریکا او کاناډا ونیول ، ځایي سرخ پوستان یې له یوې مخې قتل عام او حتا د نسل دبقاء په خاطر یې هم یو کسڅوندې پرې نښود . مصر ، سوډان ، جنوبي افریقا ، دماغه دامید « Cafe of good hope » استرالیا ، نیو زیلاند او ددنیا ټول بحري معابر لکه جبل الطارق ، مالتا ، باب المندب ، سویس ، عدن ، او نور یې په خپل تصرف کې راوستل ، پرتګالي هسپانیایي ، هالیندي او نورو بحري قوتونو ته یې ماته ورکړه او ځانونه یې په هند او شاوخوا مناطقو مسلط او د خلکو په مال ، دولت ، عزت ، ناموس او دژوند په ټولو شئوناتو خیټه واچوله . چور او چپاول یې شروع او بې شمیره ملي مبارزین ، قهرمانان او ملکي ماشومان ، ښځې او نر یوشان له تیغه تیرول . د هند مشهور بندرونه لکه بمبیي ، کلکلته ، مدراس ، حیدراباد او نور یې ونیول او د شرق الهند تجارتي



"لوی خدای، لوی علم، لوی جهان" سیاسي فلسفه

کمپنۍ یې په ۱۶۰۰ م کال په هند کې ځای په ځای او د نظامي قوتونو سره په تباني کې یې د هند په ټوله لویه وچه کې خپل هرا ړخیز حاکمیت ته پراختیا ورکړه . کله چې په ۱۷۴۷ م کال کې په افغانستان کې د احمد شاه بابا په مشرۍ ملي قوي دولت رامنځته او له یوې ورځې څخه یې بلې ته پیاوړتیا موندله ، انګریزان له هغې څخه سخت په تشویش کې وو او د روس دهغه وخت پولو ته ځانونو درسولو لپاره یې لوی مانع ګڼه. دوی د شاه زمان دپاد شاهۍ په دوره کې چې لا افغاني نسبتاً قوي دولت وجود درلود ، ځانونه یې د افغانستان دهغه وخت سرحدونو ته ورسول او د افغانستان د دولت په مقابل کې دانګریز د زاړه استعمار خاینانه دسیسې له همدغه وخت څخه پیل شوې .دوی د جهان په دغه لویه منطقه کې د « لویي لوبې » په نامه لویه ستراتیژي او دافغانانو په مقابل کې یې « policy Forward »غوره او تر ننه ورځې پورې دوام لري. دوی له همغه وخت څخه تر ۱۹۱۹ پورې د افغانانو په مقابل کې بې شمیره دسیسې او توطئې کړي ، خو جمله دري لویي جګړې یې سازماندهي او په درې واړو کې یې د شرمه ډکې ماتې وخوړلې . خو دځینې ضعیف النفسه افغانانو په واسطه یې و کولای شول ځیني

ستراتیژیکي منطقې د افغانستان له وجود څخه پرې کړي او خپلو خاینانه دسیسو ته یې د همیش لپاره ادامه ورکوله. دوی په مخ پرزه نه در لوده، او په بې حیا یۍ او بې شرمۍ سره ، کله چې روسانو په افغانستان خاینانه حمله وکړه ، ویل به یې ، اوس ددغه ډول تجاوزونو وختونه ندي ، دوی باید له موږ سره مشوره کړې وای. خو کله چې یې د افغانانو په توره او همت

(c) ketabton.com: The Digital Library



موقع ترلاسه کړه پخپله یې یو ځل بیا په افغانستان حمله وکړه او ټول ناسلف او ناخلف قدرتونه دبیا ابادونې تر شعار لاندې په حقیقت کې په ډیر مهیلیت او خیانت سره دځیني بیګانه پرستانو په مرسته غواړي یو ځل بیا د خپلې زړې ستراتیژۍ له مخې دپخوا په نسبت زر چنده خاینانه سیاست په افغانستان کې پلې کړي. تاسې په ناروا دغه مستضعف اولس د یوه داسې آبر قدرت سره یواځې په جنګ کې وازمایه چې تاسې ترې شپه او ورځ، په ویښه او په خوب کې بوګنیدلې او ارام مونه درلود. ستاسې د نننې مباهاتو سرچینه او منبع همدغه نننې خواروزار افغان اولس دې. تاسې خو ځانونه د نړیوالو حقوقي، قانوني، دموکراتیک، عادل، منصف نظامونو او مناسباتو علمبردار او حامیان بولۍ. تاسې خو په موجوده اجتماعي ـ اقتصادي نظام کې ۵۰۰ کلنه دنظام جوړولو او نظام ساتلو تجربه لرۍ. او باالاخره تاسې نن افغانستان ته د افغانانو د سربښندنې په مقابل کې د احسن پاداش په خاطر د بیا ابادونې، امنیت او دیرش کلن جنګ د مظالمو، عوارضو او ناخوالود له منځه وړلو په تعهد سره راغلي یاست. تاسې او ټولو نور قوتونو ته چې د افغانستان په لویه غمیزه کې ښکیل دي، وایو چې تاسې په یویشتمه پیړۍ کې د پخواني سادیستي جینیتیکي هوسونو دتکرار او تلافي جویانه خوا یخي په خاطرد افغان نسل کشۍ لپاره هیڅ دلیل نلرۍ. تاسې د افغانانو دښوبدو ټولو خصوصیاتو سره ښه بلد یاست، کیدای شو ل یو دبل په ژبه زر پوه شوي وای او زر مو د مشکل دحل لارې لټولې وای. خصوصاً وروستي ۷ کلونه چې پخپله خارجي قوتونه په افغانستان کې حاضر اود ټولو چارو اصلي عاملین او مجریا ن





ګڼل کیږي.

که مونږ د اوه کلنې دورې په پای کې ددغه «احسن» پاداش دپایلو په باره کې ستاسې دخپلو راپورونو او اظهاراتو له مخې قضاوت وکړو چې اصلاً نظام او په نوم ابتدایي ترین عادي انساني ذات البیني مناسبات وجود نلري. د بد تر او بهتر مسئله خو هیڅ قابل دبحث او مطرح دبحث کیدلې نشي. تا سې حق نه درلود ستاسې په موجودیت کې دغه ډول زړه بوګنوونکي او دتحمل څخه وتلې وضع په افغانستان کې رامنځته شي. ستاسې نیک پاداش دې ته ویل کیږي؟ تاسې له دې وضعې څخه راضي یاست؟ که نه. مسئول څوک دئ؟ طبعاً چا چې یې ذمه واري او تعهد کړې او چا چې په افغانستان کې د موجوده ټولو بدبختیو په خاطر خپل عمال ګمارلي دي! او یا:

1. هغه چا چې داجتماعي ترکیب او برنامه یې محتوا څخه پرته دبن په کنفرانس کې د لږکیو معلوم الحاله ضعیف النفسه ډلو پواسطه د یوه عظیم رسالت سرته رسول غواړي؟
2. هغه څوک چې د یوې اولسوالۍ په واسطه د ټول مملکت اداره کول غواړي؟
3. هغه څوک چې د جنګي جانیانو او دبشر د حقوقو دناقضینو په واسطه د نظام جوړول غواړي؟
4. هغه چا چې د دولت، حکومت، پارلمان، حقوقي، قانوني، اداري ارګانونو په سترو مقامونو اکثراً د پردو ملکونو جاسوسان ګمارلي؟
5. هغه څوک چې پرته له ځانه او خپلې ډلې په بل چا باور نلري؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



6. هغه څوک چې دمخدره موادو دقاچاقبر ،فاسد ، رشوتخور ،اختلاسګر ،او دیته ورته کسانو سره پرته بل چا سره مشترکه ژبه نشي پیدا کولې ؟

7. هغه څوک چې هم مدعي ،هم قاضي او هم حاکم خو پدي ټوله دوره کې یي یو وار عامل اجرأت ندي ترسره کړي ؟

8. هغه څوک چې په خپلو دغه او دې ته ورته سلو او زرو نورو ناوړه اعمالو څخه نه منکر دې ، نه پښیمانه او نه توبه ګار؟

9. او که هغه د زاړه استعمار زړه ستراتیژي چې پرته له دغه طریقو په بل ډول دا اجراء ورنده؟

که داسې وي ،ایا دداخلي او خارجي مسئولینو او خصوصاً ستاسې د موجودیت مشروعیت د پوښتنې لاندې نه راځي ؟ ایا تاسي په رښتیا د وضعې له کنترول څخه عاجز یاست ؟ که داخبره رښتیا وي ،بعدي هڅي د څه لپاره ؟ یا داچې تاسې د خپلې زړې ستراتیژۍ له مخې خپل تور مخي ،تورزړي او تورلاسي نیتونه عملي کول غواړۍ او افغانان باید د خپل همیشني دود ودستور په بنیاد د وطن څخه د دفاع مبارزي ته دوام ورکړي . البته ددې کار ددام او انجام پایلي هم څرګندې دي . که تاسې په ځیني بي ننګو محاسبه کوۍ ، پدي مونږ هم نپوهیږو او تعجب کوؤ چې دغه بې ننګه له کومه شویدي. تاسې تیروتي یاست . هغوۍ چې دخپل اولس او خپل وطن نه پکاریږي . ستاسي به څه په کار شي ؟

اوس هم « **بحر ډک له ملغلرو چوپ روان دی"** خپله لار پرمخ وهي ، **"دنا اهله خلکو خوی لکه دچړ دی »** . اصلي اولسي جریان په عمق کي خپله لار پرمخ وهي ، داوبو په سر خس او خاشاک باندې غولیدل ندي پکار او ستاسې دزړو





فکرونو تحجر په ګوته کوي . تاسې که خپلې شومې ارزو ګانې په ظلم ناروا او مرګوني خاینانه جنګونو له لارې ترلاسه کړي ، دسولې او صفاء پلویان به دغه ارمان د سولې له لارې پلې کړي .مونږ وایو چې نن تاسې او ستاسې لاس پوڅو ته د دغه ډول اعمالو په کولو شرم پکار دې.په اوسنۍ زمانه کې چې هر څوک په ټولو خبرو ډیر ښه پوهیږي ، تاسې دواړو خواوو ته لوی عیب او لوی شرم دې .خدای دې ترې مونږ وساتي او تاسې دې هم خدای په سمه لار روان کړي. اصیل افغانان حاضر دي د سیال اولس په حیث د نن ورځې د رواج سره سم تاسې سره معامله وکړي. تاسې چې له ځانه وروسته پاکستان پدې منطقه کې د شر او فساد منبع ګرځولې ، هغوۍ په دنیایي رواجونو ښه اګاه دي. یواځې افغان اولس پدې منطقه کې دثبات او مقاومت کوهپایه او دسیالې معاملې جوګه دې . خو د تاریخ په اوږدو کې ټولو قومونو او تاسې هم غوښتل ، او نن دا هم کومه پټه خبره نده ، کوم خارجي قوتونه چې په افغانستان کې حضور لري ، غواړي دغه غیور قوم او ددې خاورې اصلي اوسیدونکي له خپل ملک څخه ورک کړي ، دحوادثو جریان ددې شاهد دې. څه موده دمخه د خارجي قوتونو هوائي ، راکټي او دورمنزله طوپچي ګوذارونه ، د مختلفو ګروپونو سره خصوصي معاملې ، د ملکي خلکو دتلفاتو زیاتیدل او د سپتمبر د میاشتې په دوهمه اونۍ کې د امریکي د نوي ستراتیژۍ له مخې د ډیورنډ د کرښې په دواړو خواوؤ دخارجي قواوؤ بې پوښتنې عملیات او بیا هم د ملکي خلکو ( په کل کي افغانانو ) تلفات ، ټول د روسانو له وخت څخه را پدې خوایواځې ددغه منطقي د خلکو پر ضد دسیسه معلومیږي. ځکه چې د پیښو اصلي عاملین په

(c) ketabton.com: The Digital Library



سند او پنجاب او یا پخپله په امریکي او اروپا کې ناست دي، او په سرحدي سیمو کې د ځانګړو تاکتیکي او ستراتیژیکو پلانونو له مخې ټولې چار تنظیمیږي. په اصطلاح پخپله کرکڼي او اغزي کري او بیا اور ورلګوي . دغه کار پرته د نسل کشۍ څخه بل تعبیر او تفسیر نشي لرلې. لکن ترنن ورځې پورې په شپږزره کلن تاریخ کې د هیڅا دغه ناولې ارزو نده تر سره شوې .پکار دادي چې هرڅوک سیالي معاملې ته غاړه کښیږدي. دا به د منطقي ،جهان او ټولو په ګټه وي. هغه څه چې نن په افغانستان کې دوام لري ، دهیڅا په ګټه ندي ، ګټونکي په کې وجود نلري او که وجود ولري ، لکه تل چې ددې خاورې اصلي بچیان تل ګټونکي وؤ ، ددې لوبې ګټونکي به همدوی وي. ټول افغانان او خصوصاً پښتنو ته پکار دي د تاریخ پدې حساسه مرحله کې ځان وپیژني ،دوست او دښمن وپیژني او پدې پوه شي چې پرته د افغاني ملي او پښتني قومي وحدت څخه بله لاره او چاره نه لري. هغه افغانانو ته چې د هر چا سره د جوال خوله نیسي ، غواړم ووایم چې د استعمار لاندې ملکونو د تیر او حال له حالاتو څخه ځانونه لږڅه خبر کړي.

**پسه هم خلک ساتي دزړه په مینه**، خو چې ددې مینې انجام معمولاً څه وې پدې پوهیدل پکار دي ! ! !

ښه به داوي ټول د سلیم عقل او سلیم وجدان څخه د جمعي ګټو په خاطر کار واخلي !





# آزادي ـ تر هر څه لوی ملي، اولسي اوفردي ارزش !

د استقلال جشن په افغانستان کې د خاص و عام، د کوچنیانو څخه تر زړو پورې، خوداګاه او نا خود اګاه په سمبولیک ډول ستر اختر او تر هر څه لوی ارزش او لویه ملي وطني خوشحالي ګڼل کیدله ! هغه وخت چې لا مونږ پدغه ډول لویو خوشحالیو کې د ګډون اګاهي او امکانات نه درلودل ،د کلیو او بانډو بې سواده او نالوستي زلموټي چې شونډه به یې توره شوې ، په مخ به یې ځوانکو سر وهلې او له ځانه به یې د سرېتوب طمع کیدله ،پنځه روپۍ پټې یا ښکاره له مورو پلاره او یا د اوربش لو او یا سرو شولو په سود و سلم له لارې د کراء لپاره پیدا کولې ، یوه جوړه نوې یا مخدې جامې به یې هم له پخوا په دسمال کې غوټه او د جشن په نامه به یې د انتظار شپې ورځې شمارلې. دغه ورځ په اصطلاح د محکوم او ازاد پښتونستان او حتا داټک نه آخوا پاکستانیانو لپاره کلنۍ د خوشحالۍ لویه ورځ ګڼل کیدله. چې به لا جشن ته ډیرې ورځې پاتې وې ځوانان به له میندو ګرد تاویدل چې مورې غونزاخي او د غنمو نیني خوبه راته حتماً په کافي اندازه تیاروې. پدې ډول چا به غونزاخي او نیني ،چا به توتان ، چا به تلخان او چا به

(c) ketabton.com: The Digital Library



بل څه وطني د خوراک څه نا څه له ځانه سره اخستل ، نیمه لار به یي پیاده او نیمه په موټر کې وهله او ځانونه به یي جشن ته رسول. زمونږ ځوانانو خو به اکثراً د ګمبیري ، لغمان او سروبي له لاري پل چرخي او چمن حضوري ته ځانونه رسول. شپه به یي د چمن په کبلو او خوراک به یي همغه غونزاخي او نیني او توتان او تلخان او د میوې خو به لا اډو په فکر کې هم نه وؤ. کم بخت خو به هغه وؤ چې پنځه روپۍ به ترې کیسه بر ووهلې. پدې ډول به یي څو د جشن شپې ورځې که په مشکل هم وې په خوښۍ تیرې کړې. رسم ګذشت ، موټري ، ټانکونه ،طیاري او اتش بازۍ به یي ولیدلې او چې وطن ته به راستانه شول نو تر بل جشن پورې به چې هره شپه ځوانان راټولیدل د دوی د جشن کیسي به نه خلاصیدلې.

هو ! جشن چې معمولاً یواځې په همدې نامه یادیده ، د ټولو افغانانو ،ټولو قومونو او لویو وړو لپاره لویه او تر هرڅه لویه وطني اولسي خوشحالي وه او هر کال د همغه غریب دولت لخوا ، چې کلنۍ عادي او انکشافي بودجه یي د کابل ښاروالۍ اوسنۍ کلنۍ ډالري بودجي ته نه رسیدله ، د ملي لوی اختر او لوی سمبولیک لوی ارزش او بلکه په ټوله نړۍ کې د ټولو اولسونو لپاره د ازادۍ ورځ د منل شوي لوي ملي ارزش په حیث لمانځل کیږي .

چا له مونږ څخه دا او دغه ډول ډیر نور لوی لوی ارزشونه واخستل ؟ کوم جبر مونږ ددې د دغه لوی ارزش څخه بې برخې کولو ته مجبور کړي یو ؟ دا څوک او کوم بې وطنه دي چې د داسي ارزشونو په ارزش نه پوهیدل نه غواړي ؟ ریښتیني افغانان ، داسې لویي خوشحالۍ او جشنونه خو لا په ځاي





پریږده ، خپل عادي دود او دستور په سود او سلم باندې پالي ! یواځې مړه اولسونه او اجنبي پرستان د دغه ډول ارزشونو په ارزش نه پوهیږي او احمقانه هغه د ګلو بالیزم ، نورو ایزمونو او یا د خپلو شخصي ګټو په خاطر ملي ګټې او ملي ارزشونه په ملي سیالیو او لوبو کې د قمار په دو کي بایلي .

پنځه ورځې دمخه د پاریس په کنفرانس کې 21 ملیارده ډالره مرستي راټولې شوې. شاید څوک ووایي هغه د زراعت او آبیارۍ او ... لپاره تخصیص کړې شوې وې . ریښتیا هغه پر ځای لګیدلي او شکر چې زمونږ اولس په خیټه موړ دې او شکایت مو تر تراسمانه پورته ندې. که دا خبره ریښتیا نه وي ،نوڅه ډول د «سرینا » په هوټل کې هره ورځ دعوتونه په خورا لوړه نړیواله کچه بې نوبته او بې ضرورته سرته رسیږي . د دولتي لوړ رتبه مامورینو سفرونه او سفر خرڅونه خو هم پیشکي اجرا کیږي ،حتماً به هلته مصرف شوي وي . عجیبه خبره دا ده چې وزارت خارجه یوه ورځ دمخه ټولو خارجي نمایندګیو ته رسمي مکتوبونه لیکلي وؤ چې پیسي نلرو ! جشن نه لمانځل کیږي ! یوه ورځ وروسته بل مکتوب لیکي چې « د ملي قهرمان » احمد شاه مسعود د مړینې د اونۍ لمانځنه د خپلو عوایدو څخه په شانداره مراسمو سره ( غونډو ، بیانیو ، ختمونو ، افطاریو ، فلمونو په ښودلو ،... ) ولمانځل شي. احمد شاه مسعود چې تر اوسه پورې د ډیرو په نزد دوه ګوني شخصیت ، د شک په سترګه ورته ګوري او لا پوره معلومه نده چې تاریخ به د هغه په باره کې څه ډول قضاوت کوي ، ځکه چې یواځې د خپلو خپلوانو ،دوستان او عزیزانو یو جانبه او یو اړخیز قضاوت خو کافي نه دې . په بین المللي اسنادو ، چاپ شوي کتابونو او انټر نیټي ویب سایټونو کې چې دغه ډول قضاوتونه شوي او کیږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



اکثراً دغه موضوع په متناقض ډول د هر افغان ورد زبان ده .خو د احمد شاه مسعود خپلوان او په وینه شریک متعلقین د ډیرو پیسو او مصارفو په زور جبراً په یو جانبه ډول په خلکو او خصوصاً دولتي او حکومتي ارګانونو له خوا دهغه دمړیني کلیزي ، یادګاري ثلي او لوی لوی یادګاري عکسونو حق او ناحق ځړونه هرځای تحمیلوي ،حال داچې حتا د احمد شاه مسعود نژدي کلیوال او وطنداران او ټول افغانان دغه ډول قضاوتونه و لو چې دهر چا په حق کې اوسي ، په اوسنیو شرایطو کې له وخت څخه دمخه او نا سم ګڼي . نو ځکه د احمد شاه مسعود د اونۍ دلمانځني په خاطر د جمهوري ریاست څخه نیولي ،دپارلمان ، د وزیرانو دشورا ، ستري محکمي او نورو ټولو ارګانونو دنما ینده ګانو په ګډون دخارق العاده تنظیم او سازماندهي لپاره دیوه ډیر لوی هیئت ټاکل چې دغه مراسم یوه هفته ، خو په حقیقت کي یوه میاشت دجمهوري مقام څخه نیولي د کتابت تر دفتره پوري په مرکز او ټولو ولا یا تو ، داخل او خارج کې ولمانځل شي. د سلیم عقل څښتن افغانان دغه عمل اغراق امیزه بولي ،خصوصاً په اوسنیو شرایطو کې چې د ملګرو ملتونو او نورو نړیوالو خیریه

مؤسسو د شمیرنو او محاسبو له مخې حد اقل ۷ ملیونه افغانان د فقر ،بدبختۍ ، لوږي ،یخنۍ او مرګ ومیر ستونځي په راتلونکي ژمي کې په مخکې لري او د افغان دولت چیغې لا له اوسه اسمان ته پورته ، او موقع شناسانو خوله خلاصي بوجۍ ګاني سر له اوسه د احتمالي مرستو تر رسیدو پورې ملا پوري تړلي ګرځوي . داسې انګیرل کیږي چې احمد ساه مسعود ته نژدې ځیني کړۍ عمداً د دغه ډول جبري یو جانبه فوق العاده تخریشي اعمالو اور ته لمن وهي ،تر څو د هغه په باره





کې ذهنیتونه لا پسې مغشوش کړي . زه پدې عقیده یم ،کله چې د محاسبي وختونه راشي، احمد شاه مسعود به هم د نورو بې شمیره مجاهدینو په ډله کې، د یوه وتلي او هوښیار قوماندان په حیث د استحقاق په صورت کې د خپلو مبارزو او اعما لو احسن بدل د خلکو په عادلانه محکمه کي تر لاسه کوي .څو ورځې دمخه همداسې د « مجاهدینو د بري کلیزه » چې ټول افغانان او په افغانستان کې میشت خارجي قوتونه او نړیوال خیریه مؤسسات او سازمانونه هغوی جنګي جانیان او د بشر دحقوقو ناقضین بولي او د کابل دښار نژدي ۱۰۰۰۰۰ بې ګناه ښاریانو په وژلو ، دټول کابل ښار له ځیلمه په ورانولو ، دعامه او شخصي شتمنیو په چور او چپاول او دقومي ، ژبني ،سمتي او مذهبي تعصباتو له مخې د مختلفو قومي ډلو د وژنو زړه بوګنوونکو صحنو لکه رقص مرده ، په سرونو میخکوبي ، په کانتینرونو کي جمعي سیزني ،د ښځو سیني پریکول او ډیرو نورو ګناهونو په تور تورنوي او فوق العاده د شک په سترګو رته ګوري ،... په ډیرو شانداره مراسمو سره پیشبیني شوي وه چي په رسوایي بدله شوه. ولي ؟

بیاهم پوښتنه پیداکیږي ، ولې د ازادۍ ورځ دغه دافغانانود ستر ملي ارزش ورځ ونه لمانځل شوه ؟

هو !کله چې په ملک کې پردي واکمن شي. وطنپرستي ، وطنپرستانه شعارونه ، وطني ارزښونه او عملونه په هغوی ښه نه لګي. ترې بد وړي . نو بیا بیګانه پرستي مود او زور شي او بیګانه پرستان لکه دبنو « انباق »هغه په سیالۍ سره پالي او د خپلو متولیانو په خوش خدمتۍ کې یو له بله عجولانه مخکې کیږي ؟؟؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اوباما ـ رسالت که حاکمیت ؟

اوباما پــه اتنیکــي ،جینیتیکــي ،اجتماعي،جغرافیــایي اود بــشري جمعــي شــعوري بلــوغ پــراخ بنــستهٔ دیــالکتیکي هراړخیــزه محــصله او کثیــر ا لبعــدي نړیــوال شخــصیت ګڼــل کیــږي .شــک نــشته چــې د اوبامــاد شخــصیت پــه جوړښــت او تــشکل کــې د هغــه کثیرالجوانبــه ټــولنیز بیــز عمــده رول لوبــولې ،خودهغــه شخــصي اســتعداد ،ابتکار اوپــه انتخابــاتو کــې پــه فــي البدیهــه او زمــاني معینــه مقطــع کــې د مشخــصي قطعــې ، فــاکتونو اوفکتورونوپــه دقیــق ډول او پــه ټــاکلي موقــع اســتعمالولو قــاطع رول لوبــولې دې. دریــم عامــل همغــه د بــشري جمعــي شــعوري بلــوغ دیــالکتیکي انعطــافي افقیــت وو چــې بــشري شــعوري دموکراتیکــه اګــاهي یــي پــه یــوه مــشترک مخــرج او دمبــارزې پــه یــوه صــف او ســنګرکې راټولــه او د اوبامــا پــه څیــر د یــوه کــس پــه منطقــي او معقــول انتخــاب پــه تــصمیم بانــدې بدلــه شــوه .څلــورم عامــل دامریکــي دپخــواني جمهــور رئیــس جــورج ډبلیــو بــوش د نابکــاره ټیم اتــه کلنــه دوره وه چــې بــشري ټولنــه یــي پــه قهقرایــي ، اُتیلیتاریــستي ، آزمندانــه او ســودجویانه بــې کلتــورۍ ســره پــه یــو جانبــه عطالــت د نــابودۍ ګړنــګ تــه ځغلولــه ،نړۍ یــي پــه بــې ســابقه ډول د ســتر مــالي او پــولي بحــران ســره مخــامخ اود هــر وړې ځــوان ،زوړ او ماشــوم لــه





خــولې څخــه یــی اخــري مړۍ وشــوکوله ، چــې پــرې ژونــدې پــاتې کیــدلې شــو . عوامــل نــور هــم ډیــر دي چــې بــشریت یــي جبراً ددغــه ډول منطقــي او معقــول تــصمیم پــه صــف او ســنګر کــې ودروه ، او پــه بــې ســابقه ډول پداســې لــوی مملکــت کــې ۹۵ فیــصده تــور پوســـــتو ،۶۶فیــــصده ځوانـــــانو ،۵۴ فیــــصده کاتولیکـــــانو او همداسې پرتـه لـه تبعیـضه سـپین پوسـتو او تورپوسـتو ، ځوانـانو او زړو او مختلفــو اقــشارو بــارک اوبامــا تــه بــرعلاوه د خپلــې رای هــرډول مــادي او معنــوي امکانــات پــه لاس کــې ورکــړل او پــه قــاطع اکثریــت ســره اوبامــا دامریکــي دڅلــور څلویــښتم جمهــور رئــیس پــه حیث وټاکل شو .

پداســې شــرایطو ســره ، زه پــدې عقیــده یــم چــې اوبامــا دیــوه داســې رســالت جوګــه دې چــې یــوه تــاریخي دوره پــه بلــه اړوي اوکــه سیاســت هــم اوسي بایــد هغــه سیال سیاست اوسي چــې سیاسي پــایلې یــي پــه تــاریخي رســالت بانــدې منتجــې او حاکمیــت یــي د عدل او انصاف په بنیاد ولاړ وي.

پــه ظــاهرکې خــو معلــومیږي داســې ، چــې پــه څــو لنډو جملــو کــې تحلیــل وشــو ،واقعیتونــه او حقیقتونــه معلــوم دي ،لاره او هــدف څرګنــد دې ، ممانعــت وجــود نلــري ،یــا « چهــار یــار » او دهدف په لور نه ستړي کیدونکیې منډې.

پــه تــاریخ کــې خــو هــم همیــشه همداســې وه ، ښــه او بــد ســره تمیــز او حقیقــت هــم هیڅکلــه پــټ اختــر نــه وو ، لکــن چــارې تــل د مــشکلاتو ســره مخــامخ وې. دې کــې شــک نــشته پخــوا چــې مــشکلات ډیــر او امکانــات کــم ووچــارو هغــسې بهیــر درلــود چــې تــاریخ یــي ګــواه دې ، او نــن چــې د مــشکلاتو پــه نــسبت امکانــات ډیــر زیــات دي ،بیــا هــم چــاري دډیــرو ســتونزو ســره مخــامخ دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



حقیقت دا دي چې حق اخستل کیږي ،په رضاء هیڅکله د چا حق چا چاته نه دي ورکړي ، حتماً لازمي او کافي کچې د مبارزي ته اړه شته دي. دا د ظلم او ناروا نظامونه ، داد سود او زیان تفاوتونه په یوه رڼاورځ او رضاء سره د حل لار نشي پیدا کولي . دا د هغه ټولو شیطاني او ناروا اعمالو نتیجه او محصله ده چې د بشر د پیدا ایښت څخه تر نن ورځې پورې ، یوې ډلې سرته رسولي او بلې خوا زغملي دي. رحماني او شیطاني اعمال ځانته خپل خپل پلویان لري او د حق او باطل تر منځ تضاد او مبارزې د تاریخ په اوږدو کې دوام درلود خو د نیکه مرغه همیشه یې د حق دبري او رجحان په لور مثبت تغیر کړیدې. البته ممکنه نده چې مونږ د بشري جمعي ذهن څخه د تیرو ناوړه خاطرو رټې او کدورتونه په یوه ورځ د ذم ذم په او بو پریمینځو ، د نړۍ د ټولو کتابخانو څخه پدې باره کې یادونه او تاریخي اثار راټول او داور په لمبو او یا په خپلو جمعي احساساتو سره پرې دیوې عجولانه پریکړې په پایله کې پرې خپل خوا یخې وکړو ، تیر په هیر و شمیرو ، یوه دوره به په بله واوړي او ګوندې هر څه به د واقعیتونو او حقیقت په مسیر او مجرا کې پرېووځي او د نړیوال لوي اختر په سمبالولو او نمایش سره به بلا تشبیه ابدي جنتي ژوند پیل کړو. هر څه به ممکن شي خو د ذهن څخه د تیرو ناوړه خاطرو کدورتونه او زنګ وهلې رټې تل پاتې یادګار او د هرچا سره تر قبره پورې منلې میلمه ګڼل کیږي. ذهن هغه ماده ده چې په کمي او کیفي لحاظ د بلې هرې مادې په نسبت د خورا زیات عطالت لرونکې ده . ذهنیت د پروسې په حیث په زماني بعد کې د دیالکتیکي تحول او تحجر په پروسه کې متحجر او خود اختیاره لجام



"لوی خدای، لوی علم، لوی جهان" سیاسي فلسفه

ګسیخته عطالت پیدا کوي او د علم او تخنیک څخه چې نن خپل خارق العاده صعودي انکشافي مسیر او منحني طې کوي ، ډیر وروسته پاتې کیږي ، په حقه سره د بشري ټولنې د چټکو ګامونو د پرمختګ په لار کې د هغوی د پښو زولنې ګرځي او په هیڅ قیمت حاضر ندي د خپل ذهنیت مطابق موجوده نظام او شرایط له لاسه ورکړي. نو ځکه د موجوده تحول طلبه قوتونو او ذهنیتونو سره په نه پخلا کیدونکي تضاد کې واقع کیږي او پدې لار کې د خپلې بقاء او برلاسي په خاطر حاضر دي د خپلو ټولو روا او ناروا امکاناتو څخه په استفادې سره قاطعانه مصمم دي، ولو که د هغوی په خپله تباهۍ منجر هم شي ،باید زوړ نظام وساتي .

د نړۍ په نننۍ او پروني سیاستونو کې د غه ټول حقایق عملاً په سترګو کیږي ،او دا هم کومه پټه معما نده چې اته کاله د مخه د امریکې د اولسمشرۍ په ټولټاکنو کې د بوش د کورنۍ د وارث سپیره مخې برې او په نړیواله کچه اکثراً د ښې لاسي معلوم الحاله جنګ طلبه او جنګي جانیانو ټیم تشکیلید ل د نړۍ او نړیوالو لپاره کوم نیک فال نشو ګڼل کیدلې.د ۲۰۰۱ د سپتمبر د یوولسمې وروسته د نړیوال تروریزم د بې مفهومه او محض جنګي سیاست په غوره کولو سره عمداً نړۍ د تروریستي جنګونو او حملو په تیاتر بدله خو په حقیقت کې یې د خپلو نظامي سوقیاتو لپاره زمینه سازي وکړه چې په واقعیت کې په همدغه بهانه خو په ظاهر کې تش په نامه د امنیت ، بیا ابادونې ، نظام جوړولو او... نومونو د ځلویښتو پرمختللې هیوادونو د پنځوس زره څخه زیات نظامیان دا اتم کال کیدونکې دي چې په افغانستان کې حضور لري . که د امنیتي

(c) ketabton.com: The Digital Library



وضعي او نظام د خرابوالي په باره کې ولیکم ، په رښتیا به د قلم رنګ بس نشي او همداسې په ټوله نړۍ کې یې ناوړه پایلې تر دې حده رسیدلي دي چې هر چاته د مرګ قاصد په کور ،کلي ،اداره ، مسجد او بل هر ځای هر وخت ولاړ دې او د ښه کیدو امکان یې څوک په ذره بین سره هم نشي لیدلې.

پوښتنه پیدا کیږي چې د نیو یارک ،بالي ،لندن ، مادرید... ،کابل «دهند سفارت» ،اسلام اباد او د نوومبر په وروستۍ اونۍ کې د ممبیي ښار د تاج محل په هوټل کې د تروریزم عاملین څوک وو ؟ قاطع اکثریت پاکستانیان او پاکستاني الاصله او عربي الاصله امریکایان او اروپایان وو .د کوم افغان نوم خو به سهواً هم پدي تور لست کې چا نه وي اخیستې ؟که داسې نه وې نو دا بې مفهومه غوبل څله په افغانستان کې جوړ دي ؟او د کوم هدف په خاطر امریکا او انګلیس غواړي په افغانستان کې دعسکرو شمیر نور هم زیات کړي ؟ستاسې تاریخي شواهد خو داسې حقایق په ګوته کوي چې افغانستان ته دعسکرو ننوتل اسان دي خو د بیرته وتلو پوښتنه کیدلې شي یو ځل بیا دداکټر برایدن څخه وشي. بله پوښتنه دا راولاړیږي چې ایا د تروریزم غم لړلې پیښه یوائې د ۲۰۰۱ د سپتمبر د یوولسمې څخه وروسته رامنځته شوه او که د نړیوال امپریالیزم د نسل کشۍ د پخواني سادیزم جینیتیکي ارث په افغانستان کې یو ځل بیا راتوریدلې دې ؟اویا دغه خاطرې د نړیوالو فاشیستي ، نیو فاشیستي او مافیایي ډلو او سازمانونو په واسطه د تل لپاره ژوندې ساتل کیږي او نه غواړي په هیڅ قیمت یې له لاسه ورکړي ؟ یو متل دې چې «دروغ ګوی حافظه نلري ». رښتیا هم ، کله چې پخواني شوروي اتحاد په



"لوی خدای، لوی علم، لوی جهان" سیاسي فلسفه

افغانستان حمله وکړه ، دامریکي دجمهور رئیس کارتر امنیتي مشاور بریژنسکي ولیکل چې مونږ روسان وهڅول چې په افغانستان حمله وکړي او پاکستان پدې کار کې زمونږ ملګرې وو . حال دا چې امریکا په افغانستان کې دژنیو د تړون یوائینې ذمه وار او حکم وو . یعنې امریکي خپل ټول تعهدات مات او دروس سره په تباني کې یې د ژنیو د تړون په مقابل کې کودتا وکړه او ټول نړیوال ذات البیني تضادونه یې جفا کارانه د افغان اولس د سر نوشت سره غوټه کړه چې کم تر کم یو نیم ملیو ن بې ګناه انسانان پکې شهید ، همدومره معیوب او د افغانانو ټولې شتمنۍ له منځه ولاړې. ایا دیته دولتي تروریزم نه وایي؟ مدعي معلوم دې ، اعتراف یې هم کړېدې. که عدالت وجود ولري ، نو ولې یې د محاکمي څخه ډډه کیږي ؟ له بلې خوا مشاور مشوره ورکړه ، د امریکي حکومت ددې په څنګ کې چې ځانګړې ذمه وار وو ، د حملې لپاره یې څه دلیل درلوده ؟ روسان خو د مرستې په خاطر افغانستان ته راغلي وو ،لکه چې یو وخت انګریزان او نن د ملګرو ملتونو او امریکي په مشرۍ د څلویښتو هیوادونو نماینده ګان او نظامیان حضور لري ، هغه وخت خو هر څه د روسانو په قابو کې وو او ددوی په مشوره سر ته رسیدل ، دحملې لپاره د هغوی دلیل څه وو ؟

د امریکي جمهور رئیس جان کندي ، مارتین لوتر کنګ ،پاتریس لوممبا ، تروتسکي، ساخاروف ،یأثر عرفات ،اسحق رابین او ډیر نور چا ترور کړل ؟ولې یې مدعیان نن هم ازاد ګرځي ؟ایا دفلسطین قهرمان اولس او اسرائیلیان په سوله کې د ژوند کولو حق نلري چې تاسې یې د ځانونو په خاطر ټول عمر جنګول غواړۍ ؟دیأثر عرفات او اسحق رابین ګناه همدا سوله

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوښتل وو؟ څه لپاره اسرائیل، پاکستان او د نړۍ په ګوټ ګوټ کې دغه د شر او فساد مرکزونه ساتل کیږي؟

تنني نړیوال او افغاني سیاستونه د تروریزم د پوچ او مهمل عنوان لاندې په داسې کثیر المجهوله معادلو بدل شوي چې هیڅ ډول معلوم فاکتورونه په کې نه په سترګو کیږي نو ځکه خو یې د هیڅ ډول حل امکانات هم وجود نلري ،مګر اصیل افغانان یې یو ځل بیا لکه د همیش په څیر د خپل ملي وحدت په مټ دغه ټولې لښکري شاتوري په منډو له خپلې سپیڅلي خاوري څخه وباسي او د امریکې د امپراطورۍ لمن د افغانانو په برکت له نړۍ څخه ټوله او د امریکې په داخل کې به هم هر څوک د خپل خود ارادیت حق تر لاسه کړي .

ددې ټولو خبرو سره سره دا هم یو واقعیت دې چې ټولنه همیشه په سیاسي دیالکتیکی تقابل کې قرار لري او ټولې طبیعي او اجتماعي پدیدې که انفرادي دي یا جمعي د قضاء او رضاء له مخې که نن نه سبا باید په شعوري توګه ټولنیزو قوانینو یعني ایولوشن او ریولوشن (ریفورم او انقلاب) د ټولنې د سیاسي فلسفې په حیث او په نهایي مرحله کې د قضاء او قدر (جبر او اختیار) خدایي عام قانون ته غاړه کښېږدي ،په غیر صورت کې به یې د طبیعي ،اجتماعي او قضایي جبر څپېړي په مخ لګیږي . داسې فکر کیږي چې هغه سبا نن رارسیدلې ،بشري ټولنه شعوري بلوغ ته رسیدلې او د تأمل او صبر کټې هم پخه شوې او سره ددې چې ټول خلک وایې چې ددروغو مزل لنډ وي ،خو چیرې دي د حقیقت پلویان او حقیقت یابه دژیوري ؟ داد نړۍ محاکم او قضایي حقوقي ارګانونه «څه لپاره قوانین لیکي چې یې نشي عملي کولې» ؟





دبوش درژیم بشري ضد او غیر مسئولانه سیاست او په افغانستان او عراق باندې د خاینانه حملو په مقابل کې سراسري نړیوال پاڅون او پرته له تبعیضه د اوباما څخه دامریکایي اولس او ټولو نړیوالو د قاطعانه ملاتړ ، دبشري ټولنې د بلوغ دبشارت په معنا دې.

امریکا ډیر لوی ، عظیم او غني مملکت دې ، امریکا ډیر لوی علمي ـ تخنیکي طاقت دې ،امریکا په واقعي معنا او مفهوم تر هر بل ملک کثیر القومي انترناسیونال ملت دې ،امریکا تر هر بل ملک ډیر لوی اقتصادي طاقت دې ،امریکا تر هر بل ملک ډیرلوی نظامي طاقت دې ،امریکایي اولس د جهاني دموکراسۍ علمبردار او ډیر لوی دموکرات طاقت دې ،امریکا تر هر بل ملک د ډیر قوي او فعال دینامیک منجمنټ او مدیریتونو ملک دې ... .او په ټولنټاکنو کې د دغسي اګاه او لوی اولس او ټولو نړیوالو بشپړ ملاتړ او خوشحالي د اوباما دلپاره د ستر تاریخي رسالت په خاطر عملي عیني او ذهني شرایط او عظیم پوتنسیال ګڼل کیږي او کله چې یو حاکم او یو جمهور رئیس واک په لاس کې نیولو ته حاضریږي ، باید په خپل قلمرو کې د عدالت او انصاف په تأمین او د واک په ساتلو قادر وي ! ! !

اوس په اوباما پورې اړه لري چې کومه لاره غوره کوي : دخپل نړیوال تاریخي رسالت او که د څو تنو خفاشانو چټله سیاسي لوبه او أتالیتار حاکمیت چې په تورتمیو خونو کې پټ دي ، د ځانونو لپاره طلایي هګۍ اچوي ، دامریکې ددموکرات اولس لپاره چې نن د نړۍ یوا ځینې مونیپولار طاقت ګڼل کیږي ، لوی شرمونه او د نړیوالو لپاره لوی غمونه او

(c) ketabton.com: The Digital Library



دردونه زيږوي. كه اوباما د خوشال بابا پريكړه مني ، هغه په لاندې ډول ده.

په دنيا د نو ميالي دي دا دوه كاره
يا به وخوري ككرۍ يا به كامران شي

هو ! اوباما د خپل تاريخي رسالت په خاطر ټول عيني او ذهني شرايط ، نړيوال ملاتړ او ټول امكانات په واک كې لري او د زمان تقاضا هم همداسې حكم كوي . كه نن يې دا طلايي تاريخي فرصت له لاسه وركړ ، سبا به ناوخته وي ، د مچ غوندي به ورغوي مخي او پرته د تاريخي تورمخي به بل څه نه وي ورپاتي !

جمعي رسنۍ داسې شاهدي وركوي ، كوم كسان چې تر اوسه پورې د اوباما سره په اقتصادي ،پولي ، داخلي او خارجي سياسي ډلګيو او جرګګيو كې راټول شوي د پخوانيو زړو نظامونو پلوي فنكاران او زاړه تجربه كاران دي . د د فاع او استخباراتو پخواني متصدي «رابرت ګيت» داوباما ددفاع د وزير په حيث ، په دغه اموراتو كې د پوره سابقي ، مهارت او تجربي ښتن ګڼل كيږي او په عراق باندې د حملي او د جنګ د دوام پلوي هم دې . كه اوباما د تاريخي رسالت عزم ولري او ددغه كسانو په شمول خپل ټول كاري ټيم پدي متيقن كړي چې باالاخره يو څوک ، يو ټيم او يا قاطع اكثريت د بشريت چې د عقل ،شعور او منطق ښتن وي دداسې يوه ستر تاريخي رسالت پيونر « pionier » او پيش آهنګ جوړ شي ، او دعام بشري سعادت دغه ستر افتخار پخپل نوم ثبت كړي ، او پري نږدي دغه وياړ د بل چا نصيب شي ، همدغه ده دانعطاف هغه نقطه چې د سرمايي اود قاطع اقليت د حاكميت او بلكه





دظلم او ناروا دوران به د عدل او انصاف ، واقعي دموكراسۍ ، د جمعي ښيګڼو او جمعي شعور په دوران واوړي او ټول بشريت به پرته له تبعيضه ،فرد فرد د واقعي خوشبختۍ خاوندان شي . په غير صورت كې به دغه زړه ګاډۍ د څو كهنه كارانو په آند په شرمسارۍ سره په زړو لارو كړپيږي او تورمخي به يې دعام انسانيت په نوم پاتې وي .

په وړاندي د جمعي شعور د بري په لور !

(c) ketabton.com: The Digital Library



# افغان ملي او پښتني قومي وحدت په سیمه کې د سولې ضامن دې!

علامه اقبال په حقه لیکلي چي:

اسیا یک پیکر آب وگل است
ملت افغان دران پیکر دل است
از فساد او فساد اسیا
از کشاد او کشاد اسیا

دافغانانو ملي او پښتني قومي وحدت د سیمي په لرغوني او معاصر تاریخ کې د سولې او ثبات دیوه ستر عامل او یواځیني ډاډمن تضمین په توګه پریکنده رول لوبولې او تر ډیره پورې خپل دغه تل پاتې تاریخی رسالت او اصالت ته وفادار پاتې شوې دې. شک نشته چې د افغانانو دغه سیمییز او بلکه نړیوال ستراتیژیک موقف نه یواځې د نړیوالو آبر قدرتونو، بلکه د سیمي دهیوادونو او قومونو د حسادت، قومي تعصب او تنګنظرۍ انګیزه راپارولې ده. جغرافیایي ستراتیژیک مو قیعیت او د هند دلویي وچې په لور یواځینۍ ګذرګاه، بل هغه ارزش دې چې افغانان یې دیرغلګرو سره په جګړو کې اخته او هم د آبدیده فولا دي عزم او ارادې خاوندان ګرځولي دي. د قبل المیلاد دمخه د مقدوني سکندر څخه



"لوی خدای، لوی علم، لوی جهان" سیاسي فلسفه

نیولي تر اوسه پورې چې هر یرغلګر پدې لار د تګ تکل او یا یې د افغانستان د سیمه ییز ستراتیژیک بالاحصار د خپلولو بد نیت کړیدې، بري یې ندې په نصیب شوې او دهرې امپراطورۍ لمن دافغانستان له مقدسې پولي څخه ټوله شویده. هر یرغلګر دا ارمان ګور ته له ځانه سره وړې چې د افغانستان په خاوره کې دې خپل ناولي پلانونه پلي او یا دې په دغه مقدسه خاوره خپل منحوس قدمونه دنورو سیمو په لور روغ رمټ ورواړوي. دې او دا ډول ډیرو نورو عواملوکه د یوې خوا افغانان د تاریخ په اوږدو کې خپل رسالت ته مقید او وفادار ساتلي، له بلې خوا یې د نړیوال امپریالیزم دښمني راپارولې او ور سره د مخامخ مستمر جنګ په پراخه جبهه کې واقع شویدې. همدا سبب دې چې تقریباً د نړۍ ټول جنګونه د افغانستان په خاوره او یا دهغې په نژدې چاپریال کې واقع شوي او ددغه جنګونو ټول ثقلت همیشه د افغان اولس په اوږو بار وو. د تاریخ په اوږدو کې افغان اولس ددغه مقضي جبر له مخې همیشه متحد، نه ماتیدونکې او تسخیر ناپذیره پاتې شوې او سره ددې چې دښمن د تاوده، ساړه، رواني او نورو جنګونو ټولو اشکالو څخه ډډه نده کړې او په ټولو جبهو کې یې په ډیر مهیلیت او بې رحمۍ سره د افغانانو په مقابل کې سنګرونه تاوده ساتلي دي خو هیڅکله پدې ندې بریالي شوي چې د افغان ملي وحدت په صفوفو کې زنګ وهلې کړۍ اویاد شک او تردد فضاء ایجاد کړي.

په کومه اندازه چې افغان اولس دملي وحدت په ساتلو کې ټرلي او ثابت قدم پاتې شویدي، په همغه اندازه ځیني روشنفکران او قومي مشران د خپلې ټولنې د نارسه او خامو

(c) ketabton.com: The Digital Library



مناسباتو په کودکانه امراضو اخته او ددښمنانو د هر ډول دسايسو په مقابل کې ضعيف النفسه ، طامع او فوق لعاده اسيب پذيره او معاملګر پاتې شويدي. دافغاني ټولنې د ذات البيني مناسباتو د اساسي تضاد او ضعف زړې په همدې غوټه کې تړلې او دښمن هميشه ددغه لارې په افغان اولس موقتي تسلط پيدا کړې دې . هغه وطنپرست روڼ آندي چې دخپلې ټولنې اساسي مسايل ځيرل ، ارزول او مشکلات يې له منځه وړل غواړي ،خپل کار بايد دهمدغه اساسي غوټې د سپړلو څخه پيل کړي.

د افغانستان په موجوده وضعه کې مونږ عملاً وينو چې همدغه ضعيف النفسه روشنفکران د سياسي ګوندونو ،ټولنيزو سازمانونو ، دبشر دحقوقو د کميسيونونو اود داخلي او خارجي خيريه ټولنو د غړو ،مطبوعاتيانو او نورو ډلو ټپلو په نوم د خپل اولس او وطن سره په علني دښمنۍ کې ددښمنانو د لعنتي سياست مبلغين ګرځيدلي او په شعوري ډول خلاف دافغاني ،انساني او اسلامي نواميسو اوعنعناتو دخپل وطن اوهموطن پرضد دهغوی سره د خپلو شخصي ګټو په خاطر پټې خاينانه معاملې کوي . نن د افغاني ټولنې تر منځ په وينو سور غير قابل عبور خط کښل شوي او افغاني ټولنه يې په دوه نه پخلاکيدونکو متضادو خواوو ويشلې ده. يوې خوا ملي متحد وطنپرست اولس ،روشنفکران او دولتي او قومي مشران او بلې خواته د نړيوال مافيايي امپرياليزم اود مخدره موادو قاچاقبرانو سره په تباني کې لړکۍ فاسده ، طامع ، خاينه ،بيګانه پرسته ډله دولتي او قومي مشران او روشنفکران قرار لري . دا فغان اولس په تاريخ کې تل همداسې وه خو دنهايي





فيصلي حق افغان اولس تل له ځانه سره ساتلې او داخلي او خارجي معاملګر او يرغلګر يې د خپل ملي وحدت په مټ دتاريخي ماتې سره مخامخ کړي دي. نن هم دقيقاً همغه شيبه رارسيدلې چې افغان اولس د خپلې هميشنۍ تاريخي ارادي زلزلي او انقلاب جوړ او داخري ځواک په استعمال سره بشريت ته د امپرياليستي اُتيليتاريزم د توري دوري څخه دابد لپاره نجات ورکړي. افغانان هيځکله د ملي وحدت د مشکل سره ندي مخامخ شوي او نه داخلي اوخارجي دښمنان د ټولو دسيسو سره پدې قادر شوي چې د افغان ملي حصار شيرازه رنګه کړي ، نو ځکه خو په هره لوبه کې بريبهميشه د دوی په نصيب وو او په ننۍ لوبه کې يې هم بري حتمي دې. پريږدئ چې افغان وطنپرست اولس تل ددغه افتخاراتو واګې پخپل لاس کې ولري او د ټولو دښمنانو د سترګو اغزي پاتې وي .

په افغاني ټولنه کې دځينې ګنده تخمونو رازرغونيدل له هغه وخته څخه شروع شول ، کله چې انګليسي شرق الهند تجارتي شرکت په ۱۶۰۰ م کال کې ځان د هند لويي وچې ته ورسوه او ورو ورو د هغه ځای په ټولواک نظامي ملکي حاکميت بدل او همداسې روسي تزاري دولت دخپل حاکميت لمن د افغانستان تر شمالي پولو پورې او غزوله . ددې دواړو امپراطوريو په خاوره په ځلر ويشتو ساعتو کې لمر نه پريووت .افغان اولس ددغه لويو آبر قدرتونو تر منځ واقع او تر اوسه پورې د هغوی د جفا سره مخامخ اولکه دغوښت د داني په ځير دل کيږي. انګليسي او تزاري امپرياليزم په خپل دوجانبه متضاد تباني او تباين سره هڅې درلودې افغان مقدسه خاوره

(c) ketabton.com: The Digital Library



یا په یوجانبه ډول د خیټې لاندې او یا یې په تقسیم باندې سلا مشوره شي، په همدغه فرصت کې همدغه کسان چې په خپل اولس کې د سیال ژوند جوګه نه وو، د افغاني ټولنې د نیمګړتیاوو په پرهرونو کې یې هرزه او پارازیت دلدلزار جوړ او د ننني بې شمیره بدبختیو او ناخوالو اساسي عاملین ګڼل کیږي. لکن تاریخي حقایق ګواه دي چې افغان اولس تل د خپل ملي وحدت په قوت هغه د غوښتد انه او زهر مهره پاتې شوې چې د دل کیدو او هضمیدو قابلیت نلري او د وطن او اولس دښمنان د تاریخ په اوږدو کې تل ناکام او مختوري پاتې شوي دي. افغان اولس حتا د هر نا انډول جنګ څخه بریالي وتلې او دانګریز او روس په څیر لویي امپراطورۍ یې ړنګې کړیدي. شک نشته چې افغانانو دغه بریالیتوبونه په ډیرو مالي او ځاني تاوانونو ګاللي او خپلې ټولې مادي او معنوي شتمنۍ یې پکې له لاسه ورکړیدي، نه مونږ د ټولو دغو بدبختیو څخه لازمه نتیجګیري کړې او نه قسم خوړلي دښمنان ارام ناست دي او د پیړیو په اوږدو کې یې مونږ لکه د سیوري ګوټ په کوټ تعقیب کړي یو. د خپلو روزل شوو اجنټانو پواسطه یې خپل زوړ سیاست ( divide and Rolle ) برحال ساتلې او جبراً یې پښتانه د جغرافیایي تقسیم له لارې په قومي ویش محکوم او دافغانستان شمال شرقي، شرقي او جنوب شرقي بهترینې ستراتیژیکي سیمې یې د خپلې هندي مستعمرې پورې وتړلې چې خپل یو اځینې قوي دښمن ضعیفه کړي.

په تعقیب یې روسي تزاري امپریالیزم هم په ۱۸۸۴م کال کې په غلچکي ډول د پنجده په منطقه کې په یوه دوه سوه کسیزه نظامي قطعه حمله وکړه او یواځې هغه وخت یې دغه





منطقه اشغال کړې شوه چې افغان قهرمانو ساتونکو د خپلې خاورې د ځمکنۍ بشپړتیا په خاطر تر اخرین تن پورې ځانونه قهرمانانه فدا کړل.

هغوې پدې عمل نه یواځې قومي وحدت مات بلکه افغانستان یې له هرې خوا د ډیرو لوړو صعب العبور غرونو د سلسلې پواسطه په وچه کې محاصره او د افغانانو او پښتني قبایلو د مستقیمو برق آسا حملو څخه یې ځانونه وژغورل. انګریزانو همدا سې په ډیر سپین سترګتوب او خاینانه شکل سره د ګندومک په معاهده کې د خپلو معلوم الحاله ګوډاګیانو ناروا حقوق او امن د آمیر محمد یعقوب په وا سطه تضمین او په افغانستان کې دننه یې د ملي خاینانو ازادانه فعالیت ته قانوني او حقوقي مشروعیت ورکړ. دغه ډول خاینانه دود او دستور بې شرمانه د افغان ملت د ملي وحدت د سپیڅلي ټغر په بوده او تنسته کې وآڅښل شوا او تر ننه پورې دځینې ناولو او خاینو څیرو په وجود کې د ملي وحدت په سپین څادر را څرګندیږي او د ملي او قومي وحدت په تړلې او محکم ځنځیر کې زنګ وهلې کړۍ جوړوي.

پدې ډول د نړۍ پدې لویه ستراتیژیکه سیمه کې د انګریزي او تزاري استعمار د څو پیړیو د «لویې لوبې» په موده کې د دغه خاینانه ستراتیژۍ بنیاد کښیښودل شو. هغوۍ به په ښکار خپل ګوډاګیان روزل او پالل او ملي وطنپرسته شخصیتونه به یې له منځه وړل او یا لا اقل فرار ته مجبورول او ورځ په ورځ د اجنبي پرستانو لښکرې په زیاتیدو او وطنپرستانو د اختناق او جبر لاندې شپې سبا کولې. ارزشونه په افغانستان کې بې ارزښه او حق نا حق او نا حق حق وو. ځکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بیګانه او بیګانه پرستانو په حکومت کې وطنپرستي پخپله ستره ګناه ګڼل کیږي او په خاینانه او نامردانه لوبو کې وطنپرستانو ته سیالي کول مشکل او ناشوني کار وي !

خو ددې ټولو خبرو سره سره ، لکه چې دمخه وویل شول ، د اخري تصمیم دعملي کولو حق افغان اولس همیشه د خپل ځان سره ساتلې او افغان اولس پدې سیمه کې همیشه ورد زبان ، همیشه مطرح بحث ، همیشه ترې ددښمن سترګه سوي او حتا د استعمار په وخت کې یې هم خپل حریت او خپلواکي ساتلې ده . یواځې د افغان اولس دقهرمانانه مبارزو په نتیجه کې انګریزان د متواترو ماتو سره مخامخ او په لره پښتونخوا کې هم کله چې په ۱۹۲۱م کال کې د باچا خان په مشرۍ د پښتنو انجمن جوړ او په ۱۹۲۹م کال کې همدغه انجمن د خدايي خدمتګارو په سیاسي حزب بدل او همداسې ډیر نور ملي مشران او مبارزین د مبارزي ډګرته راووتل ، جنبش منظمه سیاسي بڼه پیدا کړه او کله چې د خدايي خدمتګارو غورځنګ د کنګرس سره اتحاد وکړ او د پښتنو په وجهه د هند د لویي وچې په ګوټ ګوټ کې په انګریزانو ورځ په ورځ فشار په زیاتیدو شو ، انګریزان له هند څخه وتلو ته مجبور شول. خو کله چې په ۱۹۴۷م کال کې انګریزان دهند دلویي وچې څخه وتل یواځیني قومونه چې د خپلو حقه حقوقو څخه محروم او د سیسو اصلي ضربه هغوی ته متوجه وه پښتانه او بلوڅ قومونه وو. باچا خان په خپل کتاب «زما ژوند او جدو جهد » کې لیکي چې کانګرس ورسره بې وفا یي وکړه، خو زه دا وایم چې نه یواځې کانګرس بلکه ،مسلم لیګ او انګریزانو هم د خدايي خدمتګارو د حزب سره بیوفایی او دوکه لا څه چې هغوی یې



"لوی خدای، لوی علم، لوی جهان" سیاسي فلسفه

خپل یواځیني دښمنان ګڼل ،خوله بده مرغه خدايي خدمتګار ګوند خپل دریز ته تر اخره وفادار پاتې وؤ. حال دا چې سیاست تحجر نه مني او باید دالستیکیت قابلیت ولري !باچا خان لیکي چې کانګرس هم دعدم تشدد لار غوره کړې وه او خدايي خدمتګارانو هم ، خو عدم تشدد دکانګرس سیاست او دخدايي خدمتګارانو عقیده وه.

سیاست او عقیده له بنیاده کاملاً دوه متفاوتې پدیدې دي. سیاست دنیایي پدیده ده او پایلې یې هم باید پدې دنیا ترلاسه شي. د عدم تشدد سیاست انسان دوستانه سیاست دي ، اسلامي سیاست دي. په دي سیاست کې شرط دا دې چې مقابل لورې هم د عدم تشدد په سیاست باندې متیقین کړې او که مقابل لورې دعدم تشدد له سیاست څخه سرغړونه کوي په هغه صورت کې ته هم باید له دفاع څخه سمدستي د حملې وضعیت اختیار او په باصقین سره حمله وړې ، ځکه په جنګ کې دفاع مجبوري وضعیت او موقتي بڼه لري. دوامداره دفاع دضعف او حتمي شکست په معنا ده.مسلمانان د جهاد په وختونو کې هیڅکله یواځې د دفاع په حالت کې نه دي پاتې شوي او حتا اکثر وختونه یې په کمو قوتونو او وسایلو سره ددفاع حالت ته اووختي دي. دعقیدي پاداش خدای«ج»په اخرت کې وعده ورکړېده. د عقیدې لپاره یواځې یقین او منل کافي او ایمان پري لرل پکار دي. خو په سیاست باندې پرته له عقیدې د علم په حیث ثبوت او پوهه هم پکار ده.عقیده دخالق او مخلوق تر منځ رابطه او د انسان په ضمیر او وجدان پوري اړه لري.په عقیده کې شروط وجود نلري . دمثال په ډول بنده دخپل خالق په وړاندې دمال ، مقام یا بل ،مثلاً سیاسي شرط نشي

(c) ketabton.com: The Digital Library



راوړلې چې په غیر صورت کې یې احکام ونه مني، عقیده بلا قیدو شرطه باور دې. پس خدایي خدمتګار حزب چې د عدم تشدد سیاست یې دعقیدې له مخې منلی وو په چا باندې شروط نشو منلې ځکه هغوی د خپل خدای سره د خپلې نیکې عقیدې له مخې تعهد کړې وو. لکن کانګرس چې د سیاست له مخې د عدم تشدد لاره نیولې وه ،او سیاست د افرادو ، اقشارو ، طبقاتو او مملکتونو تر منځ مناسباتو او راکړې ورکړې ته ویل کیږي ، د انګریزانو او مسلم لیګ سره په تباني کې د پښتنو ،بلوڅو او حتا دکشمیریانو پر ضد دسیسه کې سره سلا مشوره شول. هغوی سیاسي تشخص درلود ،سیاسي ارمان او هدف یې تعقیبوه او ترلاسه یې کړ. افغانان چې د خپلې خوشباورۍ له مخې د مشخص هدف او ارمان څخه بې برخې وو ،همغسې بې برخې پاتې شول. شاید ځینې کسان ووایې چې افغانانو خپل مشخص هدف او رسالت په سیمه کې د امپریالیستي آبر قدرتونو د جبر او مجبوري شرایطو په سبب نشو تعقیبولې. هغه سیاستمدار او سپاه سالار چې ددښمن په مقابل کې د با المقابل تاکتیک او ستراتیژۍ جوګه نه وي ،باید د سیاست او مبارزې ډګر ته ونه ووځي چې یواځې د بایلونکي رول ولوبوي بلکه هغوی باید دلوبې ګټونکي او ساتونکي اوسي. سیالي ټولنې پخپله خپل سیاستمداران او قوماندانان روزي ،افغاني ټولنې هم باید د مقدمې جبهې لپاره سیال رهبران او قوماندانان روزلې ،پاللي او وړاندې کړې وې. شک نشته چې افغانان څه پخوا او څه نن د نړیوال امپریالیزم د جبر جفاء او غیر عادلانه جنګونو سره مخامخ وو او دي او تل یې خپله مبارزه د اخري ممکناتو او نا ممکناتو په پوله پر مخ





وړې او خپل بري یې داور له لمبو او دزمري له کومي څخه تر لاسه کړیدې. اصیلو افغانو خپل د مبارزې داغ سنګرلا همغسې داغ ساتلې او نن که هم دښمنان او دهغوی ګوډاګیان د پخوانۍ زړې ستراتیژۍ له مخې یو ځل بیا غواړي د وطن او خلکو سرنوشت مجهول انجام ته و سپاري او دافغانانو مجبوري وضعیتونه د هغوی د حقه حقوقو د تحریمولو په خاطر دلیل جوړ کړي ، دا ارمان به د خپلو نیکونو په څیر ګورته له ځانه سره یوسي .

د دومره اوږدې اومفصلي مقدمې څخه زما هدف داوو چې افغانان که لردي اوکه بر دملي او قومي وحدت مسایل د مشخصو تاریخي حقایقو او واقعیتونو له مخې یو له بل څخه په دقیق ډول تفکیک او درک کړي ، او هغه دا چې:

ـــ لکه څرنګه چې پورته ورته اشاره وشوه ، افغانانو د تاریخ په اوږدو کې خپل ملي تړون او ملي وحدت ساتلي او دملي ویش سره په هیڅ صورت او هیڅ قیمت نه پخلا کیدونکې دې. که داسې نه وي ، نن به واحد افغان اولس وجود نه درلودې. کوچنۍ ستونځې دیوه کوچني فامیل د غړو تر منځ هم پیښیږي چې اکثراً قابل دحل وي ، او که چیرې د حل لار ونلري ، فامیل ړنګیږي . که څوک د افغان اولس وحدت ړنګول غواړي نو د علامه اقبال قول محقق او مصدق دي چې اسیا او نړۍ به هم ارامه پاتې نشي او ټول تاریخي حقایق ددې خبرې ګواه او شاهد دي . که جهانیان پدې باور نلري او یا غواړي حقایق تحریف او بل ډول وښایي ، افغانان خو باید چې پرې معتقد اوسي ځکه چې بود ونبود یې په همدې مسئلې پورې تړلې دې !

ـــ دقومي او ملي وحدت د ړنګولو او قومي او ملي

(c) ketabton.com: The Digital Library



شخړو د را منځته کولو په خاطر نړیوال امپریالیزم د تاریخ په اوږدو کې د هر ډول د سایسو څخه کته پورته کړې او اولسونه یې په جبري شکل امنیتي ،اقتصادي ،فزیکي او نورو هر ډول مهاجرتونو ته اړ ئیستي دي او یا یې نیغ په نیغه په جغرافیایي ویش محکوم کړیدي. دا ډول مثالونه د نړۍ په ګوټ ګوټ کې کم ندي او یو د عمده مثالونو څخه یې د پښتون قوم جغرافیایي ویش دې. نړیوال امپریالیزم دا ډول تجربې هم کړیدي چې یو قوم چې د خپل استکبار او غرور له مخې د سیمي او حتا نړیوالو قومونو د عکس العمل سره مخامخ او په ټوله نړۍ کې تیت شوي وو ، په مصنوعي او میخانیکي ډول را ټول او د سیمییزو قومونو په مقابل کې یې د شر او فساد په مرجع او منبع بدل او یا د دي کار لپاره د نړۍ په ګوټ ګوټ کې یې نوي ملکونه او دولتونه ایجاد کړي ، چې عمده مثالونه یې پاکستان او اسرائیل دي.

دا موضوعات ډیر وسیع بحث پوري اړه لري ، چې زما د بحث هدف ندې او ممکنه نده دیوې مقالې په امکاناتو کې وځیړل شي ،خودا حتماً ویل غواړم چې تاریخي پراګماتیزم تراوسه دجغرافیایي قومي ویش او په مصنوعي او میخانیکي ډول خلاف د زماني او مکاني تاریخي فاکتورونو او خلاف دزیربنایي واقعیتونو کوم «مُثُل» او مثال په رسمیت ندي پیژندلې ، نه په پنځو ورځو کې د دغه ډول جوړښتونو بنسټونه استحکام پیدا کوي ، نه پایښت لري او نه په ننني متمدنه نړۍ کې دغه کار شونې ګټل کیږي. انسانان او اولسونه څه دزړو فلزاتو ټوټې ندي چې په هره دشته کې بې څوک را ټولې ، یا یې دکباړ په څیر په کمه بیه خرڅ او یا یې په موټرو کې بار او په





کومه فابریکه کې ویلې او یا په کومه نامعلومه کنده کې نامعلوم سرنوشت ته وسپاري . ټولنه ژوندۍ باشعوره کتله ده چې د خپل ښه او بد ،مثبت او منفي سرنوشت په باره کې قضاوت کولې شي.

دافغان اولس د قهرمانانه مبارزو په نتیجه کې شوروي امپراطورۍ ړنګه ، مرکزي اسیایي او شرقي اروپایي هیوادونه ازاد ، د برلین دیوار په ړنګیدو جرمن قوم یو موټي اودامریکې په قطعي شکست سره جنوبي او شمالي ویتنام یوځاي شو ، هانګ کانګ وروسته له سلو کلونو دوباره د چین دخاوري جز وګرځیده او دابه هم ډیره لیري نه وي چې شمالي او جنوبي کوریا ،کردستان ،افغانستا ،بلوڅستان ، کشمیر ، پنجاب او نورې ټولې سیمي چې په جغرافیایي ویش محکومې شوي دوباره د خپل سرنوشت څخه برخمنې او ټول مهاجرین به هم د مساعدت او علاقمندۍ په صورت کې و کولې شي خپلو سیمو ته وکوچیږي. پدې باره کې هم نړیوال او هم ملي اصول او قوانین موجود دي چې باید جداً په نظر کې ونیول شي او په غیر صورت کې دې ، دې کار ته اړ ایستل شي.

په دې ډول د قومونو او اولسونو سر نوشت د اشخاصو او افرادو په ښه او بد نیت او ارادې پورې هیڅکله اړه نلري او نه کله اشخاص او افراد د هغوۍ سرنوشت ټاکلې شي. زه نه پوهیږم څه ډول ځیني کسان احمقانه هڅې کوي د اولسونو سر نوشت د یوه یا څونسلونو په زماني بعد کې پخپله وټاکي او پایلو ته یې په امید اوسي. خو دا ډول سیاستونه او عقاید پرته لدې چې د اشخاصو او ډلو ټپلو په حماقت دلالت وکړي ، نورې امیدوارۍ ترې پوچې او بې معنا دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ۱۹۴۷ م کال څخه کله چې دهند د لويي وچې څخه انګريزان ووتل د نورو قومونو او مليتونو سرنوشت تعين خود پښتون او بلوڅ قومونه چې د دغه سيمي خلک يې د خپل سرنوشت خاوندان کړل، تر او سه بې سرنوشته پاتې اود FCR « frontier krimes regulation »يعنې د سرحدي جرايمو د مقررې او يا په بل عبارت د ځنګل د قانون له مخې ورسره معامله او کړه وړه کيږي او سرنوشت يې د پوليتيکل ايجنټ په لاس کې ورکړې شوې دي. په دغه سيمه کې اولسونه حق نلري د قانون له مخې د خپلو عادي حقوقو خاوندان اوسي. دا خبره پخپله ددې معنا لري، ولو که دوی جبراً نن دغه وضعه تحمل کړي، خو په ضمير کې پدې اعتراف کوي چې دغه اولسونو د چا دغه ډول پريکړې ندي منلي او دغه غوښت نه دل کيدونکې او دغه زهر مهره نه هضميدونکې ده.

روسانو هم د شمال له خوا د پراخه ستراتيژيکو سيمو د نيولو پلانونه درلودل، خو په ۱۹۰۵ م کال کې د بورژوازي او په ۱۹۱۷ م کال کې د سوسياليستي انقلاب په بريا لي کيدو سره د هغوی دغه پلانونه نيمګړي پاتې شول او د پنجده مسئله هم د نورو سيمو په څير لاينحله پاتې ده.

اساسي پوښتنه داده، نن چې په اصطلاح ددموکرسۍ علمبرداران، بين المللي سوله ساتي ځواکونه او ناتو د ملګرو مليتونو په مشرۍ په سيمه کې هر اړخيز حکمي حضور لري او بيا هم د پخوانۍ زړې استعماري ستراتيژۍ اود پوليتيکل ايجنټ د ځنګل د قانون له مخې د نسل کشۍ پراخه پلانونه عملي کيږي، د عدل او انصاف د تحقق په خاطر به له دې څخه پورته نور عيني او ذهني شرايط او منصفه هيئت «ژوري» بل





کوم، او لر او بر افغانان نور هم کوم مناسب آجل ته سترګې په لاردي؟

په افغانستان کې معمولاً زياتې شخړې او جنګونه دورونو، تره برونو، طائفو، قومونو او داسې نورو تر منځ هميشه د ځمکې په سر پيښيږي. که چا د خپل کور د حريم څخه نيمه ښنته بيرون ايښي، که چا د چا د پولي څخه يوه لوټه ماته کړي، پتنې د کورنيو او قومونو تر منځ د پيړيو په اوږدو کې دوام پيدا کړيدې او زه وينم چې نن هم د افغانانو تر منځ په يوه لويشت ځمکه شخړې او مرګونه روان دي. لکن دا خبره هيڅکله د پوهي وړ نده چې څه ډول نن ځينې افغانان سخاوتمندانه ستري ستراتيژيکې سيمې چې د هغوی د متوليانو د ملکونو څخه لس او سل چنده په هر لحاظ با ارزښه او په لسګونو مليونه افغانان پکې اوسيږي، د سر او مال سره دا ډول غير مسئولانه خلاف د هر ډول انساني دود او دستور خو لاڅه چې ، خلاف د هر ډول حيواني مناسباتو، چې خپل استوګن چاپريال په شکل دا شکالو (د داکتر عبدالمحمد درمانګر په قول «د خپلو فضله موادو، په ونو، تړو او نورو موانعو پوري د خپلو ډډو د مښلو او د خپلو وزغنو او د وجود د بوي او بله هره ممکنه وسيله سره د حفاظت او حراست په منظور محدود دوي » ، او په خپل چاپيريال کې ډير ضعيف ذيروح د غرور په احساس د خپل ټاټوبي څخه شجاعانه دفاع کوي او برخلاف اجنبي حيوان ولو که ډير قوي هم وي احساس د ويرې او ضعف کوي ) (د حرکت خپرونه، ۱۹ پرلپسې ګڼه ) ، نپوهيږم څه ډول زمونږ ځينې «هيوادوال» د خوشامندۍ او يا شومو سياسي تعصباتو په منظور خپل طلايي ټاټوبې چې امريکا نن په ليوني حرص

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره دهغې دخپلولو په خاطر راغلي ،بې قیدو شرطه او داو طلبانه پردو ته سپاري او په دې ځرګند حقیقت ځان نه پوهوي چې دې ددې کار صلاحیت لري؟ او که لري یي ،نو دغه صلاحیت دده ته چا ورکړې ؟ او یا دا چې مونږ د حیواناتو او خزندوڅخه هم بد تر د وطنپرستۍ ټول احساسات ، غرور ،شعور ،عقل او منطق له لاسه ورکړي او خپل او دبل حریم او خپل حق او دبل حق نه پیژنو ؟ ایا دا ممکنه ده چې یو افغان دې دخپلو شخصي ګټو په خاطرد بیګانوؤ د خاینانه طرحو او دستور او یا دبې ارزښه تنګنظریو له مخې د خپل هیواد او اولس پرضد دا ډول بربنډ خاینانه عمل ته غاړه کښیږدي او دپارلمان ، ټولنیزو رسنیو او اولس په وړاندې دې ددعوه جلب په شکل ددښمنانو د شومو پلانونو د عملي کیدو په خاطر مدعي او حتا هغوی ته دې په جاسوسۍ او دېته ورته خیانتونو اقرار وکړي او پرته له پټې او پنا دې د هغوئ ملاتړې نماینده اوسي ؟

سره ددې چې په خیانت کې ارزښونه ، پرنسیپاً د کمیت ،کیفیت او کچې له مخې نه قیمت ګذاري کیږي ، ځکه چې د وړو خیانتونو له لارې لوی خیانتونه هم سرته رسیدلې شي ،لکه نن چې ددغه ډول اشخاصو او افرادو د خیانتونو په ذریعه دافغان اولس لویه غمیزه او ماتم جوړشویدې ، بیا هم څرنګه چې ارزشي کمیتونه او کیفیتونه متقابلاً او متمماً نوي او نوي کمیتونه ،کیفیتونه او ارزښونه جوړوي نو ځکه د هر کمیت خورا کوچني کمیت او دهر کیفیت خورا کوچنې کیفیت ، کمیتاًاو کیفیتاً بالذاتهِ همیشه د ارزش وړدي.

مفاهیم او پدیدي همغسې چې عام ټولیز ارزښونه لري د هغوی ځانګړو ارزښونو ته هم باید ځانګړي ارزش قایل شو او





یوائې د همدې لارې ملي دموکراتیک ارزښونه پالل کیدې ، روزل کیدې او ملي دموکراسي تأمنیدلې شي . که یو فرد ،قوم،او ملت ځانګړي غرور او شهامت ونلري ، سیال ټولیز نظام نشي جوړولې. یوائې ښه نیشنا لیست ښه انترنشنا لیست جوړیدې او یوائې له دې لارې واقعي دموکراسي تأمینیدې شي. هغه کس ، قوم او ملت چې د ځان د ساتلو او بقاء لپاره پردې طاقت او امسا لټوي او غواړي دهغې پواسطه ځان پایدار وساتي ،هیڅکله د ملي باهمي ژوند جوګه نه ګڼل کیږي اودملي محاط محیط په ځنځیر کې زنګ وهلې کړۍ جوړوي . همغسې چې په ټولیز ډول دافغانانو ملي وحدت او رسالت د ارزش وړ دې ، همغسې په ځانګړي ډول د هر لوی او واړه قوم قومي وحدت او حتا فردي ارزښو نه یوشان د ارزش وړ او یوائې پدې صورت کې افغاني اُسپنیز ملي وحدت منځته راتلاي او تأمینیدلې شي. پدې شرط چې ټول لوی او واړه قومونه منل شوو ملي او بین المللي قوانینو ،اصولو او نورماتیفونو ته غاړه کښیږدي او متناسباً خپل او دبل حقوق په رسمیت وپیژني .یوائې پدي صورت کې به ټولیز تصامیم او پریکړې د ملي وجیبي او وثیقي حیثیت پیدا کړي اود ځانګړو افرادو ،ډلوټپلو او اقوامو دمداخلې ، تعرض او ناوړه استفادې څخه به مصئون پاتې وي.

له هغه وخت څخه چې د پښتنو قومي وحدت مات شوې د سیمي او منطقې امنیتي قضایا وو اود افغانستان اقتصادي ،اجتماعي ،نظامي او بین المللي مسایلو همیشه د همدغه قضې څخه رنګ اخیستې،همدغه مسئله د هر فرد ،قوم او واحد ملت په کچه معیار او محک د وطن پرستۍ ګرځیدلې او

(c) ketabton.com: The Digital Library



په حقیقت کې د سیمي ټول سیاسي ،ټولنیز او اقتصادي مسایلو په همدغه محور څرخیدلي ، له همدغه محراق څخه یې دنړۍ په هر لور انعکاس پیدا کړي او ټوله نړیواله سیاسي فضاء یی متأثره او مکدره کړي او دشرق او غرب په سیاسي انقطاب کې درولې ده . خو کله چې پخپله افغانانو دغه انقطاب رنګ او سیاست یو قطبي شو بیا هم نړیوال او سني سیاست د پښتنو دقومي وحدت د ړنګیدو څخه متأثر او ټول قضایا په حقیقت کې یواځې په همدغه محور څرخیږي. او باما پرون « ۲۰ د جنوري ۲۰۰۹ » خپل سیاسي قسم په همدغه مسئله یاد کړ او د جنوري له شلم څخه وروسته به هم جهاني سیاست په عمده ډول د افغانستان په مدار څرخي .

پښتون قوم پدې منطقه کې لوی او دډیرو نورو قومونو په څیرغیرتي او د ځانګړي ویاړلي تاریخ لرونکې قوم او د ټولو افغاني ورونو قومونو سره د اُرګانیک ملي وحدت په جوړولو سره په تاریخ کې شکست ناپذیره ګرځیدلي دي. افغاني ویاړنې او غمیزي همیشه شریکي او هیڅ قوم ځان لپاره د نورو په نسبت هیڅکله هیڅ ډول امتیاز ندې قایل شوې او همداسې هیڅ قوم په ځانګړي ډول هیڅ ځانګړې امتیاز او ویاړ نه دي لرلې او که یې لرلې هم دي ، هغه یې د ځان نه دي ګڼلې. همدغه اصل په تاریخ کې د افغان اولس د همیشني بري ضامن وؤ. ملي ارزشونه او ملي ځانګړني په ملي جوړښت کې د افرادو د حقوقو د تساوي او د قومي واحدونو کمي او کیفي تناسب اصولو ته د وفاداری له مخې ارزیابي او قیمت ګذاري کیږي او یواځې د همدغه اصولو له مخې د یوه ملت د ملي وحدت د کیفیت په باره قضاوت کیدلې شي اویواځې دهمدې اصولو په ټینګ ساتلو





سره دهر قوم حقوق په امانت داری او تضمین سره ساتل کیدلې شي !!!

که په پورتني بحث کې مونږ د افغانستان په جیو پولیتیک ستراتیژیک موقعیت او پخپله د افغان اولس په تاریخي مبارزاتي موقف متیقن شوي او سو چې په تاریخي لحاظ د نړیوال جنګي تیاتر د محراق په توګه پاتې شوي او د ۵۵۰۰ څخه زیات محلي ،منطقوي او نړیوالو جنګونو چې تاریخ ثبت کړي ،اساسي ثقلت او باریې افغانانو په اوږو وړې او سره ددې چې پخپله د سون د موادو په توګه استعمال شوي ، نه یواځې پکې نابود او مزمحل شوي نه دي بلکه د افغانانو رول برملا او قاطع او تل د هرې امپراطورۍ لمن د افغانستان له خاوري او افغانانو په واسطه ټوله شویده. افغانانو که خپل ژوند او ټولي مادي او معنوي زیرمې او شتمنۍ له لاسه ورکړي او جنګي ماشین تل ددوی په وینو څرخېدلي او غوښو فعال پاتې شوې ، نن هم د ملي متحد اولس په حیث په ټولو نړیوالو پیښو کې د افغان متحد اولس شتون د مقایسي او محاسبې وړ او لکه څرنګه چې پخوا وؤ ،نن هم د خپل جغرافیایي او اجتماعي ستراتیژیک وضعیت او موقف لرونکې دي. مونږ د پورتني بحث په نتیجه کې یوه کثیرالجوانب او کثیرالوجهي د پریکړو محراق ته رارسیدلي یو . هره فیصله چې هر چاته ښه ښکاري ،تصمیم دې ونیسي او ودې کړي ، زمونږ خپله فیصله په لاندې ډول ده:

ـــ افغانان په خپله خاوره کې پردې واک نه مني ، نو ملي او قومي ویش یې هم د هغوی لپاره د منلو وړ ندې ؛

ـــ که نړیوال ،په سیمه ،منطقه او نړۍ کې د سولې پلوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوسي لازم دي چې د هرڅه دمخه په افغانستان کې سوله تأمين کړي او دا هغه وخت ممکنه ده چې افغانان د خپلو حقه حقوقو څخه برخمن شي ؛

ــ په اوسنيو شرايطو کې افغانانو ته په افغانستان کې د سولې د تأمين لپاره يواځې يوه لاره موجوده ده ،چې د ملي تړون څخه وروسته د خارجيانو څخه د وتلو غوښتنه وکړي او که نه ووځي ملي قيام وکړي ځکه چې خارجيان په افغانستان کې سوله نه غواړي ، که يي غوښتلې وختي به لا تأمين وې ؛

ــ هغه افغانان چې د هيواد دننه او د باندې د خارجيانو سره په کارونو بخت دي ،هدف يي يواځې شخصي ګټې او د خارجيانو د ناروا اعمالو څخه ملاتړ دې، چې د ملاتړ وړ نه دي. دا کار د افغانانو د ملي وحدت حصار ړنګوي او ملي قوت يي کموي. بايد له دې کار څخه ډډه وشي ؛

ــ پخپله ځيني افغانان د خارجيانو سره يوځای د افغانستان په جنګي تياتر کې نړيوال سراسري نظامي انقطاب ته لمن وهي او نړی، غير مسئولانه د دريم نړيوال ذروي جنګ يعنې د قطعي نابودۍ خواته کشوي او په پايلو يي سترګي پټوي ؛

ــ په افغانانو هر ډول ناوړه مجبوري ګذرا حالتونه راتلای شي ،خو په نهايت کې بري تل د افغانانو په نصيب وو ،لکن ځيني بې احساسه بيګانه پرست افغانان د افغان ملت د دغه مجبوري حالتونو په دليل د پښتنو د قومي وحدت په مسئله د بطلان کرښه کاږي او د هغې تر شا ځيني تخيلي عظمت منشانه خوبونه ويني ؛

ــ نن چې په افغانستان کې د ملګرو ملتونو په مشرۍ د





ځلويښتو څخه زياتو د نړۍ د وتلو هيوادونو نماينده ګان حکمي حضور لري ، لر او بر پښتانه او بلوڅ قومونه بايد په کلکه سره د خپلو حقه حقوقو د اعادې فورمولبندي شوې او لاسليک شوې ادعا د ملګرو ملتونو نماينده ته وسپاري او په کلکه دې تري د هغې د حل غوښتنه وکړي او افغان ملت دې د خپل ملي وحدت د مټ په قوت ، په دې لار کې د پاکستاني او انګريزي غلامانو د ګټو ټکونو « سنګ اندازي» مخه ونيسي ؛

ــ کومه وضعه چې نړيوالو په افغانستان کې رامنځته کړې او دوام لري ،او د هغې له مخې بې ګناه افغانان وژل کيږي او ملي شتمنۍ لوټيږي ، د هيڅ يو اصيل افغان لپاره د منلو وړ نده او نه د ملي افغاني او بين المللي منل شوو قوانينو سره سمون لري ،هيڅوک حق نلري د غه ډول ناوړه وضعه په افغانانو وتپي ،په افغانستان کې کله هم د نظاميانو زياتوالي پرابلم ندې حل کړې او نن يي هم نه شي حلولې ،که بارک اوباما په رښتيا د « بدلون» د سياست پلوي وي بايد د بشريت لپاره د غه د شرمه ډکې وضعې ته د پای ټکې کښيږدې او د بهبود په لور ورته بنيادي تغير ورکړي.

ځيني وختونه چې اشخاص او افراد د خپلو ناوړه عقايدو او افکارو بار پخپله نشي پورته کولې ،هڅه کوي ځانونه لکه پارازيت پخپل قوم وتپي او خپل قوم په خپلو مرداريو کي له ځانه سره شريک کړي. قومونه هم ځيني وختونه د احساساتو له مخې بېمورده د ځيني افرادو مسئو ليتونه په غاړه اخلي . په دواړو حالاتو کې دا ډول اعمال معقول نه بريښي.

کله چې جنرال عبد الرشيد دوستم د خپل مربي او رهبر داکتر نجيب الله د سرکوب څخه وروسته د شاه شهيد او جادهً

(c) ketabton.com: The Digital Library



میوند د پاچاهي په تخت کښیناست او په لومړیو شیبو کې ئي دري پښتني تور سري په میوند جاده کې بې پته ځغلولي ،وئي ویل «کجا است پشتونها که از پیش ما خلاص شان کنند» ؛ همدا سي کله چې دوستم د شمالي ټلوالي سره په اتحاد کې لا د قدرت څښتن شو ، ما پخپله د رادیو څخه واوریدل «دوران پشتونها گذشت ،حالا قدرت در دست ما میباشد» او کله چې البته کوم متولي به خپلي اشتباه ته متوجه کړي وو ، په سبا ئي د همغي رادیو څخه وویل چې «مصؤنیت اقلیتها در تحت حاکمیت اکثریت تاً مین شده میتواند» او همدا مسئله د دموکراسۍ منل شوي بین امللي اصل هم گڼل کیږي . یا کله چې روسانو افغانستان اشغال کړ او دکارمل ډله په قدرت کې وه ډاکتري اناهیتا راتبزاد په تاجکستان کې د خپل سفر په وخت کې ویلي وؤ « برادران تاجک !کمک کنید به کشوریکه حالا توسط تاجکها حکومت میشود واختیار آن از پشتونها گرفته شده است» . دا ډول بې مسؤلیته اظهارات ځیني کسانو چې د روسانو په موجودیت کې په قدرت کې وو او یا اوس چې په اصطلاح د بین امللي سوله ساتي ځواکونو په حضور کې دواک په گدۍ ناست دي همیشه کوي او هیڅکله د اولس او وطن سود او زیان په نظر کې نه نیسي او نه خپلو تاریخي مسؤلیتونو ته متوجه کیږي . ځیني ډلي ټپلي هم په ناروا او غیر مسؤلانه داشخاصو او افرادو په ملاتړ کې راپاڅیږي او هیڅکله ئي بدو پایلو ته نه متوجه کیږي.

ترڅو چې په افغا نستان کې اکثریت او اقلیت دملي وحدت په ځنځیر کې خپل موقف ، موضع ، رسالت او مسؤ لیت ، خپل حق او دبل حق تشخیص او ونه مني او غاړه ورته





کښینږدي، ملي ، قومي او فردي مسایل به هم هیڅکله د حل لار ونه مومي. افغانستان یوائیني هیواد ندي چې هلته قومي اکثریت او اقلیتونه وجود لري ، په نورو هیوادونو کې دغه تعداد له سلگونو څخه هم اوړي . معتبره خبره داده چې «که غر لوي دي په سرئي لار شته» نو د ملي ، قومي او فردي ټولنیزو مسایلو او قضایاوو د سولئیزاو دموکراتیک حل لپاره هم ملي او بین امللي منل شوي قوانین ،اصول او بشري موضوعه نورماتیفونه موجود دي ،پدي شرط چې اکثریت ،اقلیت او فرد یو تر بله سره واقعبینانه او شرافتمندانه دغه قوانینو او اصولو ته غاړه کښیږدي . په غیر صورت کي به ،په ملک کې شخړه او دپردیو ملکونو لاسوهني دوام ولري .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# هره سیاسي قضیه د حل ټاکلې لار لري ! جنګ او زور د افغانانو د غمیزې د حل لار نده !

په پخوانیو افسانو کې به ویل کیدل، ټولو تور زړو او دیو صفته انسانانو چې هدف به یې شخصي ګټې، ظلم، ناروا او د خپلو خلکو زورول وو، نو ښاري او عامه نظم به داډول وو چې د سپو مخې ته به واښه او د آسونو مخې ته به هډوکي پراته وو، د عدل او انصاف دروازې به تړلې او د ظلم او فساد دروازې به خلاصې وې او هره معامله او سودا به د دغه دود او دستور له مخې کیدله تر څو هر څوک وزوروي او وازاروي. کله به چې کوم ناجي، د خیر ښېګڼې او عدل او انصاف پلوي انسان د دغه ظلم او ناروا ښار ته د نظام د سمون په خاطر داخلیده، لومړې کار به یې داوو چې ټولې د عدل او انصاف تړلې دروازې خلاصې او د ظلم او ناروا خلاصې دروازې وتړي او د سپو له مخې واښه د آسونو او د آسونو له مخې هډوکي د سپو مخې ته واچوي.

اوباما په ټولو عیني او ذهني امکاناتو او شرایطو سره نن دغه ښار ته چې ټول بنیادونه یې د پلرونو او نیکونو په وینو





، خولو، زیار او زحمت جوړشوي دي داخل او د ښار د عدل او انصاف دروازې همغسې تړلې پاتې او د ظلم او فساد بازار ګرم او سپي د پخوا په څیر په وښو او آسونه په هډوکو تغذیه کیږي. داسې فکر کیده چې اوباما به د همغه افسانوي ناجي په څیر د ښار د عدل او انصاف تړلې دروازې بیر ته او د ظلم او فساد دروازې به وتړي او د ښاریانو لپاره به د ادم خوري او مردار خوري په ځای د مناسبې او متناسبې حلالې روزۍ او خوړو بندو بست وکړي. نه داچې تاریخي ناجي تاریخي« سپر تاکوس » په دار وځړوي !

په هر صورت د اوباما تصمیم په اوباما پورې اړه لري، خو افغان اولس خپل تصمیم باید پخپله و نیسي او د تاریخي واقعیت په حیث لکه چې پلرونو او نیکونو یې هیڅکله په خپله خاوره کې پردي زور او واک ندي منلې او نن هم جنګ او زور د افغانانو د غمیزې د حل لار نده، افغانان باید پخپله په خپل ملک کې د افغاني دود سره سم سمون راولي. که چیرې په زور کلي کیدلې نو نړدې په تیرو درې سلیزو، درې لسیزو او یا د موجوده خاین او فاسد دولت په اوه کلنه دوره کې به لا اقل ددې کار عاملینو ته به د ننني ناامیدیو پر ځای یو څه امید وارۍ پیدا شوې وې او شکایتونه به یې تر اسمانه نه رسیدې او نه به یې له هرې ورځې څخه بلې ته له سخت څخه سخت ترینې ستر تیژۍ او تاکتیکونه غوره کولې او نه به یې د نسل کشۍ نیولې. افغانانو د تاریخ په اوږدو کې یو وار نه دې بلکه په وار وار یې له دې څخه ډیر ناروا او سخت حوادث ځغملي او ګاللي دي. په کار داوو چې د دغه تاریخي درسونو څخه یې لازمې نتیجه ګیرۍ کړې او دوباره پرې دغه حوادث نه وې راګرځېدلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



. خو که داسې شوي وای دا د هر یرغلګر شونډک به چا په خاورو پورې سولولې او دهرې امپراطورۍ د ظلم او ناروا لمن به چاد مظلو مانو له خاوري او سرونو ټولولې. هغه وخت به هم لیري نه وي چې د نړیوال امپریالیزم ، نړیوالې مافیا ، نړیوال تروریزم ، نړیوالو ناامنیو ، لجام ګسستګۍ او بې بندو باریو واګې دا وار هم د افغانانو په فداکارۍ او همت د ابد لپاره د عدل او انصاف په واک کې پریووځي او یو ځل بیا افغانان د نړیوالو لپاره د ازادۍ ، بشر دوستۍ ،انساني منلي ذات البیني دود او دستور سمبول ،سرمشق او مایه د مباهاتو وګرځي.

نن په افغانستان کې دنړیوال نظم ناظمین ، د بشر دحقوقود احقاق مدعیان ، د نړیوال قضاوت حکمان ، د جهاني سوسیال دموکراتیزم علمبرداران ، د سراسري بشري عدل او انصاف تأمینوونکي ، په یویشمي پیړۍ کې دعلم او تخنیک په خارق العاده امکاناتو اود نړیوال ګلوبالیزم په هراړخیزو مناسباتو او شرایطو کې د نړیوال حکومت او دولت معماران ، او همداسې د نورو سلو او زرو القابو سره د غم ځپلي اولس ټاټوبي افغانستان کې په سل او زر دبیا ابادوني ، سولي او امنیت دتآمین د تعهداتو سره چې حکمي حضور لري او د خپل کامل او مطلق العنان واک په ۷ کلنه دوره کې د هغوی په خپل قول نه یواځې چې یوه کوچنۍ مسئله نده حل شوې ، بې شمیره نیمګړتیاوو ،بد بختیو او پرابلمونو د اولس د تباهۍ لپاره خولې وازې کړیدي او ټول نړیوال په ټولو امکاناتو سره د هغې په مقابل کې پرته له بې وسۍ ، ناکامۍ او تسلیمۍ بل هیڅ بدیل او چانس نلري ! دا قانونمنده پایله او مقضي جبر دې چې نړیوالې ټولنې پخپله په شعوري ډول ورسره ځان په جوال





کې اچولې دې او پدې ډول کړو وړو سره که دوی بلا خوشې هم کړي ، بلا به هیڅکله ددوی ګریوان خوشې نکړي . ځکه چې:

ـــ نړیوالې ټولنې ونه کولې شول په افغانستان کې د خپل اوه کلن حضور په موده کې ابتدایي ترین شکل د نظام جوړ کړې شي ، ځکه چې پداسې شرایطو سره د نظام جوړول ناشونې کار ګڼل کیږي او دنظام په عدم موجودیت کې نور ټول فعالیتونه د صفر سره د ضرب په مفهوم دي ؛

ـــ د جورج ډبلیو بوش د نابکاره ټیم د ناقص تصمیم په نتیجه کې ، د ټولنیز ترکیب له مخې د بن دبې بنیاده او بې مفهومه ناقص کنفرانس د ناقصو پریکړو په نتیجه کې په افغانستان کې نظام جوړونه په پردو پورې تړلو عناصرو ، د بشر د حقوقو ناقضینو ، جنګي مجرمینو ، د چور او چپاول عاملینو ، بې سواده او بې کفایته جنګسالارانو او اشخاصواو دیته ورته کسانو ته وسپارل شوه چې نه یواځې د نظام د جوړولو جوګه ندي بلکه دنظام جوړیدل د هغوی د قطعي زوال او مرګ په معنا دي .

ـــ نړیواله ټولنه چې نړیوال رسالتونه او مسئولیتونه په غاړه لري او د نړیوال عامه نظم او اداري مدعي ده ، څه ډول پداسې رسوایي لکه د افغانستان په قضیه کې ځان بې اعتباره کولې شي ؟دوی چې په یوه کوچني هیواد کې دنظام په ټینګیدو کې پاتې راغلل د نړیوال نظم اعتماد پرې څه ډول کیدلې شي ؟

ـــ امریکا یو قطبي نړیوال قدرت دې ،په اوله قدمه کې خپل پراخ بنسټه پایدار نظام ته ضرورت لري ، تر څو د نړیوال نظام دنظم رسالت او مسئولیت په غاړه واخستلې شي. کله

چې د افغانستان غونډې کوچنیو او غریبو ملکونو کې د نظم دایجادولو او ساتلو څخه عاجز اوسي او یا په دغه غریبو او بد بخته ملکونو کې دوی دا ډولبې شرمانه د خپلو شخصي ګټو او منفعت لپاره ځانونه شرموي او یواځې د خپلو منفعتي ساحو په لټه کې وي ، د نړیوال دولت او حکومت د تعمیر او د نړیوال ګلوبالیزم پروګرامونه او وعدې هم پرته د خود غرضانه دسیسو او تزویر څخه بل څه ندي. لوی او عامه د خیر ښیګڼې پروګرامونه د اُتلیتاریستي حرص او آز په ځای د خدای د انساني خلافت سره متناسب او مطابق دلویې رواداری ،عدل او انصاف عقیدې او عمل ته ضرورت لري . نن شرایط دومره ګلوبال او دینامیک شویدي چې پخپله د حوادثو عاملین او مجرمین دخپلو حوادثو د شعاع په محیط کې به پخپله ګیر راځي او د خلاصون چاره ترې نه شي لرلې. نو ایا دغه ډول اعمال پرته له جهالت څخه کوم بل منطق لري ؟





# د اوباما نوې ستراتیژي دافغانانو لپاره زړه په زړه پاتې شوه ؟

د بوش د نابکاره ټیم په غمجنو دورو کې چې نړیوال یې یو پربل باندې د بې اعتمادۍ ،کرکې او نفرت فضاء ته راکش ، مرګ ،غم او درد یې دهر کور میلمه او ټول جهان یې دداسې مالي بحران سره مخامخ کړ چې په تاریخ کې یې ساري ندې لیدل شوې ،نړیوال سراسري شدید عکس العملونه او اعتراضات او په همدغه زماني مقطع کې د امریکې د جمهوري ریاست په ټولټاکنو کې د اوباما څخه د امریکایي ټولنې د مختلفو اقشارو قاطعانه ملاتړ په ننني یو قطبي نړۍ کې نړیوالو ته ددې زیرې ورکاوه چې نړیوال امپریالیستي نظام نور دژوند حق له لاسه ورکړې او حتماً به د نوي عصر د علمي ـ تخنیکي انکشافاتو او دبشري متقابلو حقوقو او وجایبو سره سم دټول بشریت لپاره د منلو وړ یو نظام جوړوي او ددغه رسالت ناجي به هم د محرومي طبقې نماینده د اوباما په څیر یو کس وي چې په ارزش یې پوهیږي

جمهور رئیس اوباما سره ددې چې په ډیرو ټولنیزو مسایلو او بین المللي پرابلمونو کې لکه د ذروي وسلو تحدیدول ،د ګوانتانامو د زندان تړل ،د روسیې او شرق سره په مجموع کې



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



په مناسباتو له سره غور کول ، د اسلامي نړۍ سره ددښمنۍ پرځای د نسبي د روغې جوړي لار خپلول ، د شخصي او خصوصي زندانونو له منځه وړل او ځيني نورو مناسباتو کې چپ لورته شنې اشارې ورکړې ، خو په افغانستان کې د بګرام ، قندهار او نورو شخصي زندانونو په هکله يې چوپتيا اختيار کړه اود افغانانو په قضيه کې د اوباما نوې ستراتيژي زړه په زړه پاتې او د قاطعانه نظامي عمل سره چراغونه يې بل پرېښودل . د افغانانو لپاره دا کومه دتعجب وړ خبره نه وه. ځکه ، کله چې امريکايي حکمرانانو لپاره افغانان دمبهاتو او وياړ شمله وه او دوی ته يې د کمونيزم داژدها څخه نجات ورکړ ،چې شپه او ورځ يې ترې ارام خوب نه درلود ،د ژنيو د معاهدې ديوائيني مسئول حکم په حيث کله چې روسانو او شمالي ټلوالې په افغانستان کې ديوه ملي دولت دجوړيدو په مقابل کې کودتا وکړه ،امريکايانو نه يوائې د افغان اولس ننګه ونه کړه ، بلکه په ټيټو سترګو يې وويل « مونږ دافغانانو په کورنيو چارو کې لاسوهنه نه کوو » او په راتلونکې کې يو ځل بيا په خړ سترګتوب د افغان اولس په مقابل کې دنوموړې کودتا په ننګه ودريدل. نيوهيږم او س چا اجازه ورکړې چې په افغانستان کې لاس وهنه او ورانونه کوې او په لسګونو زره نظاميان او ملکيان يې بې پوښتنې او بې پاسپورته ،نه يوائې دافغانستان خاورې ته داخل ،بلکه په توره د خلکو په کورونو ورننوځې او سر ،مال او ناموس يې لوټوې؟ دتعجب وړخبره داده چې اوباما په داسې وخت کې په افغانستان کې د قاطعانه او بلکه بيرحمانه نظامي عملياتو غږ پورته کوي چې د اوباما دولتي او استخباراتي مسئولينود افغانستان ددولت ټولې پخوانۍ خبرې تأئيد کړي چې د القاعدي او تروريزم جرړې په پاکستان او باالخصوص په پنجاب او سند کې ښخې دي او راتلونکي





عمليات به په همدغه وضع الجيش متمرکز وي. لکن اوباما د توقع په خلاف پاکستاني دولت ته، خو په حقيقت کې آي اس آی ،ته د پنځو کلونو لپاره هر کال يو نيم مليارد دالره ښکاره مرستې منظوروي ، د جاپان په غونډه کې ورته شپږنيم مليارده ډالر پيشنهادوي او بر خلاف د افغانستان لپاره ۴۰۰۰+۱۷۰۰۰ په ټولو نظامي تحهيزاتو مجهز نظاميان، نظامي وسايل اووسايط ،روبوت (ميخانيکي کمپيوتري سرېګوټي Roboter ) او سبا به امبريون ( بيولوژيکي مصنوعي انسانان Embryon ) وراستول کيږي او دعملياتو پچه هم د ډيورنډ دتشً په نامه کرښې په دواړو خوااوو افغاني پښتني غمجني سيمي په نامه راووتله . څه عجيب تصادف چې دغه ناوړه زړه ستراتيژي ورسره پيړۍ پيړۍ نه شليدونکي مختورن اړيکي لري. که په افغانستان کې ددولت او مخالفينو تر منځ تش په نامه جوړ جاړې يوائې د بې شميره قيوداتو له مخې ممکن ګڼل کيږي ، د پاکستان دولت لپاره دغه مساعدتونه مصلحتاً بې قيدو شرطه برابريږي. هغه ستراتيژي چې انګريزي امپرياليزم دځونورو جريره نماوو سره چې موقعيت يې په نقشه کې په ذره بين سره نه ليدل کيږي ، څو پيړۍ دمخه د اسيا ،امريکا ،افريقا او استراليا د لويو وچو د استعمار او استثمار لپاره غوره کړې وه او تر نن ورځې پورې يې نوموړي هيوادونه په مختلفو ډولونو له يوې ورځې څخه بلې ته لا په زياته کچه استثماروي او دګلوباليزم په دوران کې يې سوپر ګلو بال ابعاد پيدا کړي دي ، نن هم د انګريز ، دهغه ناخلفه خلف او دپاکستان د بې تاريخه زيږندې بقاء دانعطاف په يوه نقطه کې تقاطع پيدا کړي او اوباما د خپلې نوې ستراتيژۍ په عوض همدغه ستراتيژي زړه په زړه د افغانانو د اذلي سرنوشت په حيث عملي کول غواړي.څه ډول اوباما په يوه خوله دافغانانو سره هم دښمني او

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم دوستي کولې شي ؟ څه ډول اوباما دوه هندواني په یوه لاس کې نیولې شي ؟ څه ډول اوباما په دوه جالو ودریدلې او خپله پایداري ساتلې شي ؟ څه ډول اوباما کولې شي د افغانستان سره د دښمنۍ په ډګر کې هم خپل حضوراو هم د افغانستان او پاکستان متقابل دوستانه اړیکي وساتلې شي ؟ دا به تاریخ ثابته کړي !

د افغانانو سره د دښمنۍ پایلې معلومې دي . څومره چې افغانان په دوستۍ کې ډیر ښه او رښتیني دوستان ګڼل کیږي ، په دښمنۍ کې تري هم بل سخت سره دښمن نه شي پیدا کیدلې. اوباما پداسې مساعدوعیني او ذهني شرایطو کې د سیاست په تګر قدم ایښې چې دهر سالم افق په لور دقدم اخستلو امکان لري او همدغه د نني عصر مقضي با القوه او با الفعل حکم ګڼل کیږي ، نپوهیږم ولې یو ځل بیا اوباما دداسې ناکامې ستراتیژۍ د ازمیښت هڅه کوي چې تاریخ په ذوال محکومه کړې او دهغې ظهور اصلاً قانوني او حقوقي مشروعیت نلري. د غه ډول د باروتو زیرمې چې دجهان په مختلفو نقاطو کې ذخیره شوي او په هره جرګه بین المللي دښمنۍ او کړکیچ رامنځته کولې شي ، باید دنړۍ له مخ څخه نابود او دامریکې د نوي دموکرات دولت ستراتیژي نباید په تاریخي لحاظ دداډول محکومو ستراتیژیو سره سمون ولري.نن چې د ډیورنډ د تش په نامه کرښې دواړو خواوو ته د پاکستان د بقاء په خاطر دانګریز زړه ستراتیژي له لیري څخه د بې پیلوټه الوتکو( رهبري شوي بمونو) ،راکټونو ،توپونو او له لوړي ارتفاع څخه له B-52 څخه کور کورانه بمونو په زورعملي کیږي ، پخپله ددغه ستراتیژۍ د تاریخي محکومیت په معنا دي. په نظامي ادبیاتو کې دیته نسل کشي وایي ، ځکه چې پداسې مواردو کې مشخص





اهداف نشي تعقیبیدلې او منطقي دانسانانو او نورو ټولو ژوندیو موجوداتو سره یو ځای له منځه وړل کیږي. مشروع ستراتیژۍ، زور ،ظلم او ناروا ته ضرورت نلري او دبین المللي منل شوو اصولو له مخې یې باید هر څوک ومني. اسرائیل په فلسطین کې فلسطینیان اول له منځه وړي او وروسته یې په تور لست کې نیول کیږي. دلته هم کوچنیان ،ښځې ،سپین ږیري او بسته فامیلونه له منځه وړل کیږي او وروسته تر دوه کلن ماشومه پوري پري د القاعدي ټاپه وهل کیږي. پخپله امریکایي مقامات پدې قانع دي چې القاعده په سند ، پنجاب او عربو کې ناست دي او یا همدغه پاکستاني الاصله او عربي الاصله کسان چې په امریکا او اروپا کې استوګنه لري او د د غه ملکونو تبعه ګڼل کیږي ، دهشت ګرانه اعمال سرته رسوي .که پښتانه جنګیږي د خپلې عقیدې ،دین او خپلې خاورې په خاطر به جنګیږي . د عقیدې تقدس او دټاټوبي ساتنه دهر انسان حق او د ملګرو ملتونو په منشور کې تسجیل او ټولو هیوادونو په اتفاق دا خبره منلې ده. په دغه ډول اظهر المن الشمس رسوا سیاسي لوبو کې باید اوباما د لوی جهاني مونیپولار طاقت په نماینده ګۍ ځان ښکیل نه کړي ، او که غواړي په دغه چارو کې مداخله وکړي ،باید دحل عادلانه لار یې ولټوي. که دغیر عادلانه لارو ددغه قضي حل ممکن وي ،تر اوسه پوري به سرته رسیدلې وي.

د جورج ډبلیو بوش په اته کلنه دوره کې د هغه رسوا او په جاني جرمونو تورن او محکوم ټیم دټولې نړۍ په کچه دښمن قوتونه یو تر بله سره د دوئیل «تن په تن جګړي» په پوله ودرول او دمرګ قاصد هره ورځ د هر کور دروازه ټکوي او نړیوال یې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



طاقت فرسا فزیکي او روحي فشار لاندي دلیونتوب تر پولې رسولي دي. کوم ټیم چې په افغانستان کې، دجورج بوش په دوره کې د واک په ګدۍ کښینول شوې، هر کس یي په جنګي جرمونو، د بشر له حقوقو څخه په سر غړونه، د مخدره موادو په کر کیله او قاچاق، اختلاس، رشوت، غصب، غبن، اختطاف او بې شمیره نورو ورانکاریو مجرم او متهم ګڼل کیږي. بوش غوښتل د هغوی په واسطه په افغانستان کې ټولنیز، حقوقي او قانوني نظام جوړ کړي، چې اصلاً باید پخپله دحاکمانو په سرکوب تمام شوي وای. ځکه خو نه یوائې دغه نظام جوړ نه شو بلکه په لسګونو ملیارده ډالر چې د افغانستان سره مرستې شوي، د خارجي او افغاني ټیمونو تر منځ درغل شوي او نن یي یوائېي یو پر بل باندې پوچ تهمتونه او دعوې پاتې دي. داسې معلومیږي چې داولسمشرۍ د ټولټاکنو په درشل کې د بارک اوباما حکومت ددغه ستري فاجعې سره په بې حوصله ګۍ او سطحي برخورد کوي او ددغه ټیم د بې شمیره کسانو له جملې څخه چې یو ځل بیا په تقسیم د نعماتو، لکه د مچانو په مرداري راټول شوي، په پټو سترګو یو تن په اصطلاح داولسمشر په حیث وټاکي. دا به دافغان اولس په حق کې د اوباما (د امریکې د عملي سوسیال دموکراتیزم علمبرداري او دبشر دحقوقو حافظې ټولنې )داسې نه بخښونکې ګناه وي چې پخپل عمر کې به یي تلافي نه کړې شي!





# د حرکت خپروني
# "پنځمه کلیزه"

د افغانستان،افغان اولس ،افغانیت او پښتونولۍ سره زما مناسبت ،لکه د حرکت دمفهوم سره ،د ځانګړي مستعار نوم ،د خپرونې د نوم او دعلمي تیزس د نوم په حیث درې اړخیزه ،د بل هر ارزش څخه با ارزشه او ددغه ارزشونو په وړاندې زما دریز یوائې دهغه شاعر په قول چې وایي:

چې زما د بڼ اغزي ته کاږه ګوري
وایم اور شوې د هغه په ګلستان

به همیشه یو شان پاتې وي. پنځه کاله دمخه ما د خصوصي مطبوعاتي فعالیت په پیل سره خپل دغه دریز هیواد ،خلکو ،خپل علمي تیزس او دنړیوالو ذات البیني مناسباتو په باره کې په لنډ ډول داسې فورمولبندي او دخپلې خپرونې له لارې مې د نړیوالو تر اګاهي او پوهاوي رسولې وو.

حرکت د یوې خپرونې نوم دې چې دمطبوعاتي نړۍ په ورشو نوې قدم ږدې.دغه نوم که پرون د شخصي یا کورني تخلص،نن د خپرونې دنوم او سبا ته به د پوهانو په شریکه هڅه په نوي فلسفي فکري محور، نوي علمي څېړنیز متود او یا نوي فلسفي مکتب بدلیږي ،په ټولو حالاتو کې ددغه فلسفي ــ فزیکي

(c) ketabton.com: The Digital Library



مقولې لوی جهاني تکویني ماهیت تل په نظر کې وو او اوس هم پدې عقیده یم چې حرکت د نوي فلسفي طرز تفکر نوم دې چې ټولې پدیدې او واقعیتونه یوائې دعلمي منطق ،استدلال او مناسبتونو له مخې، پرته له ذهنیګریو، په پوره امانت دارۍ سره څیړي او دتل لپاره په علمي اصولو او قوانینو باور لري او ورته وفاداره پاتې کیږي.

دا نومونه به هیڅکله شخصي ځانګړې اړه ونلري اوویاړ به یې دهغه چا په نصب وي چې پدې لار کې زیات زیار وګالي، زیاتې بریاوې ترلاسه کړي او ددغه نوي فلسفي طرز تفکر د قوانینو او مقولو دفورمولبندیو په سیستماتیک تشکل اودیوه نوي فلسفي مکتب دارګانیک علمي جوړښت په رامنځته کولو کې پایدار او چټک قدمونه واخلي.خو زما په عقیده دغه ډول پدیدې به همیشه دعصر او زمان دجمعي شعور مظهراود حی علی الفلاح چیغه وي چې یوه تاریخي مرحله په بله اړوي،د اولسونو دقیوداتو کړۍ ماتوي ،نوې ساه ، نوې تحرک او نوي ازادي ګاني وربښي ، نو ځکه یې ویاړ او ګټې هم جمعي او شریکې وي.

دا خپرونه چې ټول سیاسي ،ټولنیز او اقتصادي مسایل به په عام ډول علماً څیړي خو په خاص ډول به دنوي فلسفي فکري نظر او لار تعقیبوي ، نو ځکه یې د « **حرکت** »په نامه نوموؤ .

حرکت په عالم الاسباب کې د خدای دلوی علم دعامې قانونمندۍ او دهغې دټولو خصوصي حالتونو په پروسه کې دټولو پدیدو دظهور او متقابلو اړونده مناسباتو دعلت او معلول مسبب ګڼل کیږي. دالوی جهان موجود دې ځکه چې متحرک دې او متحرک دې ځکه چې موجود دې.دا جهان





همغومره متنوع ،متفاوت ، رنګارنګ او متغیر دې لکه څومره چې حرکتونه متنوع، متفاوت ، رنګارنګ او متغیر دي. دا جهان همغومره ابدي دې لکه څوره چې حرکت ابدي دې.لوی خدای دخپل لوی علم دعامې قانونمندۍ له مخې دلوی جهان او حرکت متقابل ابدیت او موجودیت یو تربله سره لازمي ابدي علت او معلول ، قایم با الذات اوخلل ناپذیر ګرځولې او یوائې دقضاء او قدردلوی علم دجبر او اختیار له مخې په کې تغیر او تصرف ممکن ګڼل کیدې شي.

پدې ورستیو وختونو کې په افغانستان اود هیواد له پولو څخه بیرون ډیري خپروني خپریږي. هغه څوک چې په ایمانداری سره دغه کار سرته رسوي او هدف یې ټولنیز خدمت اوسې ، مونږ یې هرکلې کوؤ. ددغه خپرونو په سرخطونو کې معمولاً ډیرې کسان خپله خپرونه ، مجله ، اخباراو داسې نور بې طرفه ، ازاده ، مستقل ، ملي ،اسلامي او داسي نورو نومونو باندې نوموي.زما په نظر ، هر یو نوم چې چا پرې خپله خپرونه ، ټولنه ، حزب ، اخبار ،سازمان او حتا خپل ځان نومولې ، په هره یوه نومونه کې مشخص طرف ، دریز ، مرام ، او هدف وجود لري. زه نه پوهیږم چې څه ډول مونږ ددغه څرګندو مفاهیمو ترشا اګاهانه ، ناخود اګاه او یا تجاهل العارفانه خپل ځانونه ،اهداف او یا خپل پاک اوناپاک ارمانونه پټوؤ ؟حال داچې دغه ډول د مفاهیمو تحریفاتو ، بدعتونو او نورو لکه انتر ناسیونالیزم او استعمارد توري پردې تر شا چې غربي نړۍ خپل امپریالیستي ناولي ارمانونه تر نن ورځې غواړي پټ وساتي ، یا هتلر د ناسیونال سوسیالیزم ، شوروي اتحاد د سوسیالیزم او کمونیزم او ځیني نور دپاکو دیني عقایدو اسلامیزم ،بودیزم

(c) ketabton.com: The Digital Library



،عیسویت ، یهودیت او نورو څخه هم غوا ړي ناوړه استفاده وکړي ،د پاکو او مقدسو ارمانونو څخه دداغه ډول غولوونکو هڅو او ناوړه ګټې اخیستنې لا پخوا رسوا شوي او حتا په ګرم بازار کې نور چلش نه لري.

مونږ تېولې دغه ډول پدیدې نسبي ګڼو ،نو ځکه له لومړۍ ورځې څخه وایو چې مونږ هیڅکله بې طرفه نه یو .مونږ ټاکلې او مشخص هدف، طرف او ارمان لرو . زمونږ طرف له هرڅه دمخه زمونږ ګران هیواد افغانستان ، افغان اولس، دهغوی ملي ګټې ،منلي رسوم ، عنعنات ،عقاید او مقدسات او وروسته له هغې بین المللي او عام انساني تعلقات او تعهدات دي چې په پوره ایمانداری به یې پلوي او دفاع کوؤ او نور به هم دې کار ته اړ باسو .

د ازادۍ، استقلال او ملي موقف په باره کې زمونږ نظر دادې چې دقضاء او قدر دعام قانون له مخې مطلق مختار او مطلق مجبور وجود نلري او هر اولس ، ، هر دولت او هر څوک پرته له امتیاز څخه مجبور او مکلف دي یو شان بین المللي عامه نظم ، منل شویو تعهداتو ،قوانینو او نورماتیفونو ته غاړه کښیږدي. دسر غړونو په صورت کې به زمونږ دریز دهمیش لپاره متقابل وي.

د ملي او بین المللي تناسب په سیالۍ کې به زمونږ موضعګیري دتل لپاره د بین المللي اصولو او قوانینو په نظر کې نیولو سره سره دملي موقف څخه د کلکې دفاع په طرف وي.

اسلام زمونږ دافغانانو او دیوه ملیارد څخه زیاتو مسلمانانو بر حق دین دي. مونږ د اسلام په مقدس دین پا بند او کلک معتقد یو . د نورو ادیانو دپلویانو درناوې کوؤ ، په مقابل کې





یې دجبر او زور استعمال روا نه بولو او یوائې د «وما علینا الا البلاغ» اصل او حکم ته معتقد یو. خو هغه څوک چې په ناروا او سپین سترګتوب سره تروریزم ،بنیاد ګرایي او یا بل هر ډول خرافات د اسلام په نوم پورې تړي او پدې بهانه خپل ناروا سیاسي اهداف عملي کول غواړي ،زمونږ لپاره هیڅکله دمنلو وړندي او پدې باره کې سپیناوې خپله ملي او اسلامي دنده بولو .

مونږ افغانستان دټولو افغانانو ګډ کور بولو او کومې دښمنۍ او بې اتفاقۍ چې دمغرضو هیوادونو او دهغوی دلاسپوڅو لخوا دورونو قومونو تر منځ ایجاد شوي ،له منځه وړلو او دوروری دباوري فضاء درامنځته کولو لپاره به هڅه کوؤ. مونږ پدې کلک باور لرو چې دافغان اولس خوشبختي ، پرمختګ او پایښت په ملي وحدت کې دي، افغانستان یوشان دټولو افغانانو ګډ کور دي . هغه به دسترګو دکسي په څیر دبین الافغاني او بین المللي منل شوؤ اصولو او قوانینو له مخې په پوره ایمانداری او تقوا سره ساتو .

مونږ دګاونډي ، اسلامي او دنړۍ دټولو هیوادونو سره د بین المللي قوانینو او اصولو سره سم سیال مناسبات او دوستي غواړو او په دغه اصولو پا بندي خپله ملي ، اسلامي او بین المللي مسئولیت او دېن ګڼو او دمتقابل لوري څخه هم همدغه ډول تقاضا لرو .

مونږ په بین المللي منل شوؤ قوانینو ،اصولو ،تعهداتو ، منشورونو ،پریکړو ، ...باندې دټولو لویو او وړو هیوادونو یو شان پابندي غواړو او داکار دبین المللي نیکو اړیکو ،دتروریز م له منځه وړلو او نړیوالې سولې دتأمین عمده او اساسي اصل او

(c) ketabton.com: The Digital Library



یواځینې ضامن بولو. نړیوال منل شوي قوانین، اصول او نورماتیفونه چې په نړۍ کې د ټولنیز عدالت، نړیوالې سراسري سولې او په سوله کې د ټولو نړیوالو د یوشان سولییزګډ ژوند او دټولو افرادو مساوي متقابل حقوق او وجایب تأمینوي، منل او ملاتړ یې د هر اولس او هر چا لپاره یو شان حتمي او ضروري ګڼو.

پنځه کاله پوره مونږ د خپلو هیواد والو او دوستانو د بې غرضه او بیشائیبه مرستو په ملاتړ دغه ارمان په پوره رښتینولۍ او امانتدارۍ سره روزلې او پاللې او لدې وروسته هم زمونږ دغه عزم او نیت نه ماتیدونکې او خلل ناپذیره دې.زه د خپلو دغو دوستانو او هیوادوالو دنیکو مشورو او ملاتړ څخه د زړه له کومي مننه کوم.

کوم شې چې ما ډیر زوروي، هغه په علمي سفرکي زما یوازیتوب دي. شک نشته دغه ډول علمي سفرونه معمولاً یواځې وي. خو داهیڅکله ددې معنا نلري چې څوک دي،د ملي ،قومي،ژبني،مذهبي او نورو تعصباتو او تنګنظرۍ له مخې،د علم څخه د کرکې دلایل ولټوي. زه دیوه افغان په حیث د علم او قانونمندۍ نه خبري کوم، زه مدعي نه یم چې ټولې خبرې مې رښتیا دي،زه غواړم ستاسي انتقادونه واورم، ما له لغزشونو او ښوئیدو څخه وژغورۍ، لا اقل یوه دحق خبره اظهار کړي، له ما سره هرڅوک هر نیت او تعصب لرلې شي، خو دعلم سره تعصب لرل بې معنا او بې مفهومه ځکه دې چې علم قضا، دیټرمنیزم او جبر دې، او دجبر د تعمیل مخنیوې هیڅوک نه شي کولې. دبلې خوا علم ټولنیزه پدیده او او هیڅوک حق نه علمي





لاسته راوړنې خپل شخصي مال او متاع اویا په ځان او یا بل شخص پورې وتړي. نو په هغه صورت کې چې علم ټولنیزه او لاسته راوړنه اوسې او یواځې په ټولنیز مشترک ملاتړ او عمل تر سره او یواځې همدغه ټولنیز مشترک ملاتړ او عمل یې لازمي او کافي شرط ګڼل کیږي، نو تعصب او تنګنظري ورسره په کوم دلیل ممکنه ده؟ دعلم سره بد دځان سره بد او ښه یې دځان سره ښه دي.

کوم ازمایش او کومه جفاء چې د افغانستان په جنګې تیاتر کې د افغان اولس سره نژدې دیرش کاله د نړیوالي اوداخلي افغاني مافیا لخوا دټولو منل شوو قوانینو او نورمونو په خلاف دوام لري، هیڅ توجیه او دلیل ورته وجود نلري او نه بې ګناه او بې دفاع افغان اولس ددې سزاوار ګڼل کیږي. په افغانستان کې اوسنۍ وضعه او حالت د جنوسایداو نسل کشۍ څخه پرته په بل ډول نشي تعریفیدلې. تر اوسه پورې ډیر په جنګي جرمونو تورن جنګسالاران دافغانستان په جنګي تیاتر کې وازمایل شول، خو وضعه له یوې ورځې څخه بلې ته بدتریږي او دا ځکه چې د وضعې ښه کول د هغوۍ هدف نه دې. انګریزانو د خپلو پخوانیو ناوړه اعمالو د ناوړه پایلو تجربو څخه لیکلې چې: افغانستان ته دلښکرو ننوتل اسان کار دې ،مشکل یې ساتل او له هغې څخه بد تر یې وتل دي. په برطانوي لښکرو بیا هغه پخوانې قیامت راغلې دې. مونږ همغسې چې د افغانانو د مرګ ژوبلې پلوي نه یو، د بهرنیانو مرګ ژوبله هم نه غواړو. معلومیږي چې بهرنیانو په افغانستان کې د لښکرو خولا څه چې د قرارګاهو د ساتنې استعداداو توان له لاسه ورکړې دې، نو ځکه یې دقوماندې د ګرځنده

(c) ketabton.com: The Digital Library



هـوایي محلاتـو لپـاره «اواکـس» الـوتکي اسـتخدام کـړي دي. افغانـان زور نـه مني ، یـواځې ښـه نیـت مني. راشـۍ ټـول خپـل ښـه نیتونـه ددغـه سـتونځي د حل لپـاره سره یـو کـړو. پـه غیـر صـورت کـې بـه یـي پـایلي لکـه دتـل پـه څیـروي . د بلـې خوا پـه افغانـستان کـې ستاسـې ننني د نـسل کـشۍ او غیـر انـساني د جنوسـاید پـرو ګرامونـه ، چـې تاسـې یـي د خپلـو خلکـو څخـه پـه هـزار نیرنـګ او فریب پـټ ساتۍ ، لکـه څرنګـه چې نړیوالـو تـه رسـوا یاست ، خپلـو خلکو ته به هم رسوا شئ.





# دموکراسي او انتخابات

څــه واده به دهغي خواري دختروي
چي نکریزیي خپلي ویني دځیګروي

سـره ددې چـې دموکراسـي او انتخابـات لازم و ملـزوم او انتخابـات ددموکراسـۍ لپـاره لازمـي شـرط ګڼـل کیـږي ، خـو پـه نننیـو نړیوالـو سـرمایداري منـا سـباتو کـې یـواځې انتخابـات دي چـې دموکراسـي یـي د سـرمایي پـه بـې مفهومـه بیروکراسـۍ او د حاکمې طبقې په دیکتاتورۍ اړولې ده.

د قـانون ،سیاسـت ،حقوقـو ، ټولنپـوهني ،ټـولنیز عـدالت ،سـولي ، دموکراسـۍ او ټـولنیز سـوکاله ژونـد پوهـانو ، پلویـانو او مبـارزینو پـدې خبـره اړو فکـر نـدې کـړې ،کلـه چـې دحکومـت دبقـاء عامـل او وسـیله (لکـه چـې د لغـوي او اصـطلاحي معنـا او مفهـوم څخـه یـي واضـح او څـر ګنـده ده ) ، تحکـم ، برلاسـې ، واک ، اقتـدار ،پـولیس ،اردو او جاسوسـي سـازمانونه اوسـي ، څـه ډول دد موکراسـۍ پـه عامـل او ضـامن بدلیـدلې شـي ؟ دموکراسـي او حکومـت دوه متـضادي دیـالکتیکي پدیـدي دي چـې یـو بـل نفـي کـوي او سـرمایه د حکومـت دتحکـم نـا بکـاره وسـیله او عامـل ګڼـل کیـږي.پـولیس ، عـسکر ، لـښکر ، چـاکر ، نـوکر ،تـوپ ،ټانـک ،طیـاره ، اداره ، قـانون ،حقـوق ، مطبوعـات ، دموکراتیـک

(c) ketabton.com: The Digital Library



نهادونه، بنيادونه، ارگانونه، انستيتوتونه او ديته ورته مؤسسات چې د حکومت څخه د اولس د نجات ضامن گڼل کيږي د سرمايي خاوندان يي د خپلو سرمايو په قوت په اصطلاح د خپل منتخب حکومت په زور، ددي په عوض چې اولس دغه ټولې اداري پخپل واک کې ولري، حکومت غصب او په انحرافي شکل يي د اولس پرضد په ډير بې رحمانه شکل پکار وي. دموکراسی هيڅکله وجود نه درلود او نه به يي ولري او په اصطلاح دموکراتيک استثمار د تاريخ په اوږدو کې د حسابي تصاعد په کچه نه بلکه هميشه دهندسي تصاعد په کچه لوړ تللې دې. هره دموکراسي يعني د معين ټولنيز — سياسي نظام او ټاکلي متشکل حکومت ديکتاتوري او دنن ورځې دگلوباليزم په کچه حاکمې طبقې بي حدو حصر استثمار گڼل کيږي. نني سياسي — ټولنيزم نظام يعني نني نړيوال مونيپولار امپرياليستي حکومت او اقتدار، يعني نړيواله سرمايداري مافيا او يا په بل عبارت ننني سراً سري نړيواله کرکه او نفرت، ترور، وحشت، بربريت او يو تربل وژنه او با الاخره عامه تباهي. ځکه چې سرمايدار ځان او اولاد له لاسه ورکولې شي، خو سرمايه نه.

نابغه عالم او شاعر گل پاچا «الفت» ليکي:

په لښکرو، په عسکرو پهره دار
خزانې خپلې ساتلې شي سرکار
خو د عام نفرت نه ځان ساتلې نشي
په توپونو، په ټانکونو زرهدار

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَـٰكُم مِّن ذَكَرٍ وَأُنثَىٰ وَجَعَلْنَـٰكُمْ شُعُوبًا وَقَبَآئِلَ لِتَعَارَفُوٓا۟ ۚ إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِندَ ٱللَّهِ أَتْقَىٰكُمْ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ (١٣)

ترجمه: اي خلقو بيشکه مونږ پيدا کړي يي تاسې (ټول اصلاً)





له يوه سړي چې (ادم) او له يوې ښځې چې (حوا) ده او گرځولي يي مونږ تاسې ځانگې او قبيلې قبيلې لپاره ددې چې وپيژنۍ يو له بل سره بيشکه چې ډير مکرم او معززله تاسې څخه په نزد دالله ډير متقي ادب لرونکي ستاسې دې. بيشکه چې الله تعالي ښه عالم ډير خبر دار دې.

پوښتنه پيدا کيږي، څوک نن په ټوله نړۍ کې دغه ارزش ته ارزش قايل دي؟ کوم يو له دغه ۴۳ جمهوري رياست ته له افغاني کانديدانو څخه د تقوا، کرم او د خلکو په نزد د درناوي او اعتبار خاوندان دي، پرته له دې چې له خارجه وارد شوي، اجنبي ښه خدمت گذاره، وطن او اولس دښمنه اوسي، په سلو، زرو فسادونو، خيانتونو، جنايتونو او د پردو سره دوطن او اولس د سرنوشت په سر معامله گريو په دوسيو يي ډيپو گان ډک کړي، د پرديو د گټو دساتلو په خاطر په ښکاره ډانگې گرځوي او دمختلفو استخباراتيسازمانونو په اړيکو لرلو وياړ کوي.

هو! حکومتونه په حقيقت کې هغه غداران دي چې خپل ټول روا امکاناتو يو اځې په ناروا ډول د خپل حاکميت او اقتدار په لارکې په کار اچوي. نو ځکه زمونږ کانديدانو د خارق العاده بې بنياده او بې مورده

خد متونو لافې لا ختمي نه وي چې سمدستي ولايتونو ته د اولسواليو لوړولو، د وزارتونو، د جمهوري رياست دمعاونتونو او نورو امتيازاتو په سر د معامله گريو خوندور اوږده بحثونو دوام پيدا کړ. پدې صورت کې افغان اولس له دغه ډول ټولټاکنو او کانديدانو څخه د څه ډول خدمت آو چا لپاره توقع لرلې شي؟ په افغانستان کې ټول ميشت خارجي

(c) ketabton.com: The Digital Library



قوتونه او مختلفي نمایندګۍ نه یو وار بلکه په وار وار د خپلو دغو زړو شاجانیانو په بې کفایتۍ او په افغانستان کې د اداري ،قانون ،حقوقو ،... او په کل کې د نظام په نشتوالي په وار وار اعترافونه کړي. که دا خبره سمه وي ، ټولټاکنې د کومو اصولو او نورمونو له مخې کیږي؟ د څه لپاره کیږي ؟ او څه ارزش به ولري ؟.





# افغان اولس د جفا سزاوار ندې !

له درې لسیزو څخه زیاته موده له هغې ورځې څخه تیریږي چې د افغان اولس پر ضد نا برابره او غیر عادلانه جنګ دوام لري. په نړۍ کې د ټولو چارو ،اجرأتو او مناسباتو لپاره په ملي او بین المللي کچه ټاکلي قوانین ،اصول ، نورمونه او معیارونه وجود لري او دهغې له مخې ټولې چارې سر ته رسیږي . هغه څه چې د افغان اولس په سرنوشت او حق کې روا ګڼل شوي او هره ګړۍ او لحظه پیښیږي له هیڅ یوه دغه قوانینو ، اصولو او معیارونو سره سمون نلري. افغان اولس بې تعصبه ،بې ریا ، په ازادۍ مین او دټولو ملي او بین المللي منل شوو اصولو او قوانینو ملاتړې اولس وو او دی.زه نه پوهیږم د کوم ځنګل او کوم بربریت د قوانینو او اصولو له مخې ورسره کړه وړه او معامله دوام لري.

د درې لسیزو راپدې خوا په اصطلاح د نړۍ ټول متمدن ، پرمختللی او د سولې ، دموکراسۍ ، ټولنیز عدالت او د بشر د حقوقو پلوي او علم برداره هیوادونه په شکل داشکالو د افغانستان په ټولو مسایلو او قضایاوو کې ښکیل او په مختلفو ډولونو د افغان اولس په وړاندې د نه بخښونکي ګناهونو عاملین او جرمي مدعیان ګڼل کیږي.دوی بې دلیله او

(c) ketabton.com: The Digital Library



بې موجبه دافغان اولس په حق کې هره جفا او ناروا روا ګڼلې او په یوه او بله پلمه، په غلطو او درواغجنو شعارونو ،په ناروا او ظالمانه ژستونو ،تاکتیکونو ، ستراتیژیو او نظامی اپراتیفی سوق الجیشیو افغانان تیر ایستلي او حتا د غم او ښادۍ په حساسو شیبو کې یي په نه جبرانیدونکو تلفاتو او غم ودرد اخته کړیدي. د روس د یرغل په وخت کې یي دافغانانو د حقه حقوقو ددفاع په بهانه ، افغان اولس څخه د سون دموادو په حیث ګټه واخیستله او نه یوائې دپخواني شوروي اتحاد څخه یي د ویتنام انتقام واخیست ، بلکه ټول د شرق او غرب ، کاپیتالیزم او کمونیزم ، امریکي او روسیي،C.I.A او K.G.B ذات البیني عظیم پرابلمونه د افغانانو د سرنوشت سره غوټه او د نژدې لس ملیونو شهیدانو .معیوبینو ، اواره افغانانو اود افغانستان د ټولو مادي او معنوي بنیادونو او شتمنیو د تخریب په ارزش یي میدان وګټه او په هغه بې حسابه تریلیونو ډالرو چې هر کال به یي د ساړه جنګ ، کمو نیزم پر ضد مبارزه او ددریم نړیوال جنګ د امادګۍ په لار کې مصرفولې ، نن د ګلوبال نړیوال مونو پولیزم اود پخوانۍ زړی استعماری ستراتیژۍ له مخې د نړیوال سراسري مونیپولار حاکمیت او سلطنت د لاسته راوړلو په خاطر یي د ژوند په ټولو اړخونو او ابعادو کې په پټو سترګو وحشیانه حملې دوام لري.

داسې وایي چې امریکایان په سیاست کې دوستۍ او دښمنۍ ته هیڅ ارزش او تعهد قایل ندي او په ډیره اسانۍ سره د هغې ځایونه سره یو په بل بدلولې شي ،پدې خبره کې اوس مونږ هیڅ شک نلرو .دروغ ،ناروا او ظلم د هغوی د سیاست





اساسي رکنونه او په دغه بنیاد هر ډول سازش او کمپرومایز د هغوی د سیاسي دکتورین اساسی قانوني جز ګڼل کیږي ، چې په افغانستان کې د هغوی د دیرش کلن سیاسي حضور په دوره کې مونږ ددغه ډول لغزشونو او خاینانه مانورونو عیني شاهدان وو . دوی په افغانستان کې دافغاني ټولنې واقعیتونه او حقایق هیڅکله په نظرکې نه دي نیولي ا و ارزش ورته نه دي قایل شوي. د بن په په کنفرانس کې ددې په عوض چې دملي وطنپرستو مشرانو ، روحانیونو ، د تحصیل اوتجربې لرونکو ملي کدرونو څخه ټولنیز پراخ بنسټه موقت ،انتقالی ا وبالاخره منتخب دولت او نظام د یوه سیال بدیل په وجود کې جوړ او سیله معامله ورسره وکړي ،دروس سره معامله ګرې شمالي ټلوالې ،د قبرس په ګروپ او د پخوانی پادشاه محمد ظاهرشاه په پسیفي ډلې چې درې واړو ډلو هیڅ ټولنیز بنیاد نه درلود اتکاء وکړه او د هغوی په انتخاب سره یي خپل ناولې نیت ،چټل او ناولې سیاست او د خپل بازاري سودجویانه او آزمندانه لوبو په څیره خپل اصلي مخ ،ماهیت او اهمیت څرګند کړ . په افغانستان کې دامنیت دتأمین په خاطر دزرګونو موجوده نظامې جنګي ،ترانسپورتي الوتکو ،ټانکونو ،جنګي ـ تخنیکي وسایطو ،وسایلو، وسلو او دهر څه څخه مهم د سلګونو زروباتجربه او تحصیل لرونکو فداکارو او وطنپرسته افسرانو او سربازانو څخه په موقع ګټه ونه اخیستې شوه او تر الوتکو پورې ،ټانکونه ، او جنګي ـ تخنیکي وسایط تخریب او د پاکستان په کبارړ خرڅ او ددې خاوری اصیل افسران او جنرالان چې داردو او حتا دمملکت د اداري جوګه وو ،نن هم د لارې په سر الوګان خرڅوي او ددې خاورې اصیل بچیان په خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملک او یا نورو ملکونوکې اوراه ګرځي. معلومیږي چې شعار یوځه او هدف او عمل بل څه دي. نو ځکه په ملک کې نظام، اداره اوقانون وجود نلري او نه یې په راتلونکي کې امکان او احتمال په سترګو کیږي. حال دا چې هر یو ددغه مملکتونو څخه پخپل ملک کې ترلې ټولنیز نظام، اداره او قوانین په ټول قوت سره حاکمیت لري. خو زمونږ په مملکت کې د همدغه «متمدنو»، «پرمختللو»، «ترقی پسندو» او «دموکراتو» هیوادونو په حضور کې ټول بنیادي افغاني ارزشونه رنګیږي او د همدوی سره په تباني، دهمدوی په مساعدت او حمایې لاندې فساد، رشوت، اختلاس، دمخدره موادو قاچاق، غلا، انسان وژنه او انسان تختونه او ۱۰۰۱ نورې منفي پدیدې خورا لوړې کچې ته رسیدلي او لا لوړیږي او د افغاني ټولنې د ورځني ژوند دود او دستور ګرځیدلې. له هغې ورځې څخه چې ددوی منحوس قدمونه افغان سپیڅلې خاورې ته د امنیت، بیا ابادونې او مرستې په پلمه را ننوتې دي، امنیت په کلي ډول خپله بستره د افغانانو له خاورې او له جهانه ترلې او د دوی ددغه پالیسۍ له مخې چې «کوربه ته وایي بیدار اوسه او غله ته وایي ورځه پرې» نن په هیواد کې د ځنګل قانون حکمفرما، خو پړه په هر صورت د افغان لورې په اوږو پرته ده. نن زمونږ د امنیت ساتونکي خپل ځانونه نشي ساتلې او خپلې قرارګاوې د هر خس او خاشاکاو حتا د کډوالو د ځادري ستر ځایونو تر شا پټوی او د خپلو مخالفینو د سنګرونو د بمبارد اوددوی په آندبچه ترسانک په خاطر پرته له دې چې له لوړې ارتفاع بمونه غورځوي، یا یې په بې پیلوټه بمی الوتکو وولي او یا پرې له لیرې ویشتونکوتوپونو او راکټونو حملې وکړي، بله چاره





نلري. دا ډول تاکتیک، ستراتیژي او عمل د بیوسۍ او ضعف څرګندوی او په سیاسي ـ نظامي ادبیاتو کې ددې عمل ساده افاده او تعبیر نسل کشي ګڼل کیږي، ځکه چې د اهدافو تشخیص او تمیز پکې په هیڅ صورت ممکن نه دې او د کلي کور په اصطلاح ورته د ړندو غرګې یا ګوزار ویل کیږي. د بیا ابادونې د پروګرام له مخې ټول افغانستان په مقبرو بدل او هر ځای سره بیرغونه زړیږي او د عاجلو مرستودولتي پروګرام یواځې دا شوې چې هر مقتول شهید په ۲۰۰۰ زره ډالره او هر معیوب په ۱۰۰۰ ډالرهپه بیه واخلي.

دې کې شک نشته چې پورتنۍ خبرې به مونږ د احساساتو له مخې کړې وي، پدا سې شرایطو کې پرته له احساساتو، د تعقل فرصت چاته کله میسر کیدلې شي او کله ځای لري، خصوصاً، کله چې په وطن کې چارواکی یواځی د پړو ناروا چارو مسئولیت ولري او د صلاحیت پر ځای یواځې د خپل اولس زورول او شتمنیو لوټولو فرصت ورکړې شوې، او همدغه لوی غنیمت ګڼي. پردې هم د «به ما چی» له موقف څخه د ښو او بدو چارو او مسایلو سره یوشان بې تفاوته کړه وړه لري. یعنی چې په ملک کې پخپله چارواکي او دهغوی د چارو متولیان او مسئولین اعتراف کوي چې په ټولنه کې نظام، قانون، اداره، د ښو بدو تمیز او پوښتنه نشته، نو ایا په دا سې شرایطو کې به منطق، منطقي فکر یا ارزونه کول بې مورده او یا پخپله دغه عمل بې منطقي نه وي؟ په اوسنیو شرایطو کې ټولې خبرې پوچه ډرامه او مطبوعات د لعنتې پدیدې په حیث د حاکمې فاسدې طبقې د لاس حربه ګرځیدلې او ګټه یواځې هغه چاته رسي چې طرحه او برنامه ریزي کوي یې او ویونکو

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو اځې پنځه تنګې مزدوري غنيمت ګڼلې.

هو ! مونږ پدې هم پوهيږو چې افغانستان د ملګرو ملتونو ، د غير منسلكو هيوادونو ، اسلامي ټولنې او اسلامي كنفرانس د غړو هيوادونو فعال او متعهد غړي په حيث د نورو هيوادونو په څير ازاد او د مشابه حقوقو او وجايبو لرونكې هيواد دې. افغانانو ټول د ملګرو ملتونو د بشر دحقوقو نړيوالې اعلاميې ،دامنيت د شورا ميثاقونو او كانوانسيونونو ، پريكړو او تعهداتو ته ، پرته د نظامی تړونونو څخه متعهد پاتې شوې او په فعالانه او مسئولانه ډول يې منلې يا رد كړې دې . مونږ پدې پوهيږو ، ټول خارجي قوتونه چې زمونږ په هيواد كې حضور لري ، په خپلو هيوادونو كې يې دخوشبخته ژوند شرايط برابر كړيدي.دوی كولې شول مونږ ته هم همدغه ډول شرايط برابر كړي. دوی نه يواځې دغه كار نه دې كړې او نه يې غواړي، بلكه زمونږ د ټولو بدبختيو اصلي عاملين همدوی دي. افغانانو ټول هڅه كړې دټولو هيوادونو سره متقابل دوستانه اړيكې ولري ، دا يواځې اجنبيان دي چې ټل يې افغانانو ته ددښمنۍ په سترګه كتلي او ټل يې د اجنبې پرسته عناصرو په ګمارلو ،دافغان اولس پر ضد توطيې جوړې كړيدي .

د ۲۰۰۱ كال د ۹/۱۱ او خصوصاً د بن دبې بنيادە او بې مفهومه كنفرانس څخه را وروسته په حقيقت كې د همدغه بهرنيانو او دهغوی پورې تړلې بيګانه پرستو عناصرو د توطئو په نتيجه كې په افغانستان كې سياسي ، اداري او حقوقي خلاء ساتل شوې او په دې وروستيو وختونو كې د تش په نامه انتخاباتو په دسيسه دغه خلاء نوره هم اوږده كړې شوه





تر څو فرصت طلبه ،استفاده جو او خاينو عناصرو لپاره ددې ختمه برابره شي ، چې وضعه د بعدي لاس وهنو لپاره دومره ويجاړه كړي چې بيا د جوړيدو نه وي.

پدې وروستيو وختونو كې د وضعې كنترول مشكل شوې او دهر چا څخه لاره وركه ده. اروپايي او امريكايي لوړ پوړو چاروا كو وقت وناوقت د افغانستان په لور منډې رامنډې پيل كړي او افغانانو باندې انتقادونه او ګواښونه له هرې خوا زيات شويدي ، چې كه سمون رانولي نو خپلې مرستې به بندې او خپلې پښې به له دې ملكه يو ځل بيا سپكې كړي ؟دا پدې معنا چې ټوله ملامتيا او ګناه ګوندې داصيلو افغانانو لخوا ده او باندينې هيوادونه اود هغوی غلامان ټولى چارې په سپينو چپنو او سپينو دستكشو كې سرته رسوي،حال داچې دوی هر يوه په وار وار خپل ځانونه او يو بل سره پخپله ملامته كړي دي. تهمتونه او په نورو دخپلې پړې اچونه هيڅكله د موجوده پرابلمونو د حل لار نشي پيدا كولې. ښه به داوي بهرنيان او د هغوی لاسپوڅي د افغاني ټولنې تاريخي او موجوده حقايق او واقعيتونه په پام كې ونيسي اود بين المللي متقابلو اصولو ،معيارونو او قوانينو ، كوم چې د همدغه هيوادونو په ابتكار تدوين او تدقيق او په ملي او بين المللي كچه منل شوي دي او تر هرڅه بهتر قرآني احكامو ته دې غاړه كښيږدي او ملامته او په فساد ككړ كسان هر څوك چې اوسې ،«داخلي يا خارجي» د همدغه اصولو له مخې د محاكمې ميز ته حاضر او په عادلانه ډول دې دغه غميزې ته د پای ټكې كښيښودل شي. په غير صورت كې په دې هر څوك پوهيږي چې كه په فساد او خيانت ككړ كسان ،د بشر دحقوقو ناقضين ، جنګي جانيان ، قاچاق

(c) ketabton.com: The Digital Library



بـران او خـارجی جاسوسـان پـه افغانـستان کـې د چـارو دسـمون جوگـه وي ، پـه دې تیره نږدې نیمـه پیـړۍ کې بـه پـه افغانستان کې هـیڅ مـشکل او پـرابلم نـه وي پـاتې .اصـلي خبـره داده چـې پـه لیوانـو رمـې نـه سـاتل کیـږي ، او تـر څوپـورې چـې د افغانـانو د موجـوده غمیـزې اصـلي مجـرمین پـه ملـک کـې د چـارو او واک متـصدیان اوسـي نظـام ،قـانون ، سـوله او امنیـت نـشي ټینگیـدلې ،ځکـه د سـولې تـأمین او دمجرمینو محاکمـه بـه همزمـان پیـل کیـږي ، او پـه نړۍ کې نـه داسې احمقـان پیدا کیږي او نـه داسې صـادقان وجـود لـري چـې پـه خپلـه خوښـه دقـدرت قمچینـه لـه لاسـه وغورځـوي او زولنی په پښو کې واچوي.

دنـوومبر د میاشـتې پـه ۱۹ د پنجـشنبې پـه ورځ د جمهـور رئـیس حامـد کرزي او معـاونینو د لـوړې د مراسـمو احـساساتي خبـرې او تخیلـي وعـدې یـوې خـوا د هرچـا دخوښـۍ او مـسرت باعـث او دلیـل کیـدې شـو ،خـو بلـې خواتـه همغـه پخـوانۍ زړې څیـرې ،دنـړۍ د گـوټ گـوټ څخـه ټـول همغـه زاړه یـاران ،زاړه ائتلافونـه ، شـراکتونه ،مـصلحتونه ،وړانـدیزونو او پیرزوینـو څخـه پـه پخـوانۍ زړه وضـعه کـې د بـدلون څـه نخـښې نـښانې تـر سـترگو نـه شـوې. پـدې صـورت کـې دا اوسـنۍ منـډې رامنـډې ، گواښـونه ، مانورونـه او حتـا د دیپلومـاتیکو اصـولو او معیـا رونـو پـه خلاف څرگنـدونې او ژستونه پرتـه لـه بلـې پـوچې ډرامې څخـه بـل ډول نـه تعبیریـږي او نـه کـومې مثبتـې پـایلې لرلـې شـي. فکـر نـه کـوم تـردې وروسـته پـه افغانـانو دغـه ډول نـاوړه وضـعه څـوک پـه اسانۍ تحمیـل او و منلـې شـي.بلکـه داوضـعه نـن پـه ټولـه نړۍ کـې د هیچـا لپـاره د تحمـل وړ نـده او ددې اورلمـن بـه پـه ټولـه نړۍ کـې هـرې دروازې او دهـر چـا لمـن تـه رسـي او هـر څـوک بـه هـر





ځـای پـه تړلـو لاسـونو او پـښو او بیوسـۍ سـره پخپلـو جـامو کـې سـوځي.اور اوردې او پـه هـره څمکـه او ځنگـل کـې چـې پریـوځي ،هلتـه بـه لمبـې پورتـه کیـږي.غربیـان بـه ډیـرې هڅـې وکـړي پـه هـره وسـیله چـې اوسـي ددغـه اور لمبـې پـه افغانـستاکې ایـسارې وساتي. دا لکونه افسران او عسکر چې په افغانستان کې بې بنـدوباره ،لجـام گـسیخته او غیـر مـسئولانه پـه عملـي سـدیزم او جینوسـاید روږدي شـوي ،حتمـاً بـه دغـه تجربـې او تمرینونـه پـه خپـل ملـک کـې ، پـه خپلـو خلکـو عمـلاً تکـراروي ، چـې نخـښې نښانې یې همدا نن پرون په سترگو شوې دي.

تیـره ورځ د تلویزیـون لـه لارې اعـلان وشـو چـې پـه افغانـستان کـې ۳۱ ملیونـه کـسان ژونـد کـوي ، ۳۱ کـسان بـه ددغـه وضـعې پلـوې نـه وي. پـه نـړۍ کـې نـږدې ۶ ملیـارده کـسان ژونـد کـوي ،داسـې وایـې چـې ددغـه ډول وضـعې پلویـان او طراحـان لـه ۳۰۰ تنـو تجـاوز نـه کـوي . ایـادا ټـول متمـدن بـشریت دومـره بېوسـه او اسـتغفر الله دومـره احمـق شـوي چـې د پنځـو کـسو د جـادو او مـسمریزم د تـاثیر لانـدې پـه رڼـو سـترگو نـاخود اگـاه ددغـه جهـنم پـه لـور ځغلـي ؟د وحـشت او جاهلیـت د وخـت انـسان پـر دوۍ شـرف درلـود . هغـوی کـه بـه کـوم حیـوان یـا انسان ونیـوه او خـام بـه یـې خـوړ ،نـو پـه دوهـم بـه یـې غـرض نـه درلـود . د تعجـب خبـره داده چـې نـن دوۍ پـه یـوائې ځـان بـې مقـصده او بـې دلیلـه پـه ملیونـو کـسان وژنـي او هیڅـوک حتـا دپوښـتنې حـق نلـري. د جاهلیـت پـه زمانـه کـې چـې انـسان هـیڅ ډول امکانـات نـه درلـود ل د علومـو پـه لټـه کـې یـې ټولـه نـړۍ گـوټ پـه گـوټ لټـولې د نـړۍ خریطـې ،دعلومـو اساسـات او بنیادونـه یـې څیړلـي او فورمولبنـدي کړیـدي. نـن چـې بـشر ټـول امکانـات پـه لاس کـې لـري ، د تروریـزم پـه نامـه احمقانـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



طرحه او یا بله پوچه ډرامه هر یو متمدن انسان ناخود اګاه مني .

مونږ افغانان په خپله وروری کې هیڅ پرابلم سره نلرو . د خارجیانو سره زمونږ پرابلم دادې چې زمونږ په خاوره په ناروا راننوتي او بې ګناه مو وژني . که دوی ووځي او ومو نه زوروی ، مونږ دوی سره هم هیڅ مشکل نلرو . معلومیږي چې په افغانستان کې کوم نه پخلاکیدونکې مشکل اولوی پرابلم وجود نلري .نو ولي په اصطلاح دا ټول متمدن بشریت د تا ویلي ، ما ویلي لفظي بحث د شخړې د حل له عهدې څخه نشي وتلې ؟ اوس مونږ په دغه حقیقت پوهیدلي شو چې په رښتیا ننني متمدن انسان له یوې خوا څومره بیوسه او له بلې خوا څومره بې شرمه دې. هغه کارونه چې بشریت په افغانستان ،عراق ، فلسطین ، جهان او یا په ګوانتانامو ، بګرام ، ابو غریب او نورو زندانونو کې کړي او کوي یي ، چې سپې او خنځیر به یي هم و نه کوي. شک نشته ډیر خلک ځیني وخت عقل له لاسه ورکوي او هر ډول کارونه کوي چې هم ځان شرموي او هم جهان. عادي دود او دستور دادې چې دا ډول کسان په ځنځیرونو تړي او په ټولنیز لحاظ هم ورته د قانون ځنځیر ، زندان او حتا په قانون کې د مرګ سزا ګانې هم په نظر کې نیول شویدي.

دننني عصر علاج ناپذیره او نه جبرانیدونکې پرابلم د انساني ذاتي ذهني نیمګړتیا اوننني علمي ،تخنیکې ،اقتصادي او دژوند په نورو اړخونوکي چټک پرمختګ تر منځ اساسي تضاد جوړوي. ټولنیز ذهنیت او شعور د دغه انکشافاتو څخه ډیر وروسته پاتې کیږي او په نتیجه کې په نه پخلا کیدونکي تضاد باندې بدلیږي. انساني ذهنیت د خپل تکامل په مسیر کې مختلف بدلیدونکې پوتنسیال او امکانات





لري. یعني چې د خپل تکامل د مسیر په لومړۍ مرحله کې خورا زر بدلیدونکې خاصیت لري ، په دوهمه مرحله کې بطي کیږي او د انعطاف له قوس اوړي او په دریمه مرحله کې مخ په زوړ ځي ( انحطاط مومي ) . د دغه ډول خاصیت برعلاوه انساني ذهني خته د بل هر مادي موجود په نسبت د زیات عطالت درلودونکې ده. ځیني وختونه دغه عطالت تر دې اندازې زیات وي چې په پایداره ، نه بدلیدونکي دینامیز باندې بدلیږي یا په بل عبارت متحجر او منهمک پاتیږي . حال دا چې د علمي ،تخنیکې او اقتصادي پرمختګونو سره سم ټولنیز اړیکي هم باید بدلون ومومي. په غیر صورت کې وروسته پاتې مناسبات او اړیکې د نوموړو پرمختګونو مخه نیسي او د پښو زولنی یي جوړیږي . خو حاکمه او واک په لاس طبقه د ذهني تحجر له مخې د اړیکو بدلون نه مني او په خپل ټول قوت ، ټولو دسیسو او جهالت سره د بدلون مخه نیسي. په نتیجه کې نه پخلا کیدونکې متضاده مبارزه په حاد ترین شکل سره پیل کیږي. د انسان د پیدایښت له ورځې ترننه پورې ، د اقتصادي ــ اجتماعي نظامونو په بدلون او تکامل سره ،ټول ټولنیز مناسبات په جبری شکل سره بدل کړې شویدي. نن د کار د ټولنیز خصلت او خصوصي ملکیت او د انساني ذهنیت او علمي تخنیکي پرمختګ تر منځ تشه اسفل السافلین جوړه شوې ، دمړښت او فقر تر منځ تناسب په تیرو ۷۵ کلونو کې له ۳ : ۱ څخه ۷۵ : ۱ ته رسیدلي ،د مختلفو مالیاتو ، بیمو ،قیمتی او نورو مصارفوکچه ورځ په ورځ لوړیږي او د ټولنیزو خدمتونو کچه چې په ځیني هیوادونو کې اصلاً دغه مفهوم وجود نلري ، په پر مختللو هیوادونو کې هم له یوی ورځې څخه بلې ته د صفر په

(c) ketabton.com: The Digital Library



لورچتک تقرب کوي او په نړۍ کې

موجوده بحرانونه، تضادونه، او پرابلمونه د سرمايي دليونيانو له واک او کنترول څخه وتلي دي. نن د بشريت اساسي کمبودي او تشه، که شخصي ده او که ټولنيزه، علمي او کلتوري بڼه لري او سرمايه په ټولو بوقلموني اشکالو او ماهيت سره د هغې د ډکولو، اقناع او ارضاء څخه پاتې راغلې ده. نړۍ نن د علم، پوهې، کلتوري نيمګړتياوو، بحرانونو او تضادونو کې ښکيل او په فردي او اجتماعي لحاظ د دغه تشې د انعطاف په خورا لوړو قوسونو کې لاروهي. دنړيوال کلتوري انقلاب ذهني او عيني شرايط اماده او يواځې د پروفسيو ناليزم له لارې د کلتوري عدالت او انصاف په تحقق سره ټولنيز عدالت تأمينيدلې او نړيوال په حقه سره د حتمي تباهۍ څخه د خلاصون لار ميندلې شي.





# افغان اولس کله هم زور ته نه دې تسليم شوې، دا ځل به هم تسليم نه شي!

په غربي يا په اصطلاح متمدنه نړۍ کې ټولنيز دودونه، عنعنات، رواجونه، لفظ، قول، وعده، قسم او ديته ورته ټولنيزو تعهداتو باندې باور او درېدل د وروسته پاتې ټولنوزاړه پاتې شوني مناسبات ګڼي او په نوې سرمايداري امپرياليستي او د هغې په ګلوبال او سوپر ګلوبال مرحله کې په کلي مردود ګڼل کيږي او پابندي پرې پرته له ساده لوحانه، نائيف او وروسته پاتې والي شوم ميراث څخه بل څه نه شي منل کيدلې.

په دې متمدنه او اصطلاح دموکراته نړۍ کې سياست ته، هغه چې بايد د اولسونو سرنوشت وټاکي، هغه چې بايد په خورا لوړه کچه د نړۍ داولسونو ذات البيني عادلانه او منصفانه مناسبات تعين کړي، هغه چې بايد د ظلم او ناروا د مخنيوي په خاطر د بشر د يوشان حقوقو د تأمين معيارونه، نورمونه، کچې او ارزشونه معلوم کړي، ...، چټله لوبه او معامله ويل کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هو ! هغه چټله لوبه چې ۵۰۰ کاله پخوایی په فیودالي زړو مناسباتو کې ریښه وځغلوله، چټل انسانان په کې ښکیل او د پاکو، با تقوا، مومن او شریفو انسانانو په سرنوشت یې بې شرمانه لوبې پیل کړي. دوی رښتیا هم له ابتدا څخه دا چټله لوبه د نسل کشۍ او په پټو سترګو د عامه شتمنیو د غصب او چورو چپاول په بنیاد پیل، چې خورا ارزانه او ګټوره معامله ګڼل کیږي او نن یې ورته خورا مناسب چټل نوم « سرمایه » غوره کړ، چې پرته له دغه نا روا او چټلو مفاهیمو بله افاده هم نلري. کاشکېد علمي - تخنیکي پرمختیا، د عامه ښېګڼو ټولنه، له استثماره پرته نظام، د ډلییز کار او ښېګڼې نظام، ... او یا بل داډول مناسب بشر دوستانه نوم یې ورته غوره کړې وې. اوسنۍ علمي - تخنیکي پرمختیاوې خپلې ځانګړې مادي زیرمې او بنیادونه، حقوقي او قانوني ارګانونه، بشري مناسباتي معیارونه، نورمونه، قوانین، سازمانونه، انستیتوتونه، متقابل مسئولیتونه، صلاحیتونه، تعهدات، متقابل حقوق، وجایب او پابندیو ته ضرورت لري چې باید ایجاد او عملاً د مربوطه ارګانونو له خوا یې پام لرنه او ساتنه وشي. دغه ارګانونه عملاً ټول وجود لري، خود څو ټنګو ناچله، تورو او بې ارزښه پیسو په بدل کې د سرمایدار په ولکه کې قرار لري او په حقیقت کې قانون د قانون، حقوق د حقوقو، اداره د اداري، ... او نور بالذاتهِ او في نفسهِ د ځان پر ضد د نابودۍ حربه او وسیله ګرځېدلې ده. ځکه چې نظام پخپل محرک او خپل خره چپه سپور دی، د سرمایې څخه د بشري عامه ښېګڼو د تأمین د وسیلې وسیلې په حیث نه، بلکه د شخصي هدف او شخصي اهدافو د لاسته راوړلو د وسیلې په





حیث ګټه پورته کیږی او سرمایدار پری د شخصی ملکیت په حیث پخپله خیټه اچولې او سرمایه پخپله د سرمایې د تولید وسیله ګرځېدلې او زیار ایستونکې انسانله دغه پروسې څخه تقریباً په کلي ایستل شوې دې، حال دا چې سرمایه ټولنیز محصول، ټولنیز ملکیت او په ټولو خلکو پورې د ډلییزو او د عامه خیر ښېګڼو د تأمین په خاطر، اړه لری. شخصي ملکیت هغه دې چې د خپلو متو په زور او د تندي په خولو ګټلې شوې وې نه دا چې یا یې پخپله او یا یې پلار نیکه په غلا، چور چپاول او یا په ظلم او ناروا را جمع کړې وي. د غلا، چور و چپاول، جوړ جاړي او په پټه پنا د سرمایدار د ناروا ګټې څخه پرته، په عادي ورځني تعامل سره، د سرمایدار، د کار فرما په حیث او د متخصص او غیر متخصص کارګر تر منځ معاملو کې ټوله ګټه د شخصي مال په توګه، سرمایدار ترلاسه کوي او هر کارګر هم یوازې د شخصي مزد په حیث خپله برخه ترلاسه کوي. خو دا چې هر متخصص او غیر متخصص کارګر د ټولنې له خوا روزل شوې، او اوبه، هوا، چاپېریال او ډیرو نورو توکو څخه چې ټولنیز مال او سهم ګڼل کیږي، چې سرمایداریې باید حق ادا کړي، خود خپلې دغه یو پر څو ملیونمې ذرې په عوض د نورو هیوادوالو څو ملیونه حق څخه ناوړه ورېا ګټه اخلي او په خپل جیب کې یې اچوي. خورا سرسام اوره ګټه چې سرمایداریې د سرمایې د نا روا تزاید او حکومتونه یې د خپل تحکم او استبداد د دوام په خاطر د افرادو او اشخاصو د تطمیع، اضافي بې ځایه مصارفو او یا زر اندوزۍ په خاطر، د ارزښې اسنادو او تورو پیسو د چاپولو او صدور له لارې د هیواد والو حق حلالې شتمنۍ غصبول او په اوسنیو شرایطو کې کله چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



سرمایداراو حکومت سازشکارانه او متفقانه د امینتي قواوو سره په تباني کې د خلکو پر ضد ، د همدغه تورو پیسو په قوت موضع و نیسي او په نه ماتیدونکي سنګر او بالا حصار بدل او په پای کې په نړیواله کچه د سرمایي او حکومت په سوپر ګلوبال مافیایي طاقت باندې بدل شي. مونږ نن عملاً د دغه ډول یوې پروسې چې په نړیواله کچه استحکام پیدا کوي، شاهد یو او که همدا نن ،چې عامه اګاهي او شعور نسبي عمومیت پیدا کړي ، د دغه ناوړه پروسې د ناوړه عطالت په مقابل کې د مخنیوي او عکس العمل تدابیر ونه نیول شي ، سبا به مشکل او یا به نا ممکن اوسي. پخوا له دې چې پیسې خپل فزیکي موجودیت او ارزش په کلي توګه له لاسه ورکړي ،نړیواله مافیا هڅه کوي د پیسو د دغه فلکسیبل (ارتجاعی ) موقفاو خصلت څخه څومره چې ممکنه

وي ، غواړي اخري ګټه پورته کړي او د همدې کار لپاره ټول نړیوال امپریالیستي او مافیایي قوتونه ، په ظاهر کې افغانانو لپاره د پخواني شوروي اتحاد او د نړیوال کمونیستي نظام د ړنګولو په خاطر د « احسن» پاداش ، خو په حقیقت کې د نړۍ په هر لحاظ د غه ستراتیژیک جیو پولتیک موقعیت ،او تر اوسه پورې د پټې خزانې مرکز او بالا حصار افغانستان ته راټول شوي ، تر څو د خپل چور او چپاول په تورو پیسو اخرین قمار ووهي او د نړۍ په هر لحاظ ، دغه ستراتیژیکه کې ،چې هر غشې به یې دلخواه هدف ویشتلې شي ، خپلې منګولې ښخې کړي . دوی څومره په اغماض او مکارۍ سره د سمسری غوندې د ترمو او ښکو په تویولو سره د څوتنو بیګانه پرستو په مرسته افغاني معضله په کثیر المجهوله سیاسي معادله ،





منطقوي لویه غمیزه او د بې ګناه انسانانو د تباهۍ په لا علاجه وباء بدله کړې ، په دې معنا چې ،شپږ څلویښت د نړۍ ستر هیوادونه په افغانستان کې هر اړخیز نظامي او ملکي حضور لري او پاتې ملکونه هم د افغانستان په مسئله کې بې طرفه او بې علاقې نه دي ،بلکه د مدعي په څیر خپل اهداف او ګټې د غوښینې ذرې په خاطر څاري او د نظر لاندې یې ساتي. په حقیقت کې د نړۍ ټول هیوادونه د خپلو لسګونو رنګارنګ جاسوسي سازمانونو له لارې فعالیت کوي ، ځانونو لپاره خپل خپل جاسوسان او د خپلو ګټو ساتونکي روزي ،په مناسب غوره ځای کې یې ځای پځای کول غواړي ، ساتنه یې کوي او وخت په وخت یې د رتبې او مقام څارنه او غمخوري کوي. نن د همدغه بېځایه خپلو او پردیو غمخوریو له برکته د اردو ،څارندوی او امنیت په صفوفو کې عسکر او بریدګي نه په سترګو کیږي او شکر ټولو یې بې سواده جنرالانو ، ډګر جنرالانو ،ستر جنرالانو او مارشالانو لوړو رتبو ته ارتقاء پیدا کړې او خپل « مقدس» خدمت ته یې ملا تړلې ده. په افغانستان کې د پخوا په څیر ۷ ولایته نه دي ،د خدای په پیرزوینه هره اولسوالي ولایت او هر کلې اولسوالي جوړه شوې او که دوه کرته بیا ټولټاکنې وشوې ، پاتې کلي به هم څه کرزې صاحب او څه زمونږ خارجي « دوستان» په لایتونو بدل کړي ،یو بې سواده په وطن کې نه دې پاتې چې لا اقل یو ځل دې د ولایت ، معینیت ، وزارت او د جمهوری ریاست مشورتي مقام ته نه وي رسیدلې . کار او روزګار ته به ضرورت نه وي او که ضرورت هم پیدا شي ، دغه بیچارګان به پرې څه پوه شي او بل دا چې هغوی خو د کار لپاره نه دي ، بلا تشبیه په جنتي ژوند کې کار وجود نه لري. نور

(c) ketabton.com: The Digital Library



بـه يـي ګتـي او دوی بـه دنـورو ... خـوري.دا ډول ده د افغـاني كثيرالمجهولـه سياسـي معـادلې ډيـره پيكـه شـمه. خـو ددې ټولـو خبـرو سـره سـره مـونږ پـه دې عقيـده يـو چـې هـر ه سياسـي معضله د حـل سياسـي لار لـري ، پـدې شـرط چـې ثـوک ورسـره سياسـي كـړه وړه ولـري يعنـې چـې د قـضيي حـل دهغـې پـه اساسـي غوټـه او تـضاد كـې ولټـول شـي . پـه غيـر صـورت كـې ، خوپخپلـه زمـونږ دا نـا بللـي «دوسـتان» وايـي چـې افغانـانو پـه تـاريخ كـې كلـه هـم زور نـه دې منلـې . مـونږ هـم وايـو چـې نـه يـي دې منلـې. خـو دوی وايـي چـې دا كـرت يـی حتمـاً پـرې منـو او ځكـه ټـولې نـړۍ سفر بـري اعـلان كـړې او دافغانـستان پـه جنګـي تيـاتر كـې وضـع الجـيش لټـوي . خـو مـونږ پـه دې كـې هـيڅ شـک نـه لـرو او وايـو ،تـر اوسـه چـې افغانـان هيڅ زور ته نه دي تسليم شوي ، دا ځل به هم تسليم نه شي.

بهرنيـانو دا ديـرش كالـه افغانـان پـه دروغـو وغولـول ، ۱۰۰۱ وعـدې يـي وركـړې ،خويـوه يـي هـم رښـتيا نـه شـوه. لـه هغـه ورځـې څخـه چـې يـي سـرمايه خپـل هـدف ټـاكلې ، رښـتيا يـي پـه خولـه نـه شـي راتـلای. سـرمايه يـوازې پـه دروغـو او غـبن پيداكيـدلې شـي. د لنـدن پـه كنفـرانس كـې هـم ډيـرې وعـدې وشـوې چـې د مخـالفينو سـره بـه روغـې جـوړې تـه كـښيني ،خـو د هغـوی د سـركوب پـه خـاطر بـارک اباما ۳۰۰۰۰ تـازه دمـه خـاص تربيـه شـوي دريـايي عـسكر راواسـتول چـې د نـاتو دعـسكرو سـره يوځـای پـه «مارجـه» كـې د سـولې د خبـرو وعـدې ورپـر ځـای كـړي. دوی د سـولې تـر شـعار لانـدې جنـګ كـوي ، دامنيـت تـر شـعار لا نـدې امـن د ځمكـې پـه مـخ نـه پريـږدي ، د بيـا ابـادونې تـر شـعار لانـدې ښـارونه ،كلـي ، بانـډې ، ولاړه لوټـه او دبـشر دتمـدن پـه نـوم كـوم اثـر دځمكـې پـه مـخ بـل چاتـه نـه پريـږدي.دوی تجاهـل العارفانـه ،سـاده لوحانـه او ډيـر





معـصومانه تظـاهر كـوي چـې ګونـدی پـه افغانـستان كـې يـي وضـعه لـه كنتـرول څخـه وتلـې ده ( او رښـتيا هـم وتلـې ده )او خوشـباوره افغـان اولـس خـو لا څـه چـې زمـونږ عـالم روشـنفكر قـشر هـم ورسـره دا مني او دهغوی د رښتينولۍ په خاطر يو

سـتيژ تـرې خـلاص نـه دې او پـه بيهـوده خبـرو حقـايق تحريفـوي ، داصـلي مـسايلو څخه د خلكـو مـخ بـل خـوا اړوي او هـم خپـل او هـم د نـورو وخـت ضـايع كـوي.ځكـه ثـوک دا منلـې شـي چـې دوی پـه رښـتيا د وضـعې لـه كنتـرول څخـه عـاجزدي.خويـو ځـل پـه رښـتيا هـم داسـې معجـزه ونـه شـي چـې « مارجـه »د نړيـوال عادلانـه پروفـسيوناليزم د نړيـوال سراسـرې كلتـوري انقـلاب د سـرچيني پـه وضـع الجـيش بـدل شـی. دا خبـره د يقـين او امكـان څخـه څـه ډيـره خو هم نه ده !

بهرنيـان او د هغوی لاسـپوڅي كـورني چـارواكي پريـږده چـې دروغ ووايـي ،اولـس خـو پـه دغـه پټـو رازونـو نـه پـوهيږي او د اولـس پـه خپـل وخـت اګـاهي او پوهـاوې خـو درونـډآنـدو دنـده او رسـالت دې ، ولـې مـونږ خپـل رسـالت سـرته نـه دې رسـولې ؟كـه مـونږ پـه رښـتيا ددغـه رسـالت د احـساس درک درلـودلې او ځانونـه متعهـد هـم ګڼـو ، نوكـه لا اقـل يـو سلول د وطنپرستۍ مـو پـه وجـود كـې موجـود وې ، بايـد **دعبثـو خبـرو څخـه تيـر ، ګونګـه روژه مـو نيـولې وې او د ړنـدو چـشمكېمو پـه سترګو ګرځولې !!!**

كاشـكې مـونږ پـدې وسـيله د مـسئوليت او شـرم څخـه دخلاصـون لار درلـودلې. كاشـكې دغـه بيچـاره اولـس د لاس دتنباكو او د زړې بوډۍ د

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپینسیو د وریشلو ټنګی زمونږ د انجنیری، ماستری، دکتورا او پروفیسری په تحصیلونو نه وې مصرف شوې او هغوی په دې انتظار کې نه وې چې: «زما لالې به سپاهې، جمعه دار، کمال دار او زما د ننګ او ناموس د ساتنې ذمه وار شی» کاشکې دغه خوشباوره اولس زمونږ هرې غولوونکې چیغې ته لبیک نه وې ویلې او دغه ګنده تخمونه یې له ځانه رټلي وې.

ایا د وطنپرستۍ او صداقت ذمه وار یوازې بې سواده اولس دې او دالفبا زده کړه، چې پخپل خیر او شر ځوک پوه شي، حتماً د بیګانه پرستۍ او اولس او وطن ته د خیانت سره تړلې ده؟ پخوا چې به مونږ کوم لیونې ولیده، ټولو به ویل دا دانګریز یا پاکستان جاسوس دې. ځینو به ویل چې، یوه انګریز له ځانه ځخهپه دروغو ملا جوړ کړې وو. لکن نن راته روغ رمټ، تر ټولو هوښیار او تر ټولو خاین، جنایتکار، د بشر دحقوقو ناقضین په ریاست جمهوری، کابینه، پارمان، قضاء او دحکومت په لوړو پوستونو کې ناست او هره ورځ حامد کرزې، اوباما، براون او نور ترې د هر ستیژ پر سر شکایت کوي، خوملاتړ ترې هم کوي، او هغوی هم افتخار امیزه ایستلی توره د هر ستیژ په سر دخپلو متولیانو د ګټو ددفاع ځخه تیریدونکي نه دي بلکه د پارلمان په وړاندې هر یو یې د هغوی د جاسوسي سازمانونو په غړیتوبونو اعترافونه او ویړ کوي.

مونږ که پدې پوره نه پوهیږو چې په لیوانو ځوک رمې نه ساتي، یا جنایتکاران، د بشر د حقوقو ناقضین، بیګانه پرستان، مفسدین او... که واک په لاس کې ولري، په ملک کې نظام، اداره، امنیت، قانون او... تحقق نه شي پیدا کولې، نو





زمونږ بهرني «دوستان» چې د دولت دارۍ اوږد تجربې لري او دموجوده بشری قوانینو د تدوین تور هم دوی په ځان پورې تړي او په نیمي پیړۍ وراووختې چې په یوازې ځان د نړیوالې واکمنۍ تجربې کوي، ولې د قضیي دعاجل حل لپاره د تجربه شوو تجربو او لارو جارو ځخه کار نه اخلي؟ دا داسې عمل دې چې پیل به یې بې له شکه په دوی پوری اړه لري، خو پای به یې ددوی په واک کې نه وي! د یوه نظام ړنګول ډیر ساده او اسان کار دې، خو بیا ابادونه یې د ډیرو نسلونو او پیړیو عمرونه پکار لري!

ننني افغانی معضله د ډیري پیچلتیا او مشکلاتو سره سره ډیره ځرګنده او ساده هم ده. که د تیرو وړو غټو خبرو ځخه تیر او معضله نن چې ځه ډول ده، تعریف کړو چې: د تیرې دیرش کلنې ناوړه وضعې او ناوړه شرایطو په نتیجه کې جنګ دوام لري، په هیواد کې نظام، اداره، قانو ن وجود نه لري، ذات البیني قومي، مذهبي، ژبني، سمتي او نور تعصبات او دښمنۍ لوړې کچې ته رسیدلي، فساد، رشوت، اختلاس، غلا، چور چپاول، اختطاف، په وړو او زړو، ښځو نرو جنسي زور زیاتې د تحمل او حوصلې ځخه وتلې، د شخصي او دولتي دارایي غصب ورځنې عادي کار او چار ګڼل کیږي او پوښتنه یې نه شته،....

د جنګ د پای، د ټولو نیمګړتیاوو د له منځه وړلو، د امنیت د تأمین، د نظام د جوړولو او بیا ابادونې په خاطر د ملګرو ملتونو او امریکې په مشرۍ نړیوال نظامي قوتونه او ملکي سازمانونه او ادارې د بیلیونونو ډالرو سره دا اته کاله کیږي چې راغلي، خو چارې په هر اړخ او جهت کې د بهبود په عوض د ډیري ورانۍ او خرابیدو په لور روانې دي او شک نه شته چې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغانستان کې یو ځل بیا بشري ناورین رامنځته او پردي خپلې پښې له دې ځایه په تېښته سپکې کړي.

داچې ولې امریکې د شوروي اتحاد د ړنګېدو څخه وروسته افغانان د نزعې په حالت کې پرېښودل د کوم چا په برکت چې د یکه تازۍ شاهنشاهۍ د تخت د اشغال په خاطر یې عجله وکړه ؛

دا چې ولې د امریکې دولت د ۲۰۰۱ م کال د سپتمبر د یوولسمې د نیویارک د تجارتي مرکز د ناوړه پېښې په تور د جزا ور افغانان وبلل ، حال دا چې عاملین پاکستانی الاصله او عربی الاصله امریکایي او انګلیسي او سیدونکي وو چې د همدغه ملکونو پاسپورتونه یې لرل ؛

داچې ولې د بن په کنفرانس کې د افغاني ټولنې حقایق او واقعیتونه په نظر کې ونه نیول شول او د پنځو « کسو » په کچه په داسې حساسه مرحله کې د یوه لوی مملکت او اولس سرنوشت ور وسپارل شو ؛

یا داچې څه ډول ممکنه ده چې ، دا تو کلونو په موده کې د نړۍ ټول او په خاصه توګه ستر پرمختللي هیوادونو په هیڅ اړخ کې حتا خورا کوچنې موفقیت لاس ته رانه وړې شو .

که دوی وایي چې بې وسه دي ،نو څوک به یې په کوم دلیل ومنلې شي ؟

که قصدي او عمدي لوبه او معامله وي نو د کوم رښتیني افغان لپاره به د منلو وړ وي ؟

مونږ پوهیږو چې هم افغانان او هم د افغانانو بهرني ملاتړي« دوست» هیوادونه نن د لوی مشکل سره مخامخ دي. پکار دا دي چې په هیواد کې ،ګاونډیانو او نړیوالو ملکونو سره په ګډه د سولې ، امن او خپلمنځي عامه ګټو او سولییز ګډ ژوند لار





غوره شي. نن هم په مشکلو مسایلو کې د حل لارې د پیدا کولو په خاطر بهرني او کورني مسئولین اولس ته مراجعه کوي.

افغان اولس د خپلو کورنیو او نړیوالو شخړو د حل لپاره خپل دود ،دستور ،تړې ، تیږي ،... آن تر لویې جرګې پورې مقررات لري او همیشه یې نظامي او ملکي چارې پخپله حل کړیدي.

تر اوسه پورې اولس ته رښتیني مراجعه نه ده شوې او هر څوک ،که خپل دي او که پردې ، یوازې په دروغو او درغلۍ ور سره چلیدلي دي. د اولس غولول د ځان غولول دي. د اولس زور د خدای زور دې. اولس ته د صداقت له مخې مراجعه پکار ده.

افغان اولسه ! که خپل دې او که پردې ،چې په دروغو درسره چلیږي !

یوازې د خپل ملي وحدت په مټ او طاقت کولې شې هغوی د رښتینولۍ ډګر ته راکاږې او لکه د همیش په څیر عادلانه سیاله لوبه او سپیناوی ورسره وکړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# جرګه ـ مشورتي ؟ که حُکمي ؟

دفارسې ژبې يو متل دې چې: « احتياج مادر ايجاد است » ، نو دجرګې دود او دستور هم مونږ افغانانو ته له ښې ورځې نه دې راپاتې. که له يوې خوا افغانستان ، چې د شمال او جنوب ، شرق او غرب تر منځ يوائينې د تلوراتلو مناسب ځلورلار او معبر او د هر سياح ، نوښتګر څيړن ، عابد ، صوفي ، راهب ، بنجاره او تجار د تلو راتلو لار او تمځاى وو او هره نغده او نسيا سودا همدلته کېدله ، هره عقيده او مفکوره په دې خاوره کې خميره او پخلي ته رسيدلي او دهرچا لپاره په قابل هضم مرۍ بدله شوې ، له هرې ورځې نه بلې ته مولانا ، ابن سينا ، البيروني ، سيد جمال الدين ، فارابي ، رازي ، بيهقي او ډير نور زيږيدلي او په نړيواله کچه د سترو خدمتونو او شهرت جوګه شويدي ، دله بلې خوا د هر يرغلګر لار هم له افغانستان څخه تېرېدله او نن هم لا د نړيوال جنګ جنګي تياتر پاتې او يوائې افغانان د مقاومت او اصطکاک د غوټې په حيث پکې سوليږي او د سونګ د موادو په څيرپکې سوځي . د پيړيو په اوږدو کې افغانانو نه دي کړې شوي پخپل ملک کې با ثباته مرکزي حکومت او متناسباً خپل اداري ، حقوقي او قانوني ارګانونه ، اداري ، موسسات او انستيتوتونه ولري او وي ساتي ، او وضعه لکه نن چې څه ډول دوام لري ، دتاريخ په اوږدو کې هم





همداسې وه. بيګانه پرستانو هميشه خاينانه معاملې او مزې چړچې کولې او ددغه نا بکاره وضعې ددوام په خاطريې په هيواد کې فاسد او نابکاره نظام ساته او نه يې غوښتل په ملک کې مرکزي نوې حکومت ، اداره ، قانون او نظم برقراره شي. وطنپرستان مجبور وو د حکومت سره موازي اولسي خودګردانه ټولنيز نظام ، اداري ، قوانين ، دفاعي تشکيلاتي سيستمونه جوړ او د وطن او اولس د پت او عزت د ساتلو په خاطر توره په لاس د کورني او بهرني دښمنانو په مقابل کې وجنګيږي . په دې ډول د افغانستان په ګوټ ګوټ کې مستقل خود ګردانه ټولنيز نظامونه ، اداري ، قوانين ، دود ، دستور ، محلي قومي او سراسرې ملي جرګې او په کل کې خود ګردانه ملي افغاني دموکراتيک نظام او اړونده محلي مردمي ( خلکو ) ، قومي او ملي سراسري ټولنيز دموکراتيک اولسي مناسبات ټينګ او د هغې په هڅه او مټ په مټ دملي وحدت په قوت د واحد شعار « يو د ټولو او ټول د يوه په لاتر » د واحد وطن او اولس د شريکو ګټو د ساتنې ضامن وګرځيد ل.

هو ! جرګه زمونږ ددغسې يو ډول مجبوري خودګردانه ټولنيز نظام دموکراتيک اصل او د عادلانه مناسباتو خورا لوړ انساني اخلاقي مقام ګڼل کيږي او په افغاني ټولنه کې د تقدس حيثيت لري ، تصميم يې تصميم دې او پريکړه يې حُکمې پريکړه ده ، عملي کول يې حتمي او هيڅ يو خاين د هغې په مقابل کې د پورته کتلو جرأت هم نه لري. دا يو رښتينې اولسي تصميم دې ، اولسي عزم دې ، اولسي تعهد دې او هغه اخري اولسي پريکړه ده چې د مرګ او ژوند په پوله ، هغه وخت چې چاره هڅه ته رسيدلې او هڅه پريکوي او د اولس د بود و نبود

تصمیم او سرنوشت ټاکل کیږي . دلته مشورو او مشورتي جرګوته نه مکان وجود لري او نه زمان ، دلته ټول فرصتونه صفر ته تقرب

کوي او هرڅوک د سترګي درپ فرصت لټوي ، دلته مدعي او مدعي علیه لکه غازي وزیر محمد اکبرخان او مکناټن د سترګو په کسو کې یو بل ته ګوري اود سترګې په رپ کې دحملې او دفاع فرصت لټوي ،هرچا چې دغه فرصت له لاسه ورکړې وو او هر چاچې ګټلې وو .

مشورتي جرګې د پښتو او افغانیت په قاموس کې وجود نه لري ،مشوره چې دخدای په کلام کې یې هدایت شوې او جرګه چې دناشونې منازعې د مخنیوي په وخت کې جوړیږي د موضوع او ماهیت په لحاظ یو تر بله هیڅ ورته والې نه لري او نه باید سره مغالطه شي. دا هغه تحریفي مفاهیم دي چې ځیني کسان یې د تنفس دفرصت د تر لاسه کولو په خاطر استعمالوي او یاد بې مورده تعلل له مخې نه غواړي د موضوع د قاطع حل دا قدام پر ځای موقع له لاسه ورکړي او قضیه په جره مشوره بدله شي. جرګه یوائیني هغه اخري امکانات دي چې د ټولو نورو هڅو او هلو ځلو په پای کې د دوه متخاصمو ډلو تر منځ د جرګې دمسئولینو ددواړو خواوو په ټولو صلاحیتونو سره دایریږي ،پریکړه کیږي او عملي کیږي او یا د نهایي جنګ لپاره هر څوک خپل سنګر ته خیژي . افغاني جرګه ماران ،کله چې مقابل لوري دجرګې له پریکړو څخه سر غړونه کوي خپل ملا تړې اولس سنګر ته رابولي ، دیوي مړی ډوډۍ او توت او تلخان سره کفن هم له ملا تړي د سنګر سره یوځای خپل قبر هم کنې او دمرګ او ژوند فیصله یې په همدغه ځای کې کیږي.





جرګه نه دمشورو ځای دې ، نه په کې دغه ډول فرصتونو ته وخت پیدا کیدلې شي او نه مشورتي او مصلحتي جرګو کله هم کومې رغنده مثبتې پایلې لرلي دي. کورني او بهرني دښمنان چې غواړي په دغه نا پیژندل شوو نومونو افغاني اصیل ارزښونه بې ارزښه او له منځه یوسي او یا لا اقل د تنفس فرصت پیدا کړي ،باید وپوهیږي چې ټول افغاني ارزښونه د سیاسي او بیولوژیکي میراث په حیث ،په غوږ کي له لومړي اذان او دمور د پیو سره لکه دروح د هر اصیل افغان په وینه کې چلیږي او تر څو چې یې روح او د ویني یوڅاڅکې په تن کې وي ، ددغه ارزښونو هیرول به هم نا ممکن وي.

پدي توګه په افغاني کلتوري ،عقیدوي اوحماسي لاسته راوړنوباندي دجنګونواود هغوی د بدو عواقبو یعني ځانځانۍ او پراګند ګۍ سیوري

پروت وو. اولس ددي فرصت نه درلود چې په ملک کې منظم اداري ، قانوني ، حقوقي ، تعلیمي ،حکومتي او دولتي تشکیلات ، ارګانونه ، اداري ، انستیتوتونه ، موً سسات تشکیل کړي او هر څه لکه چې د مجاهدینو او طالبان په نظام کې په صحرایي او تصادفي بڼه او یا لکه نن چې د لسګونو خپلو او پردیو پخپل سر ادارو او حکومتونو په موجودیت کې چې هرڅه د قانون ، اداري او کنترول په خلاکې سرته رسیږي ، هغه وخت هم سرته رسیدل. خو هغه وخت نه دومره چټک علمي ـ تخنیکي او اقتصادي بدلونونه ،نه ګلوبالیزم او سوپر ګلوبالیزم اونه دهغې په کچه انساني اُتالتاریستي نامحدود حرص او آزوو . افغاني ټولنې یو څه فرصت درلود چې د پیړیو په اوږدو کې، په ټول مملکت کې موضیعي خود ګردانه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولنيزې اداري ، قوانين ،اصول او نظم برقراره کړي. څرنګه چې دغه ټولنې او نظامونه د دايمي جنګونو په شرايطو کې چې يو د بل له حاله نه شول خبريدلې ،تشکيليدل ،نو ځکه يې محلي خصوصيات ، قيودات او ځانګړنې درلودلې او تر نن ورځې پورې يې هم نه دتعميم فرصت پيدا کړې او نه يو تر بله سره ورته والې لري او همدغه ۱۰۰۱ رنګی ته د افغاني ټولنې د خود ګردانه ټولنيز نظام ،کلتور ،ازادی ،دموکراسی اود ټولنيز ژوند هر اړخيزه غنا ويل کيږي .

دا به سمه نه وي که ووايو چې افغانستان د ځمکې په سر يواځينې هيواد او افغان ملت يواځينې اولس دې چې د هر ډول خپلمنځي او له پرديو سره د ډيرو وړو تضادونو او مخالفتونو څخه نيولې تر عظيمو نړيوالو قراردادونو ،مخالفتونو او تضادونو لپاره دغه ډول بډايه سوچه اولسي ټولنيز قوانين ،ارګانونه ،اداري ،مناسبات ، تړې او اصول لري ، چې ملي اولسي لويه جرګه

دهغې خورا لوړ مقام ګڼل کيږي. دغه قومي او ملي جرګې چې په حقيقت کې پردي جنګونو او دهغوی ناوړه پايلو جبراً په مونږ تحميل کړې وې، د تاريخ

په اوږدو کې د خودګردانه ټولنيز دموکراتيک نظام په سوچه خورا لوړ باصلا حيته منتخب حُکمي ارزش او مقام يعنې «لويه جرګه» او اړونده لازمي ـ کافي افغاني اولسی قانون ،دود ، دستوراو اصولو باندې بدل شوېدې . دغه لوی ارزشونه چې د افغاني ټولنې د فرد فرد ، قوم او لوی اولس په تار وپود( بوده او تنسته ) کې اخښل شوې او په وينه کې يې جريان لري ، د مغرضو قوتونو د پيړيو پيړيوناولو هڅو سره سره چې د افغاني



"لوی خدای، لوی علم، لوی جهان" سیاسي فلسفه

اصيلو انساني ارزشونو د بې ارزشه کولو په خاطر يې کړې تر ننه بې نتيجې پاتې دي. ټولو وطنپرسته افغانانو ته پکار دي د غه انساني ضروري ارزشونه دهر پاک او با ضميره اصيل افغان له ذهن او وجدان څخه په اقتباس د يوه مقدس او لوی سراسري بشري ارزش او جمعي قانون په حيث فورمولبندي او دټولو افغانانو تر جمعي شعور او اګاهی يې ورسوي، تر څو په نړی کې د نورو اولسونو لپاره هم منلې او لازمي ضروري مثال او سرمشق وګرځي.

جرګې ، لکه چې دمخه ورته اشاره وشوه دډيرو کوچنيو مسايلو ، دمثال په ډول دپلار او زوې او دوه ورونو تر منځ د شخړو څخه نيولې د مختلفو کورنيو ،قبيلو ، قومونو ، اولسونو او مختلفو هيوادونو تر منځ په ځمکني ،سرحدي اوسياسي مسايلو او مخالفتونو باندې وړې او لويې جرګې جوړيدلې شي. جرګې که لويې دي او که وړې يواځې حُکمي بڼه لري او جرګه

مارهم يواځې هغه څوک ټاکل کيږي  چې په صداقت ،پاکی ، انصاف ، پوهي او دې ډول نورو اوصافو متصف او ذاتاً حُکمي او با صلاحيته کسان او په خپل اولس کې دکافي اعتبار ،تقوا او نفوذ خاوندان اوسي. يوه مسئله او قضيه هغه وخت جرګې ته راجع کيږي ، کله چې د نورو ټولو لارو چارو له مخې يی حل ناشونې ګڼل شوی وي . جرګه له هرڅه دمخه له دواړو مقابلو لورو څخه د پريکړې ټول صلاحيت او واک ترلاسه کوي او سره ددې چې په اکثره مسايلو کې دود ، دستور ،تړې او حدود معلوم دي ، بياهم د جرګې غړي دبې پرې جرګې ددايريدو لوړه کوي او دجرګې د پريکړو څخه د سر غړونې تاوان او جريمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې معمولاً نغدې پیسې ، دکور سیزل ، دقوم ، اولس او کلي کور څخه شړل ، یا د قتل او په ځینې نورو مسایلو کې د د ښمنۍ د له منځه وړلو په خاطر د ښځو ورکول او دیته ورته ډیر نور شرطونه ټاکل کیږي. په بدو کې البته د ښځو ورکول او په اصطلاح خپلوي کول خصوصاً په پښتني دود او دستور کې هیڅکله ښې پایلې نه دي درلودلې او د ښځو په حقه حقوقو بربنډه تیری ګڼل کیږي.

جرګې که وړې دي او که لویې یواځې پریکړنده مقام او حیثیت لري، یواځې د مدعي او مدعي علیه متقابلو متخاصمو اړخونو تر منځ د هغوی په غوښتنه او موافقه او حتا د هغوی د استازو او نماینده جرګه مارو په ګډون د با صلاحیته ارګان او مقام په حیث را غوښتل کیږي او پریکړه یې بې قید و شرطه عملي کیږي. هغه څوک چې د جرګې له پریکړې څخه سر غړوونه کوي په ټاکلې جزا او جریمه محکوم او سمدستي عملي کیږي. د جرګې دغه دومره لوړ مقامي حُکمې صلاحیت که له یوې خوا د جرګې دغړو په شخصي اعتبار ، عدل ، انصاف ، رښتینولۍ اونفوذاو شهرت پوری اړه لري، د هغې

څخه څو برابره زیات د هغه اولسي خودګردانه قوانینو ، اصولو ،دود ،دستور او تړو پورې اړه لري ،کوم چې افغانان یې د اولسي بې عیبه و غشه قانون په حیث منې او د سمدستي با انصافه پریکړې طمع ترې لري.

پدې توګه هره جرګه یواځې با صلاحیته پریکړنده حُکمې ارګان او مقام ګڼل کیږي اوپرته له دې جرګې ته هر بل شکلې او ماهیوې نوم او حیثیت قایلیدل ،لکه چې د ۱۳۸۹ هجري شمسي کال د جوزا د میاشتې په دولسمه تش په نامه جرګې ته





مشورتي نوم ورکړشو او تر اوسه پورې د جمعې رسنیوله لارې په یوه ساعت کې په زرګونو ساعتونه همغه یوه موضوع په مختلفو ژبو غږول کیږي او په میلونونو پانې پرې توریږي،د جرګې د اصلي مفهوم د بدعته او تحریف پرته بله کومه معنا او مفهوم نلري. نن په افغاني ټولنه کې ټول حقایق د لمر په څیر ځرګند دي او ضرورت نه شته د افغانانو کورني او بهرني دښمنان خپل تور مخونه لا پسې تور کړي. په داسې شرایطو کې چې په هرو شلو او دیرشو دقیقو کې یوه مور چې یو یا له هغې زیات بچیان به زیږوي ، یواځې پدې خاطر مري چې یوه مړۍ وچه ډوډۍ نه لري. که مونږ یوه دقیقه وخت صرفه جویي کړو او کار وکړو د څومره دغه ډول انسانانو ژوند به وژغورو ؟ ځکه نور خلک په یوه ثانیه په لسګونو زره موټرې تولیدوي ، په میلونونو ټنه غذایي مواد او همداسې نورې زیرمې ایجادوي. نژدې کال پوره کیږي چې جمهور رئیس په اصطلاح ټاکل شوې ،تر اوسه کابینه نه ده معرفي شوې او یا نه ده منل شوې او درسنیو په خبره سرپرست وزیرانو او مامورینو فرصت غنیمت ګڼلې او د خپلو خالي جوالونو د ډکولو په خاطر یې چور اعلان

کړیدي ،اولسي او مشرانو جرګې هم په همدغه خاطر اعتصاب اعلان کړې او مفت معاش اخستل غنیمت ګڼي ،... او ملګري ملتونه او بهرنیان چې د چارو د سمون ، امنیت ، بیا ابادونې ، او... په خاطر راغلي دي د خیر په غونډۍ ناست او د «به ما چې» پروګرام تعقیبوي ،یعني هیڅوک هیڅ کار نه کوي. هرڅه چې کوي یواځې د فساد ،رشوت ،اختلاس ،... ( البته ډیر کم کسان به داسې نه وي ) او په ملیاردونو ډالر عبث مصرفیږي ، خلک له لوږې او په جنګونو کې مري او د دالرو درک هم معلوم نه دي چې کوم لور ته او د چا جیبونو ته ځي ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوائې ددغه تش په نامه بې مفهومه مشورتي جرګې په سلګونو ملیونو ډالروبې معنا مصارف که پرځای شوي وای د ډیرو بې وزله انسانانو مشکل به حل شوي وي. افغانستان د « بې مجرمه جرمونو او بې ګناه مجرمانو تړاتوبي» ګرځیدلې ، نن سمه ده چې دا ځیني کسان هر څه کولې شي ، خو کله چې د پوښتنې وخت راورسیږي ، دوی به څه کوي ؟ خو هغوی ددي لپاره دلیل او ځواب لري. بې له هغي هم واک یې خپل دې ، بیا او بیا به عفوي اعلان کړي ، او که نه په نورو چې څه وو هغه به په دوی به هم وي.

افسوس په داسې ملت چې د پوښتنې مرجع په کې نه په سترګو کیږي. خلک دغه څرګند ې او د شرمه ډکې بربنډ ې او رسوا صحنې ویني چې دا کورني او بهرني لونیان ،خپله شخصي آبرو خو یې خپل کار دی، اولسي عزت ،آبرو او حیثیت هم څه ډول په دغه بې ارزښه ناچله پیسو مفت له لاسه ورکوي او پخپله عارې له هر ډول ارزښه پاتې کیږي.

رحمن بابا وايي:

هر یو مخ کله لایق د آبروی وي

اوښکې نه درومې په مخ د هر ناولي

اولسي ارزښونو سره دا ډول غیر مسئولانه چلن هیڅکله بې ځوابه نه شي پاتې کیدلې او نه دې څوک دغسې غلطې محاسبې کوي چې ګوندې هر افغان به خپل منلي ارزښونه او اولسي دود او دستور چې په وینه کې یې اخښل شوې داسې په اسانۍ له لاسه ورکړي او یا به ددوی د مال او عزت دښمنان بې ځوابه پریږدي. ددغه عالي مورالي ارزش پیچلتیا نه یوائې د قبیلې او قوم ،بلکه د فرد فرد په کچه رنګ په رنګ اومتفاوت کمي او کیفي پوتنسیال لري او لکه پټه خزانه په





جمعي او فردي شعور کي ساتل کیږي.

دښمنان عبث فکر کوي چې دغه ارزښونه به له منځه یوسې ، همغسې چې ددغه ارزښونو پیژندنه مشکله ده ،له منځه وړنه یې له هغې هم خورا ناشوني کار ګڼل کیږي. پدې لار کې مغرضینو پیړۍ پیړۍ شومې ځیړنیزي هڅې سرت رسولي ، خو یوي یې هم مثبتې پایلې نه دي درلودلي. ځکه چې دغه

ارزښونه که په ماهیت او ساده عبارت او افادې سره د وطن پرستۍ او وطندوستۍ معنا او مفهوم لري ، خو د شکل له مخې د هغې د عمل لاري، وسایل او روشونه په مختلفو قبیلو ،قومونو، محلونو او اولسونو کې یو تر بله سره هیڅ ورته والې نه لري. د پښتون قوم چې په افغانستان کې اکثریت جوړوي ،خو لا پرځای پریږده ، حتا د وړو قومونو نوموړي ارزښونه او دود او دستور دومره غني ، رنګ په رنګ او هزار رنګ دې چې د خپلو خلکو لپاره یې تمیز مشکل دې نو د وطن د دود او دستور څخه بې خبره بیګانه پرستانو او بهرني صمٌ بکمٌ چې تر اوسه پوري لل ګل پاتي دي تر ابده به ړانده کاڼه پاتي وي. شک نه شته چې افغانانو لپاره هم په ټولو دغه رازونو پوهیدل مشکل کار دې خو په کل کې د هر اصیل افغان لپاره د ضرورت په وخت کې همدومره کفایت کوي او پدي ښه پوهیږي چې د وطنپرستۍ ، وطندوستۍ او د فداکارۍ وخت رارسیدلې او لازمې چاري باید تر سره شي. ضرورت نه شته کورني او بهرني دښمنان ، افغانان چې پیړۍ پیړۍ پداسې چارو کې ازمایل شویدي بیا او بیا وازمایي ، هغوی همیشه ټول شته په دغه دو کې بایللي او بیاهم حاضردي دغه قمار ووهي ، هغوی د خپلې ازادۍ د ساتلو په خاطر له خپل سر ،مال او اولاد څخه هم تیریدلې شي ،خو پردې واک په خپله خاوره کي نه شي منلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



.همغومره چې افغانان د خپل دښمن سره ده پخلاکیدونکي دي په همغه اندازه هغوی د ښې او ټینګې دوستۍ ،لوز ،قول اوښې معاملي جوګه اولس هم دي.د هغوی څخه ډیر ځه زده کول پکار دي. همغسي چې یی د جنګ جګړې په مقابل کې یي حوصله نه ختمیدونکې ده او دامتل چې که افغان یوه پیړۍ وروسته هم خپلانتقام اخلي ، عجله یي کړې ،د دوستانو سره ددوستۍ دپالنې ،لوز ،قول ، وعده چې حتا د دښمن سره هم کوي او یا که د پلار قاتل یي په نا غلطۍ کورته پناه راوړي ، دهغه سر ،ناموس امال دده په کور کې څوک ضرر نه شي رسولې او سلامتي یي تضمین ده. هو !افغانان د ډیري ښې معا ملي جوګه اولس دي. هڅه وکړۍ هغوی په دوستۍ کې وازمایي ، په جنګ کې د هغوی ازمایل نه دي پکار ، په جنګونو کې هغوی په کافي اندازه ازمایل شویدي او ددغه جنګونو پایلې د هیچا څخه پټه پناه خبره نه ده. که په مونږ د چا ارامي نه ده پیرزو ، نو له مونږ څخه هم څوک ارام نه شي کښیناستلې .

مونږ په دې هم پوهیږو چې مونږ نه ختمیدونکې طبیعي زیر مې لرو ،په همدې خاطر یوه ورځ مونږ څوک ارام نه پریږدي چې کار وکړو او دخپلو طبیعي زیرمو څخه ګټه واخلو .لکن دا هم له هیچا څخه پټه خبره نه ده چې بل څوک هم له هغې څخه په ګټه پورته کولو نه دې ښاد او سود من شوې.

نني شرایط حکم کوي چې په نړۍ کې سوله تأمین شي ، تاسي هم د سولې په خاطر راغلي یاست او افغانان هم سخت د سولې ارزومن دي.مونږ په جنګ کې مه ازمایي ، د سولې ازمیښت به د ټول بشریت په ګټه وي. مونږ په جنګ ولي ازمایي ؟ مه مو ازمایي په جنګ کې !





د ډیرو پوهانو څخه مې اوریدلي او اورم چې ژبه د تفاهم وسیله ده. زه هم په دې عقیده یم چې پردۍ ژبه د هرچا لپاره یوائې د تفاهم وسیله ده ،خو مورنۍ ژبه یوائې د تفاهم وسیله ګڼل نه بخښونکې ګناه ده. دا خبره خو مغرضان کوي او د مغرض خبره هیڅکله سمه نه وي.که دا سمه وې ، دوی چې پنځه کسان بل ملک ته ولاړ شي ، ددې په عوض چې دهغه اولس ژبه زده کړي هغوی خپلې ژبې زده کولو ته اړباسي. دا ډیر مشکل کار دې ،خو دوی حتماً دغه کارکوي او په دې کار کې رښتیا هم لوی اثر دې. څوک فکر کولې شي چې د یوه وروسته پاتې هیواد ژبه په دومره ستر مقاومت او ټولنیزه مادي نیرو بدلیدلې شي؟ خو که واقعیتونو ته فکر واړوو ، وینو چې نژدې یو نیم سل کاله دمخه په ځوانانو باندد ملالې په تش غږ چې:

که په میوند کې شهید نه شوې

خدایګو لا لیه بې ننګۍ ته دي ساتینه.

ځوانان هغه ، نژدي بایللي میدان ګټي چې د دوست او دښمن قوتونه پکې د مقایسې وړ نه وو او لا نن هم هره افغانه پیغله غواړي دملالۍ په څیر ددغسې کارونو جوګه او سرمشق وګرځي.

په مورنۍ ژبه کې دهرچا لپاره خپل وطني او اولسي ژوندې مستند تاریخ ، د خپلو خلکو دقهرمانیو داستانونه پداسې سوچه ژبني کلماتو او عباراتو چې د هر انسان رګ رګ تخنوي او هوسوي او په بله ژبه هیڅکله دا ډول افادې نه شي افاده کیدلې او نه پردۍ ژبې دا ډول د چا احساسات را پارولې شي.د مثال په ډول د پښتو ژبې دا ځیني اصطلاحات ،مقولې او کلمات لکه پښتونولي ،پښتو ، پښتون او دیته ورته د همدي یوې کلمې صرفې او نحوې بدلون لکه پښتونولې د پښتنو

(c) ketabton.com: The Digital Library



داولسي دود ،دستور ،تعهداتو ، تړو ، جرګو ، مرکو او په زرګونو دغه ډول نورو ارزښونو افاده او تفسیر ، ایا ممکنه ده په بله ژبه وشي ؟

یا د پښتو کلمه د ژبې د نوم په حیث نه بلکه د یوه ټولنیز ارزښ په حیث. لکه: ښه پښتو یې ورسره وکړه. هغه بې پښتو سړی دی ( یعنې چې هیڅ سړی نه دی ). ما یو ځل په پښتو قسم یاد کړی ، بله نه شم منلی. پښتو دې وشرموله ، زه دې ژوندی نه پریږدم ، ماته یې بې پښتو ویلي دي. یا د پښتون کلمه د قوم په حیث نه بلکه د اجتماعي ارزښ په حیث : زه به پښتون نه یم که را باندې ویې منې. ته هیڅ پښتون نه یې او داسې ډیر نور ژبني ارزښتونه او اصالتونه چې یوائې په مورنۍ ژبه همغسې چې لازمه ده افاده او تفسیر کیدلې شي په بله ژبه هیڅ ممکنه نه ده همغسې افاده شي .

د ۱۹۶۹ م کال د سرطان په میاشت کې ، مونږ له تحصیل څخه راستانه شوي وو ، مرحوم انجنیر عبدالرؤف چې اصلاً د شمالي دقره باغ او دکابل او سیدونکې وو ، د نورو دوستانو سره چې ټول منور خلک وو ، زه هم چې سره همصنفان وؤ ، په همدغه ورځو کې میلمه کړي وم. پرته له رؤف خان څخه مې بل څوک نه پیژنده ، نو ډیرې خبرې مې هم نه کولي . نپوهیږ م څه ډول د ژبو په باره کې بحث شروع شو . وروسته له یو څه بحث څخه ،یوه تن وړاندیز وکړ ، ښه به داوي افغانان فرانسوي چې خوږه ژبه ده او نورو څیړنو ته پکې ضرورت هم نه شته ، په خپل ملک کې رواج کړي. بل تن د انګلیسي ژبې وړاندیز وکړ او دیته نور مختلف بحثونه وشول. ما چې دا بحثونه په غور سره تعقیبول او پوهیدم چې زما نظر هم کیدې شي وپوښتي ،په





همدغه سوچ کې هغه وخت ماته دغه پورتنې فکر په ذهن کې راوګرځیده او هغوی مې له خپل پورتني ناسم فکر څخه وګرځول او پدې مې قانع کړل چې نه یوائې ژبه بلکه ټول مختلف وطني ،ملي ،اولسي ارزښونه په خپل خپل ځای ځانګړې ارزښ لري او هیڅ قوم ،ملت او اولس ، که لوی دې او که وړ ، که غني دې او که غریب ، که پر مخ تللې دې او که وروسته پاتې دې ، حق نه لري د نورو اولسونو ملې وطني ارزښونه بې ارزښه او حقه حقوق یې پایمال کړي . پکار دادي دغه ارزښونه ددوامداره ارګانیک دیفرنسییشن (تجزیي ،تفریق )او انتګرییشن (ترکیب ،تجمع ) په پروسه کې د ټولو لپاره د منلو وړ ارزښونو باندې واوړي. نن پرون هم په افغانستان کې د ژبو د مسئلې ، کلتور ، ملي ترمنولوژۍ ، رسوم ،عنعناتو ، اخلاق او ډیرو نورو وطني،اولسي ارزښونو او مسایلو سره ناسم ،سطحي او حتا ناوړه کړه وړه جریان لري ،دغه ټول ارزښونه دیوه ملت او اولسونو د ارزښي خزانې هغه تر هرڅه لوړه او نایابه ارزشي پانګه جوړوي چې یوائې پوه ،اهل او په وطن مین کسان ایجادوي ،پالي او په ایمان داری د هغې ساتنه کوي ،خو ناپوه ،نا اهله ، بېګانه پرسته او ټیټ انسانان چې اصلاً ددغه ډول ارزښونو له ارزش څخه بې خبره دي او همغسې چې هره متاع او حتا شخصي حیثیت او آبرو په هر بازار کې په هرچا پلوري ، دغه عالي ارزشونه هم د هیڅ په مقابل کې مفت له لاسه ورکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# افغانان ولې خپل ملي ارزښونه او مسئولیتونه نه پیژني؟

## نړیوال د افغان د ښمن، افغان د ځان د ښمن...؟

دا کومه نوې او پټه خبره نه ده، له کومې ورځې څخه چې تزاري روسیي ځانونه د افغانستان شمالي پولو ته ورسول او له کومې ورځې څخه چې د انګریزي امپریالیزم پښه د هند په لویه وچه کې ټینګه شوې، دافغانستان د پوره اشغال او یا لا اقل د ویش په سر د مختلفو آبر قدرتونو تر منځ نه پخلا کیدونکې مبارزه پیل، او د تل لپاره دغه مسألې د «لویي ستراتیژۍ» او «لویي لوبې» حیثیت تر لاسه کړې او افغانستان له همغې ورځې څخه تر دا نن ورځې پورې په نړیوال، یا لا اقل منطقوي جنګي تیاتر بدل شوېدې. اوږدې خبروې په تاریخي اسنادو کې پرتې دي او نوې لوبه چې د ۱۹۷۸م کال د دسمبر د ۲۷ نیټې، کله چې پخواني شوروي اتحاد د نیک «ګاوندیتوب»، ۶۲ کلنې «بې غرضانه دوستۍ»، سوسیالیستي انترناسیونالیزم د «تعهداتو» او د زرونو کیلو متره شریکې پولې په درلودلو سره په بې وزلې هیواد افغانستان بې شرمانه او خاینانه یرغل وکړ او نړیوال هم په ډېره جفا سره د دغه غریب او زخمي اولس په «ملاتړ» کې د «بې غرزانه»، «بشر دوستانه» «مرستو» په خاطر د





شوروي اتحاد په مقابل کې راپاڅیدل او نړیوال عظیم پرابلمونه او تضادونه یې د افغانانو د سرنوشت پورې غوټه او په همدغه کوچني جنګي تیاتر کې چې هیڅ ډول د دفاع وړتیا او قابلیت یې نه درلود، د دغه ګلوبال او سوپر ګلوبال نړیوالو پرابلمونو حل ته ملا وتړله، پیل شوه. د ټولې نړۍ د زړو وسلو ټول ګودامونه له هري خوا د بې وزلې افغان اولس په حساب او ذمه په یوه او بل نامه پېر ودلو او پلورلو او د افغانستان په سمه او غر، مکتب، مسجد، ښارونو، کلیو او بانډو کور کورانه او بې رحمانه، د امریکې او اروپا څخه ډېر ډېر لیري د ږلۍ په څیر و اوریدلي او دزړو باروتو او زنګ وهلو وسلو دوړو او دودونو که افغانان ډېر وزورول، د نړیوالو نازولو تر غوږو یې اډو غږ هم ونه رسیده. د ذروي وسلو ټولې تفالې د «دم غنیمت» له مخې په ډېره عجله هر چاد افغانستان په سمه او غر او حتا کلیو او بانډو کې خالي کړې او عذاب به یې نه یواځې اوسني نسلونه بلکه راتلونکي نسلونه هم ګالي.

د افغانانو په برکت پخواني شوروي اتحاد، کمونیزم، نړیوالو سوسیالیستي هیوادونو اتحاد، سوسیالیستي او کارګري انترناسیونالیزم او دملي ازادي بخښونکو جنبشونو اتحاد په ړنګیدو او د نړیوال سرمایداري مافیایي تور امپریالیزم په یکه تازۍ او سیاسي او نظامي مونو پولیزم په ټینګیدو او د سره امپریالیزم سره د ساړه جنګ په پوره سرېدو ټولو امپریالیستي قوتونو د هم غږۍ او جوړ جاړي خپله کړې او په اصطلاح د دریمې نړۍ د متناسب ویش په خاطر یې د تروریزم، القایدې او طالبانیزم پر ضد د مبارزې تر شعار لاندې د مذبذب تعاون، تباني او ناروا مساعدتونو سره سوپر

ګلوبال ابعاد ،امکانات او مناسبات پیدا کړي ،په نړیوال جهنمي شیطاني طاقت بدل شوي ، ټول عالم بشریت یې ګروګان نیولې او په دغه ټولو امکاناتو سره یو ځل بیا غواړي د افغانستان له وضع الجیش څخه خپل ناروا سوق الجیشي حرکتونه او وضع الجیشونه تنظیم ،رهبري او په دغه هر اړخیزه ستراتیژیکه منطقه کې ټول نړیوال د خپلې قمچینې لاندې د مافیایي ګټو د پایداره تأمین په خاطر دخپل حاکمیت لاندې محکوم او د استفادې وړ وساتي.

هو !دا همغه زړه سراتیژي او زړه «لویه لوبه» ده چې په نوي امکاناتو او نوي ګلوبال حرص ، نوې دینامیزم او نوې ابعادو سره د افغانستان په وضع الجیش کې د ټولې نړۍ لپاره پیل شوې او دلته یواځې یو نړیوال

سراسري نظام ، نړیوال حاکمیت ، نړیواله اداره او نړیوال مافیایي اصول او قانون چلیږي ( مزې چړچې نړیوال کوي او غم و درد افغانان ګالي )او ټول ایزمونه د دغه قانون د حاکمیت په ساحه کې یواځې یو مفهوم افاده کوي یعنې چې مافیایي ګټې باید وساتي. دا یو نړیوال مشکل دي او نړیوال ملاتړ ته ضرورت لري. په دې لوبو کې ځانګړي دولتي جوړښتونه ،ټولنیز ښې او چپ نظامونه یواځې هغه وخت موًثر واقع کیدل شي چې نړیوال ملاتړ حاصل او په نړیواله جبهه کې د نړیوال قوت په حیث د دغه تباهیو مخه ونیولي شي. مونږ شاهد یو ، سره د دې چې افغانانو د تروریزم ، بنیاد ګرایی ، طالبانیزم او نورو ماجراجویي اعمالو سره هیڅ اړیکې نه درلودل، خو چې پلان د غه ډول جوړ وؤ ، دا هرڅه ورته په نورو ملکونو او د نورو په ذهنیتونو کې برابر او بالستیک راکټونه د کلنټن د



"لوی خدای، لوی علم، لوی جهان"
سیاسي فلسفه

دموکرات دولت لخوا د افغانستان په خورا غریبو سیمو او هغه هم د افغاني او نړیوالې مافیا د پلان له مخې وویشتل شول او ډیر بې ګناه انسانان او کلي چې همدغه افغانانو ور په ګوته کول پکې تباه شول.مونږ ولیدل چې په افغانستان او عراق باندې د بوش د حکومت د جنګي ډلې د حملې د تصمیم په وخت کې د امریکې، اروپا او ټولې نړۍ بشردوستو ، ترقي غوښتونکو او واقعاً دموکراتو خلکو ډیرې هلې ځلې وکړې چې د دغه یرغل مخه ونیسې ،حتا ځینې کسانو د مسئولو اشخاصو په حیث خود کشي وکړه. خو چا یې مخه ونه نیولې شوله.

ولې نړیوال دومره بې وسه دي ؟له ډیر پخوا څخه د امریکې ، اسرائیلو او ټولې نړۍ سوله خوښوونکي خلک غواړي چې په منځنۍ ختیځ کې د فلسطین د خلکو حقه حقوق تحقق پیدا کړي .فلسطیني او اسرائیلي اولسونه هم حق لري په سوله کې ژوند وکړي ،یأثر عرفات او اسحق رابین او نور ډیر فلسطینیان او اسرائیلیان په دې لار کې قرباني شول ،هغوی وایي مونږ سوله غواړو ، نور ورته وایي ، نه تاسې یې نه غواړۍ.

په امریکې کې داوباما په وجود کې دموکراتانو د واک په ترلاسه کولو سره ،نه د اوباما «بدلون» کوم بنیادي بدلون را منځته کړ او نه به د اوباما د نوې تش په نامه ستراتیژۍ له مخې د ۳۰۰۰۰ خاصو او یا د نورو نوو پلانونو او ستراتیژیو له مخې د نورو قوتونو لیږل او د قوماندانانو ادلون بدلون کومه معجزه وکولې شي ،یواځې به شکلي تاکتیکي بڼه ولري او یواځې به د بهرني نظامیانو لپاره د تنفس موقتي فرصت برابر کړي او یا به د بار ثقلت او مرګ ژوبله د بهرني سرتیرو په ځای په ملکې خلکو او افغاني سرتیرو ورزیاته شي ،او لکه چې ما د مخه هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیکلي وو د بارک اوباما ستراتیژي به هم د پخوا په څیر زړه په زړه پاتې وي.

ددې میاشتې (جولای ۲۰۱۰) په لومړیو ورځو کې د آیساف او ناټو د امریکایي نوې قوماندان دیوید پتروس تګ افغانستان ته، سره ددې چې د پخواني قوماندان مک کریستل په پرتله به د زیات صلاحیت او زیاتې تجربې څښتن وي، ځکه که مک کریستل یوازې په یوګوسلاویا کې د کار تجربه درلوده، نوموړي په شلو مختلفو هیوادونو کې د کار تجربه لري، بیا هم نه به پخوانۍ زړه ستراتیژي بدله کړي شي او نه به رغنده لاسته راوړنې ولري. ځکه چې ذهني او عیني شرایط او موجوده وضعه همداسې حکم کوي. پدې معنا چې مک کریستل که د بالکان او دیوید پتریوس د زیاتو هیوادونو او شرایطو تجربې لري، خو د افغانستان ځانګړي شرایط د تل لپاره خاص او ځانګړي وو. د تاریخ په اوږدو کې هرڅوک پدې تیروتې دي. سکندر ټوله اروپا او اسیا ونیوله، هغه نه شول کولې د افغانستان شرایط بل ډول قیاس او وانګیري. هغه وخت په رښتیا هم دا کار مشکل وو، خو کله چې دا کار په وار وار تکرار شو، بیا هم مونږ ددې شاهد یو چې روسانو هڅه وکړه د شرقي اروپا تجارب په افغانستان کې پلي او ګټه ترې پورته کړي او همدایي د ناکامۍ عمده عامل وګرځیده. نن ټول نړیوال قوتونه ځانونو لپاره سپکاوې ګڼي چې په افغانستان کې افغاني خاص او ځانګړي شرایط او بالخصوص د افغانانو خاصې غوښتنې په پام کې ونیسي، خو دا یو حقیقت دې او بل عمده مشکل پدې کې دې چې ټولو دغه قوتونو ته ټول اهداف د نظامي دندې او هدف په حیث ورکړل شوي او نظامي اهداف





یوازې د زور او تخریب له لارې ترلاسه کیدلي شي، هغوی د سیاست، سولې، روغې جوړې، بیا ابادونې په لارو چارو نه پوهیږي او په حقیقت کې تاکتیک او ستراتیژي همدغه ډول ده، نو ځکه خو هغوی بېباکانه او په پټو سترګو عمل کوي. خو په افغانستان کې عامیانه مشهور متل دې چې: «په زور کلي نه کیږي»، ددې مسئلې ژور څیړل پکار دي.

مونږ دا نه شو منلې چې بین لمللې قوتونه دې د نظامې او شخصي موخو په خاطر راغلي اوسي، ځکه اصلاً دغه ډول مسایل مطرح نه وو او حتا د شمالي ټلوالې او د کارمل د ډلې سره د روسانو په غلچکې او سازشکارانه وتلو سره چې فکر کیده، یوه ورځ به هم، موجوده دولت ټینګ پاتې نه شې، د ټولو د سیسو سره سره، بیا هم څه حال چې په ټول جهان کې وو په افغانستان کې هم همغسې حال وو. د بلې خوا بین المللي قوتونو رسمي منل شوي تعهدات، رسالتونه او حا ګمیتونه درلودل چې سازشکارانه او حتا خاینانه یې عملي نه کړل او افغانان یې د خپلو باروتو او وسلو په ګودامونو کې په سیاسي خلاء او انزوا کې لاس تړلي خپلو تاریک ذهنه ګماشتګانو ته پریښودل. خو ددې ټولو خبرو سره سره کله چې بیا هم افغانان او افغانستان ژوندي پاتې شول نو نړیوال وروسته له ډیرو پښیمانیو، اعترافاتو، کفارو داعادې، قسمونو او وعدو سره افغانستان ته د نظام، دولت، ادارو، قانون، امنیت، سولې، بیا ابادونې او نورو ټولنیزو سازمانونو،... او دغه ډول بشردوستانه موخو د تر سره کولو په خاطر افغانستان ته راغلي دي. خو له بده مرغه نه یوازې، یو له دغه اهدافو ترلاسه شوي نه دي بلکې وضعه له پخوا ډیره بتره شوي او له یوې ورځې څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



بلې ته په کثیرالمجهوله لاینحله معادله او معما بدله او لا بدلیږي. ځکه چې، په حقیقت کې بهرني قوتونه په افغانستان کې تر هرڅه دمخه خپل نظامي حضور او د خپلو افغاني مختلفو ډلو ټپلو چې په مختلفو نومونو همدغه بهرنیانو رامنځته کړي او پرته د شخصي ګټو ، ملې ګټې هیڅکله په پام کې نه نیسي ،خپله زړه ستراتیژي او نوي سیاسې او اقتصادې اهداف تعقیبول غواړي ،اودا کار په افغانستان کې د نظام ، د ولت ،اداري ،قانون ، امنیت ،سولې ،بیا ابادونې او نورو ټولنیزو سازمانونو ،... او دغه ډول بشردوستانه موخو د تر سره کولو سره کاملاً په تضاد کې دي او هیڅ سمون ورسره نلري . یعنې دغه کونده چې په پام کې وه افغان اولس ته په نکاح شي یو ځل بیا یې خپل ځانته په نکاح کول غواړي.همدا سبب دي چې بهرنیان او د هغوی پورې تړلي افغانان همغسي لکه چې د شاشجاع په دوره کې انګریانو ، دکارمل دډلې په دوره کې روسانو او نن دحامد کرزي په دوره کې نړیوال ،یواځې ددي لپاره توجیهات او دلایل برابروي چې که دا بهرنیان نه اوسي ، افغانان به یوبل سره وخوري (لکه کله چې دوه مرغۍ په جنګ او پیشو ترپ کړي وو ، نیولې او خوړلې یې وې او له ځانه سره یې ویلي وو ، چې که زه نه وي راغلې ،دوی خوبه سره وژلي وي ).په حقیقت کې دغه نظام ، دغه انتخابات ، دغه قوانین او دهغوی داخلي او خارجي عاملین او مجریان ټول نقلي او غولوونکي او د افغان اولس او په افغانستان کې د سولې او دافغانانو د خیر ښېګڼې د ټولو پروګرامونو پرضد او نه پخلا کیدونکي دښمنان دي . نظام ،اداره ، قانون ، انتخابات او نور موئسسات او انستیتوتونه هغه وخت ارزش لري چې د خپل



"لوی خدای، لوی علم، لوی جهان" سیاسي فلسفه

صلاحیت او مسئولیت په تناسب د خپل هیواد او خلکو خدمتګار اوسي ، خو کله چې د دولت ، حکومت ، ادارو ، قانون ، حقوق، موئسساتو او نورو متصدیان نه یواځې اجنبیانو ته د خپلې جاسوسۍ څخه منکر نه دي ، بلکه د هر ستیژ پر سر معترف او په هر سنګر کې د خپلو متولیانو د ګټو څخه دفاع کوي. زمونږ سیاسي مبصرین هم د پنځو ټنګو حق الزحمې له کبله به هم د کوتک په زور د خپل تبلیغاتي ستیژ څخه ښکته نه کړي او سبا او بېګاه خپلو ناسمو تبلیغاتو ته دوام ورکوي. مونږ به بیا هم دا خبرې منلې وي که دوی د پښتو او لاسونو ټولې ګوتې په خپله خوله نه منډلي او د هغوی ټول پلانونه سر تر پایه ډیر شوم نه وې ، او اوس چې په افغانستان کې د زرګونو بیلیونونو ډالرو ثروتونو زیرمې همدوی اعلان کړي او یواځي یې خپل نظامي ، سیاسي او اقتصادي اهداف په پام کې نه لرلې او حتا یوه کمه فیصدي یې زمونږ مشکلات هم په نظر کې لرلې هم به دوی خوښ وې او هم مونږ . خو هغوی وایی «م زور ما ټوله زما » نو ځکه ارزشونه تغیر کوي ،حقایق او واقعیتونه تغیر کوي اود هغې مطابق باید نظام ،تشکیل ، قانون ،... او ورسره سم باید اشخاص ،افراد او نظامونه او سازمانونه هم تغیر وکړي تر څو افغانان پخپله د خپلې غمیزي د حل جوګه شي. په غیر صورت کې دغه ټولې ډرامې ، جرګې ، کنفرانسونه ، او بېځایه مصارف پرته له دې چې غیر مستحقو او نامشروع دولتونو ، حکومتونو ، ادارو ،انتخاباتو ، اشخاصو ،افرادو او نورو حضور او شتون ته قانوني او حقوقي مشروعیت ورکړي ، بله هیڅ ګټه نلري ، اوکومه ده هغه قانوني ،حقوقي باصلاحیته مرجع چې ددغه ډول بې مفهومه او بې

(c) ketabton.com: The Digital Library



مضمونه تش په نامه جرګو او کنفرانسونو عبث مصارفو مسئولیت په غاړه اخلي او کومې با صلاحیته مرجع ته به ۱۵ بلیونه ډالر په کوم مسئولیت او کوم اعتبار د څه لپاره سپارل کیږي ؟

**مونږ ولې دومره بې ننګه او بیوسه شوي یو چې پردۍ ګټې په خپلو ګټو د بره ګڼو او پردي زمونږ په ملک کې د دغه ډول ناروا اعمالو د پلې کولو جرأت کوي ؟**





# مونږ خپل پور ، او دوی نور غواړي ؟

## «د امریکایي دایمي اډو په باره کې د نظر ټکي»

جان کنیدي ، د امریکې هوښیار او دموکرات جمهور رئیس په خپل وخت کې ویلې وو ، که کارل مارکس نور هیڅ نه وې لیکلي او همدا یو شعار چې «د نړۍ کارګرانو سره یو شۍ»یې لیکلې وې ،کفایت یې کاوه چې سرمایداري نظام ړنګ شي .حتا د کنیدي غوندې یو شخص د شوروي اتحاد ،کمونیزم ، نړیوال سوسیالیستي نظام ،نړیوال کارګري او ملي ازادي بخښونکي غورځنګونه خولا په ځای پرېږده ،ددغه کوچنۍ جملې څخه دومره په ویره او ډار کې وو . امریکې ددې خبرې خیال او تصور هم نه شو کولې هغه نظام چې دژوند په مختلفو ساحو کې یې ورځ په ورځ نوي بریالیتوبونه تر لاسه کول ، یوه ورځ ، او هغه هم دافغان با شهامته اولس د فداکارۍ له برکته داسې خوار او ذلیل ووینې ؛ هغوۍ هیڅکله ددې خبرې تصور هم نه شو کولې چې کله به هم ګوندې سړه جګړه په داسې اسانۍ وګټلې شي او هر کال یې د کمونیزم پر ضد او د دریم نړیوال جنګ د تیاري په په لار کې په بلیو نونو ډالر مصرفول ؛هغوۍ تل دا خوبونه لیدل ، نن دې او که سبا کارګري غورځنګ به د دوۍ لاس او پښې تړي او د تل لپاره د تاریخ کندې ته سپاري ؛هیڅ قوم او اولس ، چې دوۍ یې په عزت ، شرف ،ناموس ،مال

(c) ketabton.com: The Digital Library



،دولت او ټولو نورو ارزښتونو باندې چور ،چپاول ، لوټماري او غارت جوړ کړې وو ، کله هم له یاده نه شو ایستلې او هر یوه دخپل فرصت لارې څارلې او دوی به یې په خوب کې بوګنول ؛ دا ددوی په خیال کې هم نه شوه راتلای چې دوی به کله هم یکه تاز دمیدان او دفلک څرخ به د دوی په محور څرخي او دوی به یو ځل بیا پخوانی نادودې دنړی په اولسونو دسوپر او ګلوبال ګلوبالیزم نظام په کچه له سره پیل کوي ؛... څکه امپریالیزم په هر رنګ او لباس کې چې وو په تاریخي لحاظ مردوده او تاریخ ځپلې پدیده او باید خپل ځای یې ټولنیز عادل منصف نظام ته پریښې وای.

هو !د دوی، ټول دغه تشویشونه او ناشوني خیالات ،ارزوګانې او تصورات د افغان غیور اولس په ځاني ،مالي او د ټول هست وبود په قربانولو سره شوني او ممکن وګرځېدل.

کله چې پخواني شوروي اتحاد د افغانستان په حریم خاینانه یرغل وکړ ،په ابتداکې امریکې ،حتا د معمولي دیپلوماتیکي اعتراض څخه هم ډډه وکړه او په شف شف سره یې هڅه کوله حقایق ، نه پوهیږم چې پټ وساتي او که افاده کړي. خو کله چې دکابل ښاریان د حوت په دریمه بربنډ ټټرونه د شوروي ټانکونو دمرمیو ته مخامخ ودرېدل ،کله چې دهیواد په ګوټ ګوټ کې دشوروي عسکرو په داغ سنګرونو ،افغانان د پتنګانو په څیر وروختل ، کله چې د شوروي عسکرو د جنازو قطارونو شوروي پولي یو په بل پسې قطع کولې ، کله چې شوروي نظام په خپل ژوند کې د لومړي ځل لپاره دافغانانو له خوا له ماتې سره مخامخ شول ،... او دا هر څه چې امریکایانو د شورویانو له ویرې د تورو عینکو تر شا څارل ، نو هله له سوړو څخه راووتل





او بیا هم د همدغه شورویانو له ویرې یې د غل غدو په څیر پټ او پنا غلچکی تش په نامه مرستې دبل چا تر شا پیل کړې ، او هغه وخت چې سنګرونه لکه بلا تشبیه ددوزخ دکانو غونډې سره شول ،افغانان د دوی لپاره سرمشق د مباهاتو جوړ شول او فخر یې پرې کاوه. خو کله چې شورویان پر شا او څوړ غوړونه او مات ګوډ په خپله پوله تیرېدل ،کمونیزم مات شو ،نړیوال سوسیالیستي نظام رنګ شو ،نړیوال کارګري او ملي ازادي بخښونکي غورځنګونه بې سرنوشته او تالا تر غې پاتې شول ،شرقي اروپایي ، منځنۍ اسیایي او شمالي جمهوریتونه د شوروي له اسارت څخه ازاد او د وارسا تړون رنګ شو . نو هغه وخت دوی ډاده زړونه په ډیره عجله د کور په لور شول، او نور یې نه غوښتل چې په اصطلاح د افغانستان په کورنیو چارو کې لاس وهنه وکړي ! ددې په عوض چې په دې وخت کې د ناتو تړون هم رنګ شوې او خپلې امپریالیستي ستراتیژۍ ته یې خیرخواهانه د بشري خیر ښېګڼو په لور تغیر ورکړي وې او له خپل خدای څخه په شکر ګذارۍ سره چې دافغانانو له برکته په ټولو ارمانونو برلاسي شول. د خدایي عدالت او انصاف په مثل انساني عدل او انصاف دیوه عادل حاکم په حیث تبلیغ ،ترویج او په ټوله نړۍ کې یې د ټول بشریت لپاره سراسري عام قانون وګرځوي. برخلاف دوی خپله زړه ستراتیژۍ له دفاعي موقف څخه په تعرضي واړوله او په تعرضي سوق الجیشونو کې یې ځای په ځای ،ناتو یې لمن یې په هر لوري حتاالا

مکان نوره هم وغزوله او خپلو نوي اوزړو ناتو یې انډیوالانو ته یې له ځیلمه په کمپیوټري ذروي وسلو تر غاښونو پورې د سنبالیدو امرونه صادرکړل. د نیویارک

(c) ketabton.com: The Digital Library



د تجارتي مرکز د حادثې په برابرولو سره یې د تروریزم او القاعدې پر ضد د نړۍ د تباهۍ نوې تعرضي ستراتیژي غوره او یو ځل بیا په اصطلاح د افغانانو په غم غمجن شول ، او که حق وویل شي د افغانستان بالا حصار او د پامیر لوړو څوکو ته رسېدل چې یې پخواني ارمان او له بلې خوا دا ډیره ښه موقع وه چې د خپلو ټولو کړو ګناهونو په تهمت او ګناه افغانان او په خاصه توګه پښتانه ونیسي ،ځکه چې د پښتنو سره په دغه منطقه کې انګریزانو زړې دښمنۍ لرلې او یو ائینې سرسخت رقیب او غلیم یې ګڼل کیده .خو په حقیقت کې د دوی غیر انساني او ناروا کړ کیلې، کرکېو او مارکونډیو ، په خپلو ملکونو کې تېغ وهلې وو او په خپله خاوره کې یې ځمکه د پښو لاندې سره تبۍ جوړه شوې وه ، خپلو خلکو یې د کړو ګناهونو په ګناه دوی محاکمه کول غوښتل او دوی له خپلو خلکو څخه په تیښته په غلچکي ډول د ۲۰۰۱ م کال د اکتوبر د میاشتې په ۷ نیټه ،چې همدا ګړۍ د پاکستان په منځګړیتوب د طالبانو سره ،چې د همدوی په کومک یې ۹۵ ٪ خاوره په لاس کې وه ،په ژوره سیاله معامله کې ښکیل وو او مقابل لوري چې ځان لپاره یې د تاجکستان په کولاب کې خیالي پاچاهي جوړه کړې وه په پټ جوړ جاړي ،معامله او تباني سره په توره شپه د افغانستان د مرکزي ،شرقي ،جنوب شرقي ،جنوبي او جنوب غربي سیمو په مشهورو او د خلکو د ګڼې ګوڼې څخه ډکو ښارونو لکه کابل ،جلال اباد ،قندهار ، پکتیا او نورو شاوخوا ، اکثره پښتون میشتو سیمو باندې د کروز راکټونو او 52 B څخه د ۲۰۰۰ کیلو ګرامه بمونو بمباري وشوه ، ډیرې سیمې ورانې ویجاړې او ډیر بې ګناه انسانان ،ښځې ،کوچنیان ،زاړه او ځوانان په کې



"لوی خدای، لوی علم، لوی جهان" سیاسي فلسفه

مړه شول. برهان الدین رباني ،عبد الله عبد الله ،محمد قسیم فهیم او د شمالي ټلوالې نورو مسئولینو چې ځانونه یې له پورته څخه تر ښکته پورې بالاستحقاق د ټول ملک مسئول متصدیان هم ګڼل ، د ساتالایت تلفونونو او ټولو ډلئیزو رسنیو له لارې یې یو په بل پسې په نوبت او بې نوبته ځانونه معرفي کول او د خپلو متولیانو څخه یې په مهیلانه عذر و زارۍ سره غوښتل چې د دغه سیمې ټول ښارونه ، کلي او بانډې له یوې مخې داسې بمبارد کړي چې انسان خو لا څه چې حیوان هم په کې ژوندي پاتې نه شي او دغه« بېچاره ګان» د تل لپاره د هغوی له « ستم» څخه وژغورل شي. حال دا چې په تیرو وختونو کې د قاطع اکثریت په حیث پښتنو تل د خپل اکثریت له تناسب څخه پورته مسئولیتونه په خپله غاړه اخیستي ، خو د امتیازاتو او د نعماتو د تقسیم په وخت کې د ډېرې شکسته نفسۍ په موقف کې پاتې شویدي. په تیرو کابینو کې که قومي جوړښت او تناسب ته نظر واچول شي ، سره ددې چې پښتانه په مجموع کې د نفوسو قاطع اکثری جوړوي ،هیڅکله پښتنو وزیرانو په کابینه کې اکثریت نه جوړ اوه.

د اکتوبر د میاشتې په ۱۲ نیټه امریکایي الوتکو په کابل ،قندهار ،جلال اباد ،پکتیا ،هرات او نورو مناطقو باندې راکټي او هوایي حملې وکړې. د اکتوبر په ۲۰ نیټه امریکایانو او انګریزانو د طالبانو د جبهې په لمړیو خطونو هوایي بریدونه وکړل او ډیر تاوانونه یې واړول . د اکتوبر په ۲۲ نیټه ولدیمیر پوتین ،امام علي رحمانوف او برهان الدین رباني د تاجیکستان په پلازمېنه ، دوشنبه کې ملاقات وکړ. پوتین وویل ،چې په افغانستان کې راتلونکې حکومت باید د رباني په

(c) ketabton.com: The Digital Library



شاوخوا جوړ شي (او دا ځکه چې د ۱۹۹۱م کال د نوومبر په ۱۱ نیټه، کله چې رباني د مجاهدینو په مشرۍ مسکو ته تللي وو، ددې په عوض چې د مجاهدینو او افغان اولس د حقه حقوقو نماینده ګي او ملاتړ وکړي، برخلاف د روسانو د ناروا یرغل په دفاع کې درېدلي وو) دا عجیبه خبره ده، کله چې امریکا او روسیه سره نه پخلاکیدونکي دښمنان هم وو د رباني او دغه ډول کسانو څخه یې ل ملا تړ کاوه او نن هم ددغه تیپ کسانو څخه کلک ملاتړ او دفاع کوي. د ایران دولت دا خبره تائید کړې وه او پرویز مشرف د پاکستان نظامي مشر زیاته کړې وه چې میانه روه طالبان دې هم په کې شریک کړل شي. د امریکایي قواوو په دغه عملیاتو کې په زرګونو بې ګناه انسانان چې قاطع اکثریت یې پښتانه وو، مړه او د همدغه قواوو او امریکایي نماینده ګانو په حضور کې، هغه طالبان چې مزار شریف ته د سولې د خبرو لپاره تللي وو او هغه کسان چې وروسته یې ځانونه شمالي ټلوالې ته په کندوز کې ته تسلیم کړي وو، د ملا محمد عمر په قول ۸۰۰۰ کسان یې د شمالي ټلوالې له خوا ووژل شول. دا مریکا عملیات دومره سریع او برق آسا وو، د طالبانو لښکرو چې نژدې ټول افغانستان یې نیولې وو او هیچا یې د شکست تصور هم نه شو کولی، په کمترین فرصت کې تري تم او یا د افغانستان له سرحدونو څخه ووتل.

امریکایان له همغه لومړۍ ورځې څخه، افغانستان ته د خپل دایمي حضور په خاطر راغلي وو، له همغه لومړۍ ورځې څخه د دایمي اډو د ځایونو د انتخاب په لټه کې وو او له همغه ورځې څخه یې ددې کار لپاره لازم او کافي شرایط برابر کړي دي او نن چې یې نیغ په نیغه په یوجانبه ډول د دایمي اډو غوښتنه کوله،





یوائې دا اصیلو افغانانو د قاطع دریز او عکس العملونو په وجه یې، د ټال چال په توګه بل ضرب الاجل ته دا ناوړه پېښه ځنډولې ده.

د پښتو متل دې چې: «خپښي په خوښۍ او سودا په رضا»، ما ځکه دا پېښه ناوړه وبلله چې امریکایان څه په ښه نیت زمونږ په کورنه دي راننوتي او نه یې په دې تېرو لسو کلونو کې څه د منلو وړ کومه چاره هم سرته نه ده رسولې، او نه یې حتا د نمونې په توګه یوه ماته ګوډه سمه کړې او نه یې په کلي کور کې چا ته آبرو، پت، عزت او حتا مال په امن او بې غرضه پرېښې دي. امریکا له افغانانو او بلکه له هیچا سره په خوښۍ د خپښۍ کومه سابقه نه لري او په خاصه توګه مونږ خو یې هیڅکله نه خپښان وو او نه به شو، او دا ځکه چې امریکي د افغانانو د دوستۍ سره هېڅ وخت علاقه نه ده ساتلې او نه افغانستان او امریکا پرته له سیاسي ملحوظاتو دراشه درشې او د مشترکې خواخوږۍ له مخې د کومې سودا سابقه لري. د امریکي قدیمي دوست جنرال حمید ګل لیکي «**د امریکې په قاموس کې د دایمي دوستۍ په نامه څه نه شته. د امریکي سیاست په خپل مصلحت ولاړ دی**». امریکا او نور نړیوال «ترقي پسنده» او «متمدنه» هیوادونه مدعي دي چې ګوندې افغانستان ته د یوه دموکراتیک نظام د جوړولو، دایمي سولې او امنیت د تأمین، د دولتي او حکومتي مؤسسو او ارګانونو د تأسیسولو، بیا ابادونې، دموکراسۍ، د بشر د حقوقو د رواجولو او ډیرو نورو بشر دوستانه او خیرخواهانه کارونو د سرته رسولو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



خاطر راغلي دي ،خو له نيکه يا بده مرغه د دوی واقعي نيتونه او پټې خبرې مخکې له مخکې هغه وخت بربنډې شوې ، کله چې د کروز راکټونو او B ـ۵۲ الوتکو قطارونه چې له دوی څخه را دمخه شوي وو او دافغانستان د پولې په پرېکولو سره يې په پټو سترګو سمه اوغر يو شان رحمانه بمباری کاوه. دوی لکه دبې عمله ملايانو ، وايي يو څه او کوي بل څه . دوی خپل دغه بېګانه پرسته افغان ګوډاګيان په هر بد نوم چې د بې همتی ،د بشر د حقوقو ناقض ، جنګي جاني ، وطنفروشی ،فساد ،قاچاقبر ،رشوت ،او بل هر ټيټ نوم چې ددغه ډول القابو په قاموس کې پيدا کيږي نوموي ، خو په افغانستان کې ټولې چارې ، پرته له دوی په بل چا سرته هم نه رسوي . دوی که هره ګناه او بېشرمه کار هم کوي ، اول خو يې څوک له خپل مقام څخه نه شي ليرې کولې او که بيا هم د کوم کوچني خطر احتمال ورته پيدا کيږي ، خارجي متولي نيغ په نيغه ميدان ته راووځي او وايي ،معاش زه ورکوم ، زما همدا سې کس په کار دې او که بيا هم خبره تر پارلمانه ورسيده ، نو کرزي صاحب خو کم سر پرست وزيران او مشاورين نه دي مقرر کړي ، د ډاکټر رنګين داد فر سپانتا او يا د ښارجوړولو پخواني وزير پښتون صاحب چې وزارت يې له منځه ولاړ ،دې اوس هم وزير او بلکه نن د ټول افغانستان د ښارونو ،کليو بانډو او حتا د شړو دښتو او بې صاحبه ځمکو عمومي وزير ګڼل کيږي. زمونږ پوښتنه د خپلو خارجي «دوستانو» څخه داده چې په کوم ملک کې دداسي کسانو په واسطه ديوه هيواد بيا ابادونه سرته رسېدلې ؟ يا داسې کسان د دموکراسی ،سولې او امنيت دتأمين عامل ګرځېدلي شي؟ که داډول کسان په وطن کې نظام جوړ او حقوق





او قوانين پلي کړي اول بايد په خپلو لاسونو او پښو کې اتکړی او زولنې واچوي او که دوی پخپله دا کار ونه کړي ، بل يې بايد وکړي.

اکثريت په دموکراسی کې عمده اصل کڼل کيږي .د ۲۰۰۱ م کال داکتوبر په ۷ نيټه کله چې امريکايانو په افغانستان خاينانه حمله وکړه ، له لومړی ورځې څخه خبره معلومه او هغه د امريکې د ګټو په خاطر ، په افغانستان کې دامريکايي قواوو حضور تأمينول او ټينګول وو ، نو د توري تېره مخ بايد د پښتنو ، چې په ملک کې اکثريت جوړو ي، په خوا وي او تردا نن ورځ پورې همدغه وضعه دوام لري.افغانستان يوازېنې هيواد نه دې چې د پښتنو داکثريت په څنګ کې د نورو ورونو قومونو اقليتونه هم موجود دي. د اکثريت او اقليتونو مسئله په نړی کې څرنګه چې د ټولو هيوادونو په کچه ،عموميت لري ،نو د ټولو قومونو د سولئيز ګډ ژوند په خاطر بين المللي او ملي منل شوي قوانين وجود لري چې دملګرو ملتونو په منشورونو کې تسجيل دي. په دې معنا چې د ورونو قومونو تر منځ حقوق د قومونو د فيصدي په تناسب او د ټولو افرادو تر منځ د ټولو حقوق مساوي ګڼل شوي دي. زه نه پوهيږم ، ددې په عوض چې زمونږ بهرني «دوستان» ددغه قوانينو دعملي کولو په خاطر جدي پاملرنه وکړي ،برخلاف پخپله ددغه حقوقو او قوانينو ماتوونکي او ناقضين ګڼل کيږي.د ټولو قوانينو ،اصولو ،نورماتيفونو او منل شوو ارزشونو په خلاف ،غواړي په افغانستان کې خپل حاکميت ټينګ او په يوطرفه ډول بلا قيدوشرطه دخپلو ګټو په خاطر د خپلې خوښې نظام جوړ کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بن په کنفرانس کې د دغه خبره پوره ربښتینولی ته ورسیده او د ټول افغان اولس په نمایندګی ، دوی د پنجشیر د شریفو خلکو د نماینده په حیث یواځې څو کسه فراریان ، د قبرس بې نومه ډلګی او د پخواني پادشاه محمد ظاهر شاه نمایندګان چې په دغه وخت کې د هیڅ ډول ټولنیز او سیاسي هویت ، شخصیت او موقف څخه برخورداره نه وو ، راټول او په داسې مغلقه او ډیره کړکیچنه وضعه کې یې د افغانستان د نوي دولت ،حکومت ،قضاء او نورو ټولو اداري واحدونو ، مؤسساتو مسئولیتونه هغوی ته وسپارل .

د ۲۰۰۱ م کال د نوومبر په ۱۴ برهان الدین رباني د جمهور رئیس ،عبد الله عبد الله د باندنیو چارو وزیر ، محمد یونس قانوني د کورنیو چارو وزیر ، محمد قسیم فهیم د دفاع وزیر او ډیر نور لوړ پوړو چارواکو له یوې اولسوالۍ او بلکه له یوه کوچني محل څخه د دولت په خورا لوړو او اوچتو مقامونو کې خپل ځانونه مقرر اعلان کړل. سره ددې چې لسګونه زره پښتانه په ترلو کاتینرونو کې تیرباران ، ساه خپه او بې رحمانه ووژل شول او سره ددې چې پښتانه د ټول نفوس قاطع اکثریت جوړوي ،له هر ډول حقوقو څخه محروم وساتل شول. دا ډول چارې د دموکراسۍ سره هیڅ سمون نه لري او په داسې شرایطو کې نه امنیت ، نه دموکراسي ،نه عدالت او نه نظام پایداره پاتې کیدلې شي. دا ډول روشونه د نظام د جوړیدو په مفهوم نه ، بلکه نظام ړنګوي او هر مغرض په خپلو ټولو ناروا ګټو په اسانۍ خېټه اچولې شي.

کاري وړتیا او تجربه ،پوهه ،تحصیل،تخصص ،تقوا ،وطنپرستي او فداکاري هغه اوصاف او خصوصیات دي





چې ځیني د کلونو او ځیني نور د قرنونو او تاریخي دورو په اوږدو کې د یوې ټولني او اولس په مورال ، کلتور، اخلاقو او نورو ارزشونو ، دود او دستور بد لیږي او همدغه ارزشونه په حقیقت کې د همغه اولس تاریخ جوړوي او د ټولنې هر با احساسه انسان د خپل ضمیر او وجدان له لارې د همدغه ارزشونو او خپل تاریخ سره ترلې او یواځې د همدغه ارزشونو د ارزشي طاقت په مټ یو اولس پایي او ژوندی پاتې کېدلې شي. له کومې ورځې څخه چې زمونږ امریکایي او اروپایي « دوستان » بې پاسپورته زمونږ هیواد ته راننوتي دي ،د دغه ارزشونو سره جوړ نه راځي او له بیخه یې ړنګول غواړي.

زمونږ بهرني « دوستانو » په افغانستان کې د خپلو چارو د سمون او پرمختګ په خاطر له خپلو ملکونو څخه هغه افغانان چې د مهاجرت او یا د پخواني تحصیل له دورو څخه یې خپله وفاداري هغوی ته ثابته کړې او سي ، د هغوی لپاره د اعتبار او اعتماد وړ ګڼل کیږي او یواځې په دغه اوصافو سره کسان ، په اوسنیو شرایطو کې ،د یوو کار د شایستګۍ لازمي او کافي نورمونه پوره کولې او د دغه چاڼ د سختګیره شرایطو څخه تیرېدلې شي. د دوی د روزنې پروګرام هم له درې هفتو او درې میاشتو زیات وخت نه نیسي ، چې لکه د جورسه فصل کرل او ربېل یې همزمان وي. د دوی اوسنې په کارولاړ ټیم باید په اصطلاح انترناسیونالستان او یو ډول په راز او رمز پوه خلک وي. وطن ، سیالي او شریکي ، تربګني ، توربورولي او تربګني ، قهر غصه ، خپل ، دوست او دښمن باید ونه لري او ونه پېژني . یواځې پېسې و پېژني او په مړه وجدان یې د هر کس او ناکس له لمنې څخه راټولي کړي.زمونږ « دوستان» دا هرڅه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویني او د شاباسي په دود په شاډب ورکوي. همدا سبب دي چې د فساد ،اختلاس،رشوت ،قاچاق ، غلا ، چور ،چپاول ،ګُشت وخون او نورو دې ډول کارونو کې له هرچا دمخه دي. دا خبرې ټول نړیوال کوي او زمونږ «دوستان» چې ددغه چارو مستقیم مسئولیت په غاړه لري هم که په ظاهر له دغه کارونو څخه سر ټکوي ،خو په واقعیت کې ، که دوی ورسره شریک نه اوسي ، که دزمري زړه هم چاته ورکړې ددې کار جرئت به ونه کړي. د دوی په خپلو ملکونو کې دیو« سنت» باقیداری د تحصیل لپاره ، پنځه ډالر مصرفوي ، خو په هیڅ صورت یې چاته نه پریږدي. دوی خپل دغه وفاداره خدمت ګذاران په هیڅ صورت له لاسه نه ورکوي او دخپلو ګټو په خاطر ترې بې قییدو شرطه په پټو سترګو دفاع کوي.

لنډه دا چې ، نه دغه نابکاره ډلګۍ او نه زمونږ خارجي « دوستانو » دستاینې وړدي ،چې څوک دې پرې ونازیږي او خپلې خولې ګانې پورته پورته وغورځوي. دوی دواړه خواوې له خپلو کړو شرمنده او چاته د سترګو د پورته کولو جرئت نه لري او آن تر دې حده رسیدلي چې یو بل سره ملامته او یو په بل باندې سره تورونه ولګوي. زه نه پوهیږم چې دا ځیني خدایي خدمتګاران د دوی د برئت لپاره دلایل له کومه ځایه راپیدا کوي ؟

ضرورت نه شته ،څوک په پټو سترګو او وازه خوله ددغه ناوړه وضعې او ناوړه شرایطو د ملاتړ په خاطر چیغې ووهي او خپل کومي وشلوي.زمونږ داخلي او خاریجي «دوستانو» تراوسه پورې د وضعې په خرابولو او خپلو خیانتونو کې هیڅکله لاس نه دې نیولې او کمې یې نه دې کړې ، ښه به داوي





د افغانستان او جهان ننني وضعه په دقت سره و ارزول شي. وروسته له دې هره ګړۍ تأخیر به، ددغه وضعې د خرابېدو ابعاد د هندسي تصاعد په تناسب نور هم ترینګلي او له تحمل څخه وباسي. دا به حماقت وي ،که پس له دې هم څوک د وضعې د خرابېدو او ددې نړۍ د تباهۍ مسئولیت په غاړه اخلي !

نن چې ټولو نړیوالو د امریکایانو سره یوځای ، چې یو تر بله د شرم او رقابت مسئله هم تر منځ موجوده ده، دا وضعه تر دې حده ورسوله ، نود امریکایانو به په یواځې ځان څه له لاسه پوره شي ؟او هغه هم ،کله چې د دایمي اډو په جوړید و سره امریکایان یکه تاز د میدان او درقیب څخه د سرګو د سوي او شرم مسئله هم په منځ کې نه اوسي. نو زه ټولو اصیلو افغانانو او حتا ددغه نابکاره ډلې لپاره د امریکې ددایمي اډو په جوړولو کې دخوښۍ کوم دلیل نه وینم ! هغه قوانین چې ملګرو ملتونو د بین المللي ذات البیني سولئیزو مناسباتو او معاملو په خاطر تصویب کړي ، مونږ د سر په سترګو او زړه په صدق سره منو او دهغې مطابق هر لرې او نږدې هیوادونو سره سیالې معاملې ته حاضر یو. زور زیاتې ، غیر عادلانه ، استثماري او استعماري معاملو او سود سودا مناسباتو له دود او دستور څخه ووځي.

افغان له بل افغان سره د داخلي وطني او اولسي مسایلو په جوړ جاړي کې جوړ راتلای شي او که نن نه سبا مجبور دې خپلو داخلي ذات البیني منل شوو قوانینو او اصولو ته غاړه کښیږدي . خدای دې مونږ د هغه کم اصلو له شر څخه خلاص کړي چې نه یې مور معلومه وي او نه پلار .نن چې افغانان په شعوري،علمي او اقتصادي لحاظ وروسته پاتې دي ، ملامته

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدغه د بهرنیانو ستر قدرتونه وو ، چې تل یې په مونږ جنګونه تحمیل کړي او یوه ګړی یې کار ،زیار او دوطن ابادولو ته نه یو پرېښې ، او زمونږ روشنفکران چې ترنن ورځې پورې د صنفي او قشري تشکل څخه عاجزاو لکه نن چې د حوادثو په ټېل ناټېل کې دناوړه استفاده جو مرتجع رول لوبوي ،تل یې په تاریخ کې دغه ډول رول لوبولې او تل یې عظیمه اولسي کتله په غفلت او په شعوري ذهني کدورت او تورتم کې ساتلې. معنا دا چې مونږ بېکاره یو او خپل د ېن او رسالت مونه دې اداکړې. که غواړو او که نه ، که دا کار سخت دې او که اسان ،باید سرته یې ورسوو او ځانونه د سیالانو سیال کړو. خدای دې مونږ او تاسو ته همت او برکت راکړي.

پرېږده چې نړیوال ،افغانانو ته دا حسن پاداش څخه د همیش لپاره منکر پاتې شي !

که مونږ سیال اوسو ،همېشه خپل حق غوښتلې او لاس ته راوړلې شو.





# دغرب ناکامه ستراتیژي، ناکام انجام ته ورسېده.

د دغه سیاسي ستراتیژۍ په هکله دغه ډول قضاوت هغه وخت وشو ،کله چې په افغانستان باندې د روسانو د خاینانه یرغل او د شرمه ډکې ماتې څخه وروسته ، امریکا د نړیوال مونیپولار سیاسي سیستم په محراق کې قرار ونیوه او د امریکې په مشرۍ ټول نړیوال کاپیتال ـ امپریالیستي نظام ،دافغانانو د عادلانه مبارزې په اړه د خاینانه سیاست لار ونیوله ،د افغانستان په څېر تاریخي هیواد او افغانانو باتورو خلکو واګي یې، چې په سیمه او نړۍکې یې د برم او زړورتیا کیسي دسره امپریالیزم سره په ډغرو لا هم تودې او را ژوندۍ شوې وې ،دپاکستان غوندې بې بنیاده غیر فطري هیواد په لاس کې ورکړل ،چې نن هم په خپل ملک کې فاقد د سراسري نظام ، ادارې، حکومت ، قانون او انساني حقوقو پاتې دې ،او په ډیر جفاکارانه ډول یې د شرق او غرب ، کمونیزم او کاپیتالیزم ، روسي او امریکې ،کې جي بې او سي آی اې اوداسې نور ټول نړیوال لاینحله پرابلمونه د غم ځپلو افغانانو د سرنوشت سره غوټه کړل ، حال دا چې امریکا په حقیقت کې د ژینیو د پنځه فقرئیز تړون یو اځینۍ حکم هم ګټل کېده. دغه عظیم بار افغان اولس دملیونو شهید ،معیوب ،مهاجراود ملک د هرې لویشت ځمکې د تباهۍ په بیه په خپلو اوږو پورته ، شوروي اتحاد ،کمونیزم او نړیوال سوسیالیستي نظام یې ړنګ اود نړیوال ازاد بازار سوپر ګلوبال اقتصادي نظام او نړیوالې مافیا لپاره لار اواره شوه. افغانانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



لپاره ددغه بې ساري قربانۍ او فداکارۍ په مقابل کې احسن پاداش داوؤ، چې افغان اولس د تور او سره امپریالیزم د ډلئیزو او غیر ډلئیزو وژنو وسلو په ګودامونو ،چې افغانستان ته محض دتخریب او افغان وژنې په خاطر راوړل شوې وې ،افغان دښمنه داخلي او خارجي ډلو ته یوا ځې پرېښودل شي ، چې د ګور د چینجو غوندې تر اخر کس پورې یو بل سره تباه او نابود کړي. خوکله چې ددغه بې رحمیو د اور لمن د دوی د خپلو هیواد والو له خوا په ټوله نړۍ کې خپره شوه او دهر کور تر دروازې ورسېده ، په اصطلاح د دوی د ترحم او هیو منیزم احساس بیا راژوندې شو ، چې څه ډول یو ځل بیا دغه لا علاجه تو ره بلا د افغانانو په کور میلمه او دقربانۍ دغه سوړ نغرې بیا تود کړي.

همغسې چې د روم امپراطور د شعري قریحې د راپارولو په خاطر د روم د ښار سوزولو ته ضرورت وو ،د دوی د پخواني ویده سادیسم او اوسني جنوساید د راویښولو او پارولو لپاره هم یوې انګېزې ته ،یوې ناشونې ناروا ته یوه چاره سنجول په کار وو .سره ددې چې دوی دافغانانو په حق کې د هېڅ ډول ناروا او جفاکارانه دراماتیکو صحنو په جوړولو کې کمې نه درلود او پخپله د دوی ترهګرو او بنیاد ګرو هم د دوی په ملکونو کې ځیني زړه بوګنوونکې نظارې او ننداري تکرارکړي ، خود نوي دینامیزم لپاره نوي پوتنسیال ته ضرورت وو چې دغه متحجر مغزونه یو ځل بیا د لاشعورۍ کور کورانه عمل تر مدهوشانه پوتنسیاله ورسوي. دغه عظیمه پېښه د ۱۱ / ۹.۲۰۰۱ نېټه وه چې حق یې په نا حق او ناحق یې په حق بدل او د بشري شعوري بلوغ په یویشتمه پېړۍ کې یې دغه د نادودو ناکامه سراتیژي ،یو ځل بیا په ناروا د افغان غم ځپلي اولس د سرنوشت پورې غوټه کړه. په تېرو لسو کلونو کې ددغه نا کامې سراتیژۍ په ناکامو هڅو او ارزونو زه ځکه نه غړېږم ، چې د هغې د عملي کولو ،سپیناوي او غلطو تعبیرونو په خاطر





د نړۍ ټولو هیوادونو په افغانستان کې مستقیم او غیر مستقیم ، بې ویزې او بې پاسپورته ، بې قېد وشرطه صلاحیتونو او دنړۍ د ټولو ډلئیزو رسنیو په واک کې لرلو سره حضور درلود او حتا زمونږ د داخلي بېګانه پرستو افغانانو په بې شایبه هڅو سره یې هم ونه کړې شول ، ددغه تور مخې ستراتیژۍ تورې رټې د زمزم په اوبو پرېمنځي.

امریکا خو لوی ملک دې ، لوی نظامي طاقت دې ، لوی علمي طاقت دې ،د نړۍ د ټولو اولسونو «ګل های سر سبد » مجمو عي کتله ، په میخانیکي او ارګانیک ډول په امریکا کې راټوله ده او تر ټولو لویه کلتوري کتله او مدني طاقت جوړوي ، دهیواد دننه اود نړۍ د خلکو ، قومونو او مختلفو قشرونو تر منځ سوسیال دموکراتیک عملي مناسبات تر بل هر ځای په امریکا کې پراخ ابعاد او د ژوند په ټولو ساحو کې د نړۍ دټولو خلکو سره عملي علمي ،منطقي متقابل هر اړخیز اړیکي ، تأثیر ، تأثر، اوپه پوره حاکمیت راکړه ورکړه یوائې امریکا لرلې شي. دامریکې اولسونه په دغه ډول مناسباتو او امکاناتو سره ،هیڅ ضرورت نه لري دتفوق او حاکمیت د ساتلو په خاطر ، د نړۍ د اولسونو په مقابل کې، دجنګ لار غوره کړي. هغوی ددې کار لپاره ډېرې نورې لارې چارې ، منطقي او معقول امکانات لري ، چې هم دهغوی منطقي برلاسې او هم په نړۍ کې دعدل ،انصاف او ټولنیزو حسنه مناسباتو له لارې د امریکې او نړیوالو د سولئیز ګډ ژوند او پاینبت شرایط تضمین کړي . امریکااو دهغوی انډیوالان باید د نړیوالې مافیا، دسرمایې د لیونیانو او د وسلئیز او جګړئیز وشرکتونو مشورې او هدایا ت ،چې غواړي دناروا او غیرقانوني حکومتونو له لارې او لسونه په خپل خاینانه واک کې وساتي ، ونه مني او دغه ناروا کبر او غرور ونه کړي. پخواني شوروي اتحاد چې په خپل وخت دغه کارته لاس وغځوه ، پایلې یې اوس ګالي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاریخ ګواه دې ، هرکله چې دافغانستان د ځمکنۍ بشپړتیا او سیاسي خپلواکۍ سر نوشت د جدي ګواښ سره مخامخ شوې ،افغان اولس تل د جګړه ئیز ډګر واک او اختیار په خپل واک کې نیولې او په ساتنه کې یې د نه بدلیدونکې تاریخي جبر په حېث ،حتا دخپلې اردو ،پولیس او بل هیڅا ارادې ته غاړه نه ده ایښې ، دښمن یې قضایې جبر منلو ته اړ ایستې او د بل بدیل منلو ته چا نه دې اړکړې شوې . په افغانستان کې سیاسي وضعه ، عېني او ذهني شرایط همدغه حالت ته رسېدلې ، اولس به واک اخلي او دموجوده وضعې څخه به ملک ته نجات ورکوي ، که نن وي ، سبا یا بل هر وخت چې اوسي.افغان اولس همېشه په خپل ملک کې دامنیت اصلي ساتونکې وؤ او اردو او پولیس یواځې هغه وخت د امنیت له عهدې وتلې دي ، چې اولس یې ملاتړې وؤ .

هېڅوک نه پوهېږي ، چې دا دومره نړیوال اولسونه افغانستان ته د څه لپاره راغلي دي ؟ څه یې کړي او څه به وکولې شي ؟ ددوی،خپله او نورو ټولو افغانانو او نړیوالو ارزونه خو داده چې دغه ټول کسان د افغانانو له ارادې پرته په خپل سر افغانستان ته راغلي ، ټول ارزشونه یې له منځه وړي ، بې ګناه یې ملکي کسان په خپل سر وژلي او د امنیت ،بیا ابادونې او نور ټول شوني کارونه ناشوني ګرځیدلي دي .

نن په افغانستان کې هرڅوک ، که بهر نې دې او که داخلې ،ځانونه ټولواک او بېواک ګڼي ،هیڅوک د مسئولیت احساس نه لري ،خو هرڅوک د خورا ډېرو مهمو ملي مسایلو په باره کې په خپل سر د قضاوت صلاحیت لري اوحتا نیم افغانستان ، په یوه بهرني هیواد کې د بل بهرني هیواد نماینده او یا یوداخلي سیاسي بې سواده «د مثال په ډول دیوه لوی ولایت والي او یا هر عادي انسان» په پټو سترګو ، پوره بې مسئولیتۍ او احمقانه جرئت سره بل چاته بخښلي شي.زه نه پوهیږم په کوم حقوقي ، قانوني او یا بل ډول صلاحیت ؟ نو پاکستان، ایران





او یا نورملکونه به ولې په داسې بې صاحبه ملک نا حقه دعوې ونلري ؟او خصوصاً ، کله چې د خپلو متولیانو له خوا دې کار ته هڅول کیږي او بر او لر افغانان او حتا پښتانه او بلوڅ ، ، د ملګرو ملتونو سازمان ، امریکا ، انګلستان او نور چې بین المللي تعهدات او په افغانستان کې دا وخت دستر رسالت په خاطر حضور لري !

په داسې ناوړه وضعه او ناوړه شرایطو کې چې د ارګ په دروازه ، دملي دفاع او ستر درستیز دشعبې په درشل ، دجهادي دولت د جوړېدو د ستر جشن دنمانځنې په ورځ د جمهور رئیس ،لوی وزیر ، د ملي دفاع ، کورنیو چارو د وزیرانو ، د امنیت د لوی رئیس او نورو لوړ پوړو چارواکو تر منځ محلونو کې امنیت او دامنیت مسئول ذمه وار نه په سترګو کیږي او هرڅوک د پېښې له ځای څخه خپلې پښې سپکوي او منډې وهي،بهرني قوتونه یو ځل بیا افغانان او افغانستان داخلي او خارجي بې مسئولیته وسله والو ته دډلئیزو او غیر ډلئیزو انسان وژونکو او نړی ورانوونکو وسلو د ګودامونو په سرلاس تړلي پریږدي ؟

تاسې نه دي اوریدلي چې علامه اقبال لاهوري ویلي:

اسیا یک پیکر آب و گل است
افغانستان درین پیکر دل است
از کشاد او کشاد اسیا
از فساد او فساد اسیا

کله چې عراق هم دا ډول غیر مسئولانه تقسیمیده ، دفرانسې د باندنیو چارو وزیر وویل « دا خو د کیک ټوټه نه ده چې دا ډول تقسیمیږي ؟ » زه دا وایم دا خو پاکستان نه دې چې که دانګلستان او امریکې همیشنې ملاتړ نه وي ، همدا نن به ټوټه ټوټه پروت وي !

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه نه پوهېږم ولې د پاکستان حکومت دا سوچ نه کوي ، کله چې دا ټول نړیوال قوتونه له افغانستان څخه په داسې نا امېدۍ سره ووځي ، پاکستانه ستا به له لاسه څه وشي ؟

دهیوادونو او اولسونو تاریخ معمولا په تیر ،حال او راتلونکې پورې اړه لري. خدای مه که چې زه به د هند دلویې وچې د اولسونو کلتوري ،علمي ارزشونو او د هیواد دازادۍ په خاطر مبارزو ته په کمه سترګه وګورم ، خو تاریخي حوادث داسې پیښ شوي چې ددغه سیمې هیوادونو سرنوشت یو تر بله سره تړلې پاتې شوې او له نېکه یا بده مرغه ددغه ګډ سرنوشت جګړئیز دروند بار دتاریخ په حساسو شېبو کې د افغانانو په اوږو پروت وو او دغه سپیڅلي رسالت او دېن ته افغانان تر بل هرچا څخه زیات ارزش او احترام قایل وو . د تاریخ درسونه ډېرو کسانو ته معلوم او ډېر کتابونه پرې لیکل شویدي ، چې تر هرچا دمخه یې بایدپا کستاني چارواکي ولولي او دتاریخ په ارزشونو او رازونو ځانونه پوه کړي. که پاکستان د یوې پېړۍ دننه شاته مخ اړوي ټول افتخارات یې په افغانستان ، افغانانو او هند پورې اړه لري ، چې د خپلوبې سنجشه کړو وړو او کم بختۍ له مخې دواړه خپل نه پخلا کیدونکي دښمنان ګڼي .زه تاریخ پوه نه یم او نه غواړم چاته د تاریخ درس ورکړم ، خو دومره ویلې شم ، چې دافغانستان له لارې هر یرغلګر اول دا جرئت نه دې کړې شوې چې هند خواته واوړي او په همدې خاطر د بحري لارې د کشف په هڅه کې وو ،او که کله چا دا نیت هم کړې ،نو کاري ګوزار تر هر چا دمخه افغانانو په خپل ټټر اخیستې اویرغلګر یې له خپلې خاورې پر شا تمبولي دي. خو که کله په دغه سیمو کومه ناڅاپي ټکه پرېوتې ،لکه چې دمخه هم ورته اشاره وشوه ، دغه رسالت ته د ډېرې وفادارۍ په نسبت ، په ټولو غمجنو شېبو کې افغانان تر هر چا دمخه ، داصلي حکم او وارث په څېر





د هرې سیمې په دفاع کې دریدلي دي ( د سلطان محمود غزنوي ،لودیانو ، شېرشاه سوري ،هوتکیانو او ابدالیانو تاریخ ته دې نظر واړول شي ).

پاکستاني دولتي چارواکي دې په دې باره کې فکر وکړي چې پاکستان څه ډول جوړ او په حقیقت کې څوک تر اوسه دغه بار په اوږو وړي ؟ د هند دلویې وچې له اولسونوسره دافغانانو ذات البیني مناسبات همېشه حسنه او دمتقابلو ګټو او تفاهم په منطق ولاړوو . هریو د بل د خوښۍ او بدو ورځو له حالاتو څخه متحسس او متأثروو او یو تر بله سره په ښو او بدو وروځو کې یو دبل ملاتړ ګرځیدلي دي .یواځې هغه وخت چې د غازي امان الله خان د استقلال د اعلان په وخت کې ټول هندوستان د افغانو په ملاتړ کې راپاڅېدلي وو ، افغانان یې هېڅکله نه شي هېرولې.

مونږ دداسې تاریخي حقیقت شاهد هم یو ،کله چې شاحسین صفوي د شاه محمود هوتک په مقابل کې ماتې وخوړه او شاه حسین صفوي وروسته له دیرش کلنې پادشاهي څخه خپل تاج د پنځه ویشت کلن شاه محمود په سرکښېښود اود ملک واک او خزانې یې هغه ته وسپارلې ، شاه محمود هم په ډېر احترام د هغه په مقابل کې پاڅېده ، هغه ته یې د پلار خطاب وکړ او وعده یې ورکړه چې بې د هغه له مشورې به څه نه کوي او د هغه دکورنۍ لپاره یې داستوګنې او ژوند ټول مناسب شرایط برابر کړل.

طهماسب چې دپلار د تسلیمۍ په وخت کې له اصفهان څخه په تېښته بریالې شوې وو، ځان یې د ایران پادشاه اعلان کړ .خوایرانیانو چې ترې ښې خاطرې نه درلودې ، ملاتړ یې ترې ونه کړ نو مجبورشو ترکانو او روسانو څخه وغواړي چې د غربي او شمالي ولایتونو په بدل کې افغانان د ایران له خاورې څخه وشړي او دسلطنت واګې دده په لاس

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې ورکړې . ترکان او روسان هم په خپلو منځونو کې موافقې ته ورسېدل او دغه ځمکې يې په چټکۍ سره په خپله ولکه کې ونيولې .په دې وخت کې چې شاه محمود د ۲۸ کلونو په عمر وفات او په عوض يې مير اشرف سپهسالار د جرګې لخوا د پادشاه په حېث ټاکل شوې وو ، خو کندهار ته داسې خبر رسېدلې وو ،چې شاه محمود د مير اشرف له خوا د خپل پلار د قتل په بدل کې وژل شوېدې ، نو ځکه د کندهار او شاه اشرف مناسبات خړپړ وو .تردې وروسته د حوادثو جريان مير غلام محمد غبار په « افغانستان در مسير تاريخ »(۳۲۹ ـ ۳۳۱ مخونه ) کې دا ډول ارزولې دې.

[در طی این اقدامات داخلی ،شاه اشرف دقیقاً حرکات دولت های عثمانی وروسیه را نسبت به ایران مراقبت می کرد .چون قوای عسکری شاه اشرف در طول جنگ های داخلی تقلیل یافته بود و قطع روابط با قندهار فرصت تلافی این کمبود نظامی راسلب کرده بود بناچاربا قوت قلیل دست داشته خود میساخت و در قضایا سعی میکرد کار به تدبیر وسیاست انجام گرفته و احتیاج به استعمال اسلحه نیفتد .لهذا شاه اشرف در۱۷۲۶ توسط نامه وسفیری ( عبدالعزیز )به عنوان دولت ترک از دوستی واخوت اسلامی و مذهبی و احترام نسبت به خلافت مطاع اسلامی حرف زدو ضمناً تخلیه ولایات غربی ایران را از سپاه عثمانی تقاضا کرداما دولت ترک نه اینکه به چنین پینهاد وقعی نگذاشت بلکه به شاه اشرف پیشنهاد تخلیه ایران و تسلیم تخت به شاه حسین صفوی نمود ، این پیشنهادترک با سوقیات بزګ نظامی بدرقه میګردیدو شصت هزار سواره و پیاده عثمانی با هفتاد توپ بزرګ در زیر قوماندہ احمد پاشه والی بغداد و حسین پاشه والی موصل و جنرال عبدالرحمن به استقامت اصفهان حرکت کرد .





شاه اشرف که وارد مرحلهٔ قاطع شده بود لهذا شاه حسین صفوی ره بدون لزوم بکشت و با قشون مختصر اما محکم افغانی بمقابل اردوی ترک برامد.تلاقی هر دو سپاه در سال ۱۷۲۶ در بین راه اصفهان و یزدواقع شد ،این جنګ که در تاریخ برای بار اول بین یک قوت افغانی و دولت ترک عثمانی بعمل آمدبرای دولت هوتکی اهمیت حیات و ممات را داشت زیرا اګر سپاه افغانی مغلوب میشد تلافی آن ممکن نبود در حالیکه قشون ترک در عقب خود دولت بزرګی استاده داشت.
جنګ اغاز ګردید و حملات برق آسای سوارهٔ افغان در طی چند ساعتی آن اردوی بزرګی در هم شکست ،توپخانه عثمانی پنجاه توپ از دست داد وسواره وپیادهٔ ترک ۱۲ هزار کشته در میدان جنګ ګذاشت و فرار کرد ،این شکست بقدری ناګهانی و شدید ی بودکه تمام لوازم و ذخایر و سامان اردوی ترک جابجا ماند .
شاه اشرف با وجود چنین فتح بزرګی،تدبیر را از دست نداد و بدون اسلحه تمام غنایم جنګی رادر عقب اردوی شکست خورده ترک فرستاد ، وتوسط اعزام سفیری بنام اسمعیل در سال ۱۷۲۷ به دولت ترک پیام داد که ما با ترک ها برادران هم دین هستیم و مال برادران بر ما حرام است ،ما احترام خلافت اسلامی را بر خود واجب میشماریم ،وبا برادران ترک جنګ نی بلکه صلح دائمی میخواهیم....
شاه اشرف که افراد کاری عسکر وافسر خود رادر جنګ بزرګ با دولت ترک و جنګهای داخلی دیګر از دست داده بود مجبور شد که با استخدام قشون از داخل ایران بپردازد و جای تلفات وارده را پر کند ،. . ،واما بعد ها در جنګهائی که با نادر افشار بعمل امدعساکر ایرانی شاه اشرف در مقابل عسکر نادر افشار جنګ نکرده و میدان حرب را ترک ګفتند .

(c) ketabton.com: The Digital Library



شاه اشرف سپاه خود را برای درهم شکستن قوت جدید الظهور داخلی (نادر افشار )نگهداشت ، وعجالتاً گذاشت که نادر افشار و شه طهماسب و فتح علی خان قاجار بولایت خراسان کنونی تاخت وتاز نمایند ،و خود متوجه دولت روس گردید که در شمال ایران مسلط بود و طبق معاهدهً شه طهماسب ،خود را مالک قسمت مهمی ایران میدانست. در جنگی که در محل « رود سرد»بین قوای سیدال خان و جنرال « ارلوف »واقع شد قشون افغانی غالب و ارلوف طالب مصالحه گردید .شاه اشرف با روسیه از در مذاکرات سیاسی داخل شدو در سال ۱۷۲۹ با آن دولت معاهدهً ببست که از سنگیني معاهدهً شه طهماسب مقداری زیاد کاست....]

په دې ډول افغاني سر لښکرو په خپل نظامي درایت او مهارت سره کولې شول کم قوتونه د دښمن په مقابل کې داسې استعمال کړي چې کم تلفات او زیاتې برياوې لاسته راوړي او حتا د جنګ په مشکلو شرايطو کې هم د دښمن او ګاونډي هيوادونو په مقابل کې انساني ، اسلامي او افغاني منل شوو ارزشونو ته وفادار پاتې شي. په پورتني بحث کې ، مونږ وليدل چې ،ايراني چارواکو د افغانانو په مقابل کې د ترکانو او روسانو سره څه ډول د خپلو اولسونو او ملکونو په بيه پټې دسيسي جوړولې ، خو افغانان برخلاف په دغه ملک کې د اداري حاکم او وارث په حېث د هغوی ملکونه د پرديو د تسلط څخه ازاد او په ډيرو ناوړو او مشکلو حالاتو کې هم انساني ، اخلاقي او اسلامي کراماتو ته وفادار پاتې کېدل او دښمن يي حتا د جنګ په شرايطو کې هم له خوږې ګوتې نه نيوه.

نن چې پاکستانې سلف د ټولې نړۍ دهيوادونو په مټ ، نه د ځان او نه له پاکستان سره مرسته کولې شي ،هم يي ځان ، هم يي پاکستان او هم يي ټول نړيوال په ناوړه نا مصئون حالت کې واقع کړي او دنړۍ په ګوټ





ګوټ کې مرګ او درد د هرچا په کور ميلمه او پخپله هم لکه دموږک غوندې د تيښتې لارې لټوي او پاکستان هم لکه د موزيګې شلېدلې کټ ، چې پيارمه يي ټينګوي ، بازو يي ځينه. افغانان او په خاصه توګه پښتانه او بلوڅ، چې د پاکستان سره دخپلو حقه حقوقوپه سر دعوه دنګله لري ، سيال خلک دي ،هيڅکله يي پاکستان له خوږې ګوتې نه دې کش کړي او نه دمشکلاتو په وخت کې له چا څخه کسات اخلي. که دا کار يي کولې ،نو ډير ښه فرصتونه به يي له لاسه نه وې ورکړي. پښتانه هيڅکله په کسات اخستلو عجله نه کوي او اصلاً ددې کار لپاره به ضردرت هم نه وي. ستاسې متوليانو لا پخوا د خپل نظام د پايښت ټول ارزشونه او اساسي عناصر له لاسه ور کړي او دا يو طبيعي قانون دې چې په داسې حالاتو کې هره پديده چې اوسي په زوال محکومه ده .نو نن که دنړۍ ټول هيوادونه په غم ځپلي افغانستان کې راټول شوي او په حقيقت په ناروا سره ستاسې د متوليانو او ستاسې په ملاتړ کې ولاړدي ټول په زوال محکوم اودا هم يو منل شوې حقيقت دې چې د هرې يرغلګرې امپراطورۍ لمن له افغانستان څخه ټوله شوې ،ستاسې متوليانو سره يوځای دغه ټول نړيوال ايله جارې هم په زوال محکوم او لکه دنورو پخوانيو ير غلګرو په څيربه په تيښته له افغانستان څخه ووځي. پريږدۍ چې دغه وياړ هم په تاريخ کې د افغان په نوم ثبت او پريږده چې نړيوال هم په نړۍ کې دنړيوال عدل او انصاف دانقلاب منلو ته حاضر شي.

ايا په داسې موقع کې د افغانستان په کليو او بانډو ،سمه او غر د راکټونو بارانونه ، انسان او حيوان وژنه پخپله پاکستان ته خاينانه ، بې شرمانه او احمقانه نه ښکاري ؟

په نوکر او په چاکر او پهره دار * خزانې خپلې ساتلې شي سرکار
خو دعام نفرت نه ځان ساتلې نه شي *په طوپونو په ټانکونو زرهدار

« الفت»

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دوهم بن ، که د لومړي بن،
# دبې بنیاده پېل ناکامه پایلې؟

د یویشتمې پېړۍ دلومړۍ لسیزې په زماني مقطع کې ، نړیوال ګلوبال تاریخي دینامیزم ،دتېرو تاریخي پېښو په څېر، د افغانستان د پېښوپه تېل ناتېل کې ، پښه پرځای (چپرځای ) پاتې شوې اوکه د عراق او کویټ ترمنځ شخړې لپاره ، دامرېکې په مشرۍ یوائې ځوهیوادونو بسنه کولې شوه ،د افغانستان د پېښو په خاطر نړیوال بغاوت ، بلوا او سوق الجیش هم د خپلو ناکامو پایلوپه مسیر کې ناکامه سرکونډۍ وهي . داچې ددغه ډول ناکامه غونډو ناکامه هرارشي ( تسلسل )، ولې دالمان د اتحادي جمهوریت پخوانۍ پلاز مېنې ، بن څخه پیل او ولې دوباره په همدغه مقام کې د خپل ناکام انجام مهر پر خپله کړنلاره او تګلاره مني ،بې دلیله او بې بنیاده او تصادفي پېښه، نه ګڼل کیږي . المان په اروپا کې ، په ټولنیز او اقتصادي لحاظ خورا مقتدر هیواد دې او المان له ځانه سره لرل ، داروپااو ناتو د ځانه سره د لرلو په معنا دي. سره ددې چې ، په دوهم نړیوال جنګ کې د المان له ماتې څخه وروسته ، په جنګونو کې دالمان





ګډون ، دهغه په قاموس کې وجود نه درلو د او داسند د المان لپاره غوره دلیل ګڼل کېدې شو ، خو دټولو خبرو سره سره ، دغه کار ته اړ ایستل شو او دافغانستان پرضد نړیوال بغاوت د نړیوالو له خوا ، له همدغه ځایه پېل ، خو ډیر زر دټولې نړۍ پر ضد ، د نړیوالو په بغاوت او سوق الجېش بدل شو . ددې کار دلیل دا وو ،چې دغه غورځنګ د یوه داسې نړیوال سازمان له خواپېل شوې وو ،چې د ټولو نړیوالو په وړاندې یې شومې موخې لرلې او دحتمي ناکامۍ بنیادي دلیل یې د سرمایې په ناپایداره او بې بنیاده بنیاد باندې د ډډې لګولو په دلیل ګڼل کېدلې شي . د تاریخ په اوږدو کې ، افغانستان همیشه د نړیوالو د جفا ، ظلم ،او ناروا سره مخامخ ، دکار ،زحمت او ابادۍ لپاره چا فرصت نه دې ورکړې او همېشه غریب ملک پاتې شوې ، خو دخپلو سرشاره طبیعي منابعو ، نه ختمېدونکې انساني مورالي پوتنسیال اود خپل هېواد او اولس سره دسر ،مال او اولاد د قربانۍ تر کچې د افغانانو فداکاري او استقامت له کبله ،افغانستان تل خود کفاء ، ازاد او دبرم ،حېثیت او وقاره ډک هیواد پاتې شوې او پاتې به وي. نن چې دنړۍ ټول سوق الجېشي طاقتونه د افغانستان په وضع الجېش او جنګي تیاتر کې سره راټول او غواړي ، خدای ورکړي طبیعي او فطري ټول ارزشونه یې بې ارزشه او په اصطلاح ترې غصب کړي. څومره ساده لوحانه ! دغه ډیر « هوښیار » اولسونه ،په دې ساده حقیقت هم نه پوهیږي ، چې فطري استعدادونه او ارزشونه چې د چا د ایمان ،وجدان او شرف جز لاځه ، بلکه ، بنیاد جوړوي ، څوک په جبر له چا څخه نه شي اخستلای او دهر اولس ابدي ارثي زیرمه او بنیاد جوړوي . څومره احمقانه دوۍ په افغانستان کې ددغه کار لپاره راټول شوي او که سل او زر د بن او نورو په څېر بې بنیاده کنفرانسونه جوړ کړي ، بیا به هم په خړو سترګو لکه پلرونه او نیکونه چې یې له افغانستان څخه وتلي ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوی به هم ووځي . دوی ، دې حقیقت او واقعیت ته هم نه متوجه کیږي ،طبیعي مقناطیس ، که هر څومره په وړو ټوټو ووېشی ، مقناطیسي خاصیت او صفت ترې څوک نه شي اخستلای . حقایقو او واقعیتونه ته غاړه ایښودل په کاردي ، مونږ منلي ، بل هر څوک چې وي ، هم یې باید ومني ! د دوهم بن په کنفرانس کې تش دنمایش خاطر له ۱۰۰ څخه زیاتو ملکونو د باندنیو چارو وزیرانو او نمایندګانو او د زرو څخه زیاتو رسمي او غیر رسمي نړیوالو نهادونو ،اشخاصو او افرادو راټولول به څه ګټه ولري ، کله چې حقایق او واقعیتونه پکې په پام کې ونه نیول شي ؟

هغه وخت ،چې سرمایداري نظام د کار ګري غورځنګ په مقابل کې خپل تاب او نسبي مترقي ماهیت له لاسه ورکړ ، له خپل طبیعي او فطري مسیر څخه، چې د کارګري غور ځنګ او تولیدي کمیت او کېفیت دوامداره او پایداره سولئیز روزل او پالل وو ، لار بدله او دبې بنیاده تورو پېسو اویا په بل عبارت د بې ارزښه او بې اعتباره تش په نامه ارزشي کاغذونود چاپولو له لارې یې د سرمایې په بې ارزښه ماهیت خېمه ووهله اود هغوی په آند ،البته چې د دکارت د فلسفې په تقلید ، چې غوښتل یې هندسه ،طب او نور ټول علوم د مادي ارزش څخه بې ارزښه او هر څه د متماتیکي معادلو په پوچ مشترک مخرج ودروي (چې البته متماتیکي معادلې هغه وخت قانونمند ارزش پېداکوي ، کله چې مادي پروسې او حرکتونه افاده کړي ،یعنې کله چې مادي ارزش ولري )، د سرمایې لېونیان هم غواړي دسرمایداري نظام څخه د کار ګري دوران جوړوونکي غورځنګ او تولیدي پروسو مادي ارزش په له منځه وړولو سره دغه نظام د ټولو مادي ارزشونو څخه بې محتوااو په خالي جیبونو نه یواځې دکارګري غور ځنګ او تولیدي پروسو په مقابل کې کودتا وکړي او ددغه تورې سرمایې په اکسپورت



(c) ketabton.com: The Digital Library



(صدور )او معاملو سره د کارګري غورځنګ او تولید خلا ډکه ، خو په حقیقت کې ، ددغه لارې د ټولو اولسونو ،قومونو او حتا افرادو شخصي شتمنی غصب ،د هغوی په ټولوحقه حقوقو خېټه واچوي او ددې لارې خپل پارازیت شتون ته څو ورځې نور هم دوام ورکړي.حال دا چې په دغه اقدام سره ، دوی د خپلې تباهی په عمودي نزولي مستقیم مسیر قدم پورته کوي او په دې کار نه دکارګري غورځنګ او نه د تولیدي پروسې د کمیت او کېفیت خلا ډکولې شي او طبعاً ډیر زر به په وچه سپېره درینګه لګیدلو سره د خپل ازلي نهایي سرنوشت سره مخامخ شي.

هو ! د سرمایې لېونیانو د خپلو غلطو محاسبو او احمقانه فکرونو له لارې ، چې « سرمایه نه وي ځان او جهان دې نه وي» ،احماقانه دځان او جهان د نژدې تباهی لار غوره کړې او سرمایداري پایداره نظام یې ناپایداره کړې او دسترو بحرانونو سرهمخامخ کړې دې . خو له نېکه مرغه الله لوی جهان ابدي کړې او دسلیم عقل او شعور خاوند ان د الاهي هدایاتو او احکامو سره سم د ځان او نړیوالو دهوسا او بسیا ژوند لپاره خپلو هڅو او هاندته دوام ورکوي اود ټولو اولسونو لپاره ګډ سولئیز خوشحاله ژوندغواړي . نړیوال ټولنیز سازمانونه ، بنیادي قانوني ،حقوقي او ډول ډول نور بشردوستانه انستیتوتونو پرهېزګاره متقي اومهرقي عقایدو پلویان ،چې ددغه غورځنګونو د مبارزي نه ماتیدونکې بنیاد جوړوي ، په حقه سره یې نننۍ نړیوال خاین قوتونه د قضایي جبر له مخې دزوال د کندې په څنډه درولي ، چې باید حق ته غاړه کښېږدي ، خو دوی د سرمایداري احمقانه جنون په بنیاد خپلواخري ناکامه هلو ځلو ته لا نور هم دوام ورکوي او ټوله نړې او نړیوال د قطعي نابودی کندې ته کشوي . د همدغه ناکامه هلو ځلو په نتیجه کې نړیوال نظام په کل کې ، خصوصاً دنړیوال کمونیستي نظام

(c) ketabton.com: The Digital Library



پهرنګېدو سره ، د دغه کوږ بارد یو جانبه عطالت په نسبت خپل تعادل ،توازن او تناسب له لاسه ورکړې او دتل لپاره په نا پایداره پدیده بدل شوې دې. د همدغه جنون له مخې د سپتمبر د یوولسمې جنایتکارانه ناوړه پېښه رامنځته شوه ،بې موجبه او خاینانه شکل سره افغانستان او افغان اولس د هغوی د بعدي جنایتونو هدف وټاکل شو او د کروز راکټونو او B_52 ستراتیژیکو الوتکو د بې قیدو شرطه بمباریو هدف وګرځېده . په ډېر خاینانه شکل سره دخپلو شومو امپریالیستي اغراضو د پوره کولو په منظور په (لومړي بن ) کې د قاطع خاین اقلیت په ګټه پریکړې وشوې ، ددموکراسۍ د پرنسیبونو ، دبشر د حقوقو د معیارونو ،د نړیوالو اولسونو د سولئیزګډ ژوند د نړیوالو منل شوو ارزشونو او قوانینو او بشري جمعي اخلاقي ، شعوري ، وجدان او دېته ورته نورو سلو او زرو منل شوو اصولو او مقرراتو پر ضد خیانتونو په بنیاد په افغانستان کې د بعدي جناتونو د دوام په خاطر اولس او وطن ته خاین نظام یې حاکم ګرځولې او دا لس کاله کیږي چې هره ورځ په لسګونو او سلګونو بې ګناه کسان په دوامداره توګه زوروي ،کړوي او وژني.

دوی برعلاوه له دې ،چې له پخوا څخه د نړۍ په ټولو کنجونو کې غیر طبیعي او غیر فطري حکومتونه، لکه پاکستان ، اسرائیل او ډېر نور د نړۍ په ګوټ ګوټ کې ،دمنطقې د ژاندارم په توګه را منځته کړي او همیش د هغوی د بې قانونه ملاتړ له لارې د منطقې امنیتي وضعه تل ترینګلې ساتي . خپل او دخپلو پلویانو نظامي او استخباراتي اپراتیفي قوتونه د نظامي هډو په توګه د نړۍ په ګوټ ګوټ کې تیت و پرک ساتي او دهغوی په زور خپلې ناوړه ستراتیژۍ او ارزوګانې د نورو هیوادونو په خلکو په جبر تحمیلوي ، چې د همدغه موخو لپاره نن په افغانستان او منطقه کې هم حضور لري او دسولې په نامه غیر





عادلانه جنګونو ته دوام ورکوي ، د بیا ابادونې په نامه، په ملک کې اباده لوټه نه پرېږدي ، د نظام دجوړلو په نامه ټول ارزشونه له منځه وړي او دمرستې په نامه د هر غریب له لاسه اخري مړۍ شوکوي.

په همدې منظور ټول نړیوال نظامي، استخباراتي ، شبه نظامي او ډول ډول نورو د شومو موخو ، نیتونو او شېطاني خواهشاتو ډلې ټپلې ،چې بې موجبه ،بې دلیله په خپل سر پرته د نړیوالو منل شوو اصولو او قوانینو په نظر کې نیولو سره بې پاسپورته او ویزې، د امریکایي لیرې ویشتونکو راکټونو او الو تکو داتشي احضاراتو ، بمباریو او منطقه پاکۍ وروسته دافغانستان په سپېڅلي حریم راننوتلي ،نه هغه وخت داصیلو افغانانو لپاره د منلو وړوو او نه نن د منلو وړ ګڼل کېدې شي او نه په تاریخ کې دغه ډول یرغلګر قوتونه او دهغوی افغان غلامان چا په افغانستان کې ژوند کولو ته پرېښې دي او حتا ډیر له هغوی څخه د شرمه په ډکه تېښته هم هر وخت نه دې بریالې شوې .نن هم نړیوال قوتونه په افغانستان کې ،د خدای د همدغه ډول قهر او غضب سره مخامخ او ښکېل پاتې دي. په افغانستان کې د هیچا دغه ډول وړۍ په شړۍ نه دي بدلې شوي او فکر نه کوم چې دموجوده ملکونو دغه وړۍ به هم شړۍ شي .

زه په افغانستان کې میشتو خارجي قوتونو ته په زغرده دا وایم ،چې افغانستان د غازیانو ،شهیدانو او واقعي وطنپرستوملي قهرمانانو هیواد دې. په دې هیواد کې سیال قومونه ژوند کوي او په کل کې یو موټې سیال افغان ملت جوړوي ، چې د خپلو غازیانو ، شهیدانو او ملي قهرمانانو په خاورو ،کارنامو ویاړي او هر اختر او برات او بلکه هر وخت وناوخت د هغوی په بېرغونو تجدید تعهد کوي ، چې د هغوی تاریخ به تر ابده ژوندې ساتي . نن چې بهر نی قوتونه غواړي مونږ لپاره د ځیني بېګانه پرستو ، مادي پرستو ، مقام پرستو او

(c) ketabton.com: The Digital Library



خاينو افغانانو ثخه مجازي قهرمانان ، شهيدان ،رهبران مشران او دې ته ورته څېرې او قوارې جوړې کړې ، عبثه خواري ده . همغسې چې هيوادونه او اولسونه د وياړه ډک تاريخ او يا برخلاف دشرمه ډکه ماضي او سابقه لري ، ځانګړي کسان ،افراد او اشخاص هم ځانته د وياړه ډک تاريخ او ماضي لري او همدسې ناکسان ، بې شخصيته او مختورن کسان داسې د شرمه ډکې سابقې لر ي ، چې د باشخصيته کسانو په حضور سره بايد مجلسونه ، کور کلي او حتا وطن پرېږدي ، ځکه په افغاني ټولنه کې دا ډول کسان بايد چاته د سترګو د غړولو جرئت ونه لري.مونږ هيڅکله له دې څخه منکر نه يو ، دکومو ملکونو قوتونه چې په افغانستان کې حضور لري هم سيال خلک او په خپلو هيوادونو کې دخلکو په وړاندي په لسګونو او سلګونو متقابلو حقوقو ،وجايبو ،کار ،ژوند ، وفادارۍ ، رښتيولۍ ، صداقت ، شهامت ، فداکارۍ او داسې نورو دښو کارونو تعهدات لري اودوی چې افغانستان ته په اصطلاح د بنيادي بيا ابادونې ، نظام ، نورو ټولو نهادونواو انسان جوړونې په خاطر راغلي ،او دغه ډول رسالتونه ، چې يواځې د صادقو ،وطنپرستو ملي کدرونوپه واسطه سرته رسېدلې شي ، ولې دوی په صادقو ،کار پوه او وطنپرستو انسانانو باندې اتکاء نه کوي او يواځې د خپلو شومو موخو د عملي کولو په خاطر موزيان ، ملي خاينان ، جنګي جانيان ، د مخدره موادو قاچاقبران ، مفسدين ،اختلاسګر او دېته ورته کسان ، چې پخپله يې هم هره ورځ په همدې ناوړه او دشرمه ډکو نومونو ستايي ، لټوي او د ټولو چارو سرنوشت همدغه خاينانو ته سپاري ؟ ايا دوی په رښتيا دا فکر کولې شي چې ددوی دغه د شرمه ډک اعمال د افغانانو او يا دهغوی د هيوادونو دواقعي وطنپرستانو ، بشر دوستانو د انظارو څخه پټ سرته رسيږي ؟ نه ! داولسونو له انظارو هېڅ عمل پټ سرته





نه شي رسېدلې او هغه ورځ لرې نه ده ،چې دغه خاينان به د خلکو د قضاوت محکمې ته راکش کيږي . دا کومه پټه خبره نه ده ،چې دوی دافغانانو غميزه ختمول نه غواړي دا هم پټه خبره نه ده ،چې ۸۰ فيصده خيانتونه پخپله خارجيان کوي ، حقيقت دادې ،چې د دوی خپلې ټولنې په ډېرو لا علاجه امراضو او پرابلمونو کې ښکېل دي ، دوی قصداً غواړي ، افغانان چې نسبتاً يوه سپېڅلې ټولنه وه او هغه نړيوال چې په دغه مرضونو اخته نه دي ،خپلو لا ينحله پرابلمونو کې ښکېل کړي

نړيواله مافيا د خپلودموکراتيکو سازمانونو ، دبشر دحقوقو مبارزينو،او نورو بشري د خبرښېګڼې ټولنيزو مسئولو مقاماتو او مربوطه ارګانونوپه وړاندې ددغه هر څه توجيه او سپيناوې نه شي کولې او په ډېره نژدې راتلونکې کې به تر هرڅه دمخه د خپلو خلکو د قضاوت محکمې حاضريږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د لاندې سرچینو څخه په ګټه اخیستنه:


۱ – په پښتو ژبه دقرآنکریم تفسیر ( لومړی او دوهم ټوک ) .
۲ـ سید بهادرشاه ظفر کا کا خیل «پښتانه د تاریخ په رڼا کې».
۳ـ میر غلام محمد غبار «افغانستان در تسیر تاریخ »لومړی او دوهم ټوک .
۴ـ مولانا جلال الدین محمد بلخي مشهور به مولانا «متن کامل مثنوی معنوی»
۵ـ مولانا جلال الدین محمد بلخي مشهور به مولانا «کلیات شمس تبریزی»
۶ـ الفت ګل پاچا «د الفت مرغلرې»
د شهرت ننګیال په زیار
۷ـ رحمان با با «کلیات»
د حنیف خلیل سریزه ، یادښتونه او وییپا نګه
۸ـ پوهاند ډاکټر سید بهاوالدین مجروح «نا اشنا سندرې»
۹ـ پوهاند ډاکټر سید بهاوالدین مجروح «ځانځاني ښامار»
۱۰ـ حرکت سید شیر اقا «دعینیت فلسفه» ،لومړۍ برخه ،دملي دفاع وزارت مطبعه ، ۱۳۶۵ هجري ش. کال
۱۱ـ حرکت سید شیر اقا «ایرو دینامیک ،دینامیک پرواز» ،دملي دفاع وزارت مطبعه ، ۱۳۵۲ هجري ش.کال
۱۲ـ اقبال لاهوری «کلیات»
۱۳ـ روستا یار سید علیشاه معاون سرمحقق «جهان بې انتها» اندیشه های عرفانی حکیم سنایی غزنوی.
۱۴ـ اساسات روانشناسی اجتماعي
له روسي څخه فارسي ژباړه: دکتور یحیا یی
۱۵ـ محمد جعفر مصفا «انسان در اسارت فکر !»
۱۶ـ پی ییر آلن و دیتر کلی «حقیقت تجاوز شوروی بر افغانستان »
فارسي ژباړه:عبدالرحیم احمد پروانی.
۱۷ـ دیه ګو کوردو ویزو سلیک اس.هاریسون «پشت پرده افغانستان »
فارسي ژباړه : اسدالله شفایی.
۱۸ـ جنرال م. ا. ګارییف «افغانستان »زما وروتۍ جګړه.
په پښتو ژباړن : محمد طاهر کانې
۱۹ـ جنرال لیاخوفسکې «دافغان میړانه او غمیزه»
په پشتو ژباړن : محب الرحمن .







۲۰ـ ستر جنرال الکساندر مایوروف «په افغانسان کې رښتیا څه تیریدل ؟»
په پښتو ژباړن ډاکټر داود جنبش.
۲۱ـ سر اولف کارو «پښتانه (پټانز)»
په پښتو ژباړن : الحاج شیر محمد کریمي.
۲۲ـ محمد حسنین هیکل «ابوالهول او کمیسار»
پښتو ژباړه محمد اصف اکرام .
۲۳ـ دکتر مهدی بهار «میراث خوار استثمار»
۲۴ـ شجاع الدین شفا «تولدی دیگر »
ایران کهن ،در هزارهای نو
۲۵ـ سرو پالي رادا کریشنان او دلاس لاندې پوهانو ډله يي. «تاریخ فلسفی شرق و غرب» «لومړی او دوهم ټوک »
فارسي ژباړه: خسرو جهانداري.
۲۶ـ تاریخ فلسفه سیاسي «لومړي ، دوهم او دریم ټوک».
پازارګارد ډاکټر بهاء الدین .
۲۷ـ ویل دورا نت «تاریخ فلسفه »
فارسي ژباړه: عباس زریاب
۲۸ـ ویل دورانت.«لذات فلسفي .»
فارسي ژباړه: عباس زریاب.
۲۹ ـ حنا فخوري او خلیل جر . «تاریخ فلسفه در جهان اسلام »
فارسي ژباړه: عبد المحمد آیتي.
۳۰ـ ګي پلانتي ـ بونژور «هګل واندیشهٔ فلسفی در روسیه ».
فارسي ژباړه: محمد جعفر پوینده.
۳۱ـ ګ. و. هګل «فنومنو لوژي روح»
ترجمهٔ فارسی:دکتر زیبا جبلی
۳۲ـ ګ. و. هګل «عقل در تاریخ »
ترجمهٔ فارسی: دکتر حمید عنایت
۳۳ـ ګ. و. هګل «دفلسفي علومو دایرة المعارف» په الماني ژبه
۳۴ـ در بارهٔ هګل و فلسفهٔ او «د مقالو ټولګه ».
مجتهد ي ډاکټر کریم.
۳۵ـ اتین ژیلسون «روح فلسهٔ قرون وسطی
فارسي ژباړه:ع. داوودی
۳۶ـ اتین ژیلسون «نقد تفکر فلسفي غرب . از قرون وسطي تا اوایل قرن حاضر ».
فارسي ژباړه: دکتر احمد احمدی
۳۷ـ لوسین ګلدمن «کانت و فلسفه معاصر»

(c) ketabton.com: The Digital Library



فارسي ژباړه: پرويز بابايی
۳۸ـ سپينوزا «شرح اصول فلسفهٔ دکارت و تفکرات ما بعد الطبيعی
فارسي ژباړه: دکتر محسن جهانگيري
۳۹ـ دکتر کريم مجتهدي «دکارت و فلسف او»
۴۰ـ مور تيمور جي. آدلر. ده اشتباه فلسفي:
فارسي ژباړه: انشا ءا لله رحمتي.

۴۱ـ گوهر الرحمن گوهر « قرآن او ساينس».
«لومړي، دوهم، دريم څلورم او پنځم ټوک»
۴۲ـ ډبليو. کي. سي. گاتري « تاريخ فلسفه ي يونان» (۱۵) افلا طون (بخش سوم)
فارسي ژباړه: حسن فتحي.
۴۳ـ فرويد ډاکتر زيگموند. «اصول روانکاوي باليني.
ټولوونکي او فارسي ژباړه: ډاکټر سعيد شجاع شفتي

۴۴ـ سر محقق محمد ناصر )ناصر ستانکزي « تاثيرات تغير ارزش پول در معاملات اقتصادي.»
۴۵ـ سرمحقق محمد ناصر (ناصر ستانکزي مطالعه و تحقيق وضع دموگرافي افغانستان.
۴۶ـ ډاکټر سيد ابوالفضل قاضي «شريعت پناهي»
حقوق اساسي و نهاد هاي سياسي.
۴۷ـ ډاکټر علي شريعتي روش شناخت اسلام.
۴۸ـ بهاءالدين خرمشاهي. قرآن شناخت (مبا حثي در فرهنگ آفريني قرآن).

۴۹ـ ايان مک لين. «فرهنگ علوم سياسي آکسفورد»
فارسي ژباړه: احمد ي ډاکټر حميد
۵۰ـ محمد نادر ايوبي کندهاري «فلسفه.»
۵۱ـ فلسفي روسي قاموس کال ۱۹۸۷
د ای. ت. فرا لو ا تر نظر لاندي ډلي لخوا
۵۲ـ سياسي روسي قاموس مسکو ۱۹۸۳ کال چاپ
۵۳ـ ک. مارکس ـ ف. انگلس «فلسفه ـ پوهنتوني چاپ» په الماني ژبه.
۵۴ـ ک. مارکس ـ ف. انگلس «منتخبات» په روسي ژبه.
۵۵ـ ک. مارکس ـ ف. انگلس «کليات» په روسي ژبه.
۵۶ـ لنين. و. ای. «منتخبات» په روسي ژبه.
۵۷ـ لنين. و. ای. «کليات» په روسي ژبه.
۵۸ـ گروميکو. آ «خاطرات» په الماني ژبه.





۵۹ـ ټولنيز شعور او دهغې ډولونه، سياسي خپرونه، مسکو ۱۹۸۶.
دمقالو مجموعه، دمختلفو ليکوالو له خوا، په روسي ژبه.
۶۰ـ س. ب. کريمسکي او ف. اي. کوزنيڅوف «په نوې طبعيت پيژندنه کې د نړۍ ليد مقولي» په روسي ژبه.
۶۱ـ رضاداوری اردکانی «فارابی مؤسس فلسفهٔ اسلامی»

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**